

# د ځوان کاکړ لیکنې

په کابل، وږمې او آریـــانا مجلو کې د خپرو شویو مقالو ټولګه

تدوین او سریزه: محمد زرین انځور

# د ځوان کاکړ لیکنې

**په کابل، وږمې او اریـــــانا مجلو کې د خپرو شویو مقالو ټولګه**

**۱۳۳۷ - ۱۳۴۰ هـ.ش**
**۱۹۵۸ - ۱۹۶۴م**


**تدوین او سریزه**
**محمد زرین انځور**

بسم الله الرحمن الرحیم

# د ځوان کاکړ لیکنې

په کابل، وږمې او اریـــانا مجلو کې د خپرو شویو مقالو ټولګه

۱۳۳۷ - ۱۳۴۰ هـ.ش (۱۹۵۸ - ۱۹۶۴م)


لیکوال: محمدحسن کاکړ

تدوین او سریزه: محمد زرین انځور

خپرندویه: د کاکړ تاریخ بنسټ د نشراتو څانګه

راټولونه: بشرمل زرغون او مصطفی صافی

ایډیټ او چاپچارې: سمیع الله زیار او بابرزی هېواددوست

مطبعه: هاشمی خپرندویه ټولنه

چاپ شمیر: ۱۰۰۰

چاپ کال: ۲۰۲۲/ ۱۴۰۱

کمپوز: مصطفی فتی



د چاپ حق: د نشر ټول حقوق له کاکړ تاریخ بنسټ سره خوندي دي.



د لا زیاتو معلوماتو لپاره د کاکړ تاریخ بنسټ وېبسایټ ته مراجعه وکړئ:

https://www.kakarfoundation.com

**ډالۍ**

**د هېواد ټولو ویښو او لوستو ځوانانو ته!**

# د پوهاند کاکړ
# د تاریخي لټون دغه پاشلې پاڼې

د خوښۍ ځای دی چې د هېواد د نومیالي مورخ پوهاند ډاکتر محمدحسن کاکړ د متفرقو لیکنو دغه ټولګه د چاپ جوګه شوه. سره له دې چې د پوهاند کاکړ ډېر آثار له نېکه مرغه د هغه په ژوند چاپ او خپاره شوي دي؛ خو د هېواد په مطبوعاتو کې یې بیلا بېلې لیکنې، تحقیقي مقالې او ژباړې د یوې مستقلې مجموعې په توګه د هغه له مړینې ورسته خپرېږي.

د مقالو په دغه مجموعه کې د اروابناد استاد کاکړ د تنکۍ ځوانۍ له لیکنو نیولې، د هغه د پاخه علمي ژوند تر کلونو لیکنې رانغاړل شوې دي. لومړنۍ لیکنې یې هغه دي چې استاد کاکړ تازه د کابل پوهنتون د تاریخ او جغرافیې له څانګې فارغ او د وخت په پښتو ټولنه کې یې خپله لومړنۍ رسمي دنده پیل کړه. په ۱۳۳۷هـ.ش. کال کې هغه د پښتو ټولنې د علمي مجلې مسوول مدیر وټاکل شو او د دې مجلې په ډېرو ګڼو کې یې لیکنې خپرې شوې دي. کله چې هغه لوړو زده کړو ته له هېواده بهر لاړ، د افغانستان په مطبوعاتو کې څو کلونه د هغه د لیکنو او مقالو ځای خالي و. هغه چې د لوړو پوهنتوني مدارجو له اخیستلو ورسته، بیرته کابل ته راستون شو؛ نو د دې په څنګ کې چې په کابل پوهنتون کې یې د افغانستان د معاصر تاریخ تدریس پر غاړه و او په دې لړ کې یې ګڼ شمیر شاګردان وروزل، د هېواد په بېلا بېلو علمي مجلو کې یې لیکنې هم خپرېدې.

په دغه مجموعه کې د پوهاند ډاکتر محمدحسن کاکړ د تعلیمي او علمي ژوند د بېلا بېلو دورو لیکنې راټولې شوې؛ نو له همدې کبله یې لوستونکي باید د هغه د علمي ژوند د بېلا بېلو دورو د لیکنو په توګه په نظر کې ولري. موږ دغه لیکنې په بېلا بېلو څپرکو کې ترتیب کړې دي: تاریخي او ټولنیزې لیکنې، ژبنۍ او ادبي لیکنې، په کابل مجله کې د هغه وخت د کار د دورې سرمقالې او ژونالستیکي لیکنې؛ همدا راز په پای کې هغه لیکنې چې نوموړي پښتو ته ژباړلي دي.

په زړه پورې خبره خو دا ده چې د استاد کاکړ هغه لنډې لومړنۍ لیکنې چې د کابل مجلې د مسوولیت په وخت کې یې کښلې دي، سره له دې چې ډېرې لنډې او د وخت د ورځنیو مسایلو په بهیر پورې یې هم اړه لرله؛ خو ځینې داسې ژور مسایل پکې ځای

شوي او راغلي دي چې نن هم موږ ته ارزښت لري.
د بېلګې په توګه، هغه ډېر کلونه وړاندې، د افغاني لوستو ځوانانو «له ځانه د پردیتوب» یا بیګانګۍ مسئلې ته په دقت متوجه و، لکه چې په یوې سرمقالې کې دې موضوع ته اشاره کوي: «په موږ کې افراط او تفریط موجود دی. د مثال په ډول موږ یو سوچه نورستاني، جنوبي وال، شغناني یا د پامیر د علاقې وګړو سره د فکر او میل په لحاظ زړه تنګي حس کوو؛ خو له امریکایي، جرمني، فرانسوي او روسي سره د زړه ګرمي لرو او په خبرو اترو کې ترې خوند اخلو؛ او دا مو په زړه کې وي چې نور هم ورسره وای او په موضوعاتو ورسره ګړېدلي وای. د جرمني، انګریزي، فرانسوي او روسي ژبې زده کړو ته هوسیږو؛ خو هغه ژبې چې افغان ملت پرې ګړېږي، نه زده کوو او علاقه هم نه ورښیو. امریکا، فرانسه، واشنګټن او مسکو موږ ته نږدې دي، که وغواړو او یا وکولی شو، د هغو ځایونو خلکو سره د اډیو- ټلیفوني مخابره لګولای شو او حتی په ډېرو کمو شپو او ورځو ورته رسیدلای هم شو... خو که وغواړو شغنان یا نورستان ته لاړ شو، باید شپې او ورځې تېرې کړو او زحمتونه او ربړونه وګالو.
هر سهار او هر ماښام له واشنګټن، لندن او مسکو نه ځان خبروو؛ خو دا مو په زړه کې نه وي چې د کونړ د ساپیو به څه حال وي او فراهیان به څنګه ژوند لري. د دې راز ذهنیت طبیعي نتیجه دا ده چې خپلو ته بېګانه او بیګانه وو ته خپل شوي غوندې یوو. زموږ په زیاتره تش په نامه روشنفکرانو کې داسې ذهنیت قوي دی، نو که د دوی ډول ته څوک ناخي او خبرې یې په چا اثر نشي لرلای، باید څوک ملامت هم نه کړای شي او دا ونه ویل شي چې اولس کې شعور نشته، نه، په اولس کې شعور شته، په اولس کې قوتونه پراته دي او په اولس کې هر څه شته؛ خو نر څوک دی چې هغه وسکونډي او اعتماد یې حاصل کړي...»
(په کابل مجله کې د ۱۳۳۸هـ.ش کال یوه سرمقاله)
او یا کله چې هغه په ۱۳۳۹هـ.ش. کال کې د تاریخ په اړه یو خپور شوی اثر په کابل مجله کې معرفي کوي، په افغانستان کې د تاریخ لیکنې مسئلې ته دقت کوي او پر نویو علمي مېتودونو ټینګار کوي:
«زموږ په جامعه کې تاریخ کښنل لا تر اوسه په ځوانۍ کې دی. درسته ده چې ښایسته زیات آثار به لیکل شوي وي او ډېر واقایع به یې ثبت شوي وي، مګر د تحقیق لارې او مېتودونه یې علمي نه دي او محرکات یې انفسي او عمدي رنګ لري. یو خو دا چې په استوري دوران کې زیاتره خارجي مورخانو او مخصوصاً انګریزانو لیکنې کړي. دوی که څه هم یو شان به وو، مګر یو خو د افغاني جامعې په تل کې نشوای ننوتی او یواځې

له بهرنۍ سطحې نه يې مواد غونډ کړي او بله دا چې د دوی ليکنې د تاريخ لپاره نه، بلکې د نورو لپاره د افغانستان د معرفت په منظور وې. تر پرونه پورې، يعنې تر هغه وخت پورې چې انگريزان په هند کې وو، انگريزي مورخان زياتره د ايست انډيا کمپنۍ خبريالان او نوکران وو، مگر اوس دوی او داسې نور افغانستان ته زياتره په دې نظر گوري چې دا ملک د سوشلستي هېوادونو همسايه دی.

د دې ځای په ليکنو کې تر اوسه داسې اثر نه دی وتلی چې ارزښت يې زيات وي او د هغه مېتود له مخې کښل شوی وي چې کاملاً افاقي وي او د تاريخ د علمي مېتود ټول اصول پرې تطبيق شوي وي، همدغه سبب دی چې دلته د اصلي مورخ او علمي تاريخ پېژندنه گرانه ده. ددې خبرې ښکاره ثبوت دا دی چې هغه چاته د مورخ لقب ورکړل شوی دی چې د کوه نور الماس يې بدشگوم گڼلی دی...».

په ۱۳۳۸هـ.ش. کال کې استاد کاکړ د يوه علمي هيئت په غړيتوب د امريکا متحده ايالاتو ته سفر وکړ. د دغه سفر او په هغه هېواد کې د غونډو او بحثونو جريان يې د همدغه کال په کابل مجله کې د يوه رپوټ او گزارش په بڼه چاپ کړ. په دغه رپوټ کې د يو لړ ملي مسايلو په اړه جالبې ځرگندونې لري او د مباحثو ځينې برخې په غوره توگه ثبتوي او يو ځای ليکي:

«د ملي منافعو تامين او د بين المللي سولې په غرض همهکاري، نن ورځ ترتيب داسې دی چې د ټولو اولسونو ملي منافع سره يو نه دي. يو ملت له بل نه طمع کوي او په مختلفو نومونو او بېلا بېلو شکلونو ترې استفاده کول غواړي. همدغه سبب دی چې هر ملت ځانله مسايل او مشکلات لري، يو ملت که ډېر وړاندې تللی وي او بل اولس له هغه نه بيرته پاتې وي، دواړه له ملي مسايلو خلاص نه دي. امريکا به په دې کې گټه ويني چې له ملک نه د باندې نظامي اتحاديې ولري. دا د هغه ملک کار دی، زموږ پرې غرض نشته، مگر څه وخت او په کومه منطقه کې چې دا اتحاديې د هغې منطقې د اولسونو ملي مسايل تر پښتو لاندې کوي او پروا يې نه لري او يا دا چې که امريکا د خپل متعهد ادعا د هغې منطقې د بل ملک په مقابل کې صحيح گڼي او هغې بلې ته اقلاً غوږ هم نه نيسي، دلته مشکلات پيدا کيږي او داسې اتحاديې بيا ددې پر ځای چې ارامي راولي، خپله د نا ارامۍ سبب گرځي.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پښتونستان يو لوی ملک پروت دی چې يوه برخه يې ازاده او بله برخه يې پاکستان نيولې ده. دا منطقه په تاريخ کې له پاکستان سره يوځای شوې نه وه او د متمايزو مشخصاتو په سبب له هغه ملک نه جلا وه. د پاکستان له جوړېدو مخکې د پښتونستان خلکو د ازادۍ اخېستلو لپاره له انگريزانو سره جنگونه کړي، مگر په

وېش کې استعمارچيانو چال وواهه او پښتونستانيان يې له حقوقو نه محروم کړل؛ خو د دوی مجاهده روانه شوه او تر دې تاريخ پورې دوام لري.
افغانستان د تاريخي، جغرافيي، ديني، ژبني او نورو علايقو له مخې ځان مجبور او مکلف بولي چې د پښتونستان له خلکو سره همدردي ولري او د پښتونستانيانو ادعا د دوی د سرنوېشت د يقين او د خود اراديت د پرنسيپ په تعميل کې چې له بين المللي او د يونو له عناصرو سره سر خوري، حمايه کړي. پاکستان ددې مسلمو حقوقو په مقابل کې سرزوري وکړه، له يوې خوا په سنټو کې او له بلې خوا په سيټو کې يې ځان داخل کړ چې د غرب په کومک سره دا خلک نور هم منکوب کړي. غرب هم پاکستان په شا وډباووه او ددې پرځای چې پاکستان حقايقو ته ملتفت کړي، نور يې هم پسې قوي کړ، د نظامي معاهدو په اطمينان ملي مسايل او د لکونو انسانانو حقوق يې تر پښو لاندې شوي او لاپسې کيږي....
د افغاني هيئت هر غړي په خپل وار سره د پښتونستان حقانيت پروفيسرانو ته واوراوه، هغوی هم ښه ځير شول او په دې باب کې يې پوښتنې وکړې او معلومات يې حاصل کړل. که څه هم په دې فصل کې د دوی د تشريح تاييد نه؛ خو په دې زيات خوښ شول او تشکر يې وکړ چې له دې موضوع نه مو خبر کړل...».
په دې توګه نو وينو چې په دغو سرمقالو، ژورنالستي ليکنو او ګزارشونو کې هم داسې ژور مسايل رانغاړل شوي چې نن هم د بحث وړ موضوعات دي او د ستونزو په توګه مطرح دي.
کوم بل ټکی چې ددغو ليکنو او مقالو په لړ کې د يادونې وړ دی، هغه دادی چې موږ ددغو ليکنو د تاريخي بهير له مطالعې څخه د اروانښاد استاد پوهاند کاکړ د فکري او علمي ودې بهير هم په ښه توګه ليدلی شو. د يوه ځوان فارغ شوي ليسانس څخه د هغه د تاريخ د پي. ايچ. ډي او د معاصر تاريخ د استاد په توګه په دغو اوږدو کلونو کې د هغه له ليکنو، د هغه د فکر د يون جاج هم اخيستلی شو.
هغه وخت پښتو ټولنه د يوې نوې اکاډميکې موسسې په عنوان تر ډېره د عنعنوي استادانو تر لارښوونې لاندې خپل علمي ـ ملي فعاليت کاوه، سره له دې چې کارونه يې د درنښت او ارزښت وړ دي؛ خو د نوي ځوان او تعليم يافته (او د هغه وخت په اصطلاح د فاکولته يې ځوانانو) د دغه نسل په ورتګ سره پکې يو عمده بدلون راغی او سره له دې چې په ځينو برخو کې ښايي د دغه ځوان نسل او پخوانيو عنعنوي کسانو ترمنځ ټکر هم راغلی وي؛ خو د دغه ټکر په نتيجه کې هم غوره آثار او نوې لارې رامنځته شوې.
زما په نظر په دغو نويو کسانو کې، د اروانښاد حبيب الله تږي، سعدالدين شپون،

محمدحسـن کاکـړ، محمدصديـق روهـي، محمدحسـن ضميـر سـاپي نومونـه پـه خـاص ډول د يادولـو وړ دي. دوی ددې پـه څنـگ کـې چـې د څېړنـو د نويـو مېتودونـو پـر گاڼـه سـمبال وو، د فکـر لـه پلـوه يـې هـم لـه نويـو موضوعاتـو او اندونـو سره پـه پښـتو ټولنـه کـې کار پيـل کـړ او دا يـو پـه زړه پـورې بدلـون و.
لکه چـې لـه دې ليکنـو بـه تاسـو تـه پتـه ولگـي، له فکـري پلـوه ځـوان تعليـم يافته محمدحسـن کاکړ لکه ددغـو نويـو ځوانانـو پـه څېـر چـې مـا يـې مخکـې نومونـه واخيسـتل لـه نويـو اندونـو سره مـل وو. دوی د يـو ډول عمومـي مترقـي او پرمختـگ غوښـتونکو افـکارو خاونـدان وو او دا د هغـه وخـت د يـو عـام فکـري تمايـل ځرگنـدوی هـم و. د ظلـم، اسـتبداد او د وخـت د فکـري تحجـر پـر وړانـدې دوی پـه يـو صـف کـې ولاړ وو او سره لـه دې چـې د کـوم خـاص سياسـي او يـا حـزبي فکـر اسـتازيتوب يـې نـه کاوه؛ خـو مـوږ ويـلای شـو چـې د يـو ډول مـلي ــ مترقـي فکـر د اسـتازيتوب نښـې نښـانې پکـې ښـکاري.
د اسـتاد کاکـړ پـه ليکنـو، سرمقالـو او پـه تېـره بيـا د هغـه وخـت د شـوروي او بيـا د امريکـې د سـفرونو د مفصلـو گزارشـونو او د پېښـليکونو پـه پاڼـو کـې لوسـتونکو تـه دغـه ډول موضوعـات مخـې تـه ورځـي. دا ټکـي د اسـتاد کاکـړ د افـکارو د مطالعـې لپـاره هـم مهـم دي او کـه کـوم وخـت کـوم څېړونکـی وغـواړي چـې د هغـوی پـر سياسـي او فکـري بهيـر څېړنـه وکـړي، پـه دغـو ليکونـو کـې ډېـر مهـم مـواد پراتـه دي.
څـو کال وړانـدې د ارواښـاد پوهانـد کاکـړ د مقالـو يـوه بلـه ټولگـه «زمـا غـوره ليکنـې» پـه نـوم خپـره شـوه چـې زياتـره يـې لـه هېـواد د بهـر مهالنيـو او د مقالـو پـه ټولگـو کـې خپـرې شـوې مقالـې او ليکنـې دي. د خوښـي ځـای دی چـې د هېـواد پـه داخـل کـې پـه اوږدو کلونـو کـې د هغـه د يـو شـمېر ليکنـو او مقالـو دغـه ټولگـه هـم چـاپ تـه چمتـو شـوه.
د ارواښـاد پوهانـد ډاکترمحمدحسـن کاکـړ د مقالـو دغـه ټولگـه، سـتاسـو مخـې تـه پرتـه ده. ښـايي دا د هغـه د ټولـو مقالـو ټولگـه نـه وي، هغـه پـر خپـل پرثمـره علمـي ژونـد کـې د هېـواد او لـه هېـواده بهـر مطبوعاتـو کـې زيـات شـمېر نـورې ليکنـې هـم خپـرې کـړې دي. هيلـه لـرم چـې د مقالـو ددغـه لومـړي ټـوک لـه چـاپ وروسـته، د هغـه نـورې مقالـې هـم، راټولـې او د دوهـم ټـوک پـه توگـه خپـرې شي.
د افغانسـتان د علومـو اکاډمـۍ لـه رهـبري او هغـو ځوانـو څېړونکـو څخـه چـې دغـه مقالـې يـې لـه بېلابېلـو کلکسـينونو را ټولـې کـړې دي، مننـه کـوو.
د کاکـړ بنسـټ لـه ځوانـو کارکوونکـو ښـاغلي سـميع الله زيـار او بابـرزي هېوادوسـت نـه هـم مننـه چـې ددې اثـر د چـاپ چـارې يـې سـمبال کـړې.
لـه گـران کاوون کاکـړ نـه هـم مننـه چـې تـر اوسـه يـې پـه خپلـه ځانگـړې پاملرنـه او مـالي تـوان

ددغـه اثـر او د کاکـړ تاریـخ بنسـټ د نـورو چـاپ شـویو اثـارو د خپرېـدو هڅـه جـاري سـاتلې ده؛ دغـه راز یـې د اسـتاد د آثـارو او تألیفاتـو پرلـه پسـې خپرېـدو او د کاکـړ تاریـخ بنسـټ پـه تـل فعـال سـاتلو کـې هڅـې د سـتایلو وړ دي.

محمد زرین انځور
کاکړ تاریخ بنسټ
کابل. ٦ مې ۲۰۲۰
۱۷ ثور ۱۳۹۹

# د کابل، وږمې او اریانا مجلو په اړه لنډ معلومات

دا چې ددې ټولګې ټولې لیکنې له یادوو درې مجلو څخه را ټولې شوې؛ نو بهتره مو وګڼله چې ددغو مجلو په اړه لوستونکو ته لنډ معلومات وړاندې کړو.

## وږمه مجله

وږمه مجله د کابل پوهنتنون د ژبو او ادبیاتو د پښتو څانګې مجله ده چې د لومړي ځل لپاره د (۱۳۳٦ل) کال د تلې میاشت کې د لومړي ځل لپاره خپره شوه. ددغې مجلې بنسټګر پوهاند میرامان الله انصاري او لومړی مسئول مدیر یې پوهیالی محمد رحیم الهام و. پوهاند محمدحسن کاکړ ددغې مجلې په دربیمه ګڼه کې له یو شمېر نورو لیکوالو او پوهانو سره یوځای د مهتمیم په توګه دنده ترسره کړې او همدا راز ورسره لیکوال پاتې شوی دی.
وږمه لومړی دوه میاشتنۍ او وروسته درې میاشتنۍ شوه او په (۱۳۸۵ل) کال کې یې له نشراتو پاتې شوه چې له څلویښت کلن ځنډ وروسته یو ځل بیا د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي له لوري چاپ او خپره شوه. د موضوع په لحاظ پکې ادبي او ژبنۍ څېړنې خپرېدلې؛ خو په خوا کې یې ورسره فلسفي، علمي او ټولنیز موضوعات هم خپرول چې پښتو ادب یې له بېلابېلو علمي شتمنیو او د عصري علومو له ملغلرو برخمن کړی دی. دغه مجله د ادب ټولو زده کړیالانو ته د ادب د دوهم پوهنځي ارزښت لري.

## کابل مجله

د کابل مجلې لومړۍ ګڼه د (۱۳۱۰ل) کال د غبرګولي د میاشتې په ۱۵مه د (۱۳۵۰ق) کال د محرم الحرام په ۱۸مه په کابل کې د کابل د ادبي انجمن له خوا خپره شوه. کله چې په (۱۳٦۱ل) کې د کابل ادبي انجمن او د کندهار پښتو ادبي انجمن له یوځای کېدو چې پښتو ټولنه (پښتو اکاډمي) رامنځته شوه؛ نو دا مجله د پښتو ټولنې له لوري خپرېده. پوهاند محمدحسن کاکړ په (۱۳۳۷ ل) کال ددغې مجلې د مسئول مدیر په توګه دنده پیل او په دغه مجله کې یې ګڼ شمېر لیکنې چاپ شوې. په (۱۳۵۷ل) کال کې په اوسنۍ بڼه د افغانستان د علومو اکاډمي له جوړېدو وروسته دا مجله د افغانستان د

علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو د مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو د انستېتیوت خپرنیز ارگان شو چې وخت پر وخت د ځینو، سیاسي تحولاتو، تخنیکي، مالي او نورو ستونزو له وجې بنده شوې او بیا پیل شوې ده.
کابل مجله په لومړي کال کې بشپړه په دري ژبه خپرېدله؛ خو په دوهم خپرنیز کال کې یې پښتو لیکنې هم پیل کړې چې وروسته په پښتو خپرېده. ددغې مجلې خپرنیز مطالب ټولنیز، تاریخي، علمي، دیني، د مشاهیرو ژوندلیکونه، پخواني اثار، د مطبوعاتو تاریخچه، د کلاسیکو او معاصرو شعرونو او نړیوالو ادبیاتو بېلگې، ادبي څېړنې، حکمت او فلسفه، اروپوهنه، ښوونه او روزنه، د کابل د ادبي انجمن د فعالیتونو راپور او داسې نور وو.
خو د یادې مجلې د خپرنیز بهیر بدلون ته په کتو، په خپرونو کې یې هم بدلون راغلی چې کله یې په خپلو پاڼو کې ادبي، ژبنیو او هنري مسایلو ته ځای ورکړی او کله یې ټولنیزو او فلسفي مسایلو ته غېره پرانیستې ده، چې البته ځینې وخت د یو لړ فشارونو له وجې له اصلي موخو څخه منحرفه شوې؛ خو اوس له نېکه مرغه په خپلو اصلي موخو متمرکزه ده.
کابل مجله د افغانستان د معلوماتو په مرکز (Afghanistan Center at Kabul University) د لوستونکې د لاسرسي وړ او په ډیجیټالي توگه یې له لاندې ادرس څخه ترلاسه کولی شی:
http://catalog.acku.edu.af/cgi-bin/koha/opac-detail.pl?binlionumbere=8273

## اریانا مجله

په (۱۳۲۱ل) کال د مطبوعاتو په مستقل ریاست کې د تاریخ ټولنې له جوړېدلو سره سم، دې ټولنې د همدې کال په سلواغه کې د آریانا د میاشتنۍ مجلې په خپرولو پیل کړل. بنسټگر او لومړنی مدیر یې ارواښاد احمد علي کهزاد و. زیاتې مقالې یې په دري او یوه برخه پښتو هم په کې وه. اریانا مجلې د افغانستان د تاریخ، د ژبو د تاریخ، تاریخي جغرافیې، د هېواد د نامتو شخصیتونو، شاعرانو او لیکوالو د پېژندنې، د ښکلو صنایعو، سکو، لرغونپېژندنې، کتاب پېژندنې او د افغانستان د فوکلور په باب یې د علمي او څېړنیزو مطالبو او مقالو په خپراوي پیل وکړ.
آریانا مجله په (۱۳۵۸ل) کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اجتماعي علومو د انسټیټیوت د خپرنیز ارگان په توگه واوښته او د تاریخي مضامینو د خپرولو پر ځای د ټولو اجتماعي علومو په اړه د مضامینو خپرول ور په غاړه شول. تر هغې وروسته د مجلې خپرندویه تگلاره پراخه شوه او د سیاسي تحولاتو له وجې یې په خپرونو کې ځینې خنډونه راغلل؛

خـو اوس یـې خپرونـې پـه عـادي توگـه پرمـخ ځــي او د ټـولـو ټولنیـزو علومـو پـه برخـه کـې خپرونـې کـوي.

د اریانا مجلې ډیجیټالي بڼه له لاندې ادرس څخه ترلاسه کولی شی:
http://www.afghandata.org:8080/xmlui/handle/azu/17247

# د اوسني ليکدود له مخې د ځينو پخوانيو کلماتو په نوې بڼه راوړل

ددې يادونه اړينه ده چې د مقالو ددې ټولگې ليکنې څو اويا کاله پخوا هم خپرې شوې او په را وروسته کلونو کې هم. د پښتو ژبې د هغه وخت د ليکدود او د اوسني معياري ليکدود په منځ کې ځينې توپيرونه ليدل کېږدي. دا خبره د نړدې ډېرو ژبو په ليکدودونو کې د زماني واټن پر اساس معموله ده. موږ د مقالو د دې ټولگې په ليکنو کې د ليکدود نوې معياري بڼه په پام کې نيولې ده. سره له دې چې دغه توپيرونه ډېر زيات نه دي؛ خو بيا هم موږ دغه يادونه لازمه وگڼله. هغه کلمات چې په دغه ټولگه کې په اوسنۍ بڼه راغلې، په لاندې ډول دي:

| شماره | په کتاب کې ليکل شوې بڼه | اوسنۍ بڼه |
|---|---|---|
| ۱ | د پاره | له پاره |
| ۲ | چه | چې |
| ۳ | پکښې | پکې |
| ۴ | کښې | کې |
| ۵ | کښېناستل | کېناستل |
| ۶ | ئې | يې |
| ۷ | اسيائي | اسيايي، اروپايي |
| ۸ | برسېره | سربېره |
| ۹ | وگرزوله | وگرځوله |
| ۱۰ | دوتري | دفتري |
| ۱۱ | بلکه | بلکې |
| ۱۲ | خلق | خلک |
| ۱۳ | کېښږدي | کېږدي |
| ۱۴ | که | کړ |

# لړلیک


**لومړۍ برخه: سرمقالې ۱**

د مورخ ژورنالیستیک تاریخ ۳
د ښوونکي ورځ ۷
زموږ لوستوونکي له موږ څه غواړي؟ ۹
یونو د جهاني تشکیل په لور ۱۲
زموږ ذهنیتونه ۱٤
پخه دوستي ۱۸
د تاشکند جرګه ۲۱
د ژوندانه راز ۳۲
د پیټسبرګ سیمینار ۳۵
اقتصادي نظریات ٤٦
د پښتونستان ورځ ٤۸
د مجلې یودېرشم کال ٥۰

**دویمه برخه: پښتو ادبیات ٥٥**

استاد کاکړ او پښتو ژبه ٥۷
املاء او انشاء ٦۱
په امریکې کې د پښتو نوی مرکز ٦٦
پښتو لپاره یو بل اساسي خدمت ۷۰
پښتو او دفتر په دوو وروستیو پېړیو کې ۸٤
پښتو په شوروي کې ۹۹
پښتو د عمومي کېدو په لاره کې ۱۰٤
د پښتو ټولنې د ۱۳۳۷ نشراتي کال چارې ۱۰٥
د غني پلوشې ۱۰۹

**درېیمه برخه: تاریخ او اجتماعیات ۱۱۷**

استاد داکتر حسن کاکړ او د هغه تاریخي او ټولنپوهنیز لید ۱۱۹
افغانستان او استقلال ۱۲٤
د استعمار حقیقت ۱۳۰
افغان، افغانستان ۱٤٦
نگاهی به حکومت و جامعه افغانستان در دوره امارت امیر عبدالرحمن خان ۱٥۸

د احمدشاهي دولت ځینې خصوصیتونه ۱٦٤
لومړني انسانان ۱۷۰
د اتلسمې پېړۍ په دریېیمې لسیزې کې په فارس د پښتنو غلبه ۱۷۵
زموږ معارف ۱۸۹
قیام صدو دو سال پیش کابل علیه تسلط انگلیس های مهاجم ۱۹۹
د شوروي نننی جامعه ۲۱۰
د یونان د ډیموکراسۍ څنگه والی ۲۲۸
د پښتونستان لنډه پېژندنه او یو څو خبرې ۲۳٤
زموږ ملي ښادي ۲٤۲
د لرغوني یونان دولتي مؤسسې ۲٤٥
د تاریخ په باره کې ۲٤۸

## څلورمه برخه: ژبـــاړې ۲۵۳

د ژباړې په باره کې څو خبرې ۲۵۵
شولې، بتۍ او پایکو ۲٦۰
ویـره ۲۷۰
د اډوارډ بېلامې اوټوبیا ۲۷۵
د نولسمې پېړۍ اوټوپیایي لیکنې ۲۷۷
د تولستوی برخه په ادب کې ۲۸۰
د شعر په باب تفکرات ۲۸۹
د کولتور کړۍ ۲۹۲
په اسلامي مملکتو کې معارف ۲۹۹
علتونه په تاریخ کې ۳۰۲
د انکشاف قوانین ۳۰۸
زوړ د نوي په مقابل کې ۳۱٤
د ډیموکراسۍ عناصر ۳۱۸
د هند اجتماعي حال ۳۲۳
گرانه ملگریه ۳۲۹
د فلسفې د تاریخ په شاوخوا کې یو څو خبرې ۳۳۱
د نړۍ لومړۍ جنگ ۳۳۳
د زړه مدار ۳۳۸

مفاهیم او توري ۳٤۱
د مقالو مأخذونه ۳٤۳
د پوهاند کاکړ نور خپاره شوي آثار ۳٤٦
د کاکړ تاریخ بنسټ په اړه ۳٤۸

## لومړۍ برخه

# سرمقالې

# د مورخ ژورنالیستیک تاریخ

وروستۍ څو لسیزې په تاریخي او سیاسي مطالعاتو کې د ټولنې تحلیل او تجزیې ځانګړې ځای پیدا کړی. اوسني تاریخ پوهان په دې نظر دي، چې ژور او معتبر تاریخ د ټولنې له ژورې مطالعې او خلکو ته له مراجعې پرته ستونزمن کار دی.
مبارک علي په جنوبي اسیا کې له دې امله محبوب دی، چې د تاریخ ټولنیز اړخ ته یې ډېره توجه کړې ده.
زموږ د تاریخ یوه ستره برخه سنتي تاریخ لیکنه ده، چې د پېښو په کرونولوژیک انتقال، روایت او کیسې وړاندې کولو ډېره اتکاء لري، خو د ټولنیز وضعیت تحلیل او ارزونې، د پېښو د عواملو، څېړنې او نقد اړخ ته، چې تاریخ اکاډمیک او علمي کوي، کمه توجه شوې ده.
د افغانستان په ګوتشمېر تاریخ لیکونکو کې یو تن چې د اکاډمیک او ټولنیز تاریخ بنسټګر یې ګڼلای شو، ارواښاد پوهاند حسن کاکړ دی. هغه د تاریخ او ماضي د روایت دودیز شکل بدل کړی او په تاریخ لیکنه، په ځانګړي ډول تاریخي مقالو کې یې نقد، پرتلنې، او د ټولنې اوضاع ته ځای ور کړی دی.
د پوهاند کاکړ په اکثریت مقالو کې، چې په دې کتاب کې را غونډې شوې، د افغاني ټولنې اخلاقیات، حاکم ذهنیتونه، ټولنیز شعور او ارښتونه، په انساني ټولنو او افرادو کې د طبیعي تغییراتو مسیر، د تجربو انتقال او د ولسي تعامل څرنګتیا، چې په غوڅ ډول د ټولنپوهنې او ټولنیز تاریخ برخه ګرځي، برجسته شوي.
تاریخ لیکونکی د ټولنې ځارګر دی او ویني، چې په ټولنه کې د درزونو، بې عدالتۍ او پټ او غلي خشونت عوامل څه دي. مثلا د کلي او ښار د خلکو ترمنځ د روابطو څرنګتیا، تعامل او فاصلې له البیروني تر پوهاند کاکړه د اکثرو افغان تاریخ لیکونکو پام ور ګرځولی.
د البیروني پر مرګ له نهو پېړیو زیات وخت تېر دی، خو لاهم په مختلفو اشکالو او نومونو د کلي او ښار ترمنځ فاصلې او نا اعلان شوي تضادات او ټکرونه موجود دي.
لیکوال د افغاني ټولنې په روښاندې طبقه کې د پردیپالنې او خپل تېښتې ذهنیت پر عامېدو تم شوی، چې څنګه دوی له خپلو کلیوالي خویونو، چاپېریال، فرهنګ او کلیوالو تېښتې، خو له پردي فرهنګ، خویونو، ارزښتونو، محیط او افرادو سره ځان زر همغاړی کوي.

هغه د ښه او بد لپاره د معیار او ارزښتونو په درلودو ټینګار لري، چې زموږ ټولنه یې له بده مرغه نه لري. دا مساله موږ سیاسي، او اجتماعي درک او شعور ته هڅوي. اجتماعي شعور په مسولیت پذیری، متقابل درناوي او د درنښت او ارزښت د معیارونو په رامنځته کولو کې ټاکونکی رول لري. په هغو ټولنو کې، چې ټولنیز شعور پکې لوړ دی، ټولنیز خوځښتونه وده کوي او خلک او ټولنه د سیاسي او ټولنیزو ارزښتونو د خوندیتابه، انسجام او د ښه او بد د تفکیک پر لور رهبري کوي. یوځوک قتل، غلا او لوټماري کوي او یو بل د خیر ښیګڼې او انساني ارزښتونو پر لور خلک بولي؛ اجتماعي شعور له دې دوو نه د خلکو په انتخاب او میلان کې لیدل کیدای شي.
له ټولنیز شعور او فرهنګ نه په برخمنو ټولنو کې د افرادو شخصیت او ارزښت د هغوی د ټولنیز مفیدیت/ګټورتوب له مخې ارزول کیږي. څومره، چې انسان مسوولیت پذیره، ګټور، خیر غوښتونکی، سوله پال او د انساني ارزښتونو مدافع ثابتیږي، په همغه کچه یې ټولنیز او سیاسي ارزښت او مقام ټاکل کیږي. خو که د انسان د ارزښت ټاکلو دغه معیارونه موږ په خپله ټولنه کې و ارزوو، په غوڅ اکثریت هغو افرادو ته ارزښت ورکړل شوی، چې د زر او زور څښتن دي او قتلونه او لوټمار یې کړې. په موږ کې تر اوسه د اتلولۍ او زړور او ډارن معیار هم دا دی. دا ټول زموږ د ټولنیز شعور د ټیټې درجې ښکارندوی دي. ددې ناسمو معیارونو پاللو دلته د جګړې، خشونت، زور، قتل او ترور فرهنګ ته وده ور کړې او د خلکو پر خوی او ټولنیزو اخلاقو حاکم شوي. زموږ د تاوتریخوزمه چاپیریال، تریخجن خوی او له جګړو او ویرونو ډکو داستانونو او وینلړلي تاریخ یو ستر علت دا دی، چې زموږ خلکو د ښه او بد ترمنځ د تفکیک فکر، کوښښ او جرئت نه دی کړی، حتا، چې تاریخ لیکونکو مو هم د شخصیت سازۍ او اتل جوړونې په برخه کې غیر عادلانه چلند کړی.
د ارواښاد کاکړ په څېر تاریخ لیکونکي دې تاریخي بې عدالتۍ ته متوجې او په دې باور دی چې « د ودانولو او ورانولو کسان باید یو قیمت ونه لري؛ بلکې هوښیاره جامعه د هر یوه مقام وټاکي او د مقام په دې ټاکنه کې باید اساس کار، فعالیت او جامعې ته فایده رسول وي». دده په نظر، «په کومې جامعې کې چې دا احساس پیدا او قوي و، یعنې جامعې خپل واقعي او مفید افراد نمانځل او مضر افراد یې رټل، په دې پوه شه چې دا جامعه مخ پر وړاندې روانه او ډینامیکي ده». خو برعکس زموږ تېر لنډ تاریخ او حال دا ثابتوي، چې افغاني ټولنه په لومړني غیر مطلوب حالت کې ده او د بدو او مضرو افرادو نمانځنه یې ویاړ او لومړیتوب دی.
لیکوال دلته ډېری پر اجتماعي مسایلو تمرکز کړی، چې د اجتماعي تاریخ او پېښو او

قضایاوو د غوره تحلیل لپاره اساس ګڼل کیږي. د افکارو تنوع، د خلکو د ژونددود او اند‌دود تغیر او تحول د انساني ژوند یوه برخه ده. یو وخت خلک په غارونو او سمڅو کې اوسیدل، خو اوس هیڅوک هم دا نه خوښوي، چې په سمڅو کې واوسیږي، هرڅوک د ښه ژوند په لټه کې دی. د ارواښاد کاکړ په باور، د افکارو ډینامېزم طبیعي او « زما او ستا» له قوت او طاقت نه لوړ دی، که داسې نه وای، ستر مدنیتونه به نه وای او انکشاف به نه کېدای. دی وایي، چې د یوه ولس ټول پخواني میراثونه هرومرو هر وخت د هغه په ګټه او خیر نه وي. هغسې چې اجتماعي شرایط اوړي او یو وخت بل وخت تغیر کوي؛ داسې هم په فکري خواوو کې ځینې عناصر خپل ارزښت بایلي او نویو ته ځای پرېږدي.
په دوو لیکنو کې، چې د علمي غونډو لنډ سفري ګزارشونه دي، د افغانستان د هغه وخت د دولت او حتا لیکوال سیاسي لید اودریځ منعکس شوي. د پښتونستان داعیه د لاندې پښتنو د یوه بېل دولت داعیه ګڼل شوې او افغانستان یې یوازې حامي تعریف شوی. ظاهرا دا په هغو کلونو کې د افغانستان د اوسنۍ جغرافیا د تثبیت او خوندیتابه په تړاو د دولت د دریځ ښکارندویي کوي، چې لیکوال هم ورسره همغږی دی.
د واشنګټن او تاشکند د سفرونو اړوند ګزارشي لیکنو کې د انساني ټولنو د تجاربو پر تبادلې، فرهنګي او اکاډمیکو اړیکو، له سیاسي او اډیالوژیکو توپیرونو سره سره د نظریاتو پر مبادلې، ډیالوګونو، د علومو، ټکنالوژۍ او له بهر سره د راشه درشې د ارزښت په تړاو بحث شوی، چې د ټولنو د تحرک او ګډ انساني ژوند او ارزښتونو د پاللو لپاره مهم دي. مثلا د تاشکند په ناسته کې، چې د افریقایي او اسیایي هېوادونو په غړیتوب جوړه شوې وه، د مختلفو ایډیالوژیو او سیاسي او نظامي بلاکونو اړوند هېوادونو فرهنګیانو ګډون درلود. دوی په خپلو شعرونو او ویناوو کې د سوسیالیزم او امپریالیزم پر ملاتړ او مخالفت تمرکز درلود، خو د افغانستان استازو د بې طرفۍ سیاست درلود، ځکه دولت بې طرفه سیاست غوره کړی و.
٦٢ کاله وړاندې لیکوال د وطن د بندونو د جوړېدو، ښاړو ځمکو د ابادۍ او د برېښنا او سړکونو د غځېدو په تړاو د خلکو هیلې او خوشبینۍ منعکسوي، خو شپږ لسیزې وروسته هم لا دا هیلې- هیلې دي.
په دغه کتاب کې د ارواښاد کاکړ اکثریت مقالې زموږ د ماضي هینداره ده، چې خپل حال او راتلونکې پکې لیدلی شو. دا ارزونه کولای شو، چې پرون زموږ ټولنیز حیثیت او شخصیت څه و اوس څه دی.
ارواښاد کاکړ د افغانستان د معاصرې تاریخ لیکنې ستره هستي ده. زه یې په دې کرښو او کلماتو کې حق نه شم ادا کولای، خو د هغه پر اکاډمیک شخصیت غونډې، د کتابونو،

خورو ورو لیکنو او مقالو د راټولولو او خپراوي په برخه کې د انسان انسټیټیوټ دا هڅې د افغانستان د معاصر تاریخ او اکاډمیکې تاریخ لیکنې په عامېدو او دود کېدو کې اغیزناکې بولم.

نذیراحمد سهار
د کوبها ډیالوګ رییس

کابل مجله، ۱۳۳۸ل، د لړم لومړۍ، اتمه ګڼه، ۵۵ او ۵۶ مخونه.

# د ښوونکي ورځ

## د ښوونکي د ورځې په مناسبت

ټولنه له طبقاتو او افرادو نه جوړه ده او د هغې پرمختګ د دوی په زیار او زحمت پورې اړه لري. شک نشته چې د جامعې هر فرد حرکت کوي، کار کوي، فعالیت کوي او زیار باسي، هیڅ یو هم ساکن او ثابت نه دی، بلکې اخوا دیخوا دلته او هلته دننه او د باندې ګرځي او را ګرځي خو د دې په کار او زیار کې توپیر دی، هر حرکت او هر فعل ارو مرو د جامعې په فایده نه وي، فایده لاځه کړې چې ډیر وخت ورته ضرر ور پېښوي او که هر حرکت او هر عمل د ترقۍ نښه وای زموږ جامعه به په اوسني حال نه وای، ارو مرو به د تمدن په پرمختللي پړاو کې وای او حال به مو بل وای. دلته تور له سپین سره یو ځای دی مرور له پخلا سره ناست دی، دښمن له دښمن سره پخلا دی، خبرې دي، مجلس دی، مرکې دي، کنفرانسونه دي، نظریې دي، فکرونه دي، فلسفې دي او پیشنهادونه دي. وار په وار پراخیږي او خپله ارته غېږه د نورو لپاره خلاصوي او مني یې.

نن ورځ سوله قوت لري، ځان لري، حرکت لري، ولسي شوې او په ملتونو کې یې ځای نیولی؛ نو به یونو ارو مرو په مخ ځي او جهاني کېږي به.

اوس به مو ډیر څه لرلای او له زیاتو اړتیاوو نه به خلاص وو، دا ځکه چې ټول کارونه تعمیري نه دي او بلکې د تعمیري اعمالو ترڅنګه تخریبي هم اوږه په اوږه روان دي، خبره ددې دواړو تعمیري او تخریبي اعمالو په مقابله کې ده، د یوه پر بل برۍ د جامعې د خیر او شر او د ترقۍ او پسمانۍ سبب دی، څرنګه چې اعمال هر څه او هر څنګه چې وي، ځانله عامل غواړي؛ نو ځکه انساني افراد نظر خپلو اعمالو ته ارزښت پیدا کوي، د ودانولو او ورانولو کسان باید یو قیمت ونه لري، بلکې هوښیاره جامعه باید د هر یوه مقام وټاکي او د مقام په دې ټاکنه کې باید اساس کار، فعالیت او جامعې ته فایده رسول وي، په کومې جامعې کې چې دا احساس پیدا او قوي و، یعنې جامعې خپل واقعي او مفید افراد نمانځل او مضر افراد یې رټل، په دې پوه شه چې دا جامعه مخ پر وړاندې روانه او ډینامیکي ده.

ځکه چې د افرادو نمانځنه او رټنه هم بنا په کوم معیار وي؛ خو که دا معیار کې عدالت خوندي شوی وي او د داسې مقدس اجتماعي پرنسیپ په اساس وي، چې د ټولو خیر او بهبود پکې منظور وي؛ نو دا به خیر اعلی وي، دا چې زموږ په ملک د معلم ورځ ټاکلی شوې، په حقیقت کې د ډېر لوی خیر او فضیلت د نمانځلو او قدر کولو لپاره اقدام شوی دی، ځک چې معلم د جامعې هغه شریف کس دی چې د بشري او انساني مفاهیمو او ارزښتونو تلقین حتی په وچه ګېډه هم کوي.

کابل مجله، ۱۳۳۷ ل کال، زمری، ۱۱مه گڼه، پرلپسې گڼه ۴۶۲، ۱-۳ مخونه.

# زموږ لوستوونکي له موږ څه غوړاي؟

له هغې ورځې نه چې دا مجله ماته سپارل شوې ده، د مجلې په هکله خبرې او تبصرې زياتې شوي دي. څوک يو څه وايي او څوک بل څه. ځينې کسان يې ستايي او بعضې يې لا غندي هم. هغه چې ستايي يې وايي چې مجله د مضمونونو له پلوه ډېره ښه شوې او تر پخوا يې ښايسته توپير کړی دی. هغه چې غندي يې وايي چې د مجلې صحافت، توري، شکل او قطعه ښه نه دي او سربېره پر دې طباعتي غلطۍ هم په مرگ په کې دي. د دوی نظريه ښکاروي چې که دا ماتې گوډې يې ورسمې شي او په همدغسې علمي او اوچتو خپرونو سره راووځي، نو به مجله په رښتيا ميدان وگټي او په لوستونکو به لا گرانه شي.

يو شمير نور کسان لا نور څه گړيږي. داسې کسان چې مجله له ورايه ويني تر ټولو دمخه دېته هڅه کوي چې که په مجلې کې په زړه پورې ښايسته عکسونه ويني، يعنې دوی ته له هر څه ړومبی ښايسته او ښکلي تصويرونه ارزښت او گرانښت لري.

دا راز نظريې له هرې خوا او هر چانه چې وي، مونږ ته زيات اهميت لري. همدغه سبب دی چې موږ ورته په ښه سترگه گورو او لا هم غوږ په اواز يو چې زموږ نور ملگري په دې باره کې څه وايي او څه راز نظريې ښکاره وي.

ما ړومبی وويل چې د مجلې په باب هر راز نظريه وړاندې کول زما په نظر ډېر ارزښت لري او مخصوصاً زه ورته په درنه سترگه گورم. دا ځکه چې په دې وختو کې هغه ښاغلي ليکوال چې د ويلو او لوستلو د ذوق له لاسه به يو وخت تل نارام وو، اوس ټول ساړه پاړه دي، د خپرونو او نشراتو په باره کې يې بيطرفي غوره کړې او په اصطلاح محافظه کاران يا په بل عبارت سياستمداران شوي دي. د انديښنې وړ خبره دلته ده چې زموږ په هېواد کې داسې سياستمداران ورځ په ورځ مخ په زياتېدو دي.

اول خو دا راز ښاغلي د ورځپاڼو او مجلو په لوستلو سر نه خوږوي او که يې کوم وخت کومه مجله مثلاً د کابل مجله په گوتو ورغله، يوازې يې د سر ټکي گوري او بيا وايي چې افسوس په کاغذ چې بې فايدې توريږي او که يې ورځپاڼې، مثلاً اصلاح، انيس او هېواد

تر لاسه شوه؛ یوازې باندینی پېښې یې لولي او نور مخونه یې له ورایه ګوري او وایي چې فایده د دوکاندارانو او نصوار فروشو پکې ډېره ده. که له دوی څخه غوښتنې وشي او دې ته راوبلل شي چې ګرانو ښاغلیو! مقالې ولیکئ او د اصلاح او سمون په منظور خپلې نظریې وړاندې کړئ او انتقادونه وکړئ او که بیا هم په ډېر ټینګار ورته وویل شي چې خپرونې ستاسې لپاره دي، کار کوونکي یې له ستاسو څخه دي، له اسمان او یا له کوم بل هېواد څخه نه دي راغلي او دوی ټول زیار باسي چې د ولس او خلکو په ژبه خپرونې وکړي؛ نو دوی بیا په عجیب منطق سره کوښښ کوي چې ځانونه خلاص کړي؛ نو بیا وایي چې ولس کې پوهه نشته، سواد کم دی او په پای کې وایي چې ویونکي او لوستوونکي پکې په شمار دي. له دې کبله دوی پسې اضافه کوي چې خپرونې ولسي نه دي او یوازې د یو موټي کسانو له پاره انحصار شوي دي. زه دې منطق ته سرچپه منطق وایم او دې ښاغلیو ته داسې ځواب ورکوم چې که زه غلی اوسم، ته کرار کېنې او ها بل هیڅ ونه وایي او هغه څلورم په خپلو شخصي کارونو باندې لګیا وي او هغه بل د خپل مجلل ژوندون د برابرولو په منظور د کوټیو، موټرونو او بانکونو په سودا کې ډوب وي او ټول له دې څخه ډډه وکړو او چې څه مو زده وي ولس ته یې ونه ښیو او چې په څه پوهیږو نور پرې ونه پوهوو او هغه څوک چې په رښتیا د ولس غم خوري له هغوی سره مرسته ونه کړو او ورسره اړم نه شو؛ نو د دې ملک او د دې وګړو حال به څنګه ښه شي؟ خیالي ایډیالي ټولنه تر اوسه پورې زموږ د کُرې په سر درک نه لري. هر چېرې او هر ځای نیمګړتیاوې او ماتې ګوډې شته؛ خو په هر ملک د ولس رښتینی زوی هغه دی چې یوه ګړۍ بې ځایه تېره نه کړي او د وخت له موجوده شرایطو څخه د خپلې جامعې د بهبود او هوساینې په منظور اعظمي استفاده وکړي.

دا چې په دې سره سرټیا، چوپه چوپتیا او بې شوقۍ کې زموږ لوستوونکي د دې مجلې په باره کې د نظر اظهار کوي، موږ ته د دې زیری راکوي چې د دې خپرونې په مقابل کې بې طرفي نه اختیاروي؛ ځکه چې بې طرفي له عدم علاقې او یا نهایت محافظه کارۍ څخه پیدا کیږي. تاثیر یې یا مثبت وي او یا منفي؛ خو په هر حال کې به یو څه وایي. د لوستوونکو همدغه څه ویل او یا اظهار نظر دی چې د یوې مجلې یا ورځپاڼې کارکوونکو په حیث د هر چا له اظهار نظر څخه خوښۍ څرګندوو او خوښیږو چې لیکوال موږ ته خپل نظریات د خپرونې لپاره د مضمون یا د لیک په شکل راواستوي. موږ حاضر یو چې ور نشر یې کړو.

موږ دا منو چې زمونږ په مجلو کې هم ماتې ګوډې شته دي؛ صحافت، شکل او قطعه یې څنګه چې ښایي هغسې نه دي. سربیره پر دې تر اوسه هم له طباعتي غلطیو څخه

خلاصه شوې نه ده او تصویرونه هغسې چې د مجلې له شان سره برابر وي، پکې لږ دي. مورږ ټولو هغو ملګرو ته چې دا نیمګړتیاوې یې غندلي دي کور ودانی وایو او ورته ډاډ ورکوو چې د مجلې چلوونکي دې ماتو ګوډو ته ښه ځیر دي او زیار باسي چې دا ټولې نیمګړتیاوې لرې شي او له دې وروسته یوه ډېره درنه او علمي مجله د ګران هېواد د پښتنو له مرکز نه راووځي.

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د لړم (عقرب) لومړی، اتمه ګڼه، ۱ او ۳ مخونه.

# یونو د جهاني تشکیل په لور

## د یونو د ورځې په مناسبت

د روانې میاشتې په سر کې د نړۍ په هر ګوټ کې په یوه وخت کې یوه حادثه محسوسه وه، دا حادثه د یونو (ملګرو ملتونو موسسې) کالیزه وه چې په (۸۲) غړو هېوادو کې یې درناوی وشو او په احترام یې مجلسونه جوړ شول.
جرګې او کنفرانسونه به تر اوسه ډېر شوي وي؛ خو هغه ارزښت چې یې دا راز غونډې لري؛ نن‌ني بشر ته خصوصاً د زیات قدر وړ ښکاري.
د انسانانو د تاریخ پاڼې د جنګونو، مصیبتونو، کشالو، جنجالونو، حسد، حرس او دښمنۍ نه ډکې دي، یو بل زبېښلي او په ګور کې یې ننویستي دي او سل رنګه ظلمونه یې پرې کړې دي، قوي په ضعیف سپور شوی او هر راز استفادې یې ترې کړې دي؛ خو تر اوسه په دې نه و پوه چې خپل ورور یې مړ کړی، خپل بازو یې پرې کړی، خپل همکار او انډیوال یې وژلی او حضرت «انسان» یې لاندې کړی دی، دا لاندې کول، دا وژل، او دا انساني استثمار د څه لپاره؟
فقط اوس لږ څه پوه شو چې په خطاوو، په غلطو او پخپله حیوانیت او سبوعیت لاندې کړی و. انسان د انسان دښمن نه دی، بنیادم د بنیادم قاتل نه دی، دا د انسان خطا ده چې یې ځان قاتل او دښمن کړی و، پخپله ښه دی، طبیعت یې نیک دی، شر یې نه خوښیږي او ورسره روغ نه دی؛ خو خبره داده چې په غلطه لار روان شوی دی، د تیرو شوو په لارو روان شوی او لا یې له لارې باسي او دوست ورته دښمن ګرځوي؛ نو ځکهددې وخت دی چې تل لار ته نظر وشي، دقت پکې وشي، که کېدای شوای اصلاحات دې پکې وشي او که نه رد دې شي او داسې لاره دې غوره شي چې رښتینې دوستي پکې خوندي شي او د ټولو او تل لپاره.
د انسان رښتیانی او نه پخلا کېدونکی دښمن ناداني ده، جهل دی، مرض دی، قحط دی، غریبي ده، بیچارګي ده، بېوزلي ده او بې وسي ده، انسان نه دی، بنیادم نه دی، بشر نه دی، شرقي نه دی، غربي نه دی، تور نه دی، سپین نه دی، زیړ نه دی او سور نه دی؛ نو

څکه مبارزه په کار ده، جګړه لازمه ده او جنګ حتمي دی، له چاسره؟ له مرض سره، له نادانۍ سره، له غریبۍ سره او له طبیعت سره، نه دا چې له انسان سره، له بنیادم سره، له شرقي سره، له تور سره له سپین سره، له ماسره، له تاسره او یا له هغه سره. دا مبارزه، دا جګړه او دا جنګ به څنګه او په څه ترتیب کامیاب شي؟
یونو یي څواب وایي، ملګرتیا یې څواب وایي، همکاري یې څواب وایي، ګډ ژوند یې څواب وایي، سوله یې څواب وایي، اعتماد یې څواب وایي او بالاخره سمه لاره او انسانیت یې څواب وایي. که اعتماد پیدا شي، ویره ورکه شي، ملګرتیا راشي، لاره سمه شي او یونو فعاله شي، ننني پاڼه به واوړي، بله صفحه به په سترګو شي، تاریخ به شروع شي، انسانیت به وویاړي، استثمار به د تل لپاره کډه کړي او مصیبت به نه وي. څه شی به وي؟ خوند به وي، ژوند به وي، وروري به وي، انډیوالي به وي، همکاري به وي او هر څه به وي. څه شی به نه وي؟ شکول به نه وي، زبېښل به نه وي، وهل به نه وي، ټکول به نه وي، تربګنی به نه وي، تربور به نه وي، ترخه به نه وي، تروه به نه وي، حسد به نه وي، بغض به نه وي، دښمني به نه وي او قتل به نه وي. د همدې منظور له پاره یونو راغله او په کار شوه (۱۹۴۵م) نو دا منظور محترم دی، درونډ دی، سپېڅلی دی، مقدس دی، انساني دی او بشري دی.

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري(حمل) لومړی، درېيمه گڼه، ۱ او ۲ مخونه.

# زموږ ذهنيتونه

له دې عنوان څخه زما مطلب يوازې د هغو خلکو ذهنيتونه نه دي چې په کوڅه او بازار کې مو هره ورځ په مخه راځي او يا يوازې په دفترونو او ښوونځيو کې ورسره گورو؛ تر دې نامه لاندې ټول هغه وطني کسان او د دوی ذهنيتونه شامل وبولئ چې په نننی افغانستان کې شپې او ورځې تېروي او د خپل ذهنيت په قرار دنيا او مافيها ته په تعبيرونو قايل دي، صنعتگر او ترکان، جولا او نداف، شپون او دهقان، ملا او زميندار، مامور او سرمايه دار ټکي شامل وگڼئ.
د دوی د ذهنيتونو په باره کې غږېدل او په دې باب کې څه ليکل دومره اسانه هم نه و، په کوم ځای کې تماس لږ وي، تگ او راتگ او ناسته ولاړه محدودوي. د يو بل پېژندل او د هغوی د مافی الدماغ او مافی الضمير په باب کې غږېدل هم گران وي.
له بلې خوا له بده مرغه موږ کې دا مرض په زور دی او دېته زړه نه کوو چې له ښکته خلکو سره تماس وکړو او ورسره وغږېږو؛ شايد يو علت همدغه بې علاقه گي او زړه سوړوالی وي چې د فکر او ذهن په لحاظ زموږ او ولسي خلکو تر منځ ډېر فرق دی.
په موږ کې افراط او تفريط موجود دی، د مثال په ډول موږ يو سوچه نورستاني، جنوبيوال، شغناني يا د پامير د علاقې وگړي سره د فکر او مېل په لحاظ زړه تنگي حس کوو؛ خو له امريکايي، جرمني، فرانسوي او روسي سره زړه گرمي لرو او په خبرو اترو کې ترې خوند اخلو او دا مو په زړه کې وي چې نور هم ورسره وای او په موضوعاتو ورسره گړېدلای وای.
د جرمني، انگرېزي، فرانسوي او روسي او نورو ژبو زده کړې ته هوسېږو؛ خو هغه ژبې چې افغان ملت پرې گړېږي؛ نه زده کوو او علاقه هم نه ورښيو. امريکا، فرانسه، واشنگټن او مسکو موږ ته نژدې دي، که وغواړو يا وکولای شو د هغو ځايو خلکو سره راډيو، ټليفوني مخابره لگولای شو او حتی په ډېرو کمو شپو او ورځو کې ورته رسېدلای هم شو؛ مثلاً نيويارک ته چې د دنيا په بل سر کې پروت دی په دوه درې شپو کې رسېږو؛ يا مسکو ته چې په زرگونو ميله له موږ نه لرې پروت دی؛ په پينځه شپږ ساعته کې ځو؛ خو که وغواړو شغنان يا نورستان ته لاړ شو؛ بايد شپې او ورځې تېرې کړو او زحمتونه او ربړونه وگالو.

هر سهار او هر ماښام له واشنګټن، لندن او مسکو نه ځان خبروو؛ خو دا مو په زړه کې نه وي چې د کونړ د ساپيو به څه حال وي او فراهيان به څنګه ژوند لري. د دې راز ذهنيت طبيعي نتيجه دا ده چې خپلو ته بېګانه او بېګانه‌وو ته خپل شوي غوندې يوو. زموږ په زياتره تش په نامه روشنفکرانو کې داسې ذهنيت قوي دی؛ نو که د دوی ډول ته څوک ناڅي او خبرې يې په چا اثر نه شي لرلای؛ بايد څوک ملامت هم نه کړای شي او دا ونه ويل شي چې ولس کې شعور نشته؛ نه په ولس کې شعور شته په ولس کې قوتونه پراته دي او په ولس کې هر څه شته؛ خو نر څوک دی چې هغه وسکونډي او اعتماد يې حاصل کړي.

دغسې قدرت په موږ کې ضعيف دی او نه شو کولای چې حتی ډېر نژدې کسان هم په سمه لار روان کړو، زموږ لوی عيب دا دی چې د خلکو مسئلې ځانته نه معلوموو، د دوی په ژوند او فکر ځان نه پوهوو، څه چې خپله فکر کوو، خيال کوو چې نور به هم همداسې وي؛ مګر واقعيت بل او هغه زموږ له دماغ نه خارج وي. راځئ!! چې د دې ادعا لپاره اوس يوه لنډه سروې شروع کړو او د وطن په لره او بره او ښکته او پورته کې يو فکري چکر ووهو.

دا خو څو کاله د مخه اټکل شو چې د افغانستان دولس ميليونه وګړي لري، نفوسي شمېر خو اټکل شو، مګر دا يقيني ده چې دا ټول په ښارونو کې نه اوسي. کابل تر ټولو لوی او ودان ښار دی، سره له دې هم نفوس يې له درې لکو نه تجاوز نه کوي، بيا پسې کندهار، هرات، مزار شريف، جلال آباد، قندوز او داسې نور دي، ټول ښاري نفوس به ممکن د اتو لکو په شاوخوا کې وي، که ډېر دقيق شو او د ښار پوهانو تعريف ومنو، نو حساب له دې هم پسې کمېږي. ښار پوهان د ښار داسې تعريف کوي:

«ښار د افرادو هغه ټولنځی دی چې زياتره وګړي يې په صنعتي کارونو لګيا وي، دقيقه احصائيه نه لرو او ځکه دا ويلي نه شو چې صنعتي کار کوونکي به څو ته رسيږي، خو دومره ويلای شو چې په عامه اصطلاح سره اته لکه ښاري او نور پسې اطرافي دي».

کله چې د اطرافيانو په باب فکر کوو، نو سمدستي دهقان، شپون او زميندار را په زړه شي او سترګو ته مو نيغ ودريږي په دوی کې نور خلک لکه، ترکاڼان، آهنګران، خټګران، موچيان، دکانداران، ملايان او داسې نور هم ارو مرو شته؛ خو هغوی په تعداد کې لږ دي، څه يې په دهقانانو او څه يې په نورو کې ور ګډيږي؛ نو دا ويلای شو چې زموږ جامعه زراعتي ده او زارعان په سلو کې نژدې اتياوو ته رسيږي. اوس نو بله خبره داده چې دوی او هغه نور څنګه فکر او څه ذهنيت لري، که دا درسته وي چې د يوه انسان تفکر د هغه د اجتماعي ماحول او موقف زېږنده وي؛ نو ښايي په جامعه کې د دوی مقام

وخېږو، په دې کې هېڅ شک نشته چې تبعیض په افغانستان کې نشته او ټول د قانون او شریعت په نزد مساوي ګڼل شوي دي، بلکې شریعت وایي، هر هغه څوک چې متقي وي، هغه خدای (ج) ته نژدې دی؛ خو هغسې چې د حکومت او د دولت مشران ارزو لري، د دوی ژوند ښه شوی نه دی، همدا راز ددې وخت د افرادو جسمي او روحي قابلیتونو پوره انکشاف کړی نه دی، مثلاً په عمومي ډول دهقانان او د دوی منسوبین پوره په نس ماړه نه دي، خوراک یې خراب دی، زیاتره پوروړي دي، تر حاصل د مخه په سود او سلم پیسې اخلي ډېر یې کورونه نه لري او د یو بل او زمیندارانو په همسایه خانو کې شپې او ورځې تېروي. کافي کالي نه لري، ځینې یې له څارویو سره یوځای په یوه خونه کې ژوند کوي او له دې څخه عملي فایده اخلي او هغه دا چې د ژمي په موسم کې یې خونې ور تودوي، سواد خو پکې نشته له علم هنر او فن ځینې بې بهرې پاتې شوي دي، د ښکلو صنایعو په مفهوم خو خبر هم نه دي، د سیاست او ادارې میدان د ځان نه ګڼي او هغې خواته ګوري هم نه؛ مګر پاخه دیندارانو نه زیاتره یې پینځه وخته لمونځونه کوي، روژې نیسي او ټینګ مسلمانان دي، دیني جذبه په کې قوي ده او هر وخت غزا ته تیار دي. د دوی دنیا فقط د دوی کور، پټي محله او بازار دی، افکار یې هم همدغه حدود کې څرخي، کری ورځ په خپلو کارونو لګیا وي، له باندنی نړۍ نه خبر نه لري؛ خو دوی زیاتره پرنګیان پېژني، ځکه چې د وطن په درو او هسکو او ژورو کې یې ورسره جنګونه کړي او هغوی یې ډېبولي دي.
دا فکر پکې عمومي دی چې دا دنیا د نورو (غیر مسلمانانو) او هغه بله دنیا (اخرت) به د دوی وي، ځکه چې دوی مسلمانان او د خدای(ج) صالح بنده ګان دي؛ نو په سوکړک شکر باسي او په خپل ژوند قناعت کوي. په دوی کې ناروغي ځای لري او دا وړ مړینه یې زیاتره ده، مګر زمینداران او ملکان بیا د خدای(ج) فضل دی ښه دي، که څه هم دوی کار او بار نه لري؛ خو د ځمکو د حاصلاتو له پلوه یې ګزاره ښه وي. زمینداري په بېلو بېلو ولایتونو کې فرق کوي، مثلاً ننګرهار کې لوی لوی زمینداران کم دي، د ننګرهار سیمه تنګه مګر حاصلخیزه ده، له بلې خوا نفوس هم زیات لري، مګر په نورو ولایتونو مثلاً د کندهار په ولایت او په تیره بیا د فراه او چخانسور خواته ښه زمینداران لرو، وایي چې د خدای(ج) فضل دی، ځینې یې شپیته زره یا اویا زره جریبې ځمکې لري. په سلګونو دهقانان او نوکران لري، رمې او ګلې یې هم ډېرې دي. په دې برخه د هندوکش شمالي خواوې ښې آبادې دي، لوی زمینداران او پاخه سرمایه داران پکې ښه آباد دي، په عمومي ډول د دوی ګذاره ښه ده، په نس ماړه او په تن پټ دي او زورور دي او لوړې کلاګانې لري، په ژمي وړین او په اوړي کې نري کالي اغوندي، ښه تن او من او قوي او روغ

رمتې دي؛ ډېر یې باسواد دي، په محلي حکومتونو کې مخ لري او زیاتره ولسي چارې د دوی په واسطه فیصلې کېږي، په ولسي مرکو او جرګو کې د دوی اوازونه درانده وي. نو ځکه زیاتره فیصلې د دوی په ګټه کېږي. ښه محلي سیاستمداران دي، خانان او ملکان او قومي مشران او لویان له دوی څخه وي. لر او ډېر د دنیا له جریاناتو نه خبر وي او ډېره دلچسپي ورته ښکاره کوي.
له دې لنډ بیان څخه داسې ښکاري چې زموږ په ملک کې ذهنیتونه یو راز نه دي او زیاتر فرق پکې لیدل کېږي؛ خو په ملي مسئلو کې ټول یو موټی کېږي چې د دې ډېر تازه مثال د پښتونستان موضوع ده چې څو کاله د مخه یې زبردستې مظاهرې وکړې.
سره لدې په دې وروستیو کلونو کې حال ډېر فرق کړی دی، معارف وار په وار آن په لیرې ځایونو کې ښوونځي جوړوي او کوښښ کوي چې د رزونې او ښوونې لمنه ارته کړي، کلیوالي ښوونځي افتتاح کړي ابتدائي مکتبونه ډېر کړي او هلکانو ته د دې موقع برابره کړي چې علم او صنعت زده کړي او باسواده شي، په پینځه کلن پلان کې معارف ته زیاته توجه کېږي او کوښښ کېږي چې په مکتبونو کې نظري او عملي کارونه په مخ لاړ شي، همدا راز په لرو سیمو کې هم په دې وروستیو کلو کې محسوس پرمختګ لیدل کېږي.
خصوصاً د سړکو او لارو جوړولو کار په بېړه سره روان دی. څه وخت چې له خیره سره لویې لارې ښویه او قیر شي، د سالنګ سړک جوړ شي او نورې لارې او د کندهار بین المللي هوائي ډګر جوړ او په کار واچول شي، نو دا به زموږ لپاره یو لوی موفقیت وي. همدا راز د نورو مجوزو بندونو په تکمیلېدلو سره هاغه وخت چې په لکونو جریبو شاړې ځمکې آبادیږي او په زرګونو کیلو واټه برق ترې راوځي او مملکت برقي کېږي، نو دا به د وطن د آبادولو په لړ کې نه هېرېدونکې لوړ کار وي؛ ځکه چې د داسې پلانونو او پروژو په تطبیق او تکمیل سره به مملکت او ولس آباد شي، ژوند به یې ښه شي او ورسره به د ولس ذهنیت انکشاف وکړي، ډېرې ورانې وېجاړې به مو سمې شي او ډېرې نیمګړتیاوې به مو پوره شي. د داسې پلانونو او پروژو په تطبیق سره موږ خپلو مشرانو ته پوره حوصله او موفقیت غواړو.

کابل مجله، ۱۳۳۷ ل کال، زمرى، ۱۰مه ګڼه، پرلپسې ګڼه ۴۶۱، زمرى، ۱-۳ مخونه.

# پخه دوستي

په ننني نړۍ کې د هرې ګړۍ په تېرېدو سره د انسانانو په مغز او ذهن کې دا هيله وار په وار قوت مومي چې بايد يو بل سره ووينې سره نږدې شي او د يوه او بل هېواد ته سفر او تګ راتګ وکړي. که همدا اوس سر پورته کړو او باندنۍ نړۍ ته نظر وکړو؛ نو به را ښکاره شي چې ډېر پوهان، لويان او د ژوندانه او علم د هر اړخ نور متخصصين، له يوه ملک نه و بل ملک ته ځي او سفرونه کوي. د وېرې او ډار او د نفرت او حسد د لرې کولو او د رښتيني ملګرتوب او انډيوالۍ د پيدا کولو او ټينګولو او د انسانانو د نږدې کيدلو لپاره دا يو موثر او اساسي ګام شمېرل کېږي.
ښکارېږي چې دا ارته او پراخه نړۍ چې په يوه وخت کې مجهوله او مبهمه وه او بس؛ وړوکې کېږي او تياره ګوټونه يې وار په وار رڼا کېږي او انسانان غواړي چې يو د بل په احساساتو، افکارو او نظرياتو راساً په خپله پوه شي او هغه مصنوعي موانع چې يو وخت نورو د خپل غرض لپاره د ملتونو او وګړو ترمنځ ايښې وې، د همېش لپاره لرې او نابودې کړي. د نورو ولسونو او وګړو د پېژندلو لپاره ښه لاره دا ده چې لومړۍ د هغوی ژبه زده شي او وروسته د ژبې له لارې د دوی د ژوندانه کلچر او ذهنيت په څرنګوالي او خصوصيت پوهه راشي.
په دې برخه کې ژبپوهان او عالمان ستر رول لري. شايد د همدې مقصد لپاره وي چې په تېره هفته کې د امريکا د متحده دولتونو او د اتحاد شوروي ستر پوهان کابل ته راغلي وو. خپل مستشرق او د پښتو ژبې لوی متخصص ډاکتر هربرت پنزل يې دلته راواستاوه او د شوروي او شوروي اتحاد د پر له پسې هيئتونو په ترڅ کې يوه بله درې کسيزه علمي ډله زموږ مېلمانه شول. ډاکتر پنزل اتلس کاله کېږي چې پښتو يې زده کړې ده. دی لومړی امريکايي متخصص دی چې په پښتو ښه پوهيږي او د پښتو لپاره يې ډېرې قيمتي رسالې هم ليکلې دي؛ خو څرنګه چې د علم تنده سخته وي او سړی نه پرېږدي چې ځای په ځای کېني؛ نو ځکه ډاکتر پنزل د نورې څېړنې په منظور د شپږو مياشتو لپاره پښتني دنيا ته راغی. د مجلې نماينده له ده سره په پښتو يوه مرکه وکړه او په دې ډول

یې د پښتو په باب د ده نظریات وغوښتل. د ده همدا مرکه کولی شئ د همدې ګڼې په کوم بل مخ کې وګورئ.
بله ډله روسي متخصصان او مستشرقین وو چې د دوو هفتو لپاره دلته راغلي وو. دا درې کسیزه ډله څو ځله پښتو ټولنې ته راغله او د پښتو له لیکوالو سره یې خبرې او مرکې وکړې. په دې ډله کې د ښاغلي دو وریانکوف ــ د اتحاد شوروي د ختیځ پېژندنې د انسټیوټ د معین، پښتو دومره قوي وه چې موږ به بې درېغه ورسره ګړېدو او دې ته مو نه کتل چې دی روسی دی او یا به یې پښتو ژوبله او نیمګړې وي. د ده له خبرو او مرکې څخه داسې معلومېده چې دی له پښتنې نړۍ سره زیاته علاقه او زړه سواندي لري. زموږ له ملګرو څخه یوه ورته وویل چې ښاغلیه دو وریانکوفه! ته به داسې وخت کې د ننګرهار جلال کوټ ته ځې چې هلته سر کال د ګرمۍ له لاسه مچان بې وزرو شوي دي او موږ اندېښمن یوو چې ته به ونشې کړای ښې خاطرې له ځانه سره یوسې. زموږ ملګری لا له خبرو نه و خلاص چې ښاغلي دو وریانکوف په خندانه څېره او په ډېر شوق وویل: «هندو د یار لپاره خوري د غوایي غوښې».
د هیئت درې واړه غړي له پښتنې لیکوالو سره په ابحاثو کې عمیق شول. دو وریانکوف د پښتو او پښتنو په باب کې پوره غوري وکړې. دا معلومه شوه چې دی د ژبې پوره متخصص او د پښتو زیات شوقمن عالم دی. دو وریانکوف شاعر هم دی. ده وویل چې ما د غوره اشعارو زیاتره شعرونه روسي ژبې ته په شعر اړولي دي. لکه څرنګه چې ده ښکاره کړه، دا اشعار هلته د شورویانو زیات خوښ شوي وو.
د ده بل ملګری ښاغلی اخرا موویچ له پښتنو سره د پښتنو په تاریخ کې را ګډ شو. زموږ د تاریخ په هرې مرحلې باندې وغږېد او په تېره بیا د معاصر تاریخ په بابت کې یې پوره خبرې وکړې. څه کم نیمه ګړۍ د پښتونخوا په اړه او روانو مسئلو وغږېد او ښکاره یې کړه چې ښکته او پورته په ټوله پښتونخوا کې پښتانه اوس لوی نهضت لري او په بېړه او چټکۍ مخ په وړاندې درومي.
د هیئت دریمه غړې یوه درنه او متینه ښځه وه چې کوختینا نومېده. کوختینا په پښتو ښه پوهېده؛ خو لومړی یې چندان خبرو ته زړه نه ښه کاوه او وروسته وروسته زړوره شوه او له موږ سره یې خوږه پښتو را واخیسته. غوریالي دو وربانکوف ته یوازې خبرې او مرکې بس نه شوې، تحریري او منظم نطق ته یې ملا وتړله او د پښتو په لوی مجلس کې یې ولوست. د نطق په باب کې موږ څه نه لیکو، ځکه چې هغه عیناً مونږ په همدې ګڼې کې چاپ کړی دی؛ خو دومره وایو چې د ښاغلي دو وریانکوف وینا په ټولو پښتنو ښه ولګېده او هر یوه د خوښیو په علامو استقبال کړه. سربېره پر هغه، د پښتنې دنیا د

پښتو ټولنې مشر ښاغلي الفت په امتنانیه پیل وکړ. ده له ښاغلي دو وریانکوف او د ده له ملګرو ځینې خوښي وکړه چې دوی دلته راغلي او غواړي پښتانه له نږدې وګوري او د دوی د کلچر بېلې بېلې خواوې وپلټي او بیا یې د شوروي وګړو ته معرفي کړي.
مرکې او لیدل کتل ډېر وشول، دوی له موږ او موږ له دوی سره پوره وګړېدو. موږ ډاډه یو چې دوی به له ځانه سره ښې خاطرې یوسي او د شوروي وګړو ته به د پښتو په معرفي کولو کې د قدر وړ خدمتونه وکړي. دا به یو بل ګام وي چې د افغانستان او شوروي یا د دوو ښو او دوستو ګاونډیو په نږدېوالي کې به لاهم موثر ثابت شي.

کابل مجله، ۱۳۳۷ ل کال، لیندی، ۱۷-۱۸ او ۱۹ نمبر گڼې، ۳٦-۴۵ مخونه.

# د تاشکند جرگه

د ساینس او تخنیک په دې چټک پرمختګ سره، نور د دې امکان نه دی پاتې چې د نړۍ ولسونه او ملتونه دې یو له بل نه بې خبره پاتې شي، یو د بل له کړاوونو او سختیو دې متاثره نشي او د یو بل په خوښي کې دې برخه وانخلي. که په لمړنیو پېړیو او تاریکو دورو کې، انزوا او ځان ځاني وه، لوی علت یې د مواصلاتي او وړلو او راوړلو د وسیلو نه لرل وو او یا دا چې که وسایل موجود وو خو هغو محلي خصوصیت لاره چې نتیجه یې د بشریت په ځان ځاني او انزوا تمامه شوې وه؛ مګر د ساینس او تخنیک په پېشرفت سره، د بشر په تفکر او جهان بیني کې هم لوی فرق راغی.
د پلټنې او پلټلو حس، د لیدنې حس، د مرکې کولو حس او له نورو سره د ګړېدلو حس قوت پیدا کړ. ځان ځاني او انزوا مخ په کوچ شوه، ملي سرحدونه نري شول او انټرنیشنلزم زوره وکړه. جهاني موسسې لکه یونو او نورې منځته راغلې، داسې فلسفې او نظریې میدان ته راووتې چې اساس یې د ملتونو او ولسونو ترمنځ په نږدې او ټینګې همکارۍ باندې ولاړ وي. دا ټول د دې سبب شول چې بین المللي جرګې او مرکې زیاتې شي؛ نو ځکه د ولسونو او بېلو ملتونو په نمایندګۍ، ساینس پوهان، سیاستمداران، ښوونکي، ژبپوهان، قانون پوهان، بشردوستان، هنرمندان، ګوندیماران، د بزګرو او کارګرو متخصصان، سوداګران، د ولسونو د کولتور د بیل بیل اړخ نماینده ګان او متخصصان سره پخپلو کې کنبیناستل مرکې، غونډې او جرګې یې سره جوړې کړې، یو د بل په طرز، فکر، جهان بینې، عادت، رسم او رواج او کولتور خبر شول او یو بل سره یې ښه وپېژندل.
لیکوال هم بې علاقې پاتې نشول، دوی په دې کار کې زیات په مخ لاړل، هر څېرې یې اوازونه پورته کړل او په زغرده را ولاړ شول چې له یوې خوا د ولسونو د ژوند څرنګوالی ترسیم کړي او نور دونیاوال پرې پوه کړي او له بل خوا مرکې او جرګې جوړې کړي او نور په ځان او په خپل ولس خبر کړي او همداسې د نورو ولسونو له حال احوال څخه ځانونه خبر کړي. نو ځکه دوی په دې پسې هڅه وکړه، چې د بیلو بیلو ولسونو له لیکوالو سره وګوري او د دې کار لپاره تر ډېره حده پورې، هغه پخواني تعصبونه پرېږدي او د عصر په

نوي روح سره مخ پر وړاندې حرکت وکړي، له دې کبله د مابه الاشتراک ټکي يې پيدا کړل او داسې کوښښونه يې وکړل چې په خپلو منځو کې ليدنو کتنو ته دوام ورکړي او د مابه الافتراق ټکي پرېږدي. په دې کار کې لومړی د اسيا د لويې وچې ليکوال د مخه شول، ابتکار يې خپل کړ او د لومړي ځل لپاره سره راغونډ شول او په ډهلي کې يې دوه کاله دمخه جرګه جوړه کړه.

د دې جرګې مقصد دا شو چې بايد ټول هغه وسايل او ممکنات سره برابر شي چې د ليکوالو ترمنځ دايمي ارتباط قايم شي. له دې کبله هلته فيصله وشوه چې دوه کاله ورسته دې همدسې جرګه په تاشکند کې وشي. سربېره پردې په دې هم اتفاق راغی چې راتلوونکې جرګې ته دې د افريقې ليکوال هم راوبلل شي. څرنګه چې د افريقې او اسيا د ولسونو ترمنځ اشتراکات زيات موجود وو او د دې دوو لويو وچو ولسونه له يوې خوا د بشريت د ډېرو قديمي مدنيتونو خاوندان وو او له بلې خوا يې مشابهې تاريخي دورې لرلې؛ نو په دې پشنهاد موافقه راغله او افريقايي ليکوال هم په ډېره خوښي دې ته حاضر شول چې له اسيايي ليکوالو سره څنګ په څنګ کېني او د ادب او کولتور د پېشرفت ټولې خواوې سره په ګډه وڅېړي. نتيجه دا شوه چې د بحرکاهل له څنډو څخه د جاپان له هېواده نيولې، د اتلس تر شرقي څنډو پورې، د سنګال تر هېواد پورې، د اسيا او افريقې له هېوادونو څخه به د ليکوالو هيئتونه تاشکند ته د جرګې لپاره وبلل شي. دا جرګې چې په خپل ذات کې يې د بشريت له پيدا کيدو نه تر اوسه پورې، ساری نه درلوده، يعنې د بشريت په عمر کې د ليکوالو ترمنځ داسې لويه او ستره جرګه نه وه شوې، د شاملو ليکوالو لپاره يې د اميدونو ګلان وغوړول. د اکټوبر شپې او ورځې نږدې شوې او مقدماتي کميټه چې له ديارلس افريقايي او اسيايي ليکوالو څخه جوړه وه، په دې بريالۍ شوه چې د دې دوه لويو وچو، د يونيم زر ميلونه وګړو ليکوال نماينده ګان تاشکند ته راغونډ کړي. د شاملو ليکوالو شمېر له يو نيم زرو څخه زيات شو چې له (۳۵) هېوادونو څخه په طيارو او ريلو کې، د ازبکستان د سوشلستي جمهوريت مرکز تاشکند ته را ټول شول.

په اسيا کې يوازې د ايران او ترکيې نماينده ګان رانغلل او په افريقې کې زياتره د هغو هېوادونو ليکوالو ګډون ونشو کولی چې اوس هم تر استعمار لاندې دي او له ازادي نه محروم دي. که څه هم ځينو يې نماينده ګان واستول، په دې براعظم کې له ازادو هېوادونو څخه يوازې د جنوبي افريقې فدرالي دولت و چې له نماينده استولو څخه يې ډډه وکړه او هغه هم شايد د دې لپاره چې په دې جرګه کې، هرو مرو د نژادي تبعيض او تفويق مسئله تر څېړنې لاندې نيوله کيږي او د انتقاد ګوتې به د هغه ملک حکومت ته نيول کيږي.

په هر حال د اکتوبر په اوومه د تاشکند په یوې ډېرې ښکلې او درنې ماڼۍ کې چې د علي شیرنوایي په نامه مشهوره ده او هلته د ازبکستان ښکلې پېغلې او ځوانان د هنر او ارت په نامه سره ناخي او سازونه کوي، دا جرګه د یو نیم سلو نماینده ګانو او د امریکې او اروپا د یو څه مشاهدو لیکوالو په شمول شروع شوه. د تاشکند ښار بین المللي حیثیت پیدا کړ او فعالیت او جرګې مرکې پکې تر پخوا نه زیاتې شوې. جرګه د یوه ټاکلي پرګرام په اساس چې ړومبی د مقدماتي کمیټې لخوا ترتیب شوی و، په کار پیل وکړ. پرګرام په لاندې ډول و:
د جرګې له شروع نه دمخه د کتابونو نمایش، بیا د هیئتونو د مشرانو لیدنه او کتنه او پر پروګرام سره غړېدل. له هغې ورسته د جرګې افتتاح، د مقدماتي کومېټې د رئیس ښاغلي شرف رشیدوف له خوا چې په اصل کې د ازبکستان یو لوی لیکوال او د هغه جمهوریت مشر دی، بیا د تاشکند ښاروال د شوروري لیکوالو د اتحادې د مشر د هرکلي ویناوې وروسته د تاشکند د کوچنیانو هرکلی بیا د پروګرم د طرز عمل اعلان او وروسته په نورو ورځو کې د هیئتونو د مشرانو له خوا کنفرانسونه ورکول او لوی مجلس په کومیسیونو ویشل کیدل او د مجلس په وروستنۍ غونډه کې یوه ګډه اعلامیه خپرول.

هغه موضوعات چې باید په لویه اسامبلۍ او کومیسیونو کې پرې خبرې شوې وای دا وو:

۱. د اسیا او افریقې هېوادنو د ادب او کولتور انکشاف او د هغه رول د بشري ترقۍ، ملي واکمنۍ، ازادۍ او جهاني سولې لپاره او همداراز د هغه رول د استعمار په مقابل کې.
۲. د اسیا او افریقا د هېوادونو کولتور او د هغه مناسبات د غرب له کولتور سره کومیسیونونه پنځه او په لاندې ډول ویشل شوي وو:
   أ. د کوچنیانو د ادب مسئله او د هغوی تربیوي اهمیت.
   ب. په ادب کې د ښځو برخه.
   ت. د افریقې او اسیا په هېوادونو کې، د دراماتورۍ انکشاف.
   ث. د ادب او رادیو، سینما او تیاتر ترمنځ د ارتباط ساتلو مسئله.
   ج. د اسیا او افریقې د لیکوالو ترمنځ د دوستانه روابطو انکشاف.

اوس به نو راشو دې ته چې څنګه او په څه ډول ویناوې وشوې او څنګه دې تاریخي جرګې خپل کار ته دوام او اختتام ورکړ. دلته یوازې هغه لوی او اساسي ټکي بیانوو او که نه امکان نه لري چې د اتو ورځو کار او ویناوې دې په یوه مقاله کې ځای کړای شي. د کتابونو د نمایش له افتتاح نه وروسته، د هیئتونو مشرانو سره ولیدل او په پروګرام

کې په بحث شول، دلته په ټاکلي شوي پروګرام د هند د نماینده لخوا انتقاد ونیول شو چې باید کنفرانس یوازې ادبي او فرهنګي خوا ولري او سیاسي دې نه وي؛ خو نورو زیاترو نماینده ګانو ورسره مخالفت وکړ او ښکاره یې کړه چې د ادب بېلتون له سیاست څخه امکان نه لري؛ نو ځکه د استعمار کلمې پر ضد مبارزه په اجنډا کې پرېښودل شوه. د لویې اسامبلې د شروع کېدو په وخت کې نماینده ګان د الفا ــ با په ترتیب سره په چوکیو کښېناستل او په دې حساب په لومړي کتار کې افغاني لیکوال ښکاره شول. د هیئتونو مشران د نماینده ګانو ترمخه د تیاتر په درېځې کې کیناستل او د هیئت ریسسه په نامه یې یوه ډله جوړه کړه. عکاسان او فلم اخیستوونکي او اخباري نماینده ګان تاوده ګرځېدل او پروجکترو او رڼا اچولو سره یې، د تیاتر په منځ کې سپینه ورځ جوړه کړې وه، ټاکل شوې ویناوې واورول شوې.

شوروي لیکوالو د زړه له کومې تاوده هر کلی په ډېرو خوږو کلمو کې خپلو مېلمنو لیکوالو ته وویل او په عین حال کې یې د سوشلستي نظام مثبته اغېزه پر ادب او ریلستي ادب ښکاره کړه او د دې نظام لاندې یې ټول هغه انکشافات او امکانات وښوول چې د ادب، کولتور او خلاقه لیکوالۍ لپاره مهم او لازمي دي، استعمار، استثمار، امپریالیزم او متجاوز سیاست او نژادي تبعیض یې سخت وغانده، د نړۍ حساسې پېښې یې په لبنان، اردون، کوریا، اندونزیا، سوډان، کمبودیا، فلپاین، منوګولیا، هند، چین، تایلند، د عرب متحده جمهوریت، جاپان، ویتنام، قبرس، اردن، نائیجریا، قزاقستان، نیپال، پاکستان، یوګندا، سومالیند د هیئت مشرانو د اجنډا د لومړۍ مادې په شاوخوا کې، ویناوې وکړې. له هغه ورسته په څلورمه ورځ، لویه اسامبلې رخصت شوه او ذکر شویو پنځه کمیسیونو، د دوه ورځو لپاره په ټاکلو موضوعاتو په کار پیل وکړ. په دوه کمیسونونو د اسیا او افریقا د لیکوالو ترمنځ د دوستانه روابطو د انکشاف کمیسیون کې، افغاني غړو ګډون وکړ، دلته هم د کمېټو له تشکیل نه وروسته ویناوې شروع شوې او هر نماینده به خپل پېشنهادونه، تجویزونه او نظریې په مربوطه کمیسیون کې اورولې، په کمیسیونو کې فعالیتونه، تشبثونه زیات شول، د کولتوري ارتباط په ټینګولو په کمیسیون کې د زیاتو نماینده ګانو نطاقانو پیښنهادونه په دې څرخېدل چې باید د اسیا ــ افریقا د لیکوالو ترمنځ د دایمي ارتباط ټینګولو په منظور دې، یوه دایمي موسسه جوړه کړای شي، د لیکوالو ترمنځ دې مشاعرې او مناظرې وشي، لیکوالان دې د یو بل هېوادونو ته دعوت شي، د یو بل په ژبو دې د موسسې لخوا ترجمې وشي، د اسیا او افریقا د لیکوالو یو ادبي دایره المعارف دې خپور کړل شي او یوه ادبي میاشتنۍ مجله دې، د دې دایمي موسسې لخوا خپره شي او په پای کې دې ټول هغه امکانات برابر شي چې د شاملو هېوادونو لیکوالان،

رقاصان، هنرمندان، رسامان، نقاشان، معلمان، ژورنالیستان او نور د یو بل هېوادونو ته سفرونه وکړي. د افغانستان نماینده هم دلته یوه وینا وکړه او د لیکوالو ترمنځ یې د رابطې ټینګولو په منظور، ځینې لارې چارې کمیسیون ته وړاندې کړې، همدغسې په هر کمیسیون کې تجویزونه او سپارښتنې ورکړل شوې چې په اخیر کې د کومیسیونو له خوا د سپارښتنو او پېشنهادونو لنډیز د لویې اسامبلۍ رئیسه هیئت ته ور وړاندې شو. په دوه نورو ورځو کې د اجنډا په دوهمې فقرې باندې لویه اسامبله دایره شوه چې په هغه کې په ترتیب سره د چین، عربي متحد جمهوریت، هند، افغانستان، موزامبیک ګینې، مدغاسکر، کوریا، عراق او نورو هېوادونو د هیئتونو د مشرانو او غړو له خوا ویناوې وشوې، له هغې وروسته یوه کومیټه د څو هېوادونو له نماینده ګانو څخه جوړه شوه او په دې ماموره شوه چې د عمومي اسامبلۍ په ویناوو او د بیلو بیلو کومیسینونو د سپارښتنو د ملاحظې په اساس یوه اعلامیه تالیف او تدوین کړي او بیایې رئیسه هیئت ته وړاندې کړي، دا کار چې وشو او اعلامیه چې ولیکله شوه په اخرنۍ ورځ او اخرني اسامبلۍ کې ټولو نماینده ګانو ته د تصویب په غرض واورول شوه او رای ګیري وشوه چې په نتیجه کې د ټولو په اتفاق هغه اعلامیه چې ترجمه به یې په دې ګڼه کې وګورۍ، تصویب او ومنل شوه. سربېره په هغه دا بیا رئیسه هیئت تصویب کړه چې یوه دایمي دار الانشا دې جوړه شي او هغه دې غړي هېوادونه په مالي مرسته سره جوړه او تقویه کړي او بله جرګه دې په ۱۹۶۰ په قاهره کې وشي. په دې ډول د تاشکند جرګه د هی او هوی او د خوښۍ او جوش او خروش په اوازونو سره پای ته ورسیده او ختمه شوه.

## یو ښوخبرې

تر اوسه پورې د مرتب پلان له مخې، یوازې د جرګې په طرزعمل خبرې وشوې. اوس به دې ته راشو چې د ویناوو څرنګوالی او د کنفرانس ماهیت څنګه وو او کومو ټکو ته په کې زیات اهمیت ورکول کېده او دا چې د تاشکند خلکو څنګه استقبال کړه او له میلمنو سره یې څنګه رویه وکړه.
د جرګې په شروع سره فعالیتونه زیات شول، په دې فعالیتونو کې اخباري نماینده ګانو زیاته برخه لرله، په دهلیزونو لارو او رستورانتونو کې پوښتنې په لاس ولاړ وو او یا به د نماینده ګانو کوټو ته ورتلل او د جرګې د کار، فعالیت، مقصد او همدا راز د تاشکند په باب کې به یې د نماینده ګانو نظریې غوښتلې. داسې به وشو چې نماینده ګانو به کله کله له اخبار والاوو څخه کناره ګیري کوله او په خپلو کارونو پسې به شول؛ خو سره له

دې هم اخباروالا، رسامان، نقاشان ډېر ښکته او پورته کېدل، خصوصاً د افریقا تور پوستو نماینده ګانو ته به یې ځانونه رسول، عکسونه به یې ورنه اخیستل، رسمونه به یې ترینه کښل او حتی د مجسمو جوړولو لپاره به یې خپلې مخې ته درول او یا یې کښېنول او د خپلې رسامۍ مودل به یې کول. د افریقا تور پوستو او د هندوستان سکانو ته خصوصاً زیاته توجه کېده، واړه زاړه اخبار ولا او د تاشکند خلک به ډله ډله دوی پسې روان وو او د زیاتې مینې او محبت په سترګو به یې ورته کتل، یعنې داسې برېښېده چې تاشکند د تور پوستو خلکو د خاص احترام ځای دی؛ نو ځکه د دوی قدر نظر سپین پوستو لیکوالو ته زیات و، د دې خاصې توجه چې شورویان او دلته د تاشکند عملاً دونیا والو ته وښیي چې د نژادي تبعیض مفکوره دوی هیڅ نه لري او دوی ته تور او سپین یو راز دي او فرق پکې نه کوي؛ بلکې ټول هغه ولسونه چې مبارزې کوي او د استعمار په مقابل کې نېغ ولاړ دي، د دوی په نزد ډېر محترم دي، همدغه سبب و چې د الجزایر د نماینده ګانو زیات قدر او احترام کېده او سربېره پر حکومتي مامورانو، ولسي وګړو هم په درنه او د مینې په زړه ورته کتل.
ډېره مهمه مسئله په جرګه کې د نماینده ګانو اصلي خبرې وې. د ټولو نطاقانو د ویناوو اورېدل او د هغو تحلیل کول چندان اسان کار هم نه و، ځکه چې نطقونه به اوږده او پرله پسې وو؛ خو سره له دې هم د ذوق خاوندان ورپسې وو. یو ډېر دقیق نظر د جرګې د شامیلینو ویناوې، په یو څه فرق سره په دوه کټه ګوریو کې اچولی شي:

۱. هغه وینا چې د سوشلستي هېوادونو لیکوالو یا هغو لیکوالو اورولې چې په انفرادي ډول د سوشلستي نظریو خاوندان وو.
۲. هغه نطقونه چې د غیر سوشلستي هېوادو نطاقانو اورول.

د لومړۍ کټه ګورۍ نطاقانو په خپلو هېوادو کې، د سوشلستي نظام مثبته اغېزه پر ادب او کولتور اوروله او دا به یې ښوول چې ادبي او کولتوري ټول مظاهر په دې نظام کې، په ښه توګه وده او پیشرفت لري او په نتیجه کې ابتکار، ایجاد او اختراع منځته راځي، تر دې وروسته به یې استعمار، استثمار، امپریالیزم، د نژادي تبعیض مفکوره، د زور او قوت سیاست، تجاوز، بې عدالتي او ظلم ته بد ویل او هغه به یې زښت زیات غندل. خصوصاً استعمار، استثمار، امپرایالیزم او کولونیلزم ته بد ویل بلکل د دوی عادت ګرځېدلی و او که په کوم نطق کې داسې کلیمې لږې موندل کېدای؛ نو هغه به د دوی له نظره لکه د بل منګې شوروا په شان و؛ برخلاف د مبارزینو ولسونو ستاینه د دوی په وینا وو کې

زیاته وه او داسې به یې ښودل چې دوی د مغضوبو، مظلومو لاندې شوو ولسونو کلک او ټینګ ملګري او انډیوالان دي. د یوه شوروي نطاق دا خبرې به زما هیرې نشي چې ویل یې «مبارز خالق او مبتکر دی، به کومو ولسونو کې چې، مبارزه روانه ده هلته یې نتیجه فراواني، ارزاني، ښه ژوند او د شخصیتونو، لیډرانو راوتل او هسکیدل او د سعادت، خوښي او واقعي ژوند په لوري د ولسونو روانیدل او خوځېدل دي.

د وروستۍ کته ګورۍ د نطاقانو ویناوې په بل شکل وې. دوی ټول استعمار دیده وو؛ نو ځکه دوی په ډېرو ترخو او شدیدو کلمو سره، استعمار په مخ کې اچولی و، د استعمار بدې خواوې به یې ښکارولې او دا به یې ویل چې، استعمار د دوی ادب، رسم، رواج، عنعنه، کولتور او نور ټول ملي او ولسي ممیزات او مشخصات ضعیف کړي او هغه خپل کولتور او ممیزات یې په دوی تپلي دي، په دې برخه کې افریقایي نماینده ګان تر نورو د مخه وو.

یوازې د افغانستان د نماینده ګانو اواز په دې برخه کې، فرق درلود. د دوی ویناوې د هېواد د بېطرفانه سیاست په اساس وې؛ نو ځکه یې په خپلو نطقونو کې خپل هېواد د ټولو ولسونو دوست او همکار ښوده، د دې کته ګورۍ د نطاقانو د وینا یو بل خصوصیت دا و چې په خپلو هېوادونو کې یې د ادب وده، روزنه او تکامل ښووه؛ خو سره له دې هم زیاترو لیکوالو له شرمه د دې یادونه نه کوله چې د خپلو ولسونو د خوارۍ او رحم وړ حالت نورو ته بیان کړي او نور په دې خبر کړي چې د دوی ولسونه بد ژوند لري او زیاتره ولسي خلک د ملکانو، تاجرانو او سرمایه دارانو لخوا استثماریږي. د نیپال، جاپان او اردون نماینده ګانو لا دا هم په زغرده ښکاره کړه چې د دوی ولسونه ډانګ په لاس، مترقي او ولس دوسته لیکوالو پسې ګرځي او له هغوی څخه یې جبلونه ډک کړي دي. بین المللي همکاري، دوستي، جهاني ارامۍ او سوله خو د ټولو نطاقانو په خبرو کې وه.

د تاشکند جرګه ګرد سره رسمي نه وه، یعنې د لیکوالو اوازونه د دوی د حکومتونو اوازونه نه ګڼل کېده، دا جرګه زیاتره یوه ادبي او علمي جرګه وه، نو ځکه تبارز او تشخص او فعالیت زیاتره په افرادو پورې تړلی ښکارېده، یعنې کوم هغه لیکوال چې فعال، متشبث او د خبرو شوقیان وو، میدان به د هغو وو، له دې کبله خپله د لیکوالو شخصیت، علمي قدرت، تعلیمي سابقه، په تاریخي ژوندۍ ژبه پوهېدل او د دوی انرژي او فعالیت زیات مهم و. په دې برخه کې د هند او ورپسې د مصر او اندونیزیا لیکوال پر نورو د مخه ښکاریدل.

د تاشکند د جرګې هر هغه غړی چې د جرګې به باب څه لیکل کوي، له دې څخه هیڅ تېښته نشي کولی چې د هغه ښار خلک او ولس یاد نه کړي؛ ځکه چې د دې ښار ټولو

خلکو د مېلمنو ډېر تود او نه هېرېدونکی هرکلی کاوو، د مېلمنو د هرکلي لپاره د دوی زړونه ډېر تاوده او خولې یې له مسکا او خندا ډکې وې، د دوی ټولو کوښښ دا و چې ټول هغه وسایل چې د خوښې او ارامۍ سبب ګرځي میلمنو ته برابر کړي. واړه او زاړه، نر او ښځې، معلمان او متعلمان، دوکانداران او سیاستمداران، بزګران او کارګران، نقاشان او رسامان، ارتستان او اوازخوانان او په پای کې ټول تاشکندیان په دې کوښښ کې شریک وو. تر هغو چې یاد کار کوي، ګومان نه لرم چې د دوی له مینې نه ډک او په زړه پورې هرکلی به له غړو لیکوالو او په تېره بیا له تور پوستو افریقایي لیکوالو څخه هېر شي.

## د نړۍ له لیکوالو څخه په تاشکند کې د اسیائي او افریقایي جرګې د لیکوالو هیله

مونږ د اسیا او افریقې هېوادونه، په تاشکند کې سره غونډه شوو او ټولې هغه مسئلې مو سره وڅېړلې چې موږ لیکوالو او د نړۍ د ادب لپاره مهمې وې. موږ په دې ویاړو چې زموږ د هېوادونو لیکوال د اسیا او افریقې د لویو وچو له لرغونو کولتورونو او له هغو بشري افکارو او خیالاتو څخه میراثونه لري چې د عصري نړۍ په مفکوره کې، ستره برخه لري. موږ په تاشکند د شوروي ازبکستان سوشلستي جمهوریت په مرکز کې چې سره جرګه شوو، زموږ محرک هغه عقیده ده چې پر ادب او د ولسونو پر اینده یې لرو، همداشان زمونږ ددې جرګې محرکات د ټولې نړۍ د ولسونو تر منځ د سولې او دوستۍ پاکې او سپېڅلې هیلې وې. مونږ ټول په دې فکر کې یو چې ادب زمونږ د ولسونو له سرنوشت سره نژدې ارتباط لري او ادب یوازې د ولسي واکمنۍ، آزادۍ او خپلواکۍ تر مبارک سیوري لاندې وده کوي او هم په دې معتقد یو چې استعمار او نژادي تبعیض محوه کول د ادب ابتکار د پوره انکشاف په غرض لومړنی شرط دی.
مونږ په داسې حال کې چې د ډهلي او د قاهرې او باندونګ له جرګو نه الهام واخېست او هغو جرګو په مونږ کې یو نوی روح را پو کړ او قوت یې را وبښه، د اروپا امریکا او استرالیا لیکوالو او کولتوري کارګرو ته خطاب کوو او په دې خطاب کې رنګ، نژاد، او هېڅ راز امتیاز نه ګورو. په تاریخ کې تر اوسه داسې نه دي شوي چې د دوو ډېرو لویو وچو عقلیون او منورین دې په یو ځای کې سره ټول شي؛ یو تر بله دې سره کښېني او د یو نیم زر میلیون وګړو پاکې او سپېڅلې هیلې دې تمثیل کړي. دا عقلیون د هغو هېوادو د وګړو هیلې له ځانو سره لري چې له جاپان، کوریا او چین څخه تر مصر، ګانا او الجزایر پورې؛ او بیا له مرکزي آسیا څخه تر اندونېزیا او له بحر الکاهل څخه تر اتلانتیک پورې غزېدلي دي.

دا ولسونه چې د ټول بشریت دوه-دریمه جوړوي د قديمي مدنيتونو د سيندونو يعني د آمو اباسين تيګيرس، دجله، فرات، هانګ هو، يانګ تسي نيل او زائجير د سيندونو پر غاړو وو چې بشر د لومړي ځل لپاره د ما قبل التاريخ له تروږمي څخه را بهر شوي، مادي او روړحي الات يې د ځان لپاره ساز کړل او ليکل شوې ژبې يې منځ ته را و اېستلې. په چين، مصر، هند، بابل او يونان کې وو چې لومړني کتابونه وليکل شول، په نتيجه کې د آسيا او افريقې ولسونو هغه عالي کولتورونه منځ ته راغلل چې د بشريت د هغه په شمېر وياړي؛ خو د دې مدنيتونو او کولتورونو زيات انکشاف ته اغزي او خنډونه نېغ شول. دا خنډونه نه يوازې زمان او طبيعي افتونه وو؛ بلکې د غلامۍ، استعمار، امپرياليزم، استثمار او نژادي تبعيض يا د بشريت او انسانيت په ښکلي، ښايسته او تازه بڼ کې زهر لرونکې ګياوې وې.

په دې ډول زمونږ آزاد ولسونه له خپل استقلال څخه محروم کړل شول. د دوی مالونه او شتمني چور او چپاول شوې او دوی په خپله له استعمار او استثمار لاندې راغلل. دوی ذليل کړل شول او د رنګ، پوست او نژاد په لحاظ په دوی کې بغضيت پيدا کړل شو. داسې کوښښونه وشول چې زمونږ ولسونه دې خپل کولتور پرېږدي، خپلې ژبې دې له ياده وباسي او خپله سابقه دې هېره کړي.

سره له دې نا پاکو کوښښونو بيا هم دوی ونه شو کړای چې زمونږ کولتورونه دې بيخې نيست او نابود کړي. هو، دا يې وشو کولی چې د ودې او پېشرفت مخې ته يې اغزي وکري او خنډونه ورته پيدا کړي. په تېرو دوه سوو کلونو کې زمونږ د هېوادو ډېرې مهمې لېکنې له هغو مبارزو څخه راووتې چې زمونږ ولسونو د خارجي استعمار او استثمار په مقابل کې وکړې. زمونږ د دې مبارزو نښې د پروتست هغه قوي او شديد احساسات دي چې د استثمار د فجايعو په مقابل کې يې ظاهر کړي دي؛ او هم دا راز د دې مبارزو بله نښه د بشر په حقوقو هغه قوي عقيده ده چې بايد دی د خپل سرنوشت کنټرول په خپل لاس کې ولري او نور ولسونه دې په پوره آزادۍ کې ژوند وکړي. زمونږ د عصر د لېکنو يو د فخر وړ فکر د فرديت د شخصيت او هر ولس د اجتماعي شخصيت نمانځل دي. زمونږ د عصر په ډېرو کتابونو کې زمونږ په ښو نظمو او ښو ترانو کې زمونږ د ولسونو او د دوی د عزم جذم هغه قوي روح پروت دی چې د خارجي استعمار په مقابله کې يې لري.

د اسيا د ولسونو يو څه برخې لا د مخه آزادې دي. د دې هېوادونو ولسونه يو ځل بيا ازاد شول چې خپل ادب د خپلو ملي عنعناتو په مطابق منکشف کړي؛ خو استعمارچيان تر اوسه هم د اسيا او افريقې يو څه برخه تر خپل لاس لاندې لري چې هلته په هغه علاقو کې خلک د ازادۍ له نعمت څخه محروم کړل شوي دي او کولتوري او اقتصادي استثمار

تـر اوسـه هـم جـدي سـاتل شـوی دی. مگـر سره لـه دې هـم پـه دې ملکونـو کـې د سـياسي او کولتـوري اسـتقلال پـه غـرض ولـسي مبـارزې روانـې دي. مونـږ بـه خپلـه همـدردۍ او ملاتـړ د ټولـو مغضوبـو ملتونـو پـه طرفـدارۍ اعلامـوو چـې د آزادي لپـاره ميړنـۍ جگـړې او مبـارزې کـوي.
د سـاړه جنـگ پـه نامـه اسـتعماري دولتونـه دې کوښـښ تـه دوام ورکـوي چـې زمونـږ تـر منـځ وېره، بـې اعتـمادي او نفـرت پيـدا کـړي او وسـلې سره خپـرې کـړي. د تبـا کوونکـو ازمېښـتونو لمنـه يـې اوږده کـړې او پـه دې ډول زمونـږ ولسـونه وډار کـړي. د تاشـکند دا جرگـه لـه خلاقـه ادب سره د ولسـونو دې مبـارزو پـه ډېـر ټينـگ ارتبـاط زيـات زور اچـوي. مونـږ د ليکوالـو پـه حيث پـه دې ښـه پوهېـږو چـې د کولتـوري او ادبي ابتـکار پـه غـرض يـو قـوي او سـخت کوښـښ يـوازې د ازادۍ پـه شرايطـو کـې ممکـن کيـدای شي. مونـږ پـه دې هـم ښـه پوهـه لـرو چـې زمونـږ ژونـد، زمونـږ لـه ولسـونو سره پـوره يـو دی. د دوی مقصدونـه زمونـږ مقصدونـه دي او د دوی مبـارزه زمونـږ مبـارزه ده او مونـږ پـه کلکـه لـه دوی سره د اسـتعمار او ذروي جنـگ پـه ضـد او د سـولې، آرامـۍ او ملتونـو تـر منـځ د دوسـتۍ پـه طـرف ولاړ يـو.
پـه داسـې حـال کـې چـې مونـږ د اسـيا او افريقـې ليکـوال د نـړۍ لـه ټولـو هېـوادو سره کولتوري ارتبـاط غـواړو او د کولتـور ويش د قـوي او ضعيـف؛ او د شرق او غـرب پـه نامـه نـه منـو او هغـه گـرد سره ردوو، نـو ځکـه بـه مونـږ د ټولـو کولتـور د ذات رښـتيني ارتبـاط لپـاره او د جهـاني قيمتـي کولـو لپـاره خپـل کوښـښ جـاري سـاتو. مونـږ د اسـتعمارچيانو او اسـتثمارچيانو ټـول هغـه کوښښـونه چـې د تقسـيمولو او خرابولـو پـه غـرض دي، ردوو او يـو ځـل بيـا د مشـترکو هيلـو او مشـترکو افـکارو د اتحـاد پـه غـرض خپلـه عقيـده څرگنـدوو.
اې د دنيـا ليکوالـو! مونـږ لـه تاسـو څخـه هيلـه کـوو چـې د بـشري پديـدو او د ټولـو بديـو پـه مقابـل کـې چـې لـه افـرادو  او ولسـو نـو سره کېـږي، خپـل اوازونـه اوچـت کـړئ. بـشري بـدي يعنـې بـې عدالتـي، اسـتعمار او اسـتثمار؛ او مونـږ لـه تاسـو څخـه هيلـه کـوو چـې د انسـاني لـوړو صفاتـو او خواصـو د ازادۍ او زمونـږ د ولسـونو د اينـدې او د باقـي نـړۍ د اينـدې پـه بـاره کـې خپلـې خـوږې او پـه زړه پـورې نغمـې سر کـړئ. مونـږ ليکـوال د ولسـونو زړه او وجدان يـو. مونـږ نـه يـوازې د اوسـني بـشر د سرنوشـت پـه بـاره کـې، بلکـې د آينـده نسـلونو پـه مقابـل کـې هـم لـوی لـوی مسـئوليتونه لـرو.
لـه دې کبلـه ده چـې مونـږ لـه تاسـو څخـه هيلـه لـرو چـې د هغـو ادبياتـو پـه مقابـل کـې چـې پـر تبعيـض او نفـرت ولاړ دي مبـارزه وکـړئ؛ ځکـه چـې دا راز ادبيـات د ځوانانـو دماغونـه گنـده کوي او زمونـږ د کوچنيانـو ارواح فاسـدوي. مونـږ لـه تاسـو څخـه اميـد کـوو چـې يـو ځـای د حقيقـت، ښـکلا او ازادۍ پـه لټولـو پسـې ولاړ شـئ او داسـې ادب منـځ تـه را وباسـئ چـې د ولسـونو لـه

ژوند سره تړلی وي. ځکه چې همدغه ادب به له دوی سره د هغې مبارزې لپاره مرسته وکړي چې د ځمکې په سر د عقل او عدالت د فتحې لپاره وي.
تل دې وي د اسیا او افریقې د لیکوالو اتحاد، تل دې وي د ټولو ولسونو آزادي او خپلواکي، تل دې وي د ولسونو کولتور او ادب او تل دې وي سوله.

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري (حمل) نه ویشتمه، نهمه ګڼه، ۱ او ۳ مخونه.

# د ژوندانه راز

شپې او ګړۍ تیریږي او زمان خپل سیر ته دوام ورکوي. دا دوام طبیعي دی؛ نو ځکه د چا ښې او بدې ته نه ګوري، خامخا به حرکت کوي، په مخ به درومي، د چا خوښه وي که نه وي، منې یې که یې نه منې یا ردوی یې، خوشالیږي که خپه کېږي، په دوام کې یې ټال نشته. دا د طبیعت دود دی او طبیعت په همدې دستور روان دی.
بشري اجتماعات هم د طبیعت یوه برخه ده؛ نو ځکه به له عمومي طبیعي قانون نه پیروي کوې، یعنې په ځای به نه دریږي، تحول به منې او په مخ به درومې؛ خو دا اجتماعات له طبیعت نه فرق هم لري، ځکه چې د طبیعت یوه پېچلې برخه ده، لوړه او اعلی برخه ده، شعور ورسره دی او لکه طبیعت ړنده او بیشعوره نه ده، کېدای شي چې شعور له طبیعي سیر سره ملګرتیا وکړي، لاره یې ور پاکه کړي، اغزي او خنډونه ور نه لري کړي، را ویې بولي، ورسره مرستیال شي، دوه قوتونه سره جمع شي او یو د بل په مرسته ناشوني، کېدونکي وګرځوي او سره کامیاب او پر مخ ولاړ شي. دا هم شوې چې همدغه شعور کوږ شي او ړوند شي، مشکلات خلق کړي او د تحول مخې ته اغزي وکري، له طبیعي قدرت سره مبارزه وکړي؛ مګر ځان به یې بېځایه ستړی کړی او قوت به یې بېځایه تللی وي. ځکه چې له طبیعي جریان سره پنجه نرمول، ناداني او د نادانۍ پسې ارو مرو ناکامي ده. موږ د سر په سترګو وینو چې ووړ وده لري، تکامل کوي او لوییږي، ځینې حالت را پیدا شي، مفکوره ترې وزیږي او ولسونو ته ټکان ورکړي او د عمل له پاره یې را خوځوي؛ دا ځکه چې هغو پخوانیو ډینامیزم بایلودی او بې اثره شوی وي، هیڅ شی سکون نه منې، هر شی د تحول په یوه دایمي جریان کې دی.
انساني ژوند او بشري اجتماعات هم له دې حال نه بیرون کېدای نه شي، که تحول د طبیعت قانون نه وای او انسان په یوه حال وای، تغیر یې نه منلای، مخ په هسک به روان نه وای، سکون به یې خوښولای، له غارونو به نه وای راوتلای، بربنډ به وای، ضعیف به وای، طبیعت ته به مغلوب وای. هغه څه به پرې کېدل چې طبیعت به پرې کول او د قوت دې حد ته به نه وای رسېدلای. ژوند په اصل کې یوه جګړه ده، مسلسله او با

دوامه، د انسان له طبیعت سره او د طبیعت له انسان سره، طبیعت هغه وخت غالب و چې انسان ورته مغلوب و او انسان ځکه مغلوب و چې څه یې نه لرل، خو ورو ورو یې د خپل طبیعت د ذاتي تحول غوښتنې په برکت، ډېر څه خپل کړل، طبیعت نه یې را جدا کړل، په خپله خوښه او په خپل زړه یې سر او صورت ورله ورکړ او بېرته یې د طبیعت په مقابل کې په کار کړل، له غار نه ووت، میوو او دانو پسې شو، تیږه یې په کار کړه. د مځکې زړه یې وچاوه، فلز یې ترې وکیښ، له بخار نه یې کار واخیست، ماشینونه یې جوړ کړل، برېښنا یې وایسته، اټوم یې مات کړ او طبیعت ته یې چیلنج ورکړ، دا ټول د دې له پاره چې په یوه حال نه و خوښ، لا به پسې درومي او په دې به یې هم بس نه وي، تر هغو چې ځان له پوره محکومیت نه خلاص کړي، ځان د طبیعت بادار او طبیعت ځانته مغلوب کړي. دا خو ستره جگړه ده او حوصله او پوره زړه غواړي، څنگه به وي چې کامیاب شي او دا مقصد ترسره کړي؟

باید لومړی ځان ته فکر وکړي، خپلې اجتماع ته چې پکې اوسي، نظر واچوي، ویې گوري چې په اجتماع کې کوم شیان له ده سره مرسته لري او کوم شیان دي چې دی یې له خپل مقصد نه لرې کوي او مخې ته یې خنډونه جوړوي، خپل کولتور ته د دقت په سترگه وگوري، جوړونکي عناصر یې مطالعه کړي، مترقي او غیر مترقي یې سره تشخیص او بېل کړي او دا معلومه کړې چې کوم یې د تحول ممد او کوم یې د تحول مانع گرځي. د کومو پیروي او کومو ته لاربښوونه وکړي یا یې ایسته وغورځوي، کوم یې له نننې ژوند سره سر خوري او کوم یې پرېوتي او بیکاره دي. شاید دا کار اسانه نه وي، سختي ولري. مگر څه چاره؟ ایا سکون اختیار کړي؟ ضعیف او ناچیز شي؟ نن پرېږدي او پرون ته لاړ شي؟ بېرته غارو ته مخه کړي؟ او پوستکی واغوندي؟ خو پوهیږو چې دا کار نه کېدونکی دی، په رښتیا چې څه خلک د خپلو تجاربو اسیر وي، خپل پخواني پرې ډېر گران وي، هر څه له خپل نظره گوري، مگر د دوی نظر پرونی وي او نن ته په پروني نظر گوري، مشکلات هم له دې ځای نه راولاړیږي.

دوی په پخوانیو مئین وي، داسې فکر کوي چې لرغوني فیلسوفان دي او په هر څه پوهیږي او ټول د دوی په فکر کې دي، ځان عقل کل گڼي او هر څه نوي فکر ته چې یې له خیال سره برابر نه وي په کرکه ورته گوري، خطا یې بولي او شر یې گڼي مگر نورو ته د سکون (Status Quo)[1] زغم نه لري.

۱. د اوسني حال او وضع ساتلو او تغییر او تحول منلو ته وایي.

قناعت پرې نه لري، هسکېدل غواړي، بدلون ته هڅه کوي، د ځان او نورو له پاره ژوند غواړي، خوند غواړي، ورورې غواړي؛ نو ځکه په کار پسې دي، هر څه په کار کې پلټي، هر هغه شي ته چې د ده او د جامعې خیر پکې وي او دواړه نیک مرغه کړای شي لاس اچوي، کاروي یې، د همدې منظور لپاره مسلمه دا ده چې نیالګي ارو مرو ونه وګرځي، دوی حتماً پلار کېږي، دا د زمانې دستور دی او دا دستور د بشر له خلقت نه تر اوسه حاکم او جاري دی؛ نو ځکه زمانه نارې وهي.

هلکه مرې که پاتې کېږې
دا مې دستور دی نرۍ وروځې توروم

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وږي (سنبلې) لومړۍ، شپږمه ګڼه، ۱ او ٦ مخونه.

# د پیټسبرګ سیمینار

زموږ زیاتره لوستونکي به په دې خبر وي چې څه موده پخوا د پوهنې وزارت یو شپږکسیز عرفاني هیئت د امریکې د متحده هېوادونو د حکومت په بلنه هغه ملک ته تللی و، دا هیئت چې زه هم پکې وم، شپږ هفتې په امریکې کې تیرې کړې. له دې خوا د کراچۍ، قاهرې، اتن، روم او لندن په لاره په درې ورځو کې د (۳۸) ساعته وقفه‌یي سفر نه وروسته په بېلو بېلو الوتکو کې نیویارک یعنې د امریکې شرقي بندر ته ورسېدو.

په امریکا کې مو لس بیلابېل ایالتونه او د واشنګټن منطقه ولیدله: نیویارک، نیو جرسي، پنسلوانیا، واشنګټن، کینټوکیو، الونای، وایومنګ، یوتا، نوادا، کلیفورنیا، اوهوائي ، په دې ایالتو کې مو د نیویارک ښار، د پیسټبرګ ښار، د واشنګټن ښار، دلګزنګتن ښار د شیکاګو ښار، د لرامي ښار، د شایان ښار، سالټ، لیک سټي، درینو ښار، د سانفرا نسکو ښار، د لاس انجلس ښار او هانولولو ولیدل. څرنګه چې زموږ هیئت عرفاني او کولتوري وو؛ نو په دې یادو شویو ښارونو کې مو د ټاکلي پروګرام سره سم عرفاني، کولتوري علمي موسسې، یعنې ښوونځي، پوهنځي، پوهنتونونه کتابخانې، موزیمونه، چاپخانې، د دائرة المعارف موسسې، د تلویزیون سټېشنونه، ځینې کارخانې او تاریخي ځایونه او یادګارونه ولیدل. همدا راز په دې ښارونو کې د امریکې ولس له بېلو بېلو طبقو او وګړو سره په تماس راغلو او د هغه ملک په دولتي موسسو کې له حکومتي لوړو کسانو او شخصیتونو سره وګرېدو.

په دیني او مذهبي موسسو او کلیساګانو کې مو مذهبي مشران او چرچ مینان ولیدل، په دعوتونو او ټولنو کې او همدا راز په هغو ځایو کې به مو له شخصیتونو سره د ملاقات په حال کې د افغانستان په باب کې ډېرو پوښتنو ته ځوابونه ویل او چېرته او له چاسره به چې لازمه شوه، د خپل ملک د معرفي په باب به مو خبرې کولې او نطقونه به مو اورول او په دې ډول به مو علاقه لرونکو امریکایانو ته د افغانستان او په دې ملک کې د ژوندانه د بېلو بېلو اړخونو او شنونو په باب کې معلومات ورکول. په تېره بیا د افغانستان په اوسني موقف به زیاتره غږېدو او د ډېرو اذهانو د روښانولو او د غلط فهمیو د لرې کولو په باب کې به مو خبرې کولې.

په دې ډول د اتلانتیک له غربي څنډو نه د بحرالکاهل شرقي څنډو ته ان تر لاس انجلس ورسېدو، یعنې د امریکې د متحده هېوادونو له شرقي غاړو نه غربي خواوو ته لاړو او له هغه ځایه بیا په الوتکه کې د بحرالکاهل ډېر ښکلي ټاپو یعنې د هوائي مرکز هانولو ته والوتو.
وروسته پسې د توکیو او هانګ کانګ او بیا د بنګاک، رنګون او کراچۍ په لاره بېرته کابل ته راغلو؛ نو زموږ سفر له شرق نه د غرب په لوري و چې په یوه سمت روان وو، ترڅو بېرته شرق او افغانستان ته ورسېدو یعنې د مځکې ګرد چار چاپېر مو سفر وکړو او دا عملاً را ښکاره شوه چې مځکه ګردی ده او هواره نه ده. بله دا چې یوه ورځ مو له هانولولو نه تر توکیو پورې د وضعې حرکت له کبله بایلودله، په دې ترتیب چې د سه شنبې په ماښام له هانولولو نه د توکیو په لور روان شو؛ خو چې توکیو ته ورسېدو او دیارلس نیم ساعته مو د بحرالکاهل د شنو اوبو د پاسه مزل وواهه، ګورو چې په توکیو کې د چارشنبې په ځای د پنجشنبې سهار دی، د چارشنبې ورځ مو ګرد سره بایلوله، نه پخپله وخت او زمان چې هغه ته ورکېدونکي او نه بایلېدونکی دی.
اوس به راشو اصلي مقصد ته د امریکې په تورو ښارونو کې خو مو ډېر څه ولېدل؛ مګر د پیټسبرګ په ښار کې یو درې ورځینی سیمینار[۲] و. دا سیمینار د پیټسبرګ په پوهنتون کې د کولتوري او عرفاني مبادلې د ادارې لخوا جوړ شوی و. مقصد د امریکې د بېلو بېلو اقتصادي، عرفاني، کولتوري موسسو په باب غږېدل او بحث کول. موږ شپږ کسه د افغانستان وو چې بحث کې راسره شریک شول، شپاړس کسه د پیټسبرګ د پوهنتون پروفیسران وو چې زیاترو یې په خپل خاص شق کې د ډاکتري تحصیل خلاص کړی وو او اوس په خپلو شقونو کې په تدریس او تتبع لګیا وو. سیمینار درې ورځې اوږد شو. د سهار له نهو بجو نه د مازدیګر تر څلور نیمو بجو پورې به وو. ټول پروفیسران به هره ورځ نه وو، درې یا څلور تنه به یې کوم وخت چې د دوی په تخصصي موضوع بحث کېده، په سیمینار کې ګډون کاوه. یوازې د کولتوري مبادلې څانګې آمر ښاغلی شیفرد وایټ مین چې د سمینار رئیس او د ډاکترۍ شهادتنامې خاوند و، په هره غونډه کې حاضر او د مجلس ریاست ور په غاړه و، لکه چې پخوا مو وویل، سمینار د امریکې د راز راز موسسو او وضعیتونو په باب کې و.

۲. سیمینار مناظرې او مباحثې ته وایي؛ یعنې د زده کوونکو (معمولاً تعلیم یافته او له تحصیل نه خلاص شوي کسان چې په یوه خاص شق کې نوره تتبع او زده کړه کوي) هغه ډلې چې د یوه کس په مشرۍ په یوې موضوع بحث کړي او هغه بحث علمي او غیر رسمي او د کومې ترتیب شوي اجنډې په اساس نه وي.

څه وخت چې سړی په بحث کې داخل شي، د خپلو معینو نظریو نه غیر د نورو نظریو ته هم مجبور شي غوږ ونیسي او خبره پسې اوږده شي. په دې حال کې کله کله داسې هم پېښ شي چې د متقابل استدلال په اثر د سړي په معینو نظریو کې څه فرق غوندې راشي یا لږ تر لږه په خپلو نظریو یو نوی نظر واچوي. ځینې شیان ترې کټ او یو څه پکې ور ګډ کړي. دا خبره موږ ته هلته پوره څرګنده شوه چې عین موضوعاتو کې موږ د خپل ملک په باب کې امریکایي مختصیصینو ته معلومات ورکول.
لومړی د امریکې په اجتماعي اوضاع بحث شروع شو، یعنې د فرد او جامعې د متقابل ارتباط په باب خبرې شروع شوې او داسې پوښتنې منځ ته راغلې چې د امریکې نژداي اختلاف د هغې جامعې په عنعنوي او اجتماعي اوضاعو څه تاثیر لري؟ یا دا چې د امریکې د اجتماعي ژوندانه اساسات د فامیلي ژوند، طلاق، د ځوانانو کنټرول، د ځوانانو تربیې او مذهبي سلوکونو په نسبت په اساسي او مهم ډول په تغیر او تحول کې دی او که نه؟ یا دا چې په هنري او ذوقي شیانو کې د امریکایانو اشتراک مخ په کمېدو دی، که مخ په زیاتېدو؟ یا دا چې د تلقین او د تبلیغ د عمومي اسبابونو او خصوصاً د تلویزیون په اثر د امریکایي افرادو سلیقه او ذوق ته سخته صدمه نه ده پېښه؟ ترتیب به داسې و چې لومړی به متخصیصینو په خبرو پیل وکړ او تر بحث لاندې موضوع باندې به یې رڼا واچوله مثلاً: د پورته پوښتنو په باب کې هغوی دا مفهوم په لاندې ډول اظهار کړ چې امریکایي جامعه کې فردیت ته پوره احترام دی، د فرد ابتکار د فرد شخصیت او د فرد آزادۍ ته په درنه سترګه کتل کېږي او همدغه فردي آزادۍ ددې سبب شوې چې امریکایي جامعه فوق العاده دینامیکي خاصیت لري او مخ په هسک روانه ده او دغه ډینامیزم یا محرکه قوه یا قوائیت دی چې جامعه یې له سکون او جمود نه خلاصه کړې او د ارتقایي حرکت په لور یې روانه کړې ده. د هغوی مفهوم داسې هم افاده کېدای شي چې دولت د فرد په مقابل کې دومره قیودات او محدودیتونه نه دي وضع کړي، دا لدې کبله چې د فرد او جامعې خیر او شر سره یو دی د احمد، محمود، زید او بکر همداسې نورو افرادو نه جامعه جوړه ده.
نو ځکه د دوی ټولو خیر او شر چې مجموعاً جامعه ورته وایي یو دی او دولت د روحي او مادي استعدادنو د انکشاف په منظور دوی آزاد پرې ایښي دي چې په اقتصادي او سیاسي فعالیتونو کې په خپلې خوښې او رضا برخه واخلي او په نتیجه کې جامعې ته ډینامیک خاصیت ورکړي. دوی په فامیل باندې زیات وغږېدل، ځکه په دې اندیښمن وو چې امریکې نه د باندې خلک داسې فکر کوي چې د عصر ایجابات او مقتضیات په امریکایي فامیل بده اغېزه کوي، یعنې فامیل او فامیلي ژوند یې تر اوسه هم د امریکایي جامعې

اجتماعي واحد دی، مخ په ورکېدو او نابودېدو دی؛ نو ځکه یې داسې استدلال کاوه چې که د فردیت او د فرد شخصیت ته د احترام په سبب او همدا راز د اقتصادي آزادي له کبله له یوې خوا اصلي فامیلونه تجزیه کېږي، له بلې خوا بېرته کلیت پیدا کوي او نور فامیلونه جوړېږي، یعنې د (Disintegration) عمل پسې پرله پسې (Reintegration) راځي چې په دې سبب طلاق او د نارینه او ښځې برابر حق او همدا راز فردیت د فامیل تجزیې سبب نه دی.
دوی زیار وایسته چې ثابته کړي، په امریکې کې فامیلي ژوند ټینګ اساس لري او که څه هم فرد لره پوره آزادي ده او ښځې او نارینه د ژوندانه په ټولو برخو کې برابر حقوق لري، خو بیا هم دا وضع په فامیل منفي اغېزه نه لري او له دې کبله دا تمایل روان نه دی چې زیاته موده کې به فامیلونه ورک شي او ورسره به ازدواج او داسې نورې اجتماعي موسسې هم له منځ لاړې شي او کوم بل راز جامعه به جوړه شي.
د بحث دا قاعده ده چې یو ځل د بحث لپاره په منځ کې مواد واچول شي، افکار دقیق شي او ذهن په سوالونو پسې شي، همدغه دقت دی چې فکر فعالیت ته سوق کړي او په نتیجه کې ذهن هر شي ته د شک او تنقید په نظر ګوري او یو عالم پوښتنې را پیدا شي، که څه هم موږ ته د دوی له خوا په کابل کې یوې لیکلې شوې پاڼه کې ښکاره شوې وه. امکان لري، د ځینو نه لیدونکو دلایلو له کبله یو یا څو ستاسې پخوا د پروګرام له ختمېدو نه بېرته وطن ته ولېږل شي او په دې صورت کې به د باقي خرڅ پسې بېرته واخیستلی شي.
په دې حال کې موږ تر پخوا زیات محافظه کار او محطاطه شو او زیات کوښښ په دې کې وو چې سترګې او غوږونه په کار واچول شي او له ژبو څخه زیاتره هغه وخت کار واخیستل شي چې خپل ملک او د ملک خصوصیات او د وطنوالو حال دوی ته معرفي شي؛ خو هلته چې ورسېدو او بیا مو ځان په سمینار کې ولېده د ټاکل شوي ترتیب رعایت له منځ نه لاړ، ځکه چې هلته چوپ کیناستل او یوازې غوږ نیول خپله هیئت ته لویه صدمه وه.
موږ د مربیونو په نامه معرفي شوي وو. له دې کبله موږ ته په ډېر درانده نظر کتل کېدل، همدغه سبب دی چې هر چېرته درنې میلمستیاوې زموږ په افتخار وشوې او په دعوتونو کې به لوی لوی خلک راوبلل شول، د امریکې د کانګرس د لرې او منځنۍ شرق په کومېټه کې زموږ په افتخار غټه میلمستیا وشوه چې موږ مجبور وو، د هغو شرایطو په اقتضاء سره ډېرې پوښتنې او ویناوې وکړو او په دې ډول له ژبې نه هم زیات کار واخلو مطلب دا چې بې خبرو هم نه کېده. موږ مجبور شو چې په هر باب کې پوښتنې وکړو خصوصاً د پیټسبرګ د پوهنتون استادانو موږ ته ښکار کړه چې دلته آزادي ده، دا

یوه تعلیمي موسسه ده او تاسې کولی شئ زموږ د مسلط نظام په هر اړخ باندې هر راز پوښتنې وکړئ. له دې کبله موږ لږ څه زړه‌ور شوو پوښتنو او انتقادو باندې مو پیل وکړ، نو د افغاني هیئت یوه غړي د لومړنی تشریح په باب کې په خبرو شو او د مجلس توجه یې دې ته وګرځوله چې د فرد او جامعې په باب کې ډېرې خبرې شته او د دوی ترمنځ متقابل ارتباط لا تر اوسه یو قطعي شکل نه دی نیولی.
همدغه سبب دی چې د ځمکې په سر په بېلو بېلو جامعو کې د افادو او جامعو ترمنځ مختلف ارتباطات موجود دي، یعنې په مختلفو جامعو کې د دولت شکلونه او فورمونه یو راز نه دي او سره فرق لري او دا له دې کبله چې داسې نظر به تر اوسه د ځمکې په سر جامعه کې عام مقبولیت نه دی پیدا کړی چې افراد دې د دولت په مقابل کې او دولت دې د افرادو په باب کې په ټولو جامعو کې عین مناسبات ولري، البته ددې علت واضح دی او هغه دادی چې ځینې د فرد او جامعې خیر او شر سره یو ګڼي او ځینې معکوساً فکر کوي او وایي چې که فرد په اقتصادي تشبثاتو کې آزاد پرېښوول شي؛ داسې کارونه به وکړي چې لومړی د ځان خیر پکې تامین کړي او په ضمن کې جامعې ته ګټه ورسوي، یعنې د ځان فایده لومړی بولي او د جامعې بهبود ورته ثانوي اهمیت لري او حتی په ځینو مواردو کې د جامعې نقصان ته نه ګوري او یوازې د ځان فایدې ته یې سترګې وي. داسې ډېر شوي دي چې قصاب دې مریضې غوښې په خلکو تېرې کړي، هوټلي دې په خوراک کې د غوړیو په ځای له وازدې او تیلو نه کار واخلي یا دې ځینې شرکتونه او کمپنۍ د نرخ د نه ټیټېدو په منظور اضافي تولیدات په بحر کې واچوي او اور دې ورته کړي یا دا چې څه وخت چې زارعان له دې نه مطمئن شي چې حکومت د دوی تولیدات ارومرو په بیه اخلي؛ نو له حد نه زیات تولیدات کوي او حکومت مجبور دی چې د دوی تولیدات په بیه واخلي او د دې په ځای چې په ارزانه او مناسبه بیه یې بېرته په خپلو یا د نورو جامعو وړو افرادو باندې خرڅ کړي، د نرخ د ښکته کېدو له ویرې یې امبار کړي او په میلیونو پیسې یې په ذخیرې کولو ولګوي. نو له دې سببه یوه ډله په دې عقیده ده چې که فرد په اقتصادي فعالیت کې آزاد پرېښوول شي، ارو مرو یې منفعت د جامعې له منفعت سره تصادم او تناقض کوي، په دې حساب فردیت په خود سري اوړي او بالنتیجه جامعه ضررویني. وایي چې دا ښه او ضرور ده چې د دولت او فرد ترمنځ دې مناسبت په معینو او ټاکلو شرایطو بنا وي. د دې راز استدلال او د کوم قطعي حکم د نه اظهار په سبب امریکایي پروفیسران دې ته ملتف شول چې که څه هم د افغاني هیئت زیاتره اعضاء په ځان واړه، کمزوري او په عمر خام دي؛ خو د بحث او استدلال قوت پکې شته او د بحث شوقمن او ورته تیار دي؛ نو ځکه د دې راز استدلال د ردولو په کوښښ

کې نور هم دقيق شول او هر يوه په خپل وار سره کوښښ کاوه چې د لومړنۍ تشريح په طرفدارۍ دلايل واوري.
د فاميل، واده او طلاق په باب هم خبره په بحث واوښته. موږ په دې ټينګار نه کاوه چې ګنې امريکې کې فاميل او فاميلي ژوند مخ په ور کېدو دی او نن وي که سبا وي، دغه اجتماعي واحد به په فردي واحد واوړي او جامعه به يوازې له داسې افرادو نه جوړه وي چې فاميلي واحدونه به په کې نه وي، ځکه چې دغه خبره په خپل ذات کې ډېره مغلقه او مرکبه ده، يعنې ډېر عوامل پکې دخالت لري او د دې له پاره چې په دې باب کې بحث علمي او اکاډميک شي، ډېر دلايل بايد ټول شي او ډېرې څېړنې بايد پکې وشي. خو زموږ د هئيت يوه غړي دومره وويل چې فرديت او اقتصادي ازادي له فاميلي کنټرول سره نه جوړيږي او د طلاق په تعميل کې ښکاره رول لري او په دې حساب ډېر فاميلونه په ابتداء کې د اقتصادي مفيديت په اساس او نه د عمر د تناسب او د طبايعو او ذوقونو د توافق په لحاظ جوړيږي، که د داسې فاميلونو په اصلي غړو کې روحي او ذوقي جوړښت پيدا شو، دوام به کوي او که نه، د زمانې کومه سخته سيلۍ چې راغله جدا کېږي به او طلاق به منځ کې راځي او څرنګه چې په امريکې کې د طلاق حق د مابينې او ميړه دواړو په برخه دی؛ نو دا د فاميل په تجزيې کې لا اسانتيا راولي او همدغه سبب دی چې طلاق په امريکې کې زيات دی. همدغسې د امريکې د اقتصادي ساختمان او عرفاني انکشاف په باب کې ښايسته په زړه پورې بحث وشو، خو په کوم باب کې چې بحث زيات په زړه پورې و او ډېرې خبرې پرې وشوې، هغه په سياسي ژوندانه کې د فرد برخه اخيستل او د امريکې د حکومت خارجي سياست د نړۍ د بېلو بېلو منطقو په باب کې و، ځکه چې خصوصاً وروستي بحث کې د امريکې رويه د پاکستان، پښتونستان او افغانستان په متعلق وڅېړلی شوه.
د امريکې د سياسي ژوندانه په باب کې امريکايي پروفيسرانو هر يوه په خپل وار سره دا ويل چې امريکايي جامعه آزاده ده، يعنې په دې جامعه کې فرد لره اجاز ده او هيڅ رنګه قيد او قيودات نشته او له دې کبله فرد کولی شي چې د هر څه په باب کې نظريه ورکړي او هر څه يې چې په زړه کې وګرځي نورو ته يې واوروي، يعنې د قلم آزادي، د بيان آزادي، د دين آزادي او د حزب جوړولو ازادي پکې شته او داسې قيد او شرط په هېڅ باب کې نشته چې خلک دې د يوې خاصې طبقې يا ډلې نه پيروي وکړي او هر څه چې کومه ډله يا طبقه يا خاص کسان وايي او فکر کوي، نور دې ارو مرو د هغه پيروي وکړي.
د ازادۍ عملي مثالونه يې داسې ښوول چې مطبوعاتو ته موږ ځکه ازاد مطبوعات ويلی شو چې هر فرد که پخپله وغواړي کولی شي اخبار ولري، مطبعه او د تبليغ او تلقين

ټـول وسـايل برابـر کـړي او خپلـو مقاصـدو تـه پـرې ورسـيږي او هـر راز خپرونـې ولـري، پـه حکومـت انتقـاد وکـړي او پـه عيـن حـال کـې د مملکـت د اداري او د حکومـت د سياسـت پـه بـاب خپلـه نظريـه واوروي، افـراد کـه هـر څـه وايـي او هـر راز اظهـار نظر کـوي او هـر ځنګـه خپرونـې کـوي، څـوک يـا حکومـت پـرې غـرض نـه لـري، يعنـې پوليـس ورپسـې نـه وي، څـوک يـې نـه تعقيبـوي او د خپرونـو پـه سـبب زحمـت او تکليـف نـه وينـي. دينـي او مذهبـي ازادۍ هـم پـه دې کـې ده. هـر فـرد د هـر ديـن او مذهـب د انتخـاب حـق لـري، اجبـار او تحکـم پـرې نشـته، څـه چـې يـې وجـدان او ضميـر ښـه او خيـر ګڼـي پـه هغـه ايمان او عقيـده پيـدا کـوي، لـه بلـې خـوا دينـي موسسـې يعنـې کليسـاګانې هـم آزادې دي او د دې حـق لـري چـې د خپـل مسـلک د خپرېـدو لـه پـاره فعاليـت وکـړي او خلـک ځـان تـه وبـولي، پـه سـياسي ميـدان کـې آزادۍ دا معنـی لـري چـې افـراد پـه خپـل منـځ کـې ټـول شي، عهـد او بسـت وتـړي، مقصـد معيـن کـړي او حـزب جـوړ کـړي او پـه حـزبي چـوکاټ کـې دننـه د همفکـرو ملګـرو پـه مرسـته خپـل مقصـد تـه د رسـېدو پـه غـرض فعاليـت وکـړي، يعنـې پـه انتخاباتـو کـې ګـډون وکـړي او کـه انتخابـات يـې وګټـل د حکومـت پـه تشـکيل سره خپـل مقاصـد عمـلي کـړي.

پـه دې کلونـو کـې دوه حـزبي ډلـې دي چـې کلـه يـو او کلـه بـل انتخابـات ګټـي او بالنتيجـه حکومـت جـوړوي او د اولـس پـه نماينـده ګـي د جامعـې اداري څـرخ پـه حرکـت راولي چـې يـوه يـې جمهوريـت و بلـه يـې د ډموکـرات پـه نامـه ياديـږي.

د امريکـې د خارجـي سياسـت پـه بـاب کـې پروفيـسر مارتـن مفصـل توضيحـات ورکـړل او ځينـې مهـم او اسـاسي ټکـي يـې واورول کـوم چـې ده وويـل د امريکـې خارجـي سياسـت پـرې ولاړ دی. ده ويـل چـې د امريکـې د خارجـي سياسـت اساسـات مداومـت، واقـع بينـي او د سـولې سـاتل دي، لـه مداومـت څخـه مطلـب دا دی چـې کـه پـه دولتـي او حکومتـي لـوړو مامورانـو کـې تغييـر او تبديـل پېښ شي او يـا د نـورو انتخاباتـو پـه سـبب پـه حکـوت کـې نـوي کسـان منـځ تـه راشي، بيـا بـه هـم پـه عمومـي صـورت د امريکـې د خارجـي سياسـت پـه ضـد نـوې رويـه غـوره نـشي؛ بلکـې د پخـواني خارجـي سياسـت اصـول بـه تعقيـب شي، يعنـې نـوی حکومـت بـه د پخـواني حکومـت هغـه قراردادونـه او تعهدونـه چـې لـه باندنيـو هېوادونـو سره يـې لـري، لغـوه نـه کـړي؛ ځکـه چـې هغـه پخوانـی حکومـت هـم د انتخـاب لـه ليـارې واکمـن شـوی و او د هغـه سياسـت د خلکـو پـه خوښـه و، نـو لـه همـدې کبلـه د پخـواني حکومـت خارجـي سياسـت، نـوی حکومـت تـه محـترم دی، تـر هغـو چـې د پخـواي حکومـت رويـه د دولـت پـه ضرر نـه وي، دوام بـه لـري، لـه دې کبلـه د امريکـې سياسـت فـردي نـه دی، بلکـې ولـسي او مـلي رنـګ لـري او پـه عيـن حـال کـې اطمينـان او ډاډ پکـې شـته، ځکـه چـې تسلسـل لـري او دوام يـې زيـات دی.

د پروفيـسر مارتـن پـه قـول، سره لـه مداومتـه چـې د امريکـې پـه خارجـي سياسـت کـې شـته

بیا هم دا سیاست ریالیستیک او واقع بین دی یعنې نویو پېښو، نویو تحولاتو او نورو مسئلو ته د واقع بینۍ او ریالیستي په نظر کتل کېږي چې په دې ډول مداومت د ریالیزم یعنې واقع بیني نقیض نه دی، بلکې وروستنی د ړومبي متمم او مکمل دی.
د درېیم ټکي په باره کې زیاته تشریح ورکړل شوه او مطلب یې دا و چې د امریکې خارجي سیاست په سوله بنا او د سولې ساتونکی او ضامن دی او دا وظیفه ورکړې شوې ده چې د مسلح تجاوز مخه ونیسي او له هرې فلسفې یا هر عمل سره چې د زور او شدت له لارې مسلط نظام ړنګوي، مقاومت وکړي، له دې کبله ده وویل چې د امریکې حکومت له نورو هېوادونو سره نظامي تعهدات لري او د سولې د ساتلو او د تجاوز د مخنیوي له پاره یې په بېلو بېلو سیمو کې نظامي موسسې لکه د نیټو، سیټو او سنټو (د بغداد پکت) جوړې کړې دي او همدا راز له نورو زیاتو هېوادونو سره دوه اړخیزه نظامي تعهدونه لري.
دا ټول د دې له پاره چې سوله ټینګه وي او تجاوز پېښ نه شي، له دې کبله هر هغه خارجي هېواد چې له امریکې سره په نظامي معاهدو کې شریک دی، په حقیقت کې د سولې او ارامۍ له پاره ډېره مرسته کوي.
د پروفیسرانو خبرې چې خلاصې شوې، پوښتنو او توضیح غوښتلو ته وار راغی او ځرنګه چې دا تشریح زموږ له خارجي سیاست سره ارتباط پیدا کاوه، نو دقت زیات او بحث عمیق شو. د لومړۍ تشریح په باب کې ډېر ونه غږېدو؛ ځکه چې یوه خو موضوع حساسه وه او بله دا چې موږ میلمانه وو او دا مو نه غوښته چې د امریکې د سیاسي ساختمان منفي خواوې را برسېره کړو او که نه هلته هم د ویلو ډېر شیان شته.
په بل ځای کې یوه منتقد په دې باب کې داسې وویل: چې په سیاسي حیات کې هلته هم قیدونه او محدودیتونه نه شته او افراد نه شي کولی چې د هر رنګه سیاسي مسلک په باره کې فعالیت وکړي.
د مکارتزم نه خو به ډېر کسان خبر وي. د تورپوستو په باب هم لږ او ډېر خلک خبر دي او سربېره پردې امریکایي ډموکراسۍ زیاتره سیاسي ده او په هغې جامعه کې زیاتره سیاستمداران او دولتي لویانو له شتمنو کورنیو څخه دي او په ځینو مواردو کې حکومتي اقتدار د لویو کمپنیو قدر ته نه دي او په امریکې کې هغه کسان سیاسي میدان ښه ګټلی شي چې د تبلیغ، تلقین او پروپاګند وسایل یې زیات وي او یا په انتخاباتو کې ډېر لګښت وکړي. سره له دې هم د لومړۍ تشریح په باب کې یو انتقاد وشو، منتقد وویل چې د امریکې دوه حزبي سیستم اصولاً یو حزبي غوندې دی، په دې ډول چې د هر حزب په داخل کې دوه یا درې برخې وي چې دوه اطرافي خواوې یې ښي او کیڼ وزر یا جناح په نامه یادیږي.

د دواړو په منځ کې منځنۍ برخه پرته وي ښي وزر کې عموماً هغه اعضاوې چې د حزبي فلسفې او حزبي سیاست په باب کې زیات محطاط او محافظ کار وي او هر نوي تحول او پېښې ته د احتیاط او محافظه کاري په سترګو ګوري، له دې کبله دوی ته عنعنه پرستان یا محافظه کاران هم ویلی شي، د دوی په مقابل کې کیڼ لاسي وي، دوی د تحول او تغییر غوښتونکي وي او نظر ښي لاسو ته دوی افراطي وي او دا فکر او عقیده ورسره وي چې په خپله حزبي جهان بیني او فلسفې کې تحول او بدلون راولي او حرکت او جنبش پیدا کړي، څرنګه چې د امریکې د ډموکرات او جمهوریت د دواړو حزبونو اساس تقریباً په یو څه توپیر سره یو دی؛ نو یواځې د دوی په روش او تاکتیک کې فرق شته، په دې حساب چې جمهوریت غوښتونکي محافظه کار او ډیموکراتان د لېبرال فکرونو خاوندان دي. یعنې دواړه په حقیقت کې په یوې فلسفې بنا واحد حزب دی چې جمهوریت خواهان یې ښي او ډیموکراتان یې چپ اړخونه تشکیلوي.

که دا استدلال درست وي، یعنې د ډیموکرات او جمهوریت حزبونه په واقع کې واحد حزب وي؛ نو به ووایي چې په امریکې کې یو حزبي سیستم رواج لري او څرنګه چې د دې حزب په مقابل کې د فلسفې او روش په لحاظ بل نقیض حزب یا مسلک ته اجازه نشته، نو په دې سبب امریکایي ډموکراسۍ کامله نه ده او داسي نقص پکې شته او دا بېل بېل حزبي نومونه اصلاً د دې له پاره دي چې اصلي مخالفان سر پورته کولی نه شي او تل مغضوب او منکوب اوسي.

د امریکې د منطقوي سیاست په باب چې د خبرو وار شو، زموږ له خوا داسې وویل شوه چې د هر ملک خارجي سیاست د هغه هېواد د داخلي منافعو د تامین او ولسي بهبود په بنا ولاړ دی او په عین حال کې د نننی عصر له ایجاباتو سره سم له نورو ولسونو سره د سولې او ارامۍ د تامین په غرض همکارۍ او تعاون لرل دي، یعنې دوه ټکي د هر حکومت په خارجي سیاست کې تر نورو زیات مشخص وي:

د ملي منافعو تامین او د بین المللي سولې په غرض همکارۍ. نن ورځ ترتیب داسې دی چې د ټولو ولسونو ملي منافع سره مشترک نه دي، یو ملت له بل نه طمع کوي او په مختلفو نومونو او په بېلو بېلو شکلونو ترې استفاده کول غواړي، همدغه سبب دی چې هر ملت ځانله مسایل او مشکلات لري. یو ملت که ډېر وړاندې تللی وي او بل ولس که له هغه نه ببرته پاتې وي، دواړه له ملي مسایلو نه خلاص نه دي، امریکا به په دې کې خپله ګټه وینې چې له ملک نه د باندې نظامي اتحادیې ولري.

دا د هغه ملک کار دی، زموږ پرې غرض نشته؛ مګر څه وخت او په کومه منطقه کې چې دا اتحادیې د هغې منطقې د ولسونو ملي مسایل تر پښو لاندې کوي او پروا یې نه لري

او يا دا چې که امريکا د خپل متعاهد هېواد ادعا د هغې منطقې د بل ملک په مقابل کې صحيح ګڼي او هغې بلې ته اقلاً غوږ هم نه نيسي، دلته مشکلات پيدا کېږي او داسې اتحاديې بيا د دې پر ځای چې ارامي راولي، خپله د نارامۍ سبب ګرځي.
د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پښتونستان يو لوی ملک پروت دی چې يوه برخه يې آزاده او بله برخه يې پاکستان نيولې ده. دا منطقه په تاريخ کې له پاکستان سره يوځای نه وه او د متمايزو مشخصاتو په سبب له هغه ملک نه جلا وه. د پاکستان د جوړېدو نه لا د مخه د پښتونستان خلکو د ازادۍ اخيستلو له پاره له انګريزانو سره جنګونه کړي، مګر په وېش کې استعمارچيانو چال وواهه او پښتونستانيان يې له حقوقو نه محروم کړل؛ خو د دوی مجاهده روانه شوه او تر دې تاريخ پورې دوام لري.
افغانستان د تاريخي، جغرافيائي، ديني، ژبني او نورو علايقو له مخې ځان مجبور او مکلف ويني چې د پښتونستان له خلکو سره همدردي ولري او د پښتونستانيانو ادعا د دوی د سرنوشت د تعين او د خود اراديت د پرنسيپ په تعميل کې چې له بين المللي او د يونو له مناشيرو سره سرخوري حمايه کړي. پاکستان د دې مسلمو حقوقو په مقابل کې سر زوري وکړه، له يوې خوا په سنتو او له بلې خوا په سيټو کې يې ځان داخل کړ چې د غرب په کومک سره دا خلک نور هم منکوب کړي.
غرب هم پاکستان په شا وډباوه او د دې په ځای چې پاکستان حقايقو ته ملتفت کړي، نور يې هم پسې قوي کړ. د نظامي معاهدو په اطمينان ملي مسايل او د لکونو انسانانو حقوق يې تر پښو لاندې شول او لا پسې کېږي، په دې ډول امريکې د منطقوي سياست د خېړلو له کبله د پښتونستان کشاله د بحث موضوع شوه چې څو ساعته يې دوام وکړ او د افغاني هيئت هر غړي په خپل وار سره د پښتونستان حقانيت پروفيسرانو ته واوراوه هغوی هم ښه ځير شول او په دې باب کې يې پوښتنې وکړې او معلومات يې حاصل کړل. که څه هم په دې فصل کې د دوی د تشريح تائيد نه وو، خو پدې زيات خوښ شول او تشکر يې وکړ چې له دې موضوع نه مو خبر کړل، ځکه چې هغوی تر اوسه په دې نه وو پوه او افغانستان او پاکستان يې سره همسايه پېژندل او په دې خواشيني ښکارېدل چې افغانستان او پاکستان سره اتحاديه نه لري، په دې ډول دوه ورځينی سيمينار پای ته ورسېد.
کوم شی چې بايد په پای کې ارو مرو ياد شي، دا دی چې امريکايي پروفيسران دې ته زيات هوسېدل چې د امريکې د ژوندانه په هر اړخ کې موږ ته اساسي معلومات راکړي او له دې کبله پخوا له دې چې موږ د امريکې په لېدلو شروع وکړو، لږ او ډېر د هغه ملک په اساسي خبرو اطلاع ولرو؛ نو ځکه د دوی دا ارزو او کوښښ د يادونې او قدر وړ دی،

په تېره بیا د سیمینار رئیس ښاغلي وایټ مین (White Men) دې خیر یوسي چې په داسې محاضرو او مباحثو کې پوره ماهر و، کله کله به چې کوم بحث اوږد او خور شو، ده به په خاص مهارت او لیاقت سره هغه داسې را ټول کړ، لکه ماهي ګیر چې جال ټول کړي.

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري(حمل) نه ویشتمه، نهمه گڼه.

# اقتصادي نظریات



د یوه نوي چاپ شوي کتاب نوم دی چې په اعلی کاغذ او (۱۸۰) مخونو کې د کندهار له دولتي مطبعې نه راوتی دی، قطع یې ښایسته لویه، توري یې ښکاره او پښتو یې اسانه او روانه ده. مولف یې ښاغلی محمد نادر ایوبي د حقوقو او سیاسي علومو لیسانسه دی. له نامه نه ښکاري چې کتاب له اقتصادي نظریو نه غږېږي، یوازې نظریې نه بیانوي، په تاریخي دورو کې یې لټوي هم، ورسره د تاریخي دورو عمومیات او اقتصادي خصوصیات بیانوي؛ ځکه د اقتصادي نظریو تاریخ هم ورته ویلی شو. که څه هم لیکونکی له لرغوني یونان نه پیل کوي یعنې اقتصادي نظریې په هغې دورې کې گوري چې د لومړي ځل له پاره د بشري مدنیت او کولتور په هر اړخ باندې منظمې لیکنې او څېړنې شوي؛ خو یوازې په دې نه بس کوي، د یونان له مدنیت نه د مخه ځي.

د بین النهرین او چین مدنیتونو ته قلم اوړدوي او د کنفیوسیس، لاوسته، حمورابي، موسی[٤] او داسې نورو نظریې کاږي. څه وخت چې بیرته یونان ته را گرزي هلته د ډیموکراسي د وختو او د هلنستیکي دورې اقتصادي څرنگوالی څېړي. ورسره د سولون اصلاحات، د گرنفون، افلاتون او ارستو لیکنې ټولې شرح کوي. نه یوازې له اقتصاد؛ بلکې د نورو نژدې علمونو نه هم غږېږي.

وروسته د هلنستیکي دورې د څلورو بېلو فکري ښوونځیو (اپیکوریان، شکاکان، کلبیان او رواقیان) اقتصادي او اجتماعي نظریې په ډېر وضاحت لیکي. په دې برخه کې دومره صراحت په کار وي چې د نورو په لیکنو کې ډېر کم لیدل شوی. سربېره پر دې د انساني کولتور په هر اړخ، په تېره بیا په اجتماعي او سیاسي میدان کې د پورته فکري ښوونځیو انکار هم نه پرېږدي او په ضمن کې یې لیکي. یونان نه چې خلاصېږي، رومي جامعې

کې په اقتصادي نظريو پسې ګرزي.
هلته د سيسرون او سنکا خبرې سپړي. د کار، ملکيت، شتمني، توليد، وېش او نورو اقتصادي موضوعاتو په هکله يې افکار رابرسېره کوي. له هغه وروسته د مسيحيت وار راځي. مسيحيت کې اقتصادي ارزښت پسې ګرزي. مسيحيت لومړی د يوه کولتور په حيث ګوري. بيا د هغې دورې د پوهانو خصوصاً د تاماس دا کوين نظريې څېړي او په اقتصادي ډګر کې د هغوی فکري سهم ښکاره کوي. ورسره په منځينو پېړيو کې اقتصاد ګوري. بيا د سرف، ويسل، سنيور ملاک او د منځنيو پېړيو اقتصاي څرنګوالی نه غړېږي. د اروپا په تيارو دورو کې چې د اقتصادي نظريو له رابرسېره کولو نه خلاص شو او دا يې وښوده چې په اقتصاي نظريو او کړو کې مسيحيت څومره خنډونه ايښي وو او پاپانو د روحاني واکمنې نه سربېره د مادي او دنيايي واک ګټلو له پاره څومره ظلمونه کول او څنګه به يې د جنت او دوزخ فرمانونه ورکول. ليکونکی د اسيا د لويې وچې د عربستان مترقي تحول يعنې اسلام ته را ګرزي. ددې نهضت په رڼا کې اقتصادي نظريات ښيي. د اسلام په چوکاټ کې دننه او د اسلامي نصوصو په اساس له اقتصادي نظريو نه غړېږي. يعنې اسلامي اقتصاد او اقتصادي عقايد په پراخ ډول څېړي. له هغې ورسته د ريفورمېشن نظرياتو د تاريخ په باب دا لومړنی کتاب دی چې دومره اوږد او پراخ نيول شوی او په پښتو چاپ شوی دی. سره له دې هم وضاحت او صراحت يې زيات دی، پښتو يې روانه او ساده ده، علمي اصطلاحات پکې لږ دي؛ نو ځکه د ټولو د استفادې دی. د کتاب يو لوی خصوصيت دا دی چې د اقتصاد په باب هر راز نظريې لري، ويلای شو چې تاريخي سير پکې ښه رعايت شوی. ښکارېږي چې کتاب به پسې اوږدېږي او ښايي پاتې برخې يې په نورو ټوکونو کې راووځي او تر دې وخته را ورسېږي.
په دې وختو کې چې پښتو د تحول په خاص حال کې ده او د علمي کېدو هڅه يې له هر ښاغلي ځوان سره زياته ده؛ يقين دی چې دا کتاب به زيات ارزښت ولري؛ نو ځکه د ځوان او ښاغلي ايوبي دا تأليف او زيار د پوره قدر وړ دی؛ په داسې حال کې چې موږ له يوې خوا د دوی دې زيار او تأليف ته په درنه سترګه ګورو او د کندهار د مطبوعاتو له حساس مدير ښاغلي محمد ولي زلمي نه چې د کتاب د چاپ لپاره يې لاره برابره کړې او په يوې اطرافي مطبعې کې يې په ښه صحافت او قطع يو داسې دروند اثر خپور کړی؛ ترې مننه کوو. دوی ته توفيق غواړو چې پاتې برخې يې هم ډېر ژر خپرې کړي چې د کتاب تاريخي سير بشپړ شي او د علاقمندانو د پوره استفادې وړ وګرځي.

کابل مجله، ۱۳۳۹ ل کال، د وري میاشت، ٦ مه ګڼه/ پرلپسې ۴۹۱ مه ګڼه.

# د پښتونستان ورځ

ورځې او شپې، ساعت او دقیقې د وخت واحدونه دي. یو له بل نه څه امتیاز او یو په بل کوم تفوق نه لري؛ ځکه چې ټول یې فقط د زمان د طول د معرفت لپاره دي. زمان تل خپل سیر ته دوام ورکوي او ولاړه هیڅ نه مني؛ ځکه نو د زمان په طول کې پېښې او حادثې راولاړېږي، داسې چې په فردي لحاظ د ژوند هره شېبه یا په بل عبارت د زمان د طول هر واحد له تأثراتو نه ډک دی. په اجتماعي لحاظ هم د همدغه طول په ځینو ټکو او بعضو واحدونو کې تأثرات شته، یعنې داسې پېښې به شوي وي چې یوه ولس ته به په کې افتخار وي، د خوښۍ او ښادۍ موجب به یې کېږي یا به یې معکوساً د خپګان او ذلت باعث شوي وي.
د سنبلې نهمه ورځ په لومړۍ کته ګورۍ کې راځي؛ ځکه په دې ورځ کې پښتونستان تاریخي اعلان کړی دی. د ژوند او افتخار پرېکړه یې په کې کړې ده. د پښتونستان د جوړولو لوړه یې کړې ده؛ ځکه نو دا ورځ د عادي ورځو په څېر نه ده او ډېر قدر لري. ولې قدر لري؟ څله د تجلیل وړ ده؟ دا هغه پوښتنې دي چې په ځوابونو کې یې یو عالم حقانیت پروت دی او د پښتونستان حقانیت په همدغه ځوابونو کې دی.
پښتونستان یو ګڼ ولس دی. اتیا لکه وګړي لري. د ځانله خاورې او مځکې څښتن دی چې کال دولس میاشتې په کې مېشته وي او په زرګونو کلونو په کې اوسېدلي دي. همدغه ولس ځانله کولتور او مشخصات لري. مشخصات او کولتور یې پوره جامع دی چې د ژوندانه ټولې مسئلې یې هم پخوا په کې حل شوي او هم اوس پرې حل کېږي. پښتو ژبه یې لکه ولس ډېره تاریخي او پخوانۍ ده. دومره عمر لري لکه زموږ د نړۍ کومه بله ژبه یې چې لري. جامعیت او وسعت یې له تاریخ نه پوره اندازه کېدای شي. کله مو چې وویل د پښتونستان ولس ځانله ځمکه او د هستوګنې ځای لري؛ نو هرومرو یې ژوند په کې تامین کېږي. ځمکه که یې شاړې غرونه وای، خپله به هم ترې تللی وای او بل چېرته به اوسېدای، یا به نیست وای او د مځکې له سر نه به یې کوچ کړی وای.
دا به رښتیا وي چې اقتصاد به یې وړاندې تللی نه وي یعنې پوره به صنعتي او منکشف

شوی نه وي؛ مګر دا خو رښه شوې ده چې د پښتونستان په سیمو کې ذخایر او شته ډېر دي، داسې چې د ولس ګذاره پرې ډېره ښه کېدای شي او که انکشاف ورته ورکړل شي او په کار واچول شي نو به د ژوندانه لوړه سویه هم ولري. بله مهمه خبره خو داده چې د پښتونستان ولس یوه روحیه لري، په اجتماعي ذهنیت کې یې اشتراکات او تجانسات موجود دي.
د تور او سپین او خیر و شر تلقیات دوی ته یو شان دي. په جامعه او ناسته ولاړه کې چندان توپیر نه سره لري؛ په دود، دستور او عنعنو او روایاتو کې یې فرق نشته؛ جرګې او مرکې او شخړې او ګوندیماری یې په یو شکل دي او ټولو کې د پښتونولۍ روحیه غلبه لري.
ښه نو یو ولس چې دغسې صفات ولري، ایا حق نه لري چې د ژوند چارې په خپله اجراء کړي؟ په حقوقي لحاظ خو هېڅ پکې نشته، ځکه د همدغسې مشخصاتو په وجه ډېر ولسونه خپلواک شوي او د ژوندانه چارې په خپله کوي. د یونو منشور هم په ډاګه وایي او ملاتړ یې کوي. سلف ډیټرمنشین (Self Determenation) یعنې د ځان د چارو د اجرا تعیین هم همدغه شی غواړي او په دغسې حالاتو کې تطبیق مومي. مګر یوازې استعمار او دلته د پاکستان استعمار دی چې دا حق نه مني او ځانله منطق لري. دا منطق وایي چې پښتونستان بې شکه یو بېل ولس خو دی؛ مګر خبره داده چې ازادي نه غواړي او پاکستان یې خوښ دی. چې ښوک ورته ووایي دا بې شماره پښتونستانیان ولې په جېلو کې وغورځل شول؟ ولې ووژل شول؟ ولې نیست او فرار شول؟ ولې بندیزونه او قیدونه پرې کښېښول شول؟ ولې ګولۍ پرې واورلی شوې؟ ولې قتل عام شول؟ او ولې داسې نورې ناکردې پرې وشوې؟ یا دغه مارشل لا یا عسکري حکومت د ښه لپاره دی؟ دوی بیا وایي چې فساد جوړوي. فساد یعنې پښتونستان. د دوی په خوله د حقوقو ټول پرنسیپونه د پښتونستان د فکر ملاتړي دي. مګر هوښیاران پوهېږي چې پرنسیپونه که ښه هم حقاني او د عصر په تعهداتو ولاړ وي، په اصل کې مفکورې دي، یعنې قوتونه دي. قوت په خپله ښه شی نه کوي تر هغو چې د فعل ساحې ته ونه وځي او دا کار یوازې ولسي اراده کولی شي او بس.
هر هغه فکر چې ولسي شي، یعنې په ولس کې ننوځي، نه ماتېدونکی شي. د پښتونستان مفکوره اوس په همدغسې حال کې ده. د ملي آزادۍ نهضت او د استعمار انحطاط اوس عالمي او جهاني دی. تر پاکستان نه ډېر قوي استعمارچیان د ولسي قوتونو په مقابل کې مات شوي او په ماتېدو دي. ملي نهضت یو زورور سېلاب دی چې استعمار ته اړم شي، هرومرو یې په ګونډو کوي. دا ورځ په پاکستان راتلونکې ده مګر نه! ښه به دا وي چې له واقع بینۍ نه کار واخیستل شي او سر د اوسه پښتونستان ومنل شي.

کابل مجله، یودېرشم کال، ۱۳۴۰ ل، لومړۍ ګڼه، ۱، ۲، ۳ او ۴ مخونه.

# د مجلې یودېرشم کال

دېرش کاله وشول چې دا مجله کله د میاشتې یو ځل او کله په پینځلسو ورځو کې پرله پسې راوځي او دا دی په دې ګڼې سره دېرش کاله شاته پرېږدي او په یودېرشم کال پښه ږدي. په دې دغومره موده کې یې (۴۹۷) ګڼې کښلي او نږدې څلوېښت زره صفحې یې چاپ کړي دي.
د مجلې هر مخ یوازې سپین کاغذ او تورې نښې نه دي؛ په هر مخ کې د زړو وینې، د دماغونو عصارې او د سترګو اوښکې دي؛ ځکه نو څوک یې ژړولي، ځینې یې خندولي او چا ته یې لوری لودن ښودلی دی. داسې یې هم ډېر اسرار رابرسېره کړي او ډېرو بې عدالتیو او ناروااوو ته یې د خلکو مخ اړولی دی. لکه د ځینو نورو خپرونو غوندې د یوه او بل ذوق پسې نه ده تللې او دا یې په زړه کې هم نه دي تېر شوي چې هڅو یوه ته سپکې سپورې ووایي او هغه بل وستایي، هغه لوړ او ماړه ته غوړه مالي وکړي او دغه غمځپلي او لوېدلي ته سپورې ستغې ووایي؛ نو په دې ډول ځان اوچت کړي او نوم وګټي. څه چې یې ویلي او هغه څه چې یې لوستونکو ته وړاندې کړي؛ یوازې په دې منظور وو چې خلک په خپل ښه او بد خبر کړي، ورته ووایي چې په دې کې نقص او په هغې کې فایده ده، هغه په دغه لاره تللی او زموږ لاره دغه ده؛ یا دا چې زموږ اشنا لاره زړه ده، کنډوکپر یې پیدا کړي او هغه لاره ښه او د تلو ده. همداسې همدغه څه ښه دي او په هغو نورو کې لوی تاوان دی، په دغو کلک ودرېږو او هغه نور ایسته کوو. د خپرونې لوی منظور همدا و؛ خو دا چې په دې منظور کې به څومره کامیابه وي؛ هغه د محیط په فکري سویې او د لیکوالو په قدرت اړه درلوده چې د مجلې پخوانۍ پاڼې یې ځواب ورکولی شي.
زموږ مقصد دا دی چې دې خپرونې د وطنوالو په فکري جریان او ثقافت کې رول لرلی او له دې لارې یې پوره خدمت کړی؛ نو اوس که څوک وغواړي چې زموږ د ولس په پرونې فکري جریان خبر شي او په ادب او هنر یې وغړېږي او کولتور یې وسپړي؛ د دې خپرونې په قدر بیا ښه پوهېږي. دی به مجبور وي چې ټولې پاڼې یې واړوي راواړوي او له مینځ نه یې د مطلب ټکي راوباسي. سره له دې ټولو خبرو دا به درسته نه وي که ووایو چې

مجلې د ټولو توقع تر سره کړې او د هر چا په ذوق او فکر یې لیکنې او خپرونې کړې دي. دا ځکه چې هر څه چې د ادب او هنر، فکر او خیال په نامه خلکو ته وړاندې کېږي، ټولو ته یو شان نه وي او نه خلک ترې یو راز خوند او انتباه اخیستی شي.
لویه هیله او اسره دا ده چې اختلاف نه دی او خلک په فکر او کړو کې سره نژدې وي او هغه څه چې د اتحاد او اتفاق په نامه یادېږي، یواځې خیال او لفظ نه وي، بلکې یو واقعیت وي؛ خو د عقل او فکر خاوندانو ته دا پوره واضحه ده چې «غوا توره شیدې یې سپینې».
یوه ډله خلکو ته یو شی ښه ښکاري او بلې ته بل. ځینې له یو څه نه خوند اخلي او بعضې له نورو نه، ځوک ژاړي او ځینې له خندا نه خوله نه شي ټولولی، دوی به په دغه ټینګ ولاړ وي او هغوی ته هغه تقدس لري.
ادب او هنر هم له بل ځای نه نه راځي؛ بلکې هغه د همدغسې ډلو د اجتماعي تصور انعکاس دی. چېرته چې په اجتماعي ژوند کې اضداد وي، موقفونه سره یو نه وي او یو د بل په قطبیت کې وي؛ د فکر او خیال محصولات به یې هم سره یو نه وي او طبیعي ده چې ادب به یې هم بېل وي، هنر او فلسفه او هر څه فکري او مادي شمتني به یې هم سره مخالفه وي.
هو! دلته به ادب او هنر هم بېطرف نه وي، یا به یوه ته افرین وایي، یا به بل ته؛ خو داسې به نه شي کولای چې یا دا دواړه وکنځي او یا ټول وستایي. دا حال په دې خپرونې هم ښه صدق لري او موږ یې هېڅکله استثنا نه شو ګڼلی؛ خو دا په ځغرده ویل کېدای شي چې نیت یې هر وخت ښه و او د زیاترو خیر او صلاح یې له هر څه نه مقدم ګڼلې. په دې برخه کې بله هېڅ خپرونه له دې مجلې سره سیالي نه شي کولی. د مجلې ځلوېښت زره قدر مخونه د دې ادعا قوي شاهدان دي. دومره ده چې هر قضاوت چې اوس کېږي، باید مجرد نه وي. اجتماعي حال احوال او هر څه باید په نظر کې وي.
تر هر څه د مخه ژوند کول یو واقعیت دی. د دغه واقعیت قوت نظر هر بل واقعیت ته زیات او شدید دی. همدغه سبب دی چې د هرې ډلې فکر او کړه باید د هغې ډلې له اجتماعي موقعیت سره مرتبط شي. ټول هغه وسایل او ذرایع چې یوه او بله یې پکار وي یا د دې لپاره وي چې خپل خیالات پرې وړاندې بوځي او یا دا چې د نورو د نفوذ مخه ونیسي. ادب او هنر هم دلته لوی رول لرلای شي او تر اوسه پرې لوی لوی کارونه شوي دي. هغه خدمت چې تر اوسه ادب او هنر کړی؛ پوره ښکاره دی او ډېر پرې پوهېږي.
هېڅ واقعبین انسان ادب او هنر ته په بېطرفۍ نه قایلېږي او که دغسې فکر وکړي؛ تر هر څه د مخه به یې د ادب او هنر د انکشاف مخه تړلې وي، یا دا چې که دا فکر درست

وای، ادب او هنر به د تاریخ په دورو کې دومره په مخ نه وای تللی او دغه ننني حد ته به نه وای رارسېدلی.
هر فکر هر ځنګه او هر راز چې وي، یو راز بل راز ځان ښیي او خپ و چوپ نه پاتې کېږي. افکار هم د ژوندیو په شان حرکت او ډینامېزم غواړي؛ نو ښه به دا وي چې د انتخاب عمل غوره وګڼل شي او نفې او انکار ته نور بس وویل شي.
د افکارو ډینامېزم طبیعي او زما او ستا له قوت او طاقت نه لوړ دی، که داسې نه وای، ستر مدنیتونه به نه وای او انکشاف به نه کېدای. انکشاف او تکامل شوی دی، کېږي او کېږي به. موږ دا نه شو کولی چې انکشاف خلق کړو. زموږ لویه وظیفه دا ده چې په سر او رمز یې پوه شو او قوانین یې کشف کړو. هغه قومونه او ولسونه چې په دغه کشف کې واقعبین دي، میدان ګټي.
د یوه ولس ټول پخواني میراثونه هرومرو هر وخت د هغه په ګټه او خیر نه وي. هغسې چې اجتماعي شرایط اوړي او یو وخت بل وخت تغیر کوي؛ داسې هم په فکري خواوو کې ځیني عناصر خپل ارزښت بایلي او نویو ته ځای پرېږدي.
هر هغه ولس چې یواځې په خپلو میراثونو کلک ولاړ وي او نویو ته یې پام نه وي، د ژوندانه په میدان کې پاتې کېږي او نور ترې په مخ ځي. اوس د دې وخت تللی چې نور نو په افتخاراتو ژوند وشي. د نن ورځې ژوند نور څه غواړي او ورسره ورسره د نن ورځې هنرمند او ادیب ډېر څه په مخ کې لري. تر ټولو د مخه ده ته ښایي چې د ولسونو د ژوندانه د انکشاف او تکامل په رمز پوه وي او دا یې زده وي چې تر اوسه دغه څه شوي او سبا دغسې څه پېښېدونکي دي؛ دا ځکه چې ننني ادب پرونی نه دی او یوازې قافیې نښلول شعر نه جوړوي. لفاظي کول او کلمات نښلول نن ورځ په درد نه خوري. تخیلي او معنایي سیاق او ارتباط د ادب لویه او غوره برخه ده او دا هغه وخت کېدای شي چې یو څوک یا هنرمند په عصري علومو مجهز وي او د تخیل قدرت یې اسمان ته ختلی او د افادې او بیان په ډګر کې پوره پیاوړی وي. هغومره چې د نن ورځې ژوند ډېر پېچلی او انجړ دی، هغسې د ادیب او هنرمند په مخ کې هم غرونه او ګرنګونه پراته دي. په دغسې انجړ او پېچلي حال کې توقعات هم ساده او بسیط نه وي او له ادیب او هنرمند نه هم دا هیله کېږي، که څه هم چې د ژوندانه په مبارزه کې د مخنۍ زینه او پړاو کې وي؛ دا خیال اوس بېخي بې بنخه شوی چې د ادب او هنر په میدان کې هغه څوک پیاوړی کېدای شي چې له خلکو لرې ناست وي او په یوه کونج کې تله کوي او هلته الفاظ او کلمات تلي او یو له بله یې سره پیيي. پخوا ځینو شعر همدغسې یو فن باله چې په دې حساب شاعر هغه څوک کېده چې یوازې د الفاظو او کلماتو په نزاکت ښه پوهېده او تول به یې پوره ورمعلوم و.

اوس هم بايد يو شاعر يا اديب ته د الفاظو تول ښه معلوم وي. دا خبره پوره درسته ده، څوک ترې منکرېدای نه شي او نه دا چې څوک ورته په کمه ګوري؛ مګر اوس د هنر مغز او متن (Content) ته لوی پام دی چې بايد ټاکلی هدف ولري او روحيه يې پوره اجتماعي وي.(په پراخه معنا) داسې چې د جامعې ټولې پديدې (روحياتي، فلسفي، اجتماعي، هنري او نور...) په ښه شان پکې منعکسې کړي، خصوصاً هغه چې نوی سر راپورته کوي او مخ په قوت وي او په تشکل کې لويه اغېزه لري. هنر نن په دغه مفهوم سره دود مومي او يو ځای بل ځای لار پيدا کوي. هيله ده چې د دې ځای هنرمند او اديبان هم ور نه پوره خبر وي چې يې د خلکو او جامعې په مقابل کې خپل وظايف په ښه شان تر سره کړي وي.

## دويمه برخه

# پښتو ادبيات

# استاد کاکړ او پښتو ژبه

د شلمې میلادي پېړۍ له پیله چې مشروطه نهضت، د خپلواکۍ ګټنې ملي مبارزه، پرمختنګ او موډرن ژوند ته د ځان رسولو پلوشې پر افغانستان را خورې شوې، د روښانتیا او ویښتیا د زمانې منورینو او ملي شخصیتونو د ملي فرهنګ او هویت، ملي ژبې او ادب د را ژوندي کولو او پراخولو اصل ته هم پام واړاوه.

اماني نهضت، د سراج‌الاخبار روښانتیایي بهیر، بیا وروسته د کابل ادبي انجمن، انجمن تاریخ او پښتو ټولنې جوړېدل د همدې لړۍ نوې زرینې کړۍ وې. علامه محمود طرزي په سراج‌الاخبار کې د ملي ژبې (پښتو) د پراختیا خبره په زغرده راپورته کړه او په سراج‌الاخبار او نورو مهالنیو خپرونو کې پښتو شعرونه، لیکنې او مقالې خپرېدل پیل شول. په ښوونیز نصاب کې د پښتو شمولیت او په دغه ژبه د رسمي - اداري اسنادو رادودول خپله یوه لویه ملي هڅه وه. په را دویم ګام کې د پیاوړي ملي شخصیت وزیر محمدګل خان مومند، پنځو ادبي ستورو او بیا را وروسته تحصیل کړي او اکاډمیک نسل استادانو په دې برخه کې نه هېرېدونکې هلې‌ځلې وکړې، چې له برکته یې د فرهنګي پرمختیا د زمانې په پرتله، ډېر ژر پښتو د نثر، نظم، رسنیو، څېړنې، علم او پوهنتون و ښوونځي ژبه شوه.

پښتو ګڼ ګړدودونه (لهجې) او لیکدودونه درلودل. دا د چاپ او خپرونو د زمانې غوښتنه وه، چې هره ژبه باید خپله معیاري او رسمي بڼه وټاکي. د هرې ژبې نثر له تفنن او میرزایي تصنع څخه ځان خلاصاوه، هڅه کېده د نورو ژبو په تېره بیا عربي حضور - چې له ضرورت پورته و - راکم شي او ژبې خپل بومي او ولسي لحن ته ورنږدې شي. د منشیاتو او تحریراتو ژبه باید د پوهنتون، ښوونځي، رسنیو، ورځنۍ کارونې، تخنیک، تولید او اقتصاد او بازار ژبه شي. ادبیات هم باید د نوې زمانې فکري، ذوقي، ښکلاییزو او فیلوسوفیکو غوښتنو ته ځواب ووایي. هڅه دا وه چې د هرې ژبې روح د خپلې زمانې د انسان له ژوند سره وتړل شي او ښکاره خبره ده، په دې برخه کې باید د پښتنو لیکوالو او استادانو هڅه هم راپیل شوې وای.

دا مهال لا پوهنې ډېرې ځانګیزې (تخصصي) شوې نه وې چې خامخا دې نو یوازې ژبپوهانو او ادبپوهانو د ژبې د احیا، ترویج، پراختیا او پرمختیا لپاره کار کولای. ژبه د ټولو ملکیت ده، ژبه ټولنیزه شتمني ده او د پښتو په اړه هر لوستي دا احساس درلود چې په

پراختيا کې يې ونډه واخلي. همدا مهال د متخصصو او څانګپوهو استادانو تر څنګ ګڼو هغو استادانو چې دوديزې او مدرسه يي (ديني) زده کړې يې درلودې تر هر چا ډېر د پښتو ژبې د پراختيا او ترويج لپاره ربړې وګاللې او ليکنې يې وکړې. تر دې راروسته، له نيکه مرغه يو پښت اکاډميک نسل هم د افغانستان په برخه شو، چې له هېواده بهر يې په بېلابېلو برخو کې زده کړې کړې وې، په دوی کې د ژورناليزم، تاريخ، فيلوسوفي، ښوونې او روزنې، ارواپوهنې، بشري جغرافيا، اتنوګرافی، حقوقو، سياسي علومو، اقتصاد او ان ساينسي علومو او نورو څانګو پازوال هم ول. دوی دوه ځانګړنې درلودې؛ يوه دا چې خامخا له يوې يا څو نړيوالو ژبو سره بلد ول او پرې پوهېدل او دويمه دا چې په بهرنيو اکاډميکو چاپېريالونو کې يې دا تجربه ترلاسه کړې وه چې پرمختللي هېوادونه څنګه د خپلو ژبو د پراختيا، معياري کولو او پياوړتيا لپاره کار کوي؟ وسايل او امکانات څه دي او ميتودولوژي کومه ده؟ همدوی چې د پښتو ژبې په اړه ملي احساس هم درلود، له راستنېدو سره سم يې د خپلو څانګه ييزو او تخصصي علمي هڅو تر څنګ پښتو ژبې ته پام واړاوه. تر هرڅه ړومبی يې پر خپله ژبه علمي ليکنې پيل کړې. مهمې ژباړې يې وکړې او دا يې ثابته کړه چې پښتو ژبه متن توليدولای شي او پښتو د علم ژبه ده، د پوهنځي او ښوونځي ژبه ده او د چاپ او خپرونو او رسنيو ژبه ده.

په دغو اکاډميکو نومونو او څېرو کې ښکه چې له لومړنيو هغو يو سرکښ زموږ استاد پوهاند دکتور محمد حسن کاکړ و. استاد کاکړ نه يوازې خپلې ګڼې تاريخي ليکنې او ژباړې په پښتو وکښلې، بلکې د خپل کار په تجربي بهير کې دې ته ځير شو، پښتو ليکل او پښتو خپرول کومې ربړې او ستونزې لري او څنګه يې بايد حل کړي؟ دې هڅې يوه سيستماتيکه ټولنيزه او ټوليزه حللاره غوښته. پوهاند کاکړ بايد د ژبې د معياري کېدو او پراختيا لپاره خپل هغه تيسسونه چې د ورځنې کار په بهير کې ورسره مخامخ کېده، نورو ته هم ور معرفي کړي وای. همدلته ده چې د مستقلو مقالو په کښلو يې راپيل وکړ او د هغه وخت په معتبرو مجلو کې يې خپلې ليکنې خپرې کړې.

دلته په دغې ټولګې کې موږ د استاد يو شمېر همداسې مقالې ګورو چې د خپلې زمانې له بېلابېلو مجلو راټولې شوې دي. زه فکر کوم، د استاد به څه نورې داسې مقالې هم وي، خو ورپسې ګرځېدل او موندل يې لا پسې نوره پلټنه غواړي.

د منځپانګې له نظره ما د استاد درې کټګورۍ ليکنې چې د پښتو د معياري کولو او پراختيا لپاره يې کښلې، وويشلې:

لومړۍ: ژبپوهنيزې ليکنې؛ (معياري کېدل، ګړدوديزه بډاينه، اسانه ليکدود، ژبه ټولو ته د پوهېدا وړ ګرځول، او د ورځنې کار په بهير کې خپلې ژبنۍ تجربې معرفي کول).

دویم: په نړیوال کچ د پښتو ژبې د څېړنو او پلټنو معرفي؛ د نړیوالو پښتو پوهانو راپېژندنه، په نړۍ کې د پښتو د تدریس، څېړنې او پراختیا د اهمیت رابرسېره کول او په دې برخه کې د ظرفیتونو، امکاناتو او علاقمندیو شتون، چې ښایي هغه مهال د افغانستان حکومت له دغو ظرفیتونو او امکاناتو څخه هراړخیزه ګټنه کړې وای. استاد د تاریخ د متخصص په توګه لومړني هغه ختیځپوهان هم را پېژني چې د پښتو ژبې په برخه کې یې هڅې کړې دي. په پخواني شوروي اتحاد، امریکا او اروپا کې د پښتو په برخه کې شوي کارونه رامعرفي کوي، په وطن کې ځوان نسل وپوهوي چې پښتو په نړۍ کې د یوې مهمې ژبې په توګه څېړل کیږي.
دریېم: د خپل مهال پښتو لیکنو، کتابونو او اثارو معرفي، کره کتنه او پېژندنه؛ استاد کاکړ د یوه ویښ او ځیرک لوستوال په توګه له خپلې مورنۍ ژبې سره د بېکچې مینې له برکته هرڅه څاري. هره لیکنه او ښه کتاب چې په پښتو خپریږي، دی ورته خوښ دی. استاد د متن د تولید په اهمیت پوهیږي. استاد غواړي ژبه یې متون ولري او پر متونو بحث او کره‌کتنه وشي. ښایي په دې برخه کې استاد له لومړنیو اکاډمیکو مشرانو څخه وي چې غواړي ورو ورو پښتانه د خپلو اثارو له کره‌کتنې او د انتقاد منښت له زغم سره هم اشنا کړي. استاد کاکړ د ارواښاد استاد الفت پر (املاء او انشاء) نومي مشهور کتاب خپل لومړنی سرلیک (تقریظ او انتقاد) ټاکلی دی. او زه باور لرم چې هغه مهال سترګور استاد الفت د استاد کاکړ دغه لیکنه په خورا مهربانۍ منلې ده او دواړو د (پښتو) ژبې د ودې لپاره سره په سترګو او زړونو کې پوهیدلي او موسلي دي.
هره هڅه د خپلې زمانې د پوهې، وسایلو، امکاناتو او شونتیاوو له څرنګوالي او څومره‌والي سره سمه د ارزښت او قدر وړ ده. هغه مهال چې هرڅه نوي ول، د پوهاند کاکړ ژبني وړاندیزونه خورا علمي او موډرن برېښي. له زړې میرزایي او غلطې املا څخه د پښتو د علمي کولو، ساده، رسا او اسانه نثر ته د رارسولو په برخه کې تر دې ډېر څه ممکن نه ول.
استاد د پیاوړي پښتون فیلوسوفیک شاعر غني خان پر پلوشو یوه جالبه تبصره کړې ده. د پوهاند کاکړ له نظره:
«... ښایي تعجب ونه‌شي که وویل شي چې دا احساسات اصلاً د غني خان نه دي، دا احساسات د غني خان د محیط او ماحول او د هغه په ولس کې ژوندي حقایق دي. دومره ډینامیک دي چې ولاړه او سکون نه مني، بلکې د روانو اوبو په شان جریان غواړي او په دې ټینګار کوي چې په هره لاره کېدای شي ځان اوچت کړي او نورو ته یې وښیي او ځان پرې حس کړي. غني خان ورته لبیک ویلی، ژوندي زړه او خلاقه استعداد یې ورته

رنګ او بڼه ورکړې او په دې وجه دغه ښاغلي خپل قام او ولس ته ستر خدمت کړی دی؛ نو ویلی شو چې د ادب او شعر په میدان کې دا د استعمار او ملیت د غاصبو نه یو بل ضد لوی موفقیت دی چې د پرله پسې مبارزو په لړ کې پښتونستانیو آزادي خواهانو او مبارزینو ته ور په برخه شوی دی.»

هغه مهال، (۱۳۳۹ ل) کال کې، ښایي لا هم ډېرو کسانو شعر یوازې مخییل او موزن کلام ګاڼه، دا ډول معاصر اېستېتیک تحلیل فوق‌العاده دی. پوهاند کاکړ شعر پېژاند هم و، ده د غني شعر د ټولنې د احساس، ګډ لاشعور او د شعر د زېږنځای له سرچینې څخه ملهم ګڼلی او یوازې مخییل و موزون کلام یې د (ژوند) پر ډګر تر ټولو انساني څنډو پورې غځولی دی.

د استاد کاکړ بل کار د تاریخي تجربې پر بنسټ د پښتو ژبې د رسمي او دفتري کېدو پر لار د خنډونو پېژندل دي. استاد دې ته ځیر و چې پښتو ولې او چا له دفترونو، رسمیاتو، بازار او د سیاسي قدرت له صحنې څخه ویستلې وه؟ د دغې تاریخي ناروا او ظلم درملنې یوه علمي نسخه غوښته چې ښایي د پوهاند کاکړ په شان د ملي احساس او درد له څړیکو جوړ اکاډمیک تاریخپوه ورته لیکلې وای.

زه په خپله زمانه کې د استاد دغو ټولو هڅو حیران کړم، د هغه مهال مطبعه، د هغه مهال دولتي امکانات، د هغه مهال بېوزلي، د هغه مهال فرهنګي بریدونه، د هغه مهال احساسات او سیاسي حالات او د هغه مهال ناروا او تعصبي چلندونه چې ګورې او بیا د پوهاند کاکړ او د هغه د همزولیو، همفکرو او هم ارادې پوهانو دا ډول هاندو هڅو ته پام کوې، نو په ریښتیا چې زموږ نسل ته بویه د هغوی زیار، د هغوی شخصیتونو او ارادو ته د درناوي سر کوز کړو. کار ته یې دوام ورکړو او اوس چې زموږ خوږه ژبه د دوی په لاسونو د اېښوول شویو لومړنیو تاداوونو پر بنسټ یوه سرهسکه او ښکلې ماڼۍ شوې ده، لا یې پسې ښکلې، بډایه او ځلانده وساتو.

ځوانانو ته په همدې سپارښتنه

د خپلو مشرانو درناوی ژبې او فرهنګ ته د علمي هڅو په غځولو او پراخولو تل ژوندي وساتئ!


څېړنوال عبدالغفور لېوال

(۱۳۹۹ ل) د کب لومړۍ نېټه

الهیه – تهران

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د مرغومي(جدي) ۲۹مه، لسمه گڼه، ۵۴ او ۵۸ مخونه.

# املاء او انشاء

## تقريظ او انتقاد

د يوه تازه چاپ شوي کتاب نوم دی، چې د دې مجلې په قطع کې په (۱۲۲) مخونو او اعلى سپين کاغذ کې د پښتو ټولنې له خوا د کابل د دولتي مطبعې نه راوتلی دی. مولف يې د پښتونخوا مشهور ليکوال او شاعر ښاغلی گل پاچا الفت د پښتو ټولنې مشر دی. دا د ښاغلي الفت پنځلسم کتاب او د پښتو ټولنې (۱۵۲ مه) خپرونه ده چې له چاپ نه راوتې ده.د کتاب موضوع د پښتو املاء او انشاء ده، بيه يې (۲۴) افغانۍ ده او په پښتو ټولنې کې د ذوقمنو لپاره تيار دی.

اوس به لږ څه په دې وغږېږو چې کتاب څنگه ليکل شوی او د املاء او انشاء مطالب يې په څه ډول کښل شوي دي، ورسره به ځای په ځای يو څه خبرې هم وکړو. کتاب دوه برخې، يعنې د املاء برخه او د انشاء برخه لري. په لومړۍ برخه کې د املاء لغوي او اصطلاحي تعريف او د املاء په باب يوڅه نورې خبرې دي. وروسته د املاء په باره کې د پښتو ټولنې فيصلې دي چې دلته په ترتيب سره کښل شوي. پښتو ټولنې پښتو ته د نورو خدمتو په لړ کې د پښتو ليکدود د معياري کولو او توحيد په منظور تر اوسه په زړه پورې کوښښونه کړي دي. کوم وخت چې د ټولنې امکان پيدا شوی، په کابل او پېښور کې يې د پښتو ليکوال را غونډ کړي او د املاء د توحيد مسئله يې وړاندې کړې او په پای کې يې د ډېرو اختلافي صورتونو په باب کې فيصلې کړي چې هغه ټولې دلته شته. گواکې د ليک دود هغه وړه رساله چې پروسږ کال د کابل مجلې له خوا خپره شوې او له بده مرغه په دولتي مطبعې کې سوې وه، دلته بېرته ژوندۍ شوې ده. پښتانه ليکوال پوهيږي چې پښتو د املاء له پلوه بيا هم پوره او معياري شوې نه ده او لا ډېر کوښښ په کار دی چې په دې باب کې وشي او نيمگړتياوې يې لرې شي. دا خدمت بايد يوازې او يوازې پښتو ټولنې يا نورو ادبي ټولنو ته پرې نه ښوول شي. ټول ليکوال چې دلته او هلته په بره او لره پښتونخواه کې دي، بايد په خپل وار سره څېړنې او مجاهدې وکړي او زيار وباسي چې په پښتو کې املايي توحيد راولي.

دا بـه درسـته وي چـې پـه دغـو فیصلـو کـې بـه د ویلـو څـه وي، خـو سـپړل او څېړل یـې پـه کار دي. د فیصلـو د ذکـر نـه وروسـته د پښـتو پـه پخوانیـو کتابونـو کـې د پښـتو امـلاء کتلـی شـوې ده او د دغـو کتابونـو املایـې[۳] سـیر او څرنګوالـی پـه کـې پـوره ښـوول شـوی دی، شروع یـې داسـې ده:

«د پښـتو ژبـې زاړه کتابونـه تـر اوسـه ډېـر لـږ پـه لاس راغـلي دي او پـه دغـه بـاب کـې یـو سـم لټـون هـم نـه دی شـوی. مـوږ د ځینـو قلمـي آثـارو نومونـه اورېـدلي دي او لیـدلي مـو نـه دي یـا مـو یـې د نظـم او نـثر کومـه نمونـه چېرتـه لـه نظـره تېـره شـوې ده، پـه هماغـه وجـه د پښـتو تحـول او تصـور پـه پـوره ډول نـه شـو ښـودلی او یـوازې د موجـودو آثـارو لـه مخـې د پښـتو لیـک مختلـف شـکلونه او صورتونـه څـه نـا څـه ښـییو»،[٤] همدغـه وجـه ده چـې مؤلـف د سـلیمان ماکـو لـه تذکـرة الاولیـاء کتـاب نـه شروع کـوي او املا یـې ګـوري؛ ځکـه چـې د هغـه کتـاب (۸) مخـه پـه لاس راغـلي او کتـاب پـه خپلـه ورک شـوی دی.

دا اتـه مخـه هـم د پښـتانه شـعرا پـه لومـړي ټـوک کـې زنګوګـرافي شـوي، «تـر دغـه وختـه چـې د پښـتو ادب لومـړی نمونـه پـه لاس راغلـې ده، هغـه د امیـر کـروړ نظـم دی چـې د (۱۳۹هـ ق) پـه شـاوخوا کـې یـې ویلـې دي ... مګـر د امـلاء پـه برخـه کـې ترېنـه صحیـح او پـوره اسـتفاده نـه شـو کولـی؛ ځکـه چـې د خپـل وخـت پـه کـوم زاړه قلمـي کتـاب کـې یـې نـه ګـورو چـې زوړ رسـم الخـط راوښـیي، بلکـې د محمـد هوتـک پـه کتـاب (پټـه خزانـه) کـې یـې ګـورو چـې د شـاه حسـین هوتـک پـه امـر پـه (۱۱۴۱ هـ ق) کـې لیـکل شـوی او د محمـد هوتـک پښـتو امـلاء ښـیي».[٥] لـه دې څـو کرښـو نـه دا اوچتـه ښـکاري چـې د پښـتو پـه زړو او کلاسـیکو متونـو هـم هغـه کانـه شـوې، لکـه چـې د هېـواد پـه نـورو تاریخـي اثـارو او قلمـي نسـخو شـوې ده. یعنـې هغـه څـوک چـې پـر دې خـاوره مسـلط وو، لـه سـیاسي او اقتصـادي اسـتثمار نـه یـې سربېـره قلمـي نسـخې او کتابونـه هـم خپلـو ملکونـو تـه وړي دي.

لکـه چـې د پښـتونخوا ډېـر قلمـي او خطـي آثـار همـدا اوس پـه برېټـېش موزیـم کـې شـته او یـوازې کتـلاک یـې چـې هلتـه بـس د کتابونـو او مؤلفانـو نومونـه او داسـې نـور معلومـات دي،

---

۳. هغه پخواني کتابونه چې د املا نمونې یې دلته راوړل شویي دي؛ دا دي:
۱- د سـلیمان ماکـو تذکـرة الاولیـاء. ۲- د میـا روښـان خیرالبیـان. ۳- د اخونـد دروېـزه مخـزن الاسـلام. ۴- د مـلا مست سـلوک الغزات. ۵- د میـرزا انصاري قلمـي دېـوان. ٦- د دولت قلمـي دېـوان. ۷- د اخوند قاسـم فواید الشریعـة. ۸- د خوشـحال خـان امـلاء. ۹- د عبدالقـادر خټـک امـلاء. ۱۰- د عبدالرحمـن بابـا قلمـي دېـوان. ۱۱- د محمـد هوتـک پټـه خزانـه. ۱۲- د احمدشـاه بابـا دېـوان. ۱۳- د راورټـي ګلشـن روه. ۱۴- د پښـتونخوا شـعر هـار و بهـار. ۱۵- لومـړی کتـاب د پښـتو. ١٦- پښـتو مرکـه. ۱۷- د منـشي احمدجـان امـلاء. ۱۸- او د پښـتو خبـرې لـه کتـاب څخـه.
۴. د کتاب، ١٦ مخ.
۵. د کتاب، ١٦ مخ.

څو مخونو ته رسیږي.
که پښتو ټولنه او کومه بله موسسه د داسې آثارو د زنګوګرافۍ او معلوملو له پاره کوم څوک موظف کړي او یا خو کوم متتبع محصل ور واستوي، دا به یو ستر خدمت وي چې نه یوازې به د پښتو لپاره ګټه ولري، بلکې د هېواد د مفاخرو او تاریخ د راغونډولو له پاره به هم مفید وي.

۱. د پښتو املاء چې اوس په عربي تورو کې ده، مترقي سیر لري او نظر هر وخت نه اوس په کې اختلافات کم دي.
۲. د پښتو په املايي سیر کې د پښتو تاریخ او خصوصاً د پښتو املاء تاریخ پروت دی.
۳. له اول نه تر اوسه پورې عربي رسم الخط په دې نه دی موفق شوی چې د پښتو ژبې اصوات او حرکات په خپلو تورو کې احتوا کړي. دا نیمګړتیا مخصوصاً د پښتو په خاصو صوتونو کې چې فارسي او عربي کې نشته، ښکاره ده. دا به درسته وي چې تر اوسه پورې پښتو ته توجه شوې وه؛ خو نن سبا که څه هم چې دلته او هلته پښتو ته توجه کېږي او د دې توجه په اثر پښتو له غرو نه ښکته کېږي او ښارونو ته ننوځي او د پښتو پوهان او لیکوالان په کې څېړنې او لیکنې کوي، سره د دې هم ګورو چې املايي اختلافات زښته زیات دي. همدغه اختلافات دي چې د توحید کار یې مشکل کړی او د پښتو ملا یې ماته کړې ده.
٤. نو دا به ښه نه وي چې د پښتو دور اندیش پاخه عالمان سره ټول شي او د نورو ژبو د متخصصانو او فلالوجستانو په مرسته د پښتو لاتیني کولو له پاره اساس کېږدي؟؟؟

که نور څه نه وي دا اساس خو به اوس دومره وکړای شي چې د پښتو ژبې هغو لومړنیو اساسي کتابونو سره مرسته وکړي، کوم چې د خارجي ژبو ویونکو له پاره لیکل کېږي.
د کتاب په (۳۳) مخونو کې چې املايي بحث خلاصیږي، انشايي بحث راځي. په دې برخه کې لومړۍ د انشاء د لغوي او اصطلاحي معنی په باب یو څو خبرې دي، وروسته پسې د انشاء یو څه ضوابط او قاعدې لیکلی شوي چې کتنه یې خصوصاً د هغو کسانو له پاره چې غواړي په اینده کې لیکوالان شي او یا لږ تر لره د لیکلو له عمومي قاعدو نه خبر ولري، ډېره فایده لري.
په دریویشتمې ماده کې د انشاء ځینې هدایتونه او قاعدې کښل شوي، یوویشتمه ماده یې وایي:

«د هر چا په لیک او انشاء کې د هغه شخصیت او اخلاقي شجاعت ډېر اثر لري. کوم لیکوونکي چې ځانته په درانه نظر ګوري او ځان ورته سپک او وړوکی نه ښکاري، هغه د یوه لیکوونکي په حیث خپل مسؤلیت ښه پېژني او د جامعې په مقابل کې ورته خپله وظیفه معلومیږي. دغه احساس هغه ته جرئت ورکوي چې د ناپوهانو له انتقاد او ملامتۍ نه ونه ویریږي او د جامعې دردونه په صراحت سره بیان کړي». [٦]

د همدې بحث په بل مخ کې بیا لیکي:
«څومره چې یو لیکوال او شاعر آزاد فکر کولی شي او ذهني آزادي لري، انشاء یې هم هماغومره له ابتذال څخه لرې وي او په آثارو کې د مضمون او معنی له حیثه تجدد او ابتکار لیده شي. په همدغه وجه لیکوال او شاعر ته په کار دی چې د اجتماع او محیط د عرف او عادت په مقابل کې د نورو په شان په پټو سترګو سرټیټ نه کړي؛ بلکې د خرافاتو او موهوماتو په مقابل کې د بغاوت جنبه ولري. هغه څوک چې ډېر مفید روزل شوی او ډېر ویرندونکی وي، خیال او فکر یې لکه د کورني مرغه لوړ پرواز نه شي کولی او په آثارو کې یې د عالي فکر او آزاد خیال نښې نښانې نه شو لیدلی». [٧]
وروسته پسې، کتاب له سبک نه غږیږي او په همدې برخه کې ده چې د پښتو نامتو شاعرانو یعنې خوشحال خان، رحمان بابا او حمید بابا د سبکونو خصوصیت او ځرنګوالی بیانوي، د انشاء په چوکاټ کې دننه په ځینو نورو موضوعاتو هم غږیږي او په آخر کې د نثر نمونې راوړي. نمونې یې څه د کلاسیکو لیکوالو او څه د اوسنیو لیکوالو دي.
په کلاسیکو کې د هغو لیکوالو د نثر نمونې دي، کومې چې مخکې د هغوی له املاء نه بحث شوی دی. په اوسنیو کې یې د لرې او برې پښتونخوا د لیکوالو څه نمونې دي. د پښتونستان په لیکوالو کې خصوصاً منشي احمد جان د «قیصه خوانۍ ګپ» څخه د «آدم خان او درخانۍ» قیصه، حمزه شینواري «ګله!»، د عبدالخالق خلیق «پیر»، د صاحبزاده محمد ادریس د پېغلې کتاب څخه «ددعوو وکیل» او د سید راحت زاخیلي «کونډه نجلۍ» د نثر هغه ټوټې او قیصې دي چې د پښتنو د جامعې عمق برسېره کوي او په خوږه پښتو کې یې بیانوي.
د دې ځای په لیکوالو کې د بینوا، مجروح، رښتین، خادم، رشاد، ژواک، صداقت، بختاني او په خپله د لیکوال د نثر نمونې دي چې په لوستونکي کې ارو مرو انتباه پیداکوي.

---

٦. د کتاب، ۴۴ مخ.
٧. د کتاب، ۴۵ مخ.

خصوصاً د بینـوا «د خانـداني خولـۍ» او د الفت «دوه جنـازې» کې لکـه چـې زمـوږ د جامعـې د پېژندنـې ټـول سوسـیولوجیکي او روحیـاتي رمزونـه پراتـه دي.
په دې وخـت کـې چـې پښـتو د تحـول او توجـه پـه خـاص حـال کـې ده، یقیـن دی چـې داسـې خپرونـو تـه ډېـر ضرورت دی؛ نـو ځکـه د غـوره اشـعارو او غـوره نثرونـو د مؤلـف دا کتـاب هـم پـه ښـه وخـت کـې لـه چـاپ نـه بیـرون شـوی او د ذوقمنـو لپـاره تیـار دی.
د املاء او انشـاء پـه دې کتـاب کـې طباعتـي غلطـي شـته او رنـګ یـې هـم بـې خونـده غونـدې دی، پـه تیـره بیـا پـه وروسـتیو برخـو کـې لوسـتل څـه زحمـت هـم پیښـوي. پـه اولـه کـې سـړی حیـران شي چـې داسـې کتـاب او غلطـي؛ خـو وروسـته معلومـه شي چـې دا د متصحېحینـو او مطبعـې کار دی چـې چنـدان کامیـاب نـه دی؛ مګـر د ښـاغلي الفـت زیـار پـه دې کتـاب سره خـاص ارزښـت لـري، ځکـه چـې څـه مـوده وړانـدې سـخت نـاروغ و او سره د ناروغـۍ یـې لـه پښـتو سره د مینـې پـه وجـه زحمـت ایسـتلی او یـو داسـې ګټـور اثـر یـې د چاپ لـه پـاره تیـار کـړی چـې د انشـاء او املاء زیـات مطالـب پـه کـې یـو ځـای راغـلي دي؛ نـو ځکـه مـوږ ورتـه پـه ښـه سـترګه ګـورو او نـورو تـه یـې د لوسـتلو توصیـه کـوو.

کابل مجله، ۱۳۳۹ ل، تله، ۷ گڼه / پرلپسې ۴۹۲ گڼه .

# په امریکې کې د پښتو نوی مرکز

ډېر کلونه کېږي چې پښتو ته د باندنیو توجه شوې او اوس مخ په زیاتېدو ده. دا ځکه چې د نړۍ بر او سور وار په وار لنډېږي او د ولسونو د پېژندنې ډېره ښه لار، ژبه ده. د ژبې له لارې د یوه ولس خصوصیت، اخلاق، دود، دستور او ذهنیت ډېر ښه معلومېدای شي، که څه هم په پخوا وختو کې به زیاتره یو ولس د بل ولس له لارې پېژندل کېده؛ خو په دې ډول به مقصد ښه نه ترسره کېده. له دې کبله بې واسطې پېژندنه ضرور شوه او دلته ولس ژبو ته ضرورت پیدا کړ او د نورو ورته مخه شوه.
څه وخت چې افغانستان په بین المللي ژوندانه کې سر پورته کړ او هسک شو، یعنې د استقلال په گټلو سره یې د ځان او ملک واک خپل کړ، ورسره یې خپل شیان هم د پام وړ شول. پښتو مخ په هسکېدو شوه او یو ځل بیایې د توجه نظرونه د ځان په لوري واړول. همدغه سبب دی چې په دې وروستي مهال کې یې یو ځای بل ځای پرمختگ چټک دی، د علم او فن ورته مخه ده، کتابونه او خپرونې په کې زیاتې دي، نوي افکار او فلسفې په کې راننوځي او ورسره د ولس ذهنیت روښانه کېږي. څرگنده ده چې د یوې ژبې پرمختگ د هغه د ولس د حرکت او خوځېدنې نښه ده او د ژبې پرمختگ کې یې د ولس درناوی کېږي.
ځکه نو څوک یا ټولې هغه ټولنې چې غواړي یو ولس وپېژني، لومړی یې ژبه زده کوي او ددې مطلب لپاره د ژبې مرکزونه پرانیزي، پوهان ورته رابولي او دغه وظیفه ورسپاري.
پښتو لپاره دغسې مرکزونه او پوهان خصوصاً په دې وروستیو کالونو کې زیات مصروف دي او کار کوي.
په شوروي، جرمنې، انگلستان، ناروې، سویس، امریکې او د دنیا په ځینو نورو هېوادونو کې داسې مرکزونه او پوهان ډېر شته. یوازې د پوهانو نوم اخېستل یې زموږ په دې وړې مقالې کې نه ځایېږي او زیات وخت غواړي؛ ځکه چې نژدې له (۱۶۱) کالونو نه راپه دېخوا د ختیځ پوهانو پام پښتو ته شوی دی او لومړی مستشرق چې موږ ته معلوم دی هغه (گولډ شتت) نومی جرمنی دی چې په (۱۷۹۹ م) کال کې یې د پښتو یو لغت

لیکلی او په پیټس بورګ کې چاپ شوی دی.[۸] له هغه وخت نه تر اوسه طبعاً په شمېر او تحقیقي اثارو کې یې زیاتوالی راغلی چې علاقمنو ته پوره څرګند دي. په دوی کې وتلي او نومیالي روسي مستشرق (برتلز)، فرانسوي پښتو پوه ډارمستېټر، انګلیسي مستشرق راورټي او لاریمر او جرمني مستشرق کایګر او ترومپ او داسې ډېر نور دي. دوی ټول د افغانستان په سیمو کې ګرځېدلي او ژبني مطالعات یې کړي او بیایې د ارزښت وړ اثار کښلي دي چې ځینې یې د پښتو په تاریخ او ادب کې لوړ مقام لري.
د پښتو اوسني مشهور پوهان په ناروې کې مارګن سټرن، په شوروي کې اسلانوف او په امریکې کې ډاکټر هربرت پنزل نومیږي. دوی هم په پښتو کې قیمتي اثار لیکلي دي. مارګن سټرن د پښتو په اتیمولوجي او د خوشحال خان په اشعارو یو کتاب لیکلی. اسلانوف سربېره په ډېرو رسالو ، اوس د پښتو - روسي په یوه قاموس لګیا دی چې نژدې پنځوس زره لغتونه به ولري. داسې هم ډاکټر پنزل برسېره په ډېرو مقالو او رسالو د پښتو ګرامر په نامه یو لوی کتاب لیکلی چې نن سبا به د کابل پوهنتون له خوا نه په پښتو له چاپ نه راووځي.
کوم شی چې په امریکې کې په دې تازه وختو کې شروع شوی، هغه د پښتو یو مرکز دی چې د مشیګن په پوهنتون کې پرانېستل شوی دی. دا مرکز به د پښتو په بېلابېلو اړخونو څېړنې کوي او د ډاکټر اوسکارشاوریا تر پاملرنې لاندې او د ده په لارښوونې سره به په پښتو کې علمي تحقیقات جاري ساتي. ددې مقصد لپاره یوه میاشت د مخه ډاکټر اوسکار د دوهم ځل لپاره کابل ته راغی، دلته د پښتو له پوهانو او ادیبانو سره وغږېد، په پښتو ټولنه کې یې له غړیو سره مرکه شو، ددې ځای ټول هغه پښتو تالیفات او اثار چې د دوی په دغه نوی مرکز کې په کارېدل، امریکې ته یې چالان کړل. ډاکټر اوسکار وویل چې په دغه نوي مرکز کې به لومړی د پښتو نوي شاګردان وروزل شي او ورپسې به د پښتو انګرېزي قاموس په لیکلو پیل وشي او داسې به هم د پښتو تحقیقاتو سلسله جاري وساتله شي.

## ډاکټر هربرت پنزل

پروفیسور پنزل په اصل کې د استریا دی. مورنۍ ژبه یې جرمني ده. ډاکټر د خپلې زېږېدنې نېټه (۱۹۱۰ م) ښيي، په امریکې کې یې د انګرېزي ژبې او جغرافیې په

۸. د کابل مجلې ۲۲م کال، ۱۵مه ګڼه، ۲۵م مخ.

انستیټیوټ کې کار کړی، وروسته یې په همدغه ځانګه کې د ډاکټرۍ تیسس ولیکه چې د ویانا پوهنتون پرې د ډاکټرۍ شهادتنامه ورکړه. دی وایي چې له پښتو سره یې په (۱۹۴۰ م) کې شوق پیدا شو. د الونای په پوهنتون کې یې د ښاغلي عبدالستار شالیزي نه، کله چې نوموړی هلته په زده کړه لګیا و، د پښتو ځینې نوټونه واخېستل. اته کاله وروسته په (۱۹۴۸ م) کې افغانستان ته راغی، دلته یې میاشتې تېرې کړې، اته میاشتې په کندهار او یوه میاشت هم په کابل کې و. دده لهجه د کندهار لهجې ته ورته ده. دی لیکي چې همغلته یې د ګرامر په لیکلو پیل وکړ. دې ښاغلي سربېره پر دې ځینې نورې رسالې هم په پښتو لیکلي دي. دوه کاله د مخه په (۱۳۳۷ ل) کې یو ځل بیا د افغانستان او امریکې د حکومتونو په سکالرشیپ دلته راغی چې یو خو د ادب پوهنځي په پښتو ځانګه کې د ژبپوهنې درسونه ورکړي او بله دا چې د پښتو څېړنې ته دوام ورکړي او مخصوصاً د پښتو محلي لهجې مطالعه کړي.

د پښتو په باب کې داسې نظریه لري «زه پوه یم څه شی چې په انګرېزي، جرمني یا نورو لویدیځو ژبو کې اظهار او ویلی شي؛ په پښتو کې هم اظهار کېدای شي، هغه خارجي متخصصین چې وایي پښتو او فارسي د ساینس او علمي مضامینو لپاره مناسبې نه دي، معلومېږي چې د پښتو او نورو شرقي ژبو په باره کې معلومات نه لري».[٩]

بل ځای وایي: «په مختلفو ساحو کې د ژبې له استعمال څخه ژبه ترقي کوي. پښتو پرمخ بېولای شو، که مثلاً هغه په تعلیم او تدریس کې د حقوقو، د ساینس، د طب او داسې نورو مضامینو لپاره په کتابونو، کنفرانسونو او امتحانونو کې استعمال کړو؛ پښتو پرمخ تلای شي که لکه اجرایي ژبه په رسمي راپورو، فرمانو او قانونو کې ډېره استعمال شي؛ پښتو پرمخ تلای شي که په ادبیاتو کې نه یوازې د نظم لپاره؛ بلکې د نثر لپاره هم په ناولونو، لنډو کیسو او ډرامو کې ډېره استعمال شي».[١٠]

## ډاکټر ارسکارشاوریا ګلیر

په (۱۹۲۲ م) کې یې په کوستاریکار کې د لومړي ځل لپاره سترګې غړولې دي. لومړنۍ او منځنۍ زده‌کړه یې په کلیفورنیا او لوړ تحصیل یې په پنسلوانیا کې شوی او د ژبپوهنې د ډاکټرۍ شهادتنامه یې له همدې پوهنتون نه اخیستې ده.

دی وایي، کله چې یې لوړ تحصیل خلاص کړ، واشنګټن ته ستون شو، هلته یې له

---

٩. کابل مجله، ٢٩م کال، ۴۷۴م ګڼه، ٦م مخ.
١٠. کابل مجله، ٢٩م کال، ۴۷۴م ګڼه، ٦م مخ.

افغاني زده کوونکي ښاغلي فقیر نبي الفي نه پښتو زده کړه، بیا د پښتو په باب د زیاتو معلوماتو لاس ته راوړلو لپاره نیویارک ته ولاړ او ورپسې اته کاله د مخه په (۱۳۳۱ ل) کې د پښتو لهجې د کره کولو او سمولو په غرض کابل ته راغی. دلته پښتو ټولنې یو خاص ښوونکی ور مقرر کړ او د لهجې په سمولو کې یې یوه میاشت ورسره مرسته وکړه. په پښتو ټولنه کې یې په پښتو ژبه یو کنفرانس هم ورکړ چې تر زیاته حده د پښتو په باب دده نظر ترې معلومېدای شي.

دی وایي: «پښتو یوه ژوندۍ او پراخه ژبه ده. دا رښتیا خبره ده چې د پښتو ادبیات هغسې پوره نه دي لیکل شوي لکه د نورو ژبو؛ لیکن ددې خبرې څخه دا نه راځرګندېږي چې پښتو یوه محدوده ژبه ده... یو بل نقص چې د پښتو په لیکلو کې باید لرې شي، هغه د عربي توري دي. دا توري چې افغانستان له ایران څخه اخیستي دي، د افغانستان لپاره خارجي دي او د پښتو ژبې سره اړخ نه لګوي. دا توري یوازې د عربي ژبې لپاره، چې هېڅ رابطه له پښتو او فارسي سره نه لري، اختراع شوي دي. که تاسې غواړئ چې پښتو او د پښتنو دودونه او خویونه په باندنیو هېوادونو کې هم خپاره شي، پښتو باید چې په داسې تورو سره ولیکل شي چې د پښتو ژبې سره ښایي. لاتیني توري چې له داسې یوې ژبې سره رابطه لري، د پښتو لپاره مناسب دي. نورو پوهانو زما په شان پښتو په رومي تورو سره لیکلې ده... او دا توري د عربي تورو نه پښتو ته ډېر ورته دي. په دې توګه چې پښتو په اسانۍ ولیکلای او ولوستلای شي... د پښتو لیکل په رومي تورو سره، باندینو هېوادو کې د پښتو په لوستلو کې ډېره اسانتیا پیدا کوي او د پښتو او پښتنو او د دوی د کلچر او تمدن قدر او قیمت زیاتوي... »[11]

ښاغلی شاوریا، پښتو د خارجیانو لپاره په یوه رساله کې په لاتیني تورو لیکلې وه:

«هیله ده چې د مشیګن په پوهنتون کې ددې نوي مرکز په خلاصېدو سره به د پښتو په بېلوبېلو اړخونو کې ښه علمي تحقیقات وشي او په دې ډول به د دواړو ولسونو په پوهولو راپوهولو کې یو ښه باب وي».

---

۱۱. د کابل مجله ۲۲کال، ۱۵گڼه، ۲۸مخ.

کابل مجله، ۱۳۳۷ ل کال، تله، ۱۳ګڼه، پرلپسې ګڼه ۴۶۵، ۱-۳ مخونه.

# پښتو لپاره يو بل اساسي خدمت

په جرګو او مرکو سره ډېر شيان کيږي، ډېرې ماتې ګوډې پرې سميږي او ډېرې غوټې پرې خلاصيږي. هر څومره چې تګ او راتګ، ناسته ولاړه، مرکه او جرګه او خبرې اترې سره زياتې شي؛ هغومره د دوستانو ترمنځ الفت، رښتيا، خدمت، صداقت او انډيوالي زياتيږي او ډېرې کرې، سمې او ناهوارې، هواريږي او اساسي اړتياوو ته التفات زياتيږي او ژوند خوند مومي. هلته چې په ژوند کې خوند، په عمر کې برکت، په سړو کې قوت او په ټولنه کې ابتکار نشته؛ هلته ځان ځاني ده، بې پروايي ده، سړه سړتيا او چوپه چوپتيا ده.

د داسې ټولنو په سړو کې مغزونه وده نه کوي، فکرونه په کې ورستيږي او عالي استعدادونه په کې مړاوي کيږي او له کاره وځي. له تګ او راتګ او له ناستې ولاړې، غونډو او مرکو څخه خبرې را ولاړيږي او خبرې د عمل لپاره خلک پاروي او ولسونه خوځوي او د نهضت او تحول لپاره يې تيار او اماده ګرځوي. د يوه ولس د پرمختګ يوه لويه نښه د منظمو جرګو لړل دي. ځکه منظمې جرګې لومړی اساسات ښيي او نورو ته ښوونه کوي چې په ټاکلې لاره حرکت وکړي او هر راز خنډ چې يې مخې ته نېغ ودريږي؛ له منځه يې لرې کړي او په مخ لاړ شي. که ووايو چې د نړۍ زيات مهم کارونه په لومړۍ مرحله کې د جرګو او مرکو زېږنده دي؛ نو به مو بې ځايه نه وي ويلي.

زموږ سږنی جشن د داسې غونډو يوه ښه نمونه وه او په کې د ژوندانه د هر اړخ نماينده ګان را ټول شوي وو. له دننه او د باندې، لرې او نږدې څخه ډېرو کسانو په کې ګډون کړی و. د لرې پښتونخوا ليکوال او پوهان هم په کې را بلل شوي وو. په جشن کې هر چېرته مرکې، ټولنې او جرګې روانې وې او خوښۍ په کې ځای درلود. په دې ټولنه کې څه د خوند او خاطرو نه ډکې غونډې د لرې پښتونخوا هغو ليکوالو او پوهانو جوړې کړې وې چې د پښتو ټولنې په بلنه د ګران هېواد مرکز ــ کابل ته د جشن لپاره راغلي وو. دوی چې د لرې پښتونخوا له ليکوالو سره د مرکو لپاره غونډه شول او په خپلو کې سره کېناستل، تر ټولو د مخه دوی ټولو په ګډه پښتو او د هغې ليکدود ته توجه وکړه؛ نو

ځکه یې د تېرو هغو علمي غونډو لمنه پسې اوږده کړه چې تر اوسه د لیکدود د معیاري کولو په باب د افغانستان او پښتونستان لیکوالو ترمنځ په کابل او پېښور کې شوې وې. دلته هم د دې غونډو لوی مطلب دا شو چې د پښتو لیکدود معیاري کړي او داسې فیصلې په دې باب کې وکړي چې پښتانه یې په ټوله پښتونخوا کې عملي کړي او له دې وروسته پښتو د املا له مخې یو واحد شکل غوره کړي او دا نیمگړې خوا یې هم پوره شي او د یوې علمي ژبې خصوصیت په کې له ورایه ناري ووهي. په دې ډول زیاتره هغه کلمې او لفظونه چې د لیکلو په لحاظ د لرې او برې پښتونخوا د لیکوالو ترمنځ په کې اختلاف و، پرله پسې غونډو ته وړاندې شول. په نتیجه کې له ښه مرغه په ټولو کلمو باندې اتفاق نظر راغی او غوره شکلونه یې تصویب شول. د دې لپاره چې دا فیصلې عمومي شي او غوره شوي شکلونه ټولو پښتنو لیکوالو ته ورسیږي، دا دی پښتو ټولنه یې له پخوانیو فصلونو سره یوځای دلته چاپوي او بیا یې وروسته د یوې وړې رسالې په څېر په جلا ډول په زیات شمیر راباسي. څرنگه چې دا فیصلې د پخوا لیکوالو او د پښتو ټولنې او د پېښور د پښتو اکاډمۍ د مسلکي غړو له خوا شوي دي؛ نو باور لرو چې د پښتو ژبې له پاره به زیاته گټه وکړي. همدغه سبب دی چې موږ دا کار د پښتو لپاره یو اساسي گام شمېرو. هیله ده چې د پښتونخوا لیکوالو او د پښتو ژبې پوهانو ته بیا دغسې موقع پیدا شي او یا دوی پخپله داسې موقع برابره کړي چې د پښتو لیک گرد سره معیاري کړي او نورې ماتې گوډې یې ور سمې کړي.
دلته موږ له ټولو پښتو لیکوالو او نشراتي موسسو څخه په کلکه هیله لرو چې له دې وروسته دا فیصلې په نظر کې ولري. یعنې هم یې په خپلو لیکنو کې استعمال کړي او هم یې په عمومي کولو کې زیار وباسي او نورو ته ښوونديې شي:

الف: د (۱۳۲۱ ل) کال د جوزا په یوویشتمه (۱۹۴۲م کال د جون یوولسمه) په کابل کې د پښتو ټولنې په غوښتنه د افغانستان د (۲۵) تنو لیکوالو ترمنځ مجلس وشو. په دې مجلس کې پر (۲۱) اختلافي مواردو باندې په اتفاق تصویب وشو چې د تصویب صورت یې دا دی:

۱. ځینې لیکوال چې د جمع مذکر په صفت کې مثلاً: لکه ټول هلکان، ټول خلک، ټوله هلکان یا ټوله خلک، لیکي؛ حتمي ده چې په داسې مواردو کې (ټول) ولیکي او (ټوله) ونه لیکي. همدا راز د جمع مونث د صفت لکه: ټولې طیارې لپاره ټوله تیارې ونه لیکلی شي. دا ځکه چې په داسې مواردو کې د (ټوله) په ځای د (ټول) لیکل حتمي دي.

۲. د (شونډې) په ځای چې د (شونډه) جمع مونث ده، (شونډان) باید ونه لیکل شي.
۳. په (کښېناست) او (کښېنوست) کلمو کې لمړی غوره ګڼل شوې؛ نو ځکه وروستنی دې په لیکلو کې متروک وي.
٤. په (پاته) او (پاتې) کلمو کې لمړنی غوره ګڼل کیږي.
۵. (وای) دا کلمه په هغه ځای کې چې د تمنا لپاره استعمالیږي، باید له (الف) سره ولیکل شي.
٦. د (لو) او (تو) په مقابل کې (لوبه) او (تویه) مرجحه ده؛ نو په پخپلو لیکنو کې باید دوو وروستیو کلمو ته حق ورکړو، یوازې د شعري ضرورت له پاره کېدای شي چې، لو او تو ولیکل شي.
۷. د ماضي افعالو د ماضي مذکر صیغه چې په څو صورتونو لکه: (ولید)، (ولیدو)، (ولیدی) او نورو لیکل کیږي، یوازې یو صورت (ولید) او همدغسې نور غوره وګڼل شول؛ یوازې دومره ده چې په ځینو مصدرونو کې د دې صیغې په اخیر کې د (هـ) اضافه کول ضروري دي، لکه (وتاړه) او داسې نور.
۸. هغه کلمې چې د علت په تورو لیکل کیږي لکه (مېړونه)، د هغو نورو صورتونو په مقابل کې چې بې د علت له تورو لیکل کیږي لکه (مېړونه)، د هغه نورو صورتونو په مقابل کې چې بې د علت له تورو لیکل کیږي، لکه (مړونه) غوره ګڼلی شوي دي. یوازې د (لخ) کلمه د (لوخ) په مقابل کې په مجلس کې مستثنی شوه.
۹. لاندې کلمې لکه [وشو]، [شوی]، [شته]، [شي] او داسې نورې چې ځینې یې په [وسو]، [سوې]، [سته]، [سي] سره لیکي باید په لمړي صورت یعنې یوازې په [ش] سره ولیکلې شي.
۱۰. ځینې لیکوال چې د [ښه] او [لړ] کلمې د مذکر او مونث موصوف سره یو ځای د مفرد او جمع فرق پکې نه کوي او یو راز یې ورسره لیکلي، یعنې [ښه خبرې]، [لړ ډوډی] او [لړ اوبه] لیکلي؛ باید مفرد او جمع مونث او مذکر مراعات پکې وکړي، یعنې [ښې خبرې]، [لړه ډوډی]، او [لږې اوبه] دې ولیکي.
۱۱. ځینې لیکوال چې د [وئ] او [یې] په ځای [واست] او [یاست] لیکي دواړه صورتونه ازاد وګڼل شول.
۱۲. [غږ] او [ږغ] چې په لیکنو کې په دواړو ډولونو لیکل کیږي، دواړه صحیح دي.
۱۳. د [ځینې] او [ځنې] کلمې چې لمړی د [بعضې] او ورستی د [از] معنی لري، باید هر یو په خپل ځای کې استعمال شي.

۱۴. [ځلوونکی]، [کوونکی]، [ښوونکی]، [ښوونځی] او داسې نور بايد په دوو واوونو وليکل شي.
۱۵. د [کښ] د کلمې په اخر کې بايد يوه مجهوله [ې] اضافه شي او [کښې] وليکل شي.
۱۶. دا راز جملې لکه (احمد سترګې لري، لار پرې نه ويني)، بايد لار په نه ويني، ونه ليکل شي؛ ځکه چې دا ډول حذف او تخفيف د ژبې بنسټ ورانوي.
۱۷. ځينې ليکوالان چې د (ويل) په ځای (ويله) ليکي، بايد (ويله) په خپل خاص ځای کې استعمال کړي مثلا: (احمد ويله چې پانګه له سپما څخه جوړيږي)، بايد ترک شي. خو دلته چې (احمد سندره ويله) صحيح دي.
۱۸. د (تلل) د مصدر ماضي بايد په (واو) سره «ولاړ» وليکل شي او بې واو «لاړ» دی متروک وپېژندل شي.
۱۹. د «وکی» «کی»، «وکئ» کلمو په مقابل کې دا کلمې: «وکړی»، «وکړ»، «وکړئ» غوره وګڼلی شوې چې بايد په ليکلو کې يې مراعات وشي.
۲۰. «مونږ» دې په «ن» سره وليکل شي.
۲۱. «زما» «زه» سره وليکل شي.

پورته مادې د (۱۳۲۱ ل) کال د جوزا په يوويشتمه په هغې غونډې کې چې د پښتو ټولنې له غوره غړو او د پښتو ژبې له سترو پوهانو څخه جوړه وه، تصويب او ومنل شوې.

الفت: رښتين، خادم، عبدالغني، محمدرسول، محمد رفيق، قانع واسعي، پژواک، بينوا، سيفي، عبدالله افغاني نويس، سعيد، غلام حسن ساپی، زمريالی، جرار صوفي عبدالحميد «د مجلس رئيس»، محمد اعظم ايازي.
ب: د (۱۳۲۷ ل) کال د سنبلې په اتمه «۱۹۴۸م کال د اګست دېرشمه» په کابل کې د پښتو ټولنې په غوښتنه د لرې د «۸» او د برې پښتونخوا د «۱۱» تنو ليکوالو ترمنځ مجلس وشو. په دې مجلس کې «۱۶» اختلافي موارد په اتفاق تصويب شول، د تصويب صورت يې دا دی:
۱. «ڼ» «نړ»، دا حرف به حلقه وال نون «ڼ» ليکل کيږي او د «ڼه» د غږ قايم مقام به وي. د دې توري نوم به «ڼه» يعنې «نړه» وي.
۲. «زه»، «د»، «ښه»، «نه» په کلمو کې د «ه» له پاسه د «ء» ليکلو ته ضرورت نشته؛ نو تر مخکې زوروال او زورکی وال تورو وروسته «ه» به دواړه يو شان ليکلي شي.

۳. مجهوله «یا» به په منځ کې په دوه لاندې باندې ټکو او معروفه «ی» به په دوه ځنګ پرځنګ ټکو لیکلی شي. لکه هېر، مېل او په اخر کې اوږده «ې» او ګرده «ی» چې ټکی یې لاندې باندې وي «ې» دواړه صحیح دي.

٤. د پښتو کلمې لکه اخیستل او اورېدل او داسې نورې به په مد نه لیکلې کیږي.

۵. د «مې، دې، ترې، پرې، لاندې، باندې او داسې نورو کلمو کې باید د «زېر» په ځای «ی» ولیکلی شي، دغه شان «بوخت ــ ګوډ ــ کوټه ــ لمړی ــ کوچنی او داسې نورې کلمې باید په «و» ولیکل شي.

٦. د «چهاپ» «ګهړی» او داسې نورې کلمې چې په اردو کې په «هـ» لیکلې کیږي؛ په پښتو کې بې «هـ» صحیح ده.

۷. د پښتو «ښ» او «ږ» به په هغو کلمو کې لیکلی کیږي چې په اول کې یې «خ، ش» او په دوهم کې یې «ګ، ژ» غږونه موجود وي او که صرف یو اواز ولري هغه به په «خ» یا «ګ» لیکلی شي لکه، خور «خواهر» سترګه او داسې نور. دغه شان «ږیره» او ټول حالیه افعال به په (ږ) لیکل کیږي، لکه پاڅیږي، غورځیږي او نور.

۸. د «تلل» د مصدر او د هغه مرکبو مصدرونو فعل حال په پښتو «ځ» صحیح دی، لکه «ځي» راځي، درځي، بوځي، او د باقي نورو داسې مصدرونو فعل د «هوز په زاء» لیکل په کار دي، لکه پرزي، غورزي، پرېوزي، کښېوزي، او نور به هم په (ز) لیکلی شي.

۹. د ماضي مطلق او حال امر ټولې صیغې چې په الحاقي «واو» جوړیږي، د هغو په سرکې د «ا» لیکلو ته ضرورت نشته او بې الفه به لیکل کیږي، لکه وکوت، ولیده، وګورئ، وغورځېد.

۱۰. د «ژوند، ژی، پېژندل، ژور» د کلمو لیکل په درې ټکي «ژ» صحیح دي.

۱۱. د «ځینې» کلمه چې د بعضې په معنی وي، په پښتو «ځ» او منځنی «یا» صحیح ده او د «از» په معنی بې «یا» صحیح ده، لکه ځینې خلک ــ له تا ځنې مې واخیست.

۱۲. د «ویل» په ځای «وې» یوازې په شعر کې روا دی او بې له شعره به «ویل» لیکل کیږي.

۱۳. د «کښې» توری لیکل د پای په «ی» سره صحیح دی.

۱٤. د ماضي بعید ضمیرونه به په دې وروسته صورت لیکل کیږي «وم، وو، وې، وئ، وه، وې یعنې د جمع مذکر له پاره یو «واو» او د مفرد مونث لپاره «وه» صحیح ده.

۱۵. د «وشـول» د مصـدر افعـال پـه دې شـان راځـي «وشـوم، وشـوو، وشـوی، وشـوې، وشـو، وشـول، وشـوه، وشـوې»، یعنـې د جمـع متکلـم پـه اخـر کـې دوه «و» او د مفـرد مذکـر غایـب پـه پـای کـې یـو «و» او د جمـع مذکـر غایـب پـه اخـر کـې «ل» لیـکل صحیـح دي. مګـر پـه جمـع مذکـر کـې چـې کـوم بـل مصـدر مبتـدا واقـع شي، پـه مخفـف ډول «وشـوو» هـم راتـلای شي، لکـه لیـدل وشـوو، دغـه شـان پـه نـورو افعالـو کـې هـم بایـد د جمـع مذکـر، غایـب صیغـې پـه «ل» ولیکلـی شي، لکـه هلـکان راغلـل او داسـې نـور....

۱۶. ټولـې مطلقـې مـاضي ګانـې د مفـرد مذکـر غایـب لپـاره پـه موقـوف صـورت یعنـې بـې لـه «ه، ی، و» څخـه راځـي، لکـه ولیـد، وکـوت، وکړ، وغورزیـد، وچلیـد. مګـر پـه کومـو مصـادرو کـې چـې موقـوف صـورت مسـتعمل نـه وي، هلتـه دغـه صیغـه پـه زورکـي والـه «ه» راځـي، لکـه وتـاړه، وژاړه، وواهـه، وشـاړه، او داسـې نـورو صیغـو کـې د «الـف» لیـکل هـم ضرور دی.

مـوږ د سرحـد ځینـو ادیبانـو او د افغانسـتان لیکوالـو د سـنبلې پـه اتمـه د (۱۳۲۷ ل) او د اګسـت دېرشـمه د (۱۹۴۸م) تاریـخ، پـه کابـل کـې یـوه ټولنـه وکـړه او پـه هغـې کـې مـو پـه اتفـاق سره د پښـتو د ځینـو حروفـو او کلمـو پـه بـاب پورتـه فیصلـې وکـړې چـې مونـږ ټـول بـه پـس لـه دې لـه هغـو سره سـم د پښـتو حـروف او الفـاظ لیکـو او د هغـو پـه تعمیـم کـې بـه کوښـښ کـوو.

لاسلیک کوونکي
د پښتونخوا له خوا:
مولانـا عبدالقـادر خالـق خلیـق، حکیـم انوارالحـق، امیـر حمـزه شـینواری، محمـد نـواز خټـک، سید رسـول رسـا، خانمیـر هـلالي، ملـک سـیدال شـینواری.
د افغانستان له خوا:
شـمس الدیـن مجـروح، بینـوا، رښـتین، خـادم، الفـت، مولـوي عبیداللـه صافـی، سـلیمي، اخـلاص، میونـدوال، پکتیانـی، محمـد نـور.

نـن چـې لـه ښـه مرغـه د افغانسـتان د خپلواکـۍ د بیرتـه ګټلـو د څلویښـتم تلیـن پـه مناسـبت د لـرې او بـرې پښـتونخوا درانـه لیکـوال د افغانسـتان پـه مرکـز کابـل کـې د پښـتو او پښـتونوالې پـه مینـه راټـول دي؛ ډېـره بـه ښـه وي چـې د خپلـې مـلي ژبـې د رسـم الخـط پـه بـاب پخپلـو

کې سره ورغېږي او دا ضروري موضوع سره وڅېړي.
که خدای(ج) کول چې د دې دوستانه بحث او څېړنې په نتیجه کې د پښتو رسم الخط ځینې اختلافات چې اوس د پښتو لیکوالو ترمنځ موجود دي، د پښتو ژبې د املایي وحدت د تأمین په غرض لرې او د پښتو لیک له مشقت څخه خلاص کړي. یقیناً چې دا به د پښتو ژبې د پرمختګ او تعمیم له پاره یو ګټور اقدام وي.
د رسم الخط د اتحاد موضوع چې د پښتو ژبې د ارتقاء په برخه کې یوه اساسي موضوع ده، له ډېره وخته په کې پښتو ټولنې او پښتنو لیکوالو توجه خپلې خواته را ګرزولې او په دې باب تراوسه پورې درې مجلسونه شوي دي چې هر یو یې د نتیجې په لحاظ مفید او د اهمیت وړ ګڼل کیږي. د نوموړو مجلسونو مصوبات «هغه چې یوازې د افغانستان د لیکوالو ترمنځ شوي دي» تایید او نوی پیشنهاد د فیصلې او تصویب له پاره دلته بیا وړاندې کیږي:

## لومړۍ غونډه

«الف» برخه:

۱. د لومړۍ فیصلې په «اتلسمه» ماده کې داسې تعدیل وشو: «لاړ» او «ولاړ» دې دواړه ازاد وي.
۲. د لومړۍ فیصلې په «شلمه» ماده کې داسې تعدیل وشو: «مونږ» او «موږ» دواړه ومنل شول.
۳. د لومړۍ فیصلې په «څلورمه» ماده کې «پاتې» تر «پاته» غوره شو.
٤. د لومړۍ فیصلې په «اتمه» ماده کې د «لخ استثناء لغو شوه او «پاته» غوره شوه او «لوخ» ومنل شو.

د (۱۳۲۱ ل) کال د سنبلې په پنځمه کابل د پښتو ټولنې په میلمستون کې د لرې او برې پښتونخوا د پښتنو لیکوالو ترمنځ د پښتو رسم الخط د لومړۍ فیصلې په باب پورتنې «څلور» تعدیلات ومنل شول. ګل پاچا الفت «د مجلس رئیس»، مرادشینواری، مولاناعبدالقادر«د پېښور د پښتو اکاډمۍ مشر» صاحبزاده محمد ادریس «د پېښور د پوهنتون استاد»، حمزه شینواری، فضل احمد غازي «د ګلستان مجلې مدیر»، فضل حق شیدا «د پېښور د مطبوعاتو امر» صدیق الله رښتین، حبیب الله تږی، مولانا عبدالخالق، سلطان محمد صابر، محمد عالم، عبدالروف بینوا، محمد ارسلان سلیمي، مولانا عزیز

الرحمـن سـيفی، میراجـان سـيال، عبدالشـکور رشـاد، محمـد حسـن سـاپی، محمدحسـن کاکـړ، عبدالغفـور.
نـوټ: د پښـتو رسـم الخـط پـه بـاب لومـړۍ فیصلـه د (۱۳۲۱ ل) کال د جـوزا پـه یوویشـتمه پـه کابـل کـې د پښـتو ټولنـې پـه غوښـتنه یـوازې د افغانسـتان د ۲۵ لیکوالـو ترمنـځ شـوې ده. بـې لـه پورتنیـو څلـورو تعدیلاتـو، نـور مـواد ټـول د لـرې پښـتونخوا د کابـل تـه راغلـو لیکوالـو لـه خـوا تائیـد شـول.

«ب» برخه:

| ۱. په لاندې مقلوباتو کې غوره شوي اشکال دا دي: | | |
|---|---|---|
| مقلوبات | | مرجع شکل |
| سپرلی | پسرلی | دواړه ومنل شول |
| ځمکه | مځکه | ځمکه |
| زمری | مزری | زمری |
| کښته | ښکته «خکته» | ښکته |
| پښه | ښپه «خپه» | پښه |
| کښل | ښکل «د لیکل او ایستل په معنی» | کښل |
| کښلی | ښکلی «د حسن په معنی» | ښکلی |
| کښلول | ښکلول | ښکلول |
| ماخوستن | ماسخوتن | ماسخوتن |
| روځ | ورځ | ورځ |
| موږی | مږوی | موږی |
| ژغ | غږ | دواړه ومنل شول |
| لویشت | ولیشت | لویشت |
| ورک | روک | ورک |
| خسر | سخر | خسر |
| خوسا «خسا» | سخا | خوسا |
| سکروټه | سروټکه، سکورټه | سکروټه |

| ۲. په محذوف او محذوف منه کلمو کلماتو کې غوره شوي اشکال دا دي: | | |
|---|---|---|
| **محذوف** | **محذوف منه** | **غوره شکل** |
| رور |ورور | ورور |
| رونړه | ورونړه | ورونړه |
| رورولي | ورورولي | ورورولي |
| روسته، روستۍ | وروسته، وروستۍ | وروسته او وروسته |
| سوری | سیوری | سیوری |
| اخلم، اخلي، الي، الي | آخلم، آخلي | اخلم، اخلي |
| ببنل، ببنه | ببنخنه، بخبنل | ببنل، ببنه |
| کم | کوم | کوم |
| سور | سپور | دواړه ومنل شول |
| کنځل، کنځا | ښکانځل، ښکانځآ | دواړه ومنل شول |
| اخل | اخښل، اغږل | اغږل |
| مړی | نمړی | نمړی |

| ۳. په ځینو کلماتو کې چې «ز» او «ځ» دواړه مروج دي، غوره شوي اشکال یې دا دي: | | |
|---|---|---|
| **د «ز» په شکل** | **د «ځ» په شکل** | **غوره شوی شکل** |
| زوی/ زامن | ځوی/ ځامن | زوی/ زامن |
| زېږېدل | ځیږیدل | زېږېدل |
| زغستل | ځغتل/ ځغښتل | زغستل |
| زلمی | ځلمی | ځلمی |
| سوزل/ سیزل | سوځل/ سېځل | سوځل/ سېځل |
| زمکه | ځمکه | ځمکه |
| زمری | ځمری | زمری |
| خوزېدل | خوځېدل | خوځېدل |
| غورزنګ | غورځنګ | غورځنګ |
| زغمل | ځغمل | زغمل |

| ۴. ځینې کلمات چې په (ع)، (ز) او (ج) لیکل کیږي په (ژ) لیکل یې غوره وګڼل شو لکه: | | | |
|---|---|---|---|
| د «ژ» په شکل | د «ز» په شکل | د «ج» په شکل | مرجع شکل |
| ژرنده | زرنده | جرنده | ژرنده |
| ژاوله | زاوله | جاوله | ژاوله |
| ژبه | زبه | جبه | ژبه |
| ژړا | زړا | جړا | ژړا |
| ژوند | زوند | جوند | ژوند |
| ژمی | زمی | جمی | ژمی |
| ژوبل | زوبل | جوبل | ژوبل |
| ژوبله | زوبله | جوبله | ژوبله |
| خیژي | خیزي | خیجي | خیژي |
| ژۍ | زۍ | جۍ | ژۍ |
| ژور | زور | جور | ژور |
| نژدې | نزدې | نجدې | نژدې |

| ۵. په ځینو کلماتو کې چې د ځینو حروفو ابدال موجود دی، غوره شوي اشکال یې دا دي: | |
|---|---|
| مبدلات | غوره شوي اشکال |
| نمر/ لمر | دواړه شکلونه ومنل شول |
| نمسی/ لمسی | دواړه شکلونه ومنل شول |
| نمونځ، نمانځنه/ لمونځ، لمانځنه | دواړه شکلونه ومنل شول |
| جینۍ، جیلۍ، نجلۍ | جینۍ، نجلۍ |
| نمبر، لمبر | لمبر |
| نونس، نولس | نولس |
| وېره، بېره، اېره | وېره |
| ویده، بیده، اوده | ویده |
| ویاله، بیاله، واله | ویاله |
| اول، اوبدل، اوبل | اودل، اوبدل |

| | |
|---|---|
| وزه، بزه، بیزه | وزه |
| مینځل، وینځل | دواړه شکلونه ومنل شول |
| لانده، لامده | دواړه شکلونه ومنل شول |
| مښتل، نښتل | نښتل |

| |
|---|
| ٦. په پښتو کې ځینې پردي مذکر اسماء او صفات بې قاعدې جمع کیږي: |
| طالبانان |
| ملکانان |

دا ډول جمع جوړول بلکل غلط دي باید په یوه «ان» جمعه کړه شي لکه طالبان، ملکان، بزرگان. پورتنۍ فیصله چې شپږ مواده لري، د (۱۳۳۷ ل) کال د سنبلې پر پنځمه (۱۹۵۸م کال د اگست اووه ویشتمه) د کابل د پښتو ټولنې په میلمستون کې د لرې او برې پښتونخوا د پښتنو لیکوالو ترمنځ په اتفاق وشوه.
گل پاچا الفت «د مجلس رییس» مراد شینواري، مولانا عبدالقادر«د پېښور د پښتو اکاډمۍ مشر»، صاحبزاده محمد ادریس «د پېښور پوهنتون استاد»، حمزه شینواری، فضل احمد غازی «د گلستان د مجلې مدیر»، فضل الحق شیدا «د پېښور د مطبوعاتو امر»، صدیق الله رښتین، حبیب الله تږی، مولانا عبدالخالق تارړ، سلطان محمد صابر، محمدعالم اتمان، عبدالروف بینوا، محمد ارسلان سلیمي، مولانا عزیزالرحمن سیفي، میراجان سیال، عبدالشکور رشاد، محمد حسن ساپی، محمد حسن کاکړ، عبدالغفور ویاند.

## دوهمه غونډه

۱. د دریمې فیصلې د دوهمې غونډې په لومړي اصل کې دا منل شوې ده چې «ق» عربي توری تش د عربي په الفاظو کې راتلای شي. مگر اوس هم چې ځینې پښتو کلمات په عربي «ق» لیکل کیږي لکه: پړقا، ټوقي ټقالې، قارغه، قجیر، چقری، خپق، قوده، قچره، قجوره، قوتی، قچری او داسې نور... صحیح کار نه دی، دا ډول کلمات باید په «ک» ولیکل شي نه په «ق».
۲. د دوهمې فیصلې په لومړۍ ماده کې، د «ڼ» لپاره بسیط شکل منل شوی دی، مگر د دریمې فیصلې د دوهمې غونډې په شپږمه ماده کې عدول ترینه شوی او د «ڼ» او «نړ» دواړو استعمال جایز شمېرل شوی دی؛ ځکه چې «ڼ» د پښتو، سانسگریت، هندي او

هسپانوي الفباء یو بسیط حرف دی. د محض درونـدوالي لـه امله مرکب توری ګڼل او په مرکب صورت لیکل مناسب نه ښکاري. علاوتاً د «نړ» لیکل د «ڼ» پر ځای په لاندینیو تورو کې داسې غلیظ التباس پېښوي چې د صحیح لیک او تلفظ امکان یې له منځه ځي.

| |
|---|
| نړول او مشتقات یې |
| نړېدل او مشتقات یې |
| نړ (د جریب څلورمه) |
| نړی، نړک، نړکه |
| نړا (د خره نارې)، نړل |
| نړېچغ |
| کونړ |

ځکه نو (ڼ) دی، په بسیط شکل لیکل کیږي او (نړ) شکل دی پر مخ متروک وي.

۳. د دوهمې فیصلې په دوهمه ماده کې لیکلي دي: د (زه، ته، ده، ښه، د ده) په کلمو کې د (ه) له پاسه د (ء) یعنې همزه لیکلو ته ضرورت نشته، نو تر مخکې زوروال او زورکی وال توري وروسته (هـ) به دواړه یوشان لیکلی شي؛ مګر د دریمې فیصلې د دوهمې غونډې په شپږمه ماده کې لیکلي دي چې (ه) د زورکي لپاره استعمالیږي لکه زړۀ، تلۀ، نۀ. پر دغو دوو متناقضو فیصلو باندې تر دوهمې پلا غور ورسته زړه فیصله چې د (ء) د نشست حکم کوي، مرجحه وګڼل شوه.

٤. د «ء» استعمال د لرې پښتونخوا په لیکنو کې ډېر لیدل کیږي لکه:

| | |
|---|---|
| الف: د الف او «با» یا «واو» او «یا» ترمنځ لکه، | |
| لوئیدیز | (لویدیز) |
| خوائیندو | (خوندو/خویندو) |
| اووئیل | (وویل) |
| آئینده | (آینده) |
| ب: د کلمې د اخر پر ساکنو یاګانو باندې لکه: | |
| لوئ | (لوی) |
| دوئ | (دوی) |

| | |
|---|---|
| هغوئ | (هغوی) |
| پائ | (پای) |
| ځائ | (ځای) |
| ج: د کلمې د اخر په ساکنو (واو) باندې لکه: | |
| یؤ | (یو) |
| اؤ | (او) |

دا ډول «ء» دې په لیکنو کې جداً متروکه شي.

۵. د دویمې فیصلې په درېیمه ماده کې د مجهولې یا مفرد او یا د کلمې په اخر کې د (ې) او (ی) او د کلمې په منځ کې سر پر سر ټکي منل شوي دي. دا لا اوس د لرې پښتونخوا په لیکنو کې ډېر رواج لري او تقریباً په غیر محل (د ملینه او معروفي یاگانو پر ځای) استعمالیږي لکه:
زیری، کاڼی، دی مثلاً د افسون نوم دی، مونږ کوشش کړی دی.
غلی، مثلاً محمد غلی دی.
ولې، مثلاً عطامحمد ولې داسې وکړه او نور....
دا یا دې په خپل محل کې استعمالیږي لکه:
د ماضي مطلق او استمراري مخاطب مفرد صیغې. مثلاً ته احمد ووهلې، ته احمد وهلې د حال او استقبال مخاطب مفرد صیغې. مثلا، ته احمد وهې، ته به احمد ووهې، ته احمد وهلای شې، ته به احمد ووهلای شې.
د ماضي قریب او ماضي بعید مخاطب مفرد صیغې. مثلا، ته احمد وهلی یې، ته احمد وهلی وې، د ماضي قریب او ماضي بعید مفرد مونث غایب صیغې. مثلاً، احمد رحیمه وهلې ده. احمد رحیمه وهلې وه. د اسم فاعل او اسم مفعول واحد مونث صیغه. مثلاً، تلونکې، تللې. د مختوم په ځای ملفوظي مونثو اسماوو جمع. مثلا: وزې، پښې، مرې، کرې. او داسې نور....

د (۱۳۲۱ ل) کال د سنبلې په اتمه (د ۱۹۵۸ م کال د اگست دېرشمه) چې د کابل د پښتو ټولنې په مېلمستون کې د لرې او برې پښتونخوا د پښتنو لیکوالو ترمنځ د پښتو رسم الخط په باب غونډه وشوه، پورتني «پنځه» مواد په اتفاق ومنل شول.
گل پاچا الفت «د مجلس رییس»، مولانا عبدالقادر د پښتو اکاډمۍ مشر، حبیب الله تږی، مولانا قیام الدین خادم، محمدعالم اتمان، صدیق الله رښتین، مولانا عزیز الرحمن

سـیفي، بـبرک ځاځـی، محمدحسـن ساپی، محمـد دیـن ژواک، صاحبـزاده محمـد ادریـس «د پښتـور پوهنتـون اسـتاد»، عبدالخالـق واسـعي، حمـزه شـینواری، سـعدالدین، محمدحسـن کاکـړ، فضـل احمـد غـازی «د ګلسـتان د مجلـې مدیـر»، فضـل حـق شـیدا «د پښتـور د مطبوعاتو امـر»، عبدالشـکور رشـاد، میراجـان سـیال.

وړمه مجله، یوویشتم کال، ۱۳۵٦ هـ. ش، درېیمه ګڼه، ۱۹ او ۳۳ مخونه.

# پښتو او دفتر په دوو وروستیو پېړیو کې

پښتو په اتلسمې پېړۍ کې د افغان دولت په تأسیس سره سمدلاسه دفتري ژبه نه شوه؛ یوازې د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې دفتر ته د ننوتلو لومړي پړاو ته وختله؛ مګر دا ژبه په همدغو دوو پېړیو کې دننه د افغانستان په ډېرو ولسونو کې ښه خپره او د اکثریت د ژبې په حیث یې بېخ لا هم ټینګ شو. د دې لیکنې مقصد د پښتو د ژبې همدغه دوه حرکتونه په لنډ ډول مطالعه کول دي:

## الف) پښتو په ولسي سویه

په اتلسمو او نولسمو پېړیو کې د پښتو سیر د پښتو په درېیو سترو ولسونو کې یو شان نه و. په همدې ډول د پښتو سیر هم د پښتنو په ګاونډیو خلکو کې او هم د ناپښتو ویونکو تر منځ توپیر لاره. د دغه سیر د توضیح لپاره به لږ څه مخکې وختونه په نظر کې ونیسو:

د بخدي، غور، غزني او د سلیمان د غرو او هوارو سیمې د پښتو او پښتنو لومړۍ ټاټوبی دی.[۱۲]

پښتانه له همدغو ځایو نه د تاریخ په اوږدو کې یوه خوا بله خوا لېږدېدلي دي؛ مګر د قومیت له مخې د دوی شمېر تر ډېره وخته پورې ښه معلوم نه و. په دیارلسمې پېړۍ کې د چنګېزخان له تندر نه وروسته د پښتنو د سترو ولسونو شمېر تر پخوا نه ښه واضح شو. د چنګېزخان په تندر کې له امو نه تر اباسینه پورې چې یو وخت یې زر ښارونه لرل؛ مخصوصاً د ښارونو او ګڼو کلیو اوسېدونکي ووژل شول؛ مګر د سلیمان د غرو او هوارو اوسېدونکي پښتانه تر ډېره حده مامون پاتې شول.

دغه پښتانه له هغه وروسته ورو-ورو لمر پرېوتو او لمرختلو خواوو ته وکوچېدل. ابدالیان

---

۱۲. افغان، افغانستان او په هندوستان، فارس او افغانستان کې د دولت د تنظیم لپاره د افغانانو د کوښښونو لنډیز، ۱٦ او ۲٦ مخونه، د لیکوال ناچاپ شوی تألیف (دا اثر اوس چاپ شوی دی).

یا درانیان لوېدیځې خواته تر هرات او مشهده پورې خپاره شول او د غلزیو یوه برخه د گومل او غزني له سیمو نه کندهاره پورې ورسېده. د وروستیو یو څه برخې وروسته د مشهد خواته پرار شوې. په عین حال کې دوی پوونده وو، د بخارا او هندوستان تر منځ سیمو کې یې موسمي لېږد ته دوام ورکړ او یو څه یې کلکتې او برما ته هم تلل راتلل.[۱۳]
یوازې د برو درانیانو گڼې برخې د پخوا په څېر د سلیمان د غرو په درو او هوارو کې په ځای پاتې شوې؛ مگر د دوی اضافي نفوس وخت په وخت یوه خوا بله خوا تلل. په دغه لړ کې د نولسمې پېړۍ په وروستیو شلو کلونو کې د پښتنو په خورېدو سره پښتو ژبه له نورو ژبو سره تر پخوا زیاته په تماس کې شوه، ژبنې سرحدات واوښتل راواوښتل او د ژبو د متقابل تاثیر ساحه ښه پراخه شوه.
د افغانستان په لرې لوېدیځو سیمو کې د دري ژبې اثر په پښتو پرېوت. په ختیځو سیمو کې اول اردو او وروسته انگرېزي په پښتو موثره شوه. په ځینو سیمو کې دا تاثیرات دومره قوي و چې له هغو پښتنو نه یې خپله ژبه هېره کړه چې له پښتونخوا نه د باندې سیمو کې خپاره شوي وو؛ لکه په هندوستان کې لودیان، سوریان، نیازیان او یوسفزي او د غلزیو یو څه برخې. د مشهد په شاوخوا د هرات په سیمه کې د درانیو خېلونو (سدوزیو او نورزیو) هم پښتو له لاسه ورکړه او دري ویونکي شول؛ خو په خپله د کندهار په گڼو درانیو ولسونو کې مخصوصاً د دوی د علمي کورنیو په دولتي لوړو مامورینو او هم په واکمنې کورنۍ کې دري ښه نفوذ وکړ. په عمومي ډول په دوی کې پښتو او دري یا د افغانستان دواړو سترو ژبو ځای وموند او دا هڅه پکې قوي شوه چې د پښتو په ځای په دري کې لیکنې وکړي.
له احمدشاه بابا نه پرته چې هغه په پښتو کې اشعار ویلي؛ نورو واکمنو شاعرانو په دري کې شعرونه ویل. په کندهاري سردارانو کې د طرزي کورنۍ په دري شعر ویلو کې غوره مقام وگاټه او د کندهار مؤرخانو لکه سلطان محمد دراني او نورمحمد نوري په دري کې ډېر ثقه اثار پرېښوول. په اوس وخت کې هم د دې سیمې هغو لیکوالو چې په لومړي سر کې یې یوازې په پښتو کې لیکنې کولې؛ له ډېره وخته راهیسې په دواړو ژبو کې لیکنې کوي. په یوې بلې سویې، یعنې د کندهار په ځینو کوچیو کې دري د پښتو ځای وموند او دا هغه دراني کوچیان دي چې دغه ټول له دري ویونکو ولسونو سره له ډېره وخته په تماس کې شوي دي.

---

۱۳. دا موضوع د لیکونکي د ډاکترۍ په تیسس کې پوره څېړل شوې وه، چې عنوان یې دی: افغانستان د امیر عبدالرحمن خان د امارت په دوره کې، ۱۸۸۰- ۱۹۰۱ م، د لندن پوهنتون، ۱۹۷۵ م، ۲۴۲ مخ.

پروفیسر کلوس فرډیناند لیکي:
«په لوېدیځ افغانستان کې یو زیات شمېر مالدارو خپله اصلي ژبه هېره کړې او دري ویونکي شوي دي.»

دی زیاتوي:
«ځنګه چې کولتوري او چاپېریالي موانع نشته؛ امکان لري چې په زیاتې مودې کې د دغو مالدارو ځینې برخې ایماق وګرځي... لکه ځنګه چې د ادرسکن د شاوخوا نورزي دري ویونکي شوي دي».

البته لکه ځنګه چې وویل شول؛ په پورته یادو شوو ولسونو کې د ژبو تاثیر دوه اړخیزه دی؛ مګر په دې کې شک نشته چې د لاندې عواملو په سبب په پښتو باندې د دري ژبې اثر ډېر دی:

۱. له هرات سره تماس: هرات په ثقافتي او ژبني لحاظ د دري ژبې یوه ډېره بانفوذه سیمه ده؛ مخصوصاً د منځنیو پېړیو نه راپه دېخوا چې پښتانه ترېنه روه ته ولېږدېدل. په هرات کې د دري کېدو عملیه دومره قوي ده چې څه وخت چې هلته د اوولسمې او اتلسمې پېړۍ په اخر او سر کې درانیان واکمن شول، دري ژبې پرې سخت اثر وکړ؛ خو داسې باید فکر ونه شي چې د هرات په سیمه کې افغاني احساس کمزوری دی؛ برخلاف په دې سیمې کې افغاني روحیه د نسب، تاریخ او احساس په لحاظ ښه قوي ده. دغه روحیه په بحراني وختو کې مخصوصاً د خارجي تهاجماتو په وخت کې په ډېر قوت سره ښودل شوې ده.
۲. ملي استحکام: واکمنې کورنۍ د دې لپاره چې هېواد اداره او ملي استحکام ته پوره تحقق ورکړي، دري یې د نورو وسایلو په ترڅ کې د بیروکراسۍ وسیله وګرځوله او دولتي ارګانو له لارې یې د هغه په خپرولو کې کوښښونه وکړل.
۳. د کار وېش: پښتنو د افغانستان په ازادېدو سره د نورو ملکونو په نیولو، له وطن نه د دفاع کولو او د واکمنو د واک د استحکام په منظور ستر رولونه د ځان کړل. تر هغه دمخه چې دوی د نورو واکمنو اجیران کېدل، په اتلسمې او نولسمې پېړۍ کې زیاتره جنرالان (سرداران) حاکمان او زمېنداران شول. دوی بزګري، کتابت او سوداګري په زیاته اندازه نورو ته پرېښوده.

د کار دغه وېش د کندهار په سيمې کې مخصوصاً واضح و. هغه وخت چې درانيان د نادرشاه افشار او احمدشاه دراني په وخت کې وروسته له هغه چې د گرگين خان له لاسه پرار شوي وو؛ بيا په کندهار کې مېشته شول. د دغې سيمې دوه درېيمه برخه ځمکې په قومي اساس په دوی باندې ووېشل شوې. په هغه اول سر کې غيردراني قومونو د دوی بزگري کوله.[۱۴]

يو فرانسوی سياح فرير ليکي چې:
«همدا چې يو افغان له خپل مافوق څخه د کومې ځمکې امتياز تر لاسه کړي؛ هغه له يو څو غويو سره فارسيوان ته سپاري او هغه يې ورته کري او رېبي».[۱۵]

سربېره پر دې د کندهار فارسيوانانو د درانيو سردارانو او زمينداراانو د مستخدمينو په حيث د دوی د عوايدو او جاگيرداريو د حساب او کتاب وظيفه په غاړه لرله؛[۱۶] دا ځکه چې په خپله درانيو او په واقع کې په عمومي ډول پښتنو په هغه لومړي سر کې حساب او کتاب او ميرزايي ته مخه نه کوله.

محمود طرزي د شلمې پېړۍ په سر کې د هغه وخت حالت داسې بيانوي:
«از طبقه عصر سابق، هيچ يک خانزاده در تمام افغانستان نيابيد که انها از علم حساب، هندسه يا سياق و رقوم «که بمرزايي متعلق است و علوم فقيه و حقوقيه که به فيصله دعاوي و يا صرف، نحو، منطق، که بملايي متعلق است» هيچ بهره ی داشته باشد و اگر باشند؛ بسيار کمياب، که انها هم هدف تحقيرها و استهزاها شده اند که در گذشت».[۱۷]
مگر لکه څنگه چې د مخه يې يادونه وشوه؛ پښتانه د تورې او مېړانې په ډگر کې بې جوړې وو.

---

۱۴. د دراني قومونو په باب راپور، د اپرېل ۱۹ مه، ۱۸۴۱ م، هـ. ر. ق. رالسن، اقتباس، مرکزي اسيا، دويمه برخه، د افغانستان د ټوپوگرافي، اتنولوجي، منابعو او د تاريخ د ښې پېژندنې په باب يوه مطالعه، سي. ام مک گريگر، کلکته، ۱۸۷۱ م، ۸۲۴ مخ.
۱۵. د افغانانو تاريخ، فرير، انگرېزي ترجمه، دويم چې سي، لندن، ۱۸۵۸ م، ۳۲۰ مخ، فرير دا هم ليکي چې ښاريانو د شتمنو اطرافي خلکو نوکري کوله.
۱۶. تاريخ محاربه کابل و قندهار، عبدالکريم، ۱۸۴۷ م، محل طبع، معلوم نيست، ص، ۱۴، له ښاغلي غمجن د ادبياتو پوهنځي له استاد نه په دې وسيله مننه کوم چې ماته يې دا ممکنه کړه چې دغه اثر نه استفاده وکړم.
۱۷. الف، مقالات محمود طرزی، د سراج الاخبار افغانيه ۹۷ مخ، ۱۲۹۰ هـ. ش، ټولوونکی: ډاکتر روان فرهادي، کابل، ۱۳۵۵ هـ.ش، ۴۲۲ مخ.

طرزی لیکي:
«مردم افغانستان (افغانان) خلقتاً خودها را به صف شمشیر منسوب میدانند، نه قلم! اهل قلم را (میرزا) و ارباب علم را (ملا) گفته آنها را دو صنف مخصوص می شمارند، که بعالم افغانیت هیچ سروکار ندارند».[۱۸]

د کار د دغه وېش تاثیرات په زیاتې مودې کې عمیق او زیات وو. په عمومي ډول پښتانه په اطرافي سیمو کې پاتې شول او حکومتي، تجارتي او ښاري مرکزونو ته نورو مخه وکړه. ښارونه د اوسېدونکو د اصل او نسب په لحاظ نظر اطرافي خلکو ته متنوع شول؛ مګر په ښاري اوسېدونکو کې قومي او سیمه‌ییز احساسات یا ډېر ضعیف او یا ورک شوي. دري ژبه په ښارونو کې خپره شوه او له دغو ځایو څخه یې ګډو ولسونو کې او حتی سوچه پښتو ویونکو سیمو کې هم نفوذ وکړ. په هغو برخو کې چې غلزیان د نورو ژبو له ویونکو سره په تماس شوي دي؛ نور یې پښتو ویونکي کړي دي. هغه غلزیان چې په هرات کې مېشته شوي دي؛ خپله ژبه یې هم ساتلې ده. د دوی پوونده روحیه د نولسمې پېړۍ په پای کې هم د پخوا په شان د بخارا، مرکزي افغانستان او شمالي هندوستان تر مینځ لېږد کاوه. نورې ژبې لکه اردو، پنجابي، برمایي، اسامي او بنګالي یې زده کړې، بې له دې چې خپله ژبه یې هېره کړې وي.[۱۹] د دوی لیکوال او شاعران هم د نورو ژبو او ثقافت تر تاثیر لاندې کم تللي؛ ځکه چې د محمد هوتک له پټې خزانې نه معلومېږي. په برو درانیو کې د پښتو کېدو عملیه ښه قوي ده. سره له دې چې په دوی باندې د اردو او انګریزي تاثیر لوېدلی دی. لکه چې یو وخت د عربي او دري تاثیر پرې زیات و او لکه چې دمخه یې یادونه وشوه؛ د دوی په ښارونو کې هم دري ننوتلې ده. د لیکنې او شاعرۍ په سویه دغه عملیه د بایزید روښان په تحریک کې واضحه ده چې وروسته د پښتو نامتو شاعرانو او لیکوالو لکه خوشحال خان خټک، رحمان بابا، عبدالحمید مومند او افضل خان خټک دغه ملي تحریک ته جهاني رنګ ورکړ. په دې باب به نور محترم لیکوال ډېر څه ووایي؛ خو هغه څه چې زه یې دلته ویل غواړم دا دي چې په درانیو کې په ولسي سویې کې د پښتو عملیه له ډېرو وختو څخه راپه دېخوا ښه قوي ده. د دې عملیې مثال هغه ګڼ کسبګر او بزګر دي چې د برو درانیو ولسونو د همسایه ګانو په حیث په بېلو-بېلو نومونو یاد شوي لکه ملا ګوري، تیراهي، سواتي، شلماني، فقیر،

۱۸. پورتنی مأخذ، ۴۲۱ مخ.
۱۹. د لیکونکي د ډاکترۍ یادشوی تیسس، ۲۴۲ مخ.

هندکي، پړېه او نور... په دې باب ما بل ځای ډېر څه لیکلي دي.[۲۰] مگر هغه څه چې دلته یې ویل ضروري دي؛ دا دي چې دغه همسایه گان د ژبې د ثقافت او رسم و رواج په لحاظ داسې پښتانه شوي چې له اصلي پښتنو نه ډېر دي، هغسې چې د سلیمان په جگو او هوارو کې پښتانه ولسونه د تاریخ په اوږدو کې خوندي پاتې شوي دي؛ داسې یې هم ژبه په ځای درنه پاتې ده، که څه هم چې لهجې یې ډېرې او سره متفاوتې دي. دا چې د دې سیمې لیکوالو او شاعرانو له اول نه تر اوسه یوازې په پښتو کې لیکنې کړې؛ د همدغه حقیقت له برکته دي.

## ب) پښتو په رسمي سویه

د درانیو په واکمنۍ کې افغانستان په (مملکت افغاني)[۲۱] یادېده، په داسې حال کې چې افغانستان د یوه هېواد په حیث ان له څوارلسمې پېړۍ نه را په دېخوا پېژندل شوی و چې په یوه روایت له المن (هلمند) نه تر اباسینه پورې پراخ و.[۲۲] داسې هم د افغانستان دولت د (دولت علیه افاغنه)[۲۳] په نامه پېژندل شوی و، په بل عبارت:
سره له دې چې په لومړي سر کې یوه پښتو ویونکې کورنۍ په افغانستان کې واکمنه وه او دولت افغان او ملک هم افغانستان و؛ دفتري ژبه دري وه. په ظاهر کې دا یو تضاد معلومېږي؛ مگر کله چې موضوع د تاریخ په رڼا کې وسپړل شي، معلومه به شي چې دا تضاد حقیقي نه دی.
د سامانیانو مخصوصاً د غزنویانو له دورې نه وروسته دري ژبه چې په یوه روایت په پینځمې عیسوي پېړۍ کې یې ظهور کړی؛[۲۴] درباري او دفتري ژبه شوې ده.
د هندوستان د ډیلي د اسلامي سلطنت په دوره کې هم چې د غزنویانو د فتحې په برکت مینځ ته راغلې او په قرنو یې دوام کړی؛ دري د دربار او سلطنت رسمي ژبه ده او په

---

۲۰. پورتنی مأخذ، ۲۳۲ مخ.
۲۱. شاه زمان د بغداد والي ته، اقتباس په مقاله د (فرهنگ دوره ابدالیان) د محمدانور نیر به نگاهی بر نقش فرهنگی افغانستان در عهد اسلامي، د اطلاعاتو او کولتور وزارت، ۱۳۵۵ ل، ۱۲۳ مخ.
۲۲. د ډورن منتخبات، د افغانانو تاریخ، ملا نعمت الله، دویم ټوک، لندن، ۱۹۶۵ م، ۶۴ مخ.
۲۳. د شمس النهار جریده، د روژې میاشت، ۱۲۹۰ ل، (اسناد و یادداشت های تاریخی)، د حافظ نورمحمد کهگدای، دویمه برخه، آریانا مجله، دویمه گڼه، قوس، ۱۳۲۲ ل، ۴۴ مخ.
۲۴. مقاله د (منشاء زبان دري و انتشار آن) پوهنوال نگهت سعیدي، د ادب مجله، کابل پوهنتون، لومړۍ گڼه، ۱۳۵۶ ل، ۱۰۷ مخ.

(افغان فارسي) یا (فارسي کابلي) یادېده.[۲۵]
معکوساً د فارس د صفویانو د واکمنې کورنۍ ژبه یوه ترکمني ژبه وه، سره له دې هم چې فارسي د هغه ملک دفتري او ملي ژبه وه. له بلې خوا په عثماني ترکیه کې فارسي په واکمنې کورنۍ کې معموله وه. په افغانستان کې درانیو اول په هرات کې دولت تأسیس کړ، وروسته یې په کندهار کې هغه ته دوام ورکړ.
د هرات او کندهار دواړه سیمې تر هغو د مخه د صفویانو تر اثر لاندې وې او دفتري کارونه یې په دري وو. احمدشاه دراني فقط همدغې عنعنې ته دوام ورکړ او دا کار ځکه عملي او منطقي و، لکه څنګه چې د مخه د کار د وېش په نامه یې ذکر وشو؛ پښتنو د کتابت او میرزایۍ کار نورو ته پرې ایښی وو. له بلې خوا لکه څنګه چې د وخت روحیه وه، واکمنو کورنیو میرزایان لکه فامیلي نوکران ګڼل. دغه کار د پښتنو ښه نه ایسېده، مګر ښاري اقلیمونو د پخوا په شان ورته غاړه ایښې وه. سربېره پر دې څنګه چې هغه وخت د میرزایۍ کار په عمومي ډول دربار ته وقف و او دولت یوازې په ښارونو مستقیمه سلطه لرله او د اطرافي سیمو اداره کول او د مالیاتو ټولول د ولسي مشرانو په غاړه وو؛ د دفترونو د فعالیت مجموعي حجم ډېر کم و، اطرافي سیمو کې پښتونولي چلېده او په ښارونو کې شرعي او حکومتي مقررات جاري و.
ښارونه او اطرافي سیمې لکه دوه جلا منطقې چې وي. په دې حال کې پښتنو دفتري کارونو ته ضرورت نه حس کاوه او دوی لکه څنګه چې یې دمخه ذکر وشو؛ سرداران، حاکمان او زمینداران وو او د ملک دفاع دوی خپله مهمه وظیفه ګرځولې وه. په دې ترڅ کې د تېمورشاه دراني سهم د یادولو وړ دی. دی چې په مشهد کې زېږېدلی او د ځوانۍ دوره یې په هرات او پنجاب یعنې غیرپښتو ویونکو سیمو کې تېره کړې وه؛ سخت د دري ژبې تر تاثیر لاندې تللی و.
دا چې ده پایتخت له کندهار نه کابل ته یعنې یوه دري ویونکي ښار ته نقل کړ؛ هم تر څه حده د همدغه تاثیر له امله و. که څه هم د پایتخت په انتقال کې نور عوامل هم دخیل و چې ذکر یې دلته نه ښایي. د پښتو او دفتر دغه روابط یا عدم روابط د امیر شېرعلي خان تر دویم امارت پورې وپاید؛ خو که دربار او واکمنې کورنۍ دري ژبي شوي وو؛ ځینې امیران پښتو ویونکي پاتې شوي وو، مخصوصاً امیر عبدالرحمن خان چې مور او نیا یې دواړه پښتنې وې.

۲۵. مقاله د (نقش فرهنگی افغانستان در روابط آن با هند) پوهنوال محمدحسن ضمیر، د اطلاعاتو او کولتور وزارت، یاد شوی تألیف، ۱۰۲ مخ.

د امير شېرعلي خان په دويم امارت کې (۱۸٦۹- ۱۸۷۹ م) پښتو د لومړي وار لپاره په حکومت کې ننوتله او د دفتري کېدو او رسمي کېدو لومړي پړاو ته اوچته شوله. دا د پښتو لپاره يو انقلابي حرکت و؛ مگر د افغان- انگليس په دويم جنگ کې د افغان دولت په ړنگېدلو سره د پښتو د رسمي کېدو دغه عمليه زر په ځای ودرېده. د امير عبدالرحمن خان په امارت کې (۱۸۸۰- ۱۹۰۱ م) پښتو له حکومت نه ووتله او يوازې په اردو کې پاتې شوله. د دغه انکشاف تفصيل به زر ذکر شي او دلته لومړی په دغو دورو کې د پښتو د اوچتېدلو د علت په باب بحث کول لازم دي.

امير شېرعلي خان له څلورو کالو داخلي جنگ نه وروسته چې د هغه په جريان کې يې يو ځل واکمني هم له لاسه ورکړه؛ د دويم ځل لپاره په (۱۸٦۹ م) کې امير شو.[۲٦] د دغه جنگ په اثر په افغانستان کې ستر بدلونونه پېښ شول. په لومړي سر کې هغه سرداران چې يا يې د امير شېرعلي خان له مخالفينو سره همکاري کړې وه، يا يې د ځان لپاره ادعاگانې لرلې او يا يې د عنعنې له مخې د ځينو ولايتونو د جاگيرداری دعوې کولې؛ يا په جنگو کې ووژل شول، يا پرار کړل شول او يا له حکومتي کارونو نه محروم کړل شول. حکومتي لوړ منصبونه د عنعنې په خلاف د لومړي ځل لپاره غيرخانداني عناصرو ته وسپارل شول چې په هغو کې نورمحمد فوشنجی، حبيب الله وردگ، عصمت الله جبارخېل، ارسلاح خان جبارخېل، ملا شاه محمد کتبخېل او قاضي عبدالقادر يوسفزی ډېر مشهور دي. بله دا چې په هغه منظمه او دايمي اردو کې چې امير شېرعلي خان د (٥٦١۷۳) په شمېر[۲۷] تنظيم کړه؛ پښتنو مخصوصاً غلزيو او وردگو پکې غوره برخه لرله. په بل عبارت، د امير شېرعلي خان په دويم امارت کې په اردو کې حکومتي لوړې سطحې کې د عنعنې په خلاف دري ژبي سرداران له دولتي منصبو څخه محروم وو او ځای يې پښتو ويونکو عناصرو ونيو. څنگه چې پښتانه په ټول ملک کې په اکثريت کې وو او پښتو په ولس کې ټينگ بېخ لاره؛ د پښتو دغه نوی انکشاف ډېر مهم ثابت شو. د حکومتي او نظامي چارو د اسانتيا او مؤثر چارچلند په غرض پښتو ته ضرورت پيدا شو. مرحوم حافظ نورمحمد کهگدای چې د امير شېرعلي خان د ريفرمونو د معرفی په ترڅ کې د شمس النهار او رسمي فرمانو په استناد تحقيقي ليکنې کړې دي او هغه د آريانا د

---

۲٦. د تفصيل لپاره وگورئ، گلشن امارت، نورمحمد نوري، د تاريخ ټولنه.

۲۷. د امير شېرعلي خان د پوځ د مجموعي شمېر په باب ليکوالو مختلف ارقام ښودلي دي او کهگدای هغه ټول په خپلې مقالې کې ذکر کړې دي؛ مگر صحيح يې پورتني ارقام دي چې يو انگرېزي د افغان رسمي دفترونو او سندونو له مخې تهيه کړی دی. د تفصيل لپاره وگورئ، د ليکونکي يادشوی تيسس، ۱۹۳ مخ.

مجلې د لومړي او دويم کال په ګڼو کې خپرې شوې دي، وايي چې:
«چون وی «امیر شیرعلی خان» به قوم و زبان ملی خود فخر داشت، میخواست زبان این قوم که صلابت لفظی و معنوی را در خود جمع دارد، عملی گردد و رواج یابد. از ان رو در دوره دوم سلطنت خویش در قطار سایر اصلاحات و مؤسسات وطن برای تعمیم و اشاعه زبان ملی بیشتر توجه مخصوص کرده بود که... ».[۲۸]

په دې کې شک نشته چې امير شېرعلي خان لکه څنګه چې کهګدای ليکي:
«به قوم و زبان ملی خود فخر داشت».

ولې د پښتو د اوچتېدو اصلي سياق هغه ضرورت و چې د مخه يې ذکر وشو. دا مطلب د نظامي افسرانو له خوا د شمس النهار په يوې ګڼې کې په دې ترتيب واضح دی: «... در سابق محتاج یک شخصی مجهول النسب قواعد دان بودیم تا امور قواعد را به مایان بیاموزد و هزارها تعصب و ذلت در حصول قواعد از دست آن میکشیدیم. الحال به سبب توجه کتاب که عالیجاه فضایل نشان قاضی عبدالقادرخان رایل ملتری سکرتر حسب الحکم و هدایات حضور پر نور بزبان افغانی بیان نموده است؛ بخوبی فهمیدم که در میان خود مشکلات یکدیگر را حل نمایم».[۲۹]

د امير شېرعلي خان د پښتو ريفورمونو لنډيز دا دی:

۱. د صدراعظم او کابينې د هيئت د غړو لپاره د پښتو نومونه.
۲. له سپه سالار نه تر حواله داره پورې د منصبدارانو رتبه په پښتو کې.

---

۲۸. (اسناد و يادداشت هانی تاريخی) حافظ نورمحمد کهګدای، آريانا مجله، لسمه ګڼه، عقرب، ۱۳۲۲ ل، ۲۸ مخ.
۲۹. شمس النهار، لمبر ۳۳، ۱۵ شوال، ۱۲۹۱، قياس به (اسناد و يادداشت هان تاريخی)، ۵ حمل، ۱۳۲۳، ۸ مخ.
کهګدای ليکي: (...وضع بولی ها به افغانی و مشق و تمرين آن بالای عساکر انوقت نسبت به قومانده های غيرافغانی برای سپاهيان و افسران تسهيلات پيش کرده).
پورتنۍ مقاله پينځم مخ په همدې مقاله کې د سراج الاخبار (پينځم کال، دويمه ګڼه، درېيم مخ) يوه ليکنه اقتباس شوې چې درې:
(متانت و صلابت ما مانند متانت و صلابت خود ملت افغان، مردانه و پر شهامت ميباشد و ازين است که بکمال فخر و سرور می بينم که زبان عسکری نظامی بزبان افغانی است و اين زبان يک شان و شوکت جسورانه بقواعد عسکری بخشيده است. اگر بولی های قواعد عسکری بزبان فارسی می بود؛ بسيار سست و کشال و غير موزون ديده مي شد).

۳. ټولې نظامي قوماندې او بولې په پښتو کې.
٤. د نايب الحکومه ګانو لپاره د پښتو القاب.

د پورته القابو لېسټ يو بل محترم ليکوال په مفصل ډول ترتيب کړی او ما هم د دې ليکنې په پای کې يو ليست ګوټی ساز کړی دی. دلته يو څو مهم القاب راوړم:

| | |
|---|---|
| لوی ټول مختار | صدراعظم |
| لوی ملک | مستوفی الممالک |
| لوی مين دباندې | د باندنيو چارو وزير |
| لوي مين دننه | داخله وزير |
| لوی مين د غرو | د کوهستاناتو وزير |
| لوی کښل | دبيرالملک |
| لوی ټولونی | لوی خزانه دار |
| لوی ټولوال | د چايوتری يا ګمرک رئيس |
| ټولمشر | سپه سالار، لوی درستيز |
| سرغټ مشر | نايب سالار |
| غټ مشر | جرنيل، جنرال |
| پنځرمشر | برګډ[30] |

---

۳۰. شاعر ميرزا عبدالرشيد متخلص په رشيد د عبدالله جان د وليعهدی په افتخار په يوې قصيدې کې د پښتو نوي القاب له عالي رتبه مامورانو سره داسې بيان کړې دي:

علي الخصوص وزيران صاحب تدبير
که نام شان برقم بود چون قمر تابان
نخست (نورمحمد لوی ټول مختار) است
خطاب ديگر آنرا تو (صدراعظم) خوان
وزير ثانی آن (لوی ملک) حبيب الله
امير دوست و (مستوفی الممالک) دان
چه داشت (ارسله خان؟) لوی مين دباندې
لقب وزير خارجه باشد باصطلاح چوجهوان
دگر وزير الکورای (حشمت الملک) است به
(لوی مين د غرو) شهره (عصمت الله خان)
سپس (حسين علي) منصبش (سپه سالار)
خطاب (ټولمشر) داشت بين لشکريان
معير جمله خزاين لقب (لوټولونی)
بنام (احمدعلي خان) زشاه بد فرمان
دبيرملک (محمدحسن) که لوی کښل
خطاب داشت ز درگاه حضرت سلطان

د لیک په ساحه کې د پښتو د دغه ریفورم مسؤل شخص قاضي عبدالقادر یوسفزی دی. هغه چې اصلاً د پېښور یوې مشهورې قاضي کورنۍ ته منسوب و؛ یو متبحر عالم او شاعر او مصنف و. د ده د شخصیت او رول په باب د ځینو لیکنو په اثر ذهنونه یو څه مغشوش دي او د ده په باب ما یو بل ځای کې مستندې لیکنې کړې دي.[۳۱]

په هر حال، وروسته له دې چې په پېښور کې د قاضي عبدالقادر مناسبات له انګرېزانو سره خراب شول، دی افغانستان ته راغی. دا هغه وخت و چې امیر شېرعلي خان د ریفورمونو د پرمختګ او د مملکت د عصري کولو لپاره لایقو اشخاصو ته ضرورت لاره؛ نو دی د (افغانسان د پاچا)، مصاحب او نظامي منشي (Royal Military Secretary) مقرر شو او د (شاوونکي) خطاب هم ورته کېده.
کهګدای لیکي چې قاضي عبدالقادر داسې کتابونه تألیف کړل چې په هغو کې د درې ګونو عسکري صفونو یعنې سپرو، پلیو او توپچي لپاره د بولۍ ګانو وضع او نظامي قوماندې له انګرېزي نه په پښتو اړول شوي او په دري کې شرح شوي دي.

کهګدای زیاتوي چې: «دغې قوماندو په لږ تغییر سره تر دې وخته (۱۳۲۲ ل) په افغاني اردو کې دوام درلود».[۳۲]

په دې ډول قاضي عبدالقادر سربېره پر دې چې په هغه وخت کې یې د افغانستان په سیاست کې مهم رول ترسره کړی دی. د پښتو په لومړني ریفورم کې یې لویه برخه لرله. د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې لکه څنګه چې ړومبی یې ذکر وشو، د پښتو ملکي القاب ترک شول؛ مګر دا کار قصدي نه و. څنګه چې عبدالرحمن خان د یوه مطلق العنان حکمران په توګه دولتي عالي واک ځان ته انحصار کړی و او څنګه چې د کابینې هغه عصري شکل چې امیر شېرعلي خان تأسیس کړی و، له منځه ولاړ؛ لوی لقبونه چې د قدرت ښکارندوی و، په خپله متروک شول. له بلې خوا د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د حکومتي ادارو د فعالیت په زیاتېدو سره دري چې یوازې دفتري ژبه وه، تر پخوا لا هم ډېره خپره شوه؛ خو نظامي لقبونه په لږ بدلون سره هماغسې په ځای پاتې شول او

---

۳۱. وګوره، د لیکونکي اثر، افغانستان د داخلي- سیاسي انکشافاتو په باب یوه مطالعه، ۱۸۸۰-۱۸۸٦ م، لاهور، ۱۹۷۰ م، ۲۱۳ مخ.
۳۲. (یادداشت ها و اسناد تاریخی)، حمل، ۱۳۲۳ ل، ۴ مخ.

سربېره پر دې چې يو شمېر تأليفات په پښتو کې وشول،[۳۳] د عسکري قواعدو په باب هم د لارښود په حيث قلمي نسخې ووتلې او کتابونه خپاره هم شول.
د سرحد او له ختيځو پښتنو سره د امير ټولې ليکنې او فرمانونه په پښتو وو، د دربار په دارالانشاء کې د پښتو يوه لويه څانګه وه، چې مشر يې ملا محمدخان افغاني نويس د مرحوم عبدالله خان افغاني نويس پلار و.[۳۴]

په پای کې د يو څو تبصرو کول ضروري دي: په دري او پښتو کې په پورته يادو شوو اصلاحاتو سره يو لړ انګرېزي لغتونه ننوتل که څه هم په دغو ژبو کې د انګرېزي لغتونو ننوتل د لومړي ځل لپاره د افغان او انګليس په لومړي جنګ کې شروع شوي وو؛ خو د امير شېرعلي خان او امير عبدالرحمن خان په وختونو کې دغه عمليه ښه خپره شوه. داسې لغات لکه پلټن، هسپتال، ډاکټر او (Sappers and Miners) بېخي عمومي شول. د غور خبره دا ده چې د دغه وخت په پښتو کې د هغه ريفورم په خلاف چې د روښانيانو په وخت کې شوی و، د عربي ژبې اغېزه ډېره لږه وه. سره له دې چې ليکونکی يا مترجم يې يو قاضي و.
تر هغه ځايه چې له ژبې نه معلومېدلی شي؛ د دغې دورې ژبنی ريفورم ساده ولسي رنګ لاره. بل خصوصيت يې دا دی چې د پښتو د ژبې ځينې خاص اوازونه په خاصو تورو لکه (ډ، ړ او ڼ) سره افاده شوي دي. ډېره مهمه خبره دا ده چې د اردو او حکومت تر منځ د

۳۳. د امير شېرعلي خان او امير عبدالرحمن خان په دوره کې د نظامي اصطلاحاتو او پښتو لقبونو د تفصيل لپاره دا لاندې تأليفات چې د تاريخي آرشيف په کتابخانه کې خوندي دي؛ وګورئ:
الف: ترجمه، کتاب قواعد عسکري به لسان افغاني، مترجم: قاضي عبدالقادر، د طبع کال: ۱۲۸۹ ق، ۳۸۲ مخونه.
ب: علم قواعد لشکر، مؤلفان: درياخان نيازی، عبدالرحمن اندرابی، ابوالحسن خان تاجک او غلام حسن خان کرت، ۴۵۸ مخ، ۱۳۱۱ هـ، ق، قلمي نسخه.
ج: قواعد پلتن، مؤلف: نامعلوم، ۹۵ پاڼې، خطي نسخه.
د: قواعد عسکری، مؤلف: ابراهيم اجينټ، ۱۰۴ مخ، خطي نسخه.
۳۴. په دري مقدمه کې يې ذکر دا رنګ دی:
(در اين سنه...که از طرف کفار نابکار و هجوم اورده، ديار و امصار مسلمانان را به سبب پراګندګی و نزاع ايشان انتزاع نمودند و به فنون مهم قواعد مخترعه خونش سر آمد روزګار شدند؛ بناءً برآن رای جهان ارای پادشاه اسلام پناه... امير عبدالرحمن خان از کمال دوربينی متوجه بر آن ګرديد که به جهت دفع دشمن مبين کتاب...در فن علم قواعد لشکر فيروزی اثر بزبان صلابت بنيان افغانی همه تصاوير چګونګی آن ساخته ايد تا سبب سهولت دريافت مبتدی و باعث دانايی منتهی ګردد...؛ پس بنا برآن اين کتاب را جهت ادراک معلمين يا تصاوير و بولی ها و قلعه بندی و سنګری و آنچه فنون جنګی بود؛ تأليف و تحرير ګرديد).

ښې مفاهمې لپاره لاره هواره شوه. په دې باب د شمس النهار یوه لیکنه د اقتباس وړ ده: «آنچه سه جلد کتاب جهت رجعت رجعت های سواره و پیاده و توپخانه جات حسب الفرمایش شاهی از زبان انگریزی بزبان افغانی به ذریعه عالیجاه معلاجایگاه مقرب الخاقان فضایل و کمالات نشان «قاضي عبدالقادرخان پشاوري» رایل ملتری سکرتر افغانستان ترجمه شد، به افسران فوج ظفر موج از عرصه یک سال تعلیم میشد. الحال به تضفیلات الهی بعد از یک سال بموجب فرمان شاهی جناب رایل ملتری سکرتر بهادر امتحان آن افسر را گرفت؛ چنانچه، هشتصد و چند نفر افسران امتحان کامل و پوره و با تعریف دادند؛ فوق نوت ذکر گردد.»

## ضمیمه

د پښتو نومونه او لقبونه چې د امیر شېرعلي خان او امیر عبدالرحمن خان په وخت کې ایښودل شوي وو:

| پښتو | دري یا نور |
|---|---|
| لوی ټول مختار | صدراعظم |
| لوی ملک | مستوفی الممالک |
| لوی مین دباندې | وزیر خارجه |
| لوی مین د غرو | وزیر کوهستانات |
| لوی مین دننه | وزیر داخله |
| لوی کښل | دبیرالملک؛ یا سرمنشی |
| لوی نایب | نایب الحکومه |
| لوټولونی | خزانه دار کل |
| لوی ټولوال | رئیس گمرک یا چابوتره |
| سرام زټولمشر(خنگه چې و) | فیبلد مارشال |
| ټولمشر | سپاه سالار، لوی درستیز |
| سرغټ مشر | جرنیل، جنرال |
| سرمشر پنځر(پونزر) | میجر جنرال |
| مشر پنځر | برگد |

| | |
|---|---|
| غنډناب | برگد میجر |
| زرمشر | کرنیل |
| ناب | میجر |
| لنډاک | سارجن |
| ناب | اجینټ |
| رسون | وردي میجر |
| سل مشر | رساله دار |
| پرکمشر | جمعدار |
| کوټ لنډاک | کوتدفعدار |
| ورکوړن لنډاک | لی دفعدار |
| خوش لنډاک | لیس دفعدار |
| کرناب | طرم میجر |
| نعلبند | سرجن جراح |
| ډاکتر | طبیب |
| گورشي سم | بطرف راست ببینید |
| گوروړاند | پیش روی ببینید |
| گورکین سم | بطرف چپ ببینید |

| پښتو | دري یا نور | انگلیسي |
|---|---|---|
| تابو | کمپ | Camp |
| غنډ | برگید | Brigade |
| کنډک سپور | رجمنټ | Regiment |
| نیم کنډک | هاف رجمنټ | Half Regiment |
| غنډک | ټروپ | Troop |
| غبرگ غنډک | سکواډرن | Squadron |
| بلک | دیویژن | Division |
| غبرگ څلور | فورز | Fours |

| | | |
|---|---|---|
| پرک | سکشن | Section |
| نیم پرک | هاف سکشن | Half section |

کابل مجله، ۱۳۳۷ل کال، لیندۍ، ۱٦-۱۷ او ۱۸مې ګڼې، پرلپسې ګڼې ۴٦۸-۴٦۹ او۴۷۰مې، ۱-۴مخونه.

# پښتو په شوروي کې

د افرادو او همدار راز د ولسونو له دوستۍ او انډیوالۍ څخه هغه وخت پوره خوند او نتیجه اخیستل کیدای شي چې یو د بل په فکر او ژبه ښه پوه شي. د دې منظور لپاره هغه ولسونه چې له نورو سره د رښتینې انډیوالۍ او پخې دوستۍ تمه لري، زیار باسي چې ها بل ولس ښه وپیژني؛ له ادب، موسیقۍ، کلچر او د ژوندانه له طرز او خصوصیت سره یې اشنا شي. دا کار هلته ښه ترسره کیږي چې یو د بل په ژبه، عادت او رسم او رواج باندې ښه پوه شي. رښتیا چې په دې ډول د ولسونو ترمنځ زړونه نږدې کیږي او بیا په زړونو کې د یوه او بل په نسبت د دوستۍ او ورورګلوۍ احساسات زیاتیږي. دا خو معلومه ده چې افکار سرحد نه پېژني، یعنې په سرحدونو بند او واز نه دي؛ په تېره بیا په هغو ولسونو کې چې د متقابل احترام عمیق حس موجود وي، د دوستۍ افکار ښه لاره پیدا کولی شي. څه وخت چې ولسونه یو د بل په ژبه پوه وي، په دوستۍ کې یې خوند او کیفیت هم ورننوځي او یو د بل په زړه کې ځای او احترام پیدا کوي. شاید د همدې منظور لپاره وي چې زموږ ولسي درنې ژبې پښتو ته په شوروي کې په غټې او درنې سترګه کتل کیږي.

دا حقیقت موږ ته هغه وخت پوره څرګند شو چې له پښتو ټولنې څخه یو هیئت د محترم خلیل الله خلیلي، د اعلحضرت همایون مطبوعاتي منشي، د محترم الفت صاحب د پښتو ټولنې مشر، ښاغلي محمد حسن ساپي د دې ټولنې د ادبیاتو د څانګې مدیر او زما په ګډون اتحاد شوروي ته وبلل شوو او هلته مو په علمي موسسو کې د پښتو زده کړې په غرض زیات شورویان او عمیق تحقیقات ولیدل. د شوروي ولسونو په باره کې خو ما په جلا ډول یو څه لیکلي دي چې مجله کې به خپریږي؛ سربېره په هغه دلته یو څو خبرې په دې باره کې کوم چې پښتو او پښتون ولس ته په شوروي کې څنګه کتل کېږي.

د تاشکند اسیایي او افریقایي لیکوالو له جرګې نه خو به ډېر کسان خبر وي؛ مګر دا به زیاترو ته نه وي معلومه چې هلته د کتابونو یوه ښوونه هم وه او په دې ښوونه کې غرو

هېوادونو ګډون کړی و او خپل ځینې مطبوع اثار یې ور استولي وو.
پښتو ټولنې هم د هېواد په نمایندګۍ په کې ګډون کړی و او پښتو، پاړسو کې یې ښایسته زیات کتابونه ور استولي وو. د هغه مېز له پاسه چې زموږ کتابونه پرې پراته وو، ډېر شورویان راغلل او په تېره لیکوالو ډېره علاقه ښووله. دوی په افغانستان کې د خپرونو، کتابونو او مولفانو د حال احوال پوښتنه کوله. د جریدو، ورځپاڼو، مجلو، کتابخانو او نورو علمي موسسو نمایندګانو او همدا راز نورو شورویانو د پښتو کتابونو په لیدلو زیاته خوښي کوله او ځینو یې روسي ژبې ته د ژباړې په غرض له موږ څخه په ډېره کلکه د کتابونو غوښتنې هم کولې. د دوی د زیاتې علاقې په ښوولو سره موږ هم د نمایش له ختم نه وروسته څلورو موسسو یعنې د ازبکستان د ساینس اکاډمي، د علي شیر نوایي عامه کتابخانې، د بین المللي ادبیاتو محلې او د ازبکستان ختیځ پېژندنې موسسې ته ځینې کتابونه وبښل.
د نمایش په یوه بله کوټه کې مو له نورو ژبو څخه په روسي کې ترجمه شوي اثار ولیدل، په دې کې یو شمیر پښتو کتابونه هم وو چې په روسي، تاجکي، قرغزي او ازبکي ژبو ترجمه شوي وو چې نومونه یې دادي:

۱. حکایتونه او نظمونه (پخواني او اوسني)
۲. پښتو سندرې (پخوانۍ او اوسنۍ)
۳. پښتو کیسې
٤. غوره پښتو سندرې د خوشحال بابا، رحمن بابا، کاظم خان شیدا او نورو...
٥. د افغانستان شاعران
٦. پښتو ګرامر چې پښتو ژغپوهنه او فعلونه پکې څېړل شوي او مولفان یې باقه خالد او عبدالحفیظ عنیف دي.

د شوروي هر اتحاد جمهوریت ځانله اکاډمي هم لري. دا اکاډمي زیاتره د مربوط جمهوریت د خصوصیاتو په باره کې علمي تحقیقات کوي. د ازبکستان اکاډمۍ د ختیځ پېژندنې موسسه هم لري. په دې موسسه کې د پښتنو لپاره یوه بېله څانګه شته چې له ښوونکو او څېړونکو سربېره اته تنه زده کوونکي هم لري. دا ښاغلي د پښتو او پښتو ادب په زده کړه لګیا دي. ستالین اباد، د تاجکستان د جمهوریت نوي دیرش کلن ښار کې لا تراوسه د پښتو کومه څانګه نشته؛ خو د هغه ښار د پوهنتون مشر وویل چې په نوي درسي کال کې به په پوهنتون کې د پښتو لپاره یوه څانګه پرانستل شي. د مسکو د ختیځ پېژندنې موسسه خو په ټول شوروي کې د پښتو لپاره یو لوی مرکز دی. په دې مرکز کې (۱۵) تنه علمي کارګران یعنې متخصصین د پښتو لپاره کار کوي. د دې موسسې معین ښاغلی دو

وریانکوف نومیږي چې په ښه روانه پښتو پوهیږي او سربېره په نثر لیکلو په پښتو کې کله کله شعر هم وایي. د ده یوه شعري ترجمه په دې ګڼه کې ولولئ.
د دې موسسې د پښتو نور کارګران ډېر خندانه او خوشحاله ایسي، او لکه څنګه یې چې له موږ سره په مرکو او خبرو کې ښکاره کړه، دوی ډېر خوښ دي چې د پښتون ولس ادب او کلچر څېړي او پښتو یې زده کړې ده. د دې ښاغلو مېرمنو او پېغلو نومونه دا دي:

۱. ښاغلی اخراموویچ، د افغانستان د تاریخ په باب کې متخصص دی.
۲. ښاغلی ګوری ویچ، د افغانستان د اقتصادیاتو په برخه کې متخصص.
۳. مېرمن ارونووا ـ د منځنیو پېړیو تاریخ باندې لګیا ده.
۴. بابه خوجه یوف د افغانستان د نولسمې او شلمې پېړۍ او په تېره بیا په افغانستان باندې د انګریزانو د تېریو په باب متخصص.
۵. مېرمن ګراسیمووا د پښتو ادبیاتو متخصصه.
۶. ښاغلی ګیرس ـ د پښتو ادبیاتو متخصص.
۷. مېرمن دوروفي یي وه، د پاړسو د ادبیاتو متخصصه.
۸. مېرمن تاتیانا، د افغانستان د کلتور او پوهې په باب کې متخصصه.
۹. مېرمن افروز جفار ووا، د افغانستان د کلتور په باب کې متخصصه.
۱۰. مېرمن چرني خوفسکیه، د افغانستان د اقتصادیاتو په باب کې متخصص.
۱۱. ښاغلی داویدوف د افغانستان د جغرافیې او اقتصادیاتو په باب کې متخصص.
۱۲. او په پای کې شاعر او غوریالی دو وریانکوف چې د پښتو ژبې او ادب متخصص دی.



د عکس په اړه (له کیڼ څخه ښي لوري ته):
ښاغلی الفت، خلیلي، دورویانکوف، ساپی، کاکړ او نور د شوروي پښتو پوهان



د عکس په اړه (له کيڼ څخه ښي لوري ته): ښاغلی ساپی، دورويانکوف او کاکړ

ښاغلی اسلانوف او ښاغلی لبيدوف خو البته چې ټول پښتانه ليکوال پېژني؛ ځکه چې دوی هغه محترم ښاغلي دي چې تر ټولو د مخه يې په شوروي کې پښتو زده کړې او د پښتو لپاره يې ډېر زحمتونه گاللي دي او د قدر وړ خدمتونه يې گرانې پښتو ته کړي دي؛ تر دې چې ښاغلی اسلانوف د ډېر زحمت ايستلو له کبله اوس ډېر ضعيف شوی هم دی. د ده پښتو ــ روسي قاموس خو په خاص ډول د يادونې وړ دی چې موږ پښتانه ورته په ډېره درنه سترگه گورو او د ده دا خدمت به هيڅکله نه هېروو.
په پای کې پېغله لودميلا او د دې هغه ذوق او مينه چې له پښتو او پښتنو سره يې لري، هم بايد ياده کړو. د مسکو ختيځ پېژندنې موسسه په لينن گراد کې هم يوه بېله څانگه لري چې هلته هم پښتو متخصصين په کې کار کوي، نومونه يې دادي:
ښاغلی رومادين او ښاغلی ماسون د تاريخ متخصصان چې اوس دواړه د ارکيالوجي اثارو له مخې د افغانستان په لرغوني تاريخ ليکلو لگيا دي او ښاغلی ليف شيتخ فلالوجست او نور پوهان چې اوس پښتو په تاريخي دورو کې گوري. دا مېرمنې او ښاغلي له پښتو ادب او کلچر سره يوازې وچ کلک علمي ارتباط نه لري؛ بلکې سربېره په علمي ارتباط لرلو دوی له پښتو او پښتنو سره مينه او اخلاص هم لري. د همدغې مينې په اثر و چې شورويانو عموماً او د شوروي پښتو متخصصانو په خاص ډول د پښتو ټولنې هيئت ډېر ښه ولمانځه.

د استاد الفت قدر او لمانځنه په دې چې دی د پښتو اکاډمۍ مشر و، د شوروي په هر ښار کې په تېره بیا د پوهانو او لیکوالانو لخوا زیاته کېده. په تاشکند کې د کنفرانس په فعالو شپو او ورځو کې به اخباري نماینده ګان ډېر ورته راتلل او د ده نظریات به یې د شورویانو په باب کې غوښتل.
له تاشکند څخه د مسکو په لار کې یو سور او سپین غښتلی ځوان پوه شو چې افغاني هیئت مسکو ته روان دی او په دې ډله کې ښاغلی الفت هم شته؛ سمدستي یې له هغه ځای څخه مسکو ته تلیفون وکړ او دو وریانکوف یې خبر کړ چې افغاني هیئت مسکو ته در روان دی. په هغه باراني شپې کې کوم وخت چې موږ د مسکو هوایي میدان ته کوز شوو، ګورو چې دو وریانکوف زمونږ په خوا را درومي. وروسته بیا پوه شو چې دا ځوان الکزاندر خوراس نومیدو او د ختیځ پېژندنې موسسې عکاس دی او بیا به ما ورته ساشه ویلې. داسې معلومیده چې د شورویانو زړونه له مینې او خوښۍ نه ډک دي او بیا د مینې نه په ډکو زړونو له پښتو او پښتنو سره زیاته علاقه لري.
د ښاغلي داویدوف زموږ د ترجمان خبرې به هیڅکله زما هېرې نه شي. ده د پښتو لپاره یوه رساله په روسي لیکلې ده. په دې رساله کې ده په یوه بل روسي متخصص چې ړومبی د ده د پښتو استاد هم و، انتقاد کړی و. څه وخت یې چې خپله رساله ماته د یادګار په ډول بښله، ما ورته وویل چې تا په خپل استاد انتقاد کړی دی. ده په زغرده وویل چې هو! او دا ځکه چې «رښتیا تر ټولو مهمه ده او په تېره بیا په علمي تحقیقاتو کې». بیا یې وویل چې «د پښتو مرغلرې او فولکور باید وساتل شي او زه څوک نه ور پرېږدم چې لاس په کې ووهي او په سپکه سترګه ورته وګوري.» په یوه بل صحبت کې یې ښکاره کړه چې «پښتو ولسي ژبه ده؛ نو ځکه موږ ورته په درنه سترګه ګورو.» په دې ډول موږ ته په یوه میاشتې سفر کې را معلومه شوه چې شورویان د پښتو قدر لري او خوښ دي چې نور هم دا دوه ولسونه سره نږدې شي او زیات تګ او راتګ سره وکړي.
موږ هم د دې ارزومند یو چې د دوستۍ دغه ښه روابط نور هم پسې ټینګ شي او دواړه ولسونه د متقابلې همکارۍ او متقابل احترام او اخلاقو په اساس لاپسې صمیمي او خواږه شي.
داسې معلومیږي چې پښتو لپاره وروسته له افغانستان او پښتونستان څخه، اتحاد شوروي دریم هېواد دی چې د فعالو ځوانانو، پېغلو او متخصصینو لخوا یې د پالنې، روزنې او علمي کولو لپاره کوشش روان دی.

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د زمري لومړۍ، ۵ مه ګڼه، ۵۵ مخ.

# پښتو د عمومي کېدو په لاره کې



په پښتو ویونکو سیمو کې سربېره پر دې چې مطبوعات او معارف په پښتو شوي او په دې لاره کې ښه پرمختګ شوی او په زړه‌پورې نتیجې یې ورکړې دي؛ دفترونه هم د پښتو کېدو په حال کې دي او عمومي هڅه داده چې دولتي موسسې او دفترونه چې له ولسي وګړو سره سر او کار لري، باید ورو ورو په پښتو شي، ترڅو دولتي او حکومتي چارې په ښه ډول پر مخ لاړې شي او د دفاترو او ولسي وګړو ترمنځ ښه تفاهم اسانه او پسې زیات شي. همدغه سبب دی چې دفترونه وار په وار په پښتو کېږي.

د لوی صدارت تصمیم چې د هغه په قرار به د سږ کال د جدي تر څلور ویشتمې پورې به یې ټول رسمي لیکونه په پښتو وي؛ د مجلې په (۴۷۷مه) ګڼه کې خپور شو. همدا راز د پوهنې وزارت د پلټنې ریاست خو خپل لیکونه پښتو کړي دي.

د صدارت او پوهنې وزارت د تصمیم نه د مخه په ځینو اطرافي سیمو کې پښتو دفترونو ته ننوتې او رسمي لیکونه یې پښتو شوي، لکه چې د هلمند ورځپاڼه په خپلو دوو ګڼو (۱۲ مه) ګڼه (۱۳۳۸ ل) کال او (۹۲ مه) ګڼه (۱۳۳٦ ل )کال او همد راز د پوهنې وزارت د زیري اخبار په (۴۲مې) ګڼې کال (۱۳۳۷ ل) کې او د ګرشک د اعلی حکومت د مکلفیت مدیریت په (۱۷۹٦ م) نېټه (۲۲ - ۴ - ۱۳۳۸) لمبر لیک کې لیکي «د هغه حکومت د مکلفیت چارې ټولې پښتو شوې او په دې برخه کې ښه پرمختګ هم شوی دی».

له لیکنو څخه ښکاري چې د هغه ځای د مکلفیت مدیر ښاغلی نور الهدا جګړن په دې برخه کې ډېر زیار ایستلی او دا د هغه د زیار او جدیت او د اعلی حاکم د هوکړې او ملاتړ له کبله ده چې د صدارت د تصمیم نه ړومبی دفتري کارونه هلته پښتو شوي او پسې جاري دي. پښتو ټولنه چې د پښتو له تصمیم سره خاصه علاقه لري، ښاغلي نور الهدا جګړن ته کور ودانی وایي او په دې لار کې د ده او د نورو د حساسو وطنوالو موفقیت غواړي.

کابل مجله، ۱۳۳۷ل کال، تله، ۱۴مه ګڼه، پرلپسې ګڼه ۴٦٦، ۱-۲مخونه.

# د پښتو ټولنې د ۱۳۳۷ نشراتي کال چارې

مونږ یقین لرو چې د پښتو ژبې مینان تر ډېره حده متوجه دي چې د پښتو په لار کې د پښتو ټولنې زیار او زحمت ځانته معلوم کړي او په دې پوه شي چې د پښتو لپاره څومره کار شوی دی یا دغه ملي او قومي وظیفه له پخوا نه څومره وړاندې بیول شوې او د نن او پرون ترمنځ یې څومره فرق دی. له بلې خوا دغه ټولنه ځان مجبور ګڼي چې د خپل کار او خدمت معیار خلکو ته وښيي چې دغې موسسې په دغه کال کې څومره کار کړی دی.
تېر کال هم د نشراتي کال په پای کې مونږ د دغې ټولنې د نشراتي او مسلکي کار یو کلن راپور د کابل مجلې په واسطه د خپلو دوستانو په مخ کې ایښی و چې په هغه کې مونږ له یوې خوا خپلې اجرا شوې چارې او له بله پلوه تر اجرا لاندې چارې ښودلې وې. دا دی اوس پدې رپوټ کې د دغې ټولنې د تېر کال تر اجرا لاندې چارو د بشپړ کیدو او د نوي نشراتي کال (چې د یوې سنبلې نه تر بلې سنبلې پورې نشراتي کال حسابیږي) تر اجرا لاندې چارې د خپلو علاقه مندانو د معلوماتو له پاره خپروو.

الف: په ۱۳۳۷ نشراتي کال کې د پښتو ټولنې چاپ شوي اثار:

۱. پښتني دودونه په برابره قطعه په (۲۰۱) صفحو کې چې زموږ دودونه راښيي؛ ښاغلي ننګرهاري، واسعي، ثابت او اتمان د بېلو بېلو پښتني سیمو د مطالعې له مخې لیکلی دی.
۲. غوره نثرونه په (۱۱۸) مخونو کې چې د ښاغلي الفت د غوره او منتخبو نثرونو مجموعه ده.
۳. هغه وویل د «جبران خلیل» ادبي اثر په (۱۰۱) مخو کې ښاغلي مولانا سیفي له اردو نه ترجمه کړی دی.
٤. افغان قاموس، دریم ټوک په لویه قطعه په (٦۱۹) مخو کې د ښاغلي عبدالله افغان نویس اثر چې په پښتو کې یو مهم او درونډ اثر ګڼل کیږي او تقریباً د پښتو او فارسي دواړو ژبو فرهنګ ورته ویل کېدی شي.

۵. لودي پښتانه، د ښاغلي عبدالشکور رشاد اثر چې قطعه او (۳۲۵) صفحې لري، د لودي پښتنو د کورنۍ په پادچاهۍ یو ژور او تحقیقي مبحث دی چې د پښتنو د تاریخ له نظره یو مغتنم اثر بلل کیږي.
٦. منتخب شعرونه، په (۴۹) مخو کې د سید شمس الدین مجروح د ځینو اشعارو مجموعه ده چې په شعري او ادبي لحاظ ښه لوړ قیمت لري.
۷. «کلمه داره روپۍ» د ښاغلي پژواک یوه ډېره پخوانۍ ډرامه ده چې په (٦۴) مخو کې د یوې پښتنې پېغلې د وطنوالۍ احساسات ښکاره کوي.
۸. پښتو کتابونه، د ښاغلي راز محمد ویښ اثر، په (۲٦۰) صفحو کې داسې کتاب دی چې په افغانستان کې او له افغانستان د باندې ملکونو کې د پښتو مطبوع اثار ورمعرفي کوي او د لندن د برټش موزیم قلمي نسخې هم په کې ښودل شوې دي او د پښتو ټولنې مفصله تاریخچه هم ورسره شته.
۹. د انسان بدن، په برابره قطعه کې علمي کتاب دی چې ښاغلي مولانا سیفي په (۵۰) صفحو کې ترجمه کړی دی او د انسان د فزیکي ساختمان او ژوند په باب علمي معلومات لري.
۱۰. وده وال (ځناوران)، دا هم یو علمي کتاب دی چې، په (۵۰) مخو کې محمد عالم اتمان ترجمه کړی دی او د حیواناتو په باب علمي څېړنه شوې ده.
۱۱. اواز، هم یو دغه راز علمي اثر دی چې ښاغلي حبیب الله تږي په (۵۰) مخو کې ترجمه کړی دی چې د صوت په باب علمي تحقیق لري.
۱۲. د بنګ مسافري، په نوم یو بل کتاب دی چې په (۱۹۸) مخو کې د وطن ژوندانه په عادي اړخ یو عبوري نظر لري او نور محمد ترکي لیکلی دی.

د سږ کال دغه نشراتي اثار ټول (۱۲) جلده دي چې د ټولو صفحې (۲۰۱۱) کیږي.
ب: هغه اثار چې د (۱۳۳۷ل) نشراتي کال په دوران کې تر طبعې لاندې نیول شوي دي:
۱. پښتانه شعرا، دریم ټوک په دولتي مطبعه کې ترچاپ لاندې دی چې تر (۱۵۰) صفحو پورې طبع شوی دی.
۲. پخواني حیوانات، د راز محمد ویښ په ذریعه ترجمه شوی دی. د معارف په مطبعه کې تر (۴۰) مخو پورې سره له تصویرونو طبع شوی دی.
۳. نور «رڼا»، هم یوه علمي ترجمه ده چې د ښاغلي واسعي لخوا ترجمه شوی او د کابل په دولتي مطبعه کې تر طبع لاندې دی.
٤. هغه حیوانات چې مونږ یې پېژنو، د ښاغلي ثابت ترجمه ده چې د معارف په

مطبعـه کـې تـر طبـع لانـدې ده او ځینـې تصاویـر یـې هـم پـه مطبعـه کـې زنگـو گـرافي شـوي دي.

ج: هغه اثار چې مسودې یې تېر کال د دغې ټولنې له خوا ترتیب شوي او د چاپ لپاره تیار دي:

۱. د احمدشـاه بابـا شـاهنامه، چـې حافـظ مرغـزي ویلـې ده، ښـاغلي بېنـوا یـې لـه برټـش موزیـم څخـه عکسـونه اخیسـتي او پښـتو ټولنـې تـه یـې د چاپولـو لپـاره ورکـړي، یعنـې چـې پـه (۵۰۰) مخـو کـې پـاک نویـس شـوی دی.
۲. ډیلـی د پښـتنو پـه عـصر کـې، دا کتـاب پـه اردو کـې د ښـاغلي خـان غـازي کابـلي قلمـي اثـر دی چـې ښـاغلي سـیفي پـه (۹۰) صفحـو کـې پـه پښـتو ترجمـه کـړی دی.
۳. د کیـف تکامـل الشخصیه، اثـر چـې ښـاغلي واسـعي لـه عـربي نـه پښـتو تـه ترجمـه کـړی او تمـام شـوی لا نـه دی.
٤. د جاذبـې قــوه، چــې د راز محمـد ویـښ پـه ذریعـه، پـه (۵۰) صفحـو کـې ترجمـه شـوی دی چـې د جاذبـې پـه بـاب پـوره معلومـات لـري.
۵. سـیرت النبـي، درېیـم ټـوک پـه (۱۰۰۳) صفحـو کـې چـاپ تـه تیـار دی او د څلـورم جـز نـه تـر ٦۷۸ مخـه پـورې ترجمـه شـوی دی.

د: د پښتو ټولنې ادبي او علمي تماس له خارجي نړۍ سره:
پـه دغـه کال کـې د پښـتو ټولنـې د ښـو روابطـو پـه وجـه یـو تعـداد روسي او امریکایـي پوهـان او متتبعیـن چـې پـه پښـتو ژبـه کـې د ښـو معلوماتـو خاونـدان وو، وخـت پـه وخـت یـو بـل پسـې افغانسـتان تـه راغلـل او دلتـه یـې د پښـتو ټولنـې سره د علمـي نـژدې تعلقاتـو پـه وجـه د پښـتو پـه بـاب خپـل معلومـات زیـات کـړل او د هغـه ځـای علمـي موسسـې یـې پښـتو ټولنـې تـه معـرفي کـړې چـې لـه هغـې جملـې پـوه ښـاغلي لبیدیـف گـرس او ښـاغلی دریانکـوف، همدارنگـه هربـرت پنـزل امریکایـي پوهانـد چـې پـه پښـتو ژبـه کـې د معلوماتـو خاونـدان دي. ښـاغلی هربـرټ پنـزل د سکالرشـیپ پـه ډول د څـه مـودې لپـاره افغانسـتان تـه راغـلي او پـه کابـل کـې یـې د خپـل توقـف پـه دوران کـې پـه هفتـه کـې دوه واره د پښـتو ژبـې پـه بـاب د خپلـو معلوماتـو د زیاتـوالي لپـاره یـې لـه پښـتو ټولنـې سره تمـاس کـړی دی؛ او بـل د اسـد پـه اخـر کـې د پښـتو ټولنـې لـه خـوا یـو شـمېر پښـتانه ادبـاء او فضـلا کابـل تـه را وبلـل شـول چـې دلتـه یـې د مرکـز د پښـتو د املا پـه بـاب ځینـې فیصلـې وکـړې او ځینـې اختلافـات یـې رفـع کـړل. پـه پـای کـې د لـرو او بـرو پښـتنو ادبـاوو پـه اشـتراک د سـنبلې پـه لسـم ماښـام، د پښـتونسـتان د ورځـې پـه یـاد پـه کابـل رادیـو کـې یـوه درنـه مشـاعره هـم خپـره شـوه.

هـ : د پښتو ټولنې د اصلي اعضاوو له پاره د پوهنتون په شان د شپږو علمي درجو امتیاز اخیستل. د پښتو ټولنې د پشنهاد او د معارف د ښاغلي وزیر په توجه د تېر کال د جدي په میاشت کې د پښتو ټولنې د اصلي اعضاوو لپاره د وزیرانو د اصلي مجلس په مننه او د اعلیحصرت معظم همایوني په منظوری د پښتو ټولنې د مسلکي غړو له پاره دغه لاندې شپږ علمي درجې ومنلې شوې:

۱. څېړونکی
۲. څېړنیار
۳. څېړنمل
٤. څېړنوال
۵. څېړندوی
٦. څېړنپال

چې له حقوقو څخه یې د پښتو ټولنې مسلکي اعضاء استفاده کوي.

و: نوي غړي:

پښتو ټولنې د تېر کال په دوران کې د دغې درنې وظیفې د سرته رسولو لپاره د مسلکي او علمي ملګرو په لټه پسې ډېر دي خوا او هاخوا په علمي مرکزو او تربیوي دستګاوو کې سترګې وغړولې او دوه درې تنه قوي ملګري یې پیدا کړل. لکه ښاغلی مولانا خادم د څېړنوال غړي په حیث چې ادبي او قلمي سابقه یې په محیط کې منل شوې دي؛ ښاغلی محمد حسن کاکړ د ادبیاتو پوهنځي لیسانسه؛ عبدالوکیل صداقت د عربي د دارالعلوم فارغ التحصیل او ښاغلی سعدالدین چې د ادبیاتو له پوهنځي نه راوتلی، اوس په بېلو بېلو مسلکي ځانګو کې د غړو په حیث ورنه کار اخیستل کیږي.

کابل مجله، ۱۳۳۹ل، مرغومی، ۱۰مه گڼه / پرلپسې ۴۹۵ گڼه.

# د غني پلوشې

## د پښتو ادب په راڼه آسمان کې یو نوی ځلاند ستوری

پښتو ټولنې په دې ورځو کې د شعر او ادب مینانو ته یوه مجموعه وړاندې کړې ده. دا مجموعه د خان عبدالغني خان د محکوم پښتونستان د نامتو شاعر شعرونه دي چې په (۲۳۶) مخونو، اعلی کاغذ، ښکلې قطعې او خوښوونکي صحافت د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده. په مطبعه کې یې د چاپ اهتمام د ښاغلي نېک محمد پکتیاني په غاړه و چې ددغه ښاغلي ذوق او سلیقې کتاب ته ښه رنگ او بڼه ورکړې او طباعتي غلطۍ تر اخري حده کمې دي او سړی ویلای شي چې لا غلطۍ نه لري او په لوستلو کې یې سړی نه ټکنی کېږي.
په دې مجموعه کې د غني خان د (۲۳) کلونو شعرونه راغونډ شوي، یعنې له (۱۹۲۹ م) کال څخه تر (۱۹۵۲ م) پورې. لکه چې شاعر په خپله وايي: «دې کتاب کې اول شعر د اوبو په جهاز کې په بحر هند کې لیکلی شوی و او اخري د هرې پور جېل د کولارنټېن په یوه چکۍ کې.» په بل عبارت دده اشعار په تاریخي دورو کې هست شوي. یوه هغه دوره ده چې پښتانه د خان غفار خان، د شاعر د مجاهد پلار په مشرتابه د انگلیس له استعمار سره په مبارزو اخته و او بله هغه چې له (۱۹۴۷ م) څخه وروسته د پاکستان استعمار په ضد راولاړ شول.
په دواړو دورو کې لویه مسئله د پښتونستان آزادي ده. څرنگه چې دا مبارزه عمومي ده او د محکوم پښتونستان ټول پښتانه او د دوی وروڼه بلوچان ورسره لاس په گرېوان دي، نو ددې مبارزې تاثیر د دوی د ژوند او فکر په ټولو اړخونو کې ننوتی او ښکاره دی. هېڅ داسې ذهني او عملي فردي او اجتماعي حرکت او فعالیت به نه وي چې ددې مبارزې د تاثیر نه خلاص وي. ځینې کسان به د مبارزې په لومړي او منځني قطار کې وي او څوک به وروسته ورپسې روان وی، ځینې ډېر کم به داسې هم وي چې چېرې لرې به ولاړ وي او د استعمار د تطمیع او تخویف په وجه به بس سیل کوي. د شاعر کورنۍ او په بله معنا

د پښتونستان د لوی مجاهد خان عبدالغفار خان نږدې منسوبین او همدرانګه د دوی ټول حیاتي او فکري ملګري خو ددې نهضت او مبارزې علمبرداران دي. دا حقیقت نه یوازې د دنیا دغه ګوټ کې د لمر په شان ښکاره دی، بلکې په ټوله نړۍ کې خور دی. خپل او پردي، د ملي نهضتو حامیان او د آزادۍ دښمنان یعنې استعمار، ټول پرې خبردی. که له یوې بلې لارې دغه حقیقت ته راشو، نو وبه وایو چې د شاعر ماحول او چاپېریال د مبارزې او جګړې، تحول او انقلاب، بند او جېل، مرګ او وینو، وهلو او ټکولو او د شور و زوږ میدان دی او په خپله شاعر هم د مبارزې یو جز دی او دا اشعار په همدغسې حالت کې راوتي.

دغو افکارو د شاعر په ټول وجود کې رېښې غځولي، په خوب او په وېښه، په کور او په جېل، په کوڅه او په بازار، دننه او د باندې، په شعوري او غیرشعوري حالاتو کې یې افکارو او احساساتو پرې غلبه لرلې او د وطن او آزادۍ مینې رېږولی او پېچلی دی؛ ځکه نو حماسي او رزمي خوا یې په نورو خواوو درنه ده. د شاعر لوی قوت په دې کې دی چې دغه افکار یې له ډېرو لارو او په زیاتو اشکالو د محیط په ژبه افاده کړي دي، نو د شعر جامه یې وراغوستې ده. لکه چې وایي:

وصیت

چې خازې شنې مې په قبر وي ولاړې
که غلام مړ وم راځئ تو کړئ پرې لاړې
که پــــه خپلو وینو نه وم لمبېدلی
په مامه پلیتوئ د جومات غاړې
چې قطرې قطرې مې پوخ د دښمن نه کا
مورې ما پسې په کوم مخ به ته ژاړې

یا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم
یا به کړم د پښتنو کوڅې ویجاړې

د هلکانو په خوله داسې خطاب کوي:

خوږ دی ماته ملک زما
خوږ تر کل جهان
زه به ځم په جنګ د کام
زه چې شمه ځوان

وینه ده توده زما رګونو کې د ننګ
سر که مې قام غواړي زه به یې نکړمه په څنګ

زور دی مالیدلی هم د توپ هم د تفنګ
زور مې د غېرت دی د همه زورونو خان
زه ځم...............

سر څه د سپي سروې چې فدا نه وي په کام
نر څه ښځونی وي چې شېدا نه وي په قام

نوم ناموس یې څه وي چې یې نوم وي د غلام
دا نوم به بدل کړم یا به کړم بدل جهان
زه به ځم...............

زه به لوی زړګی لکه شېرشه د بنګالې لرم
متې به ابدالي لرم همت به روهیلې لرم

سر به ښکته نه کړم که زرګونه کشالې لرم
ربه ښکته مه کړې چاته سر ته د افغان
زه به ځم...............

د غني خان د اشعارو په دغه مجموعه کې داسې شعرونه ډېر دي او یقین دی چې تر هغو به دوام کوي، تر څو خپل ملک او وطنوال آزاد او خوشال ووینې. دی په خپل ولس او وطن مین دی، دده دا مینه ډېره زړه وره او زوروره ده. ګمان نه کېږي چې هېڅ راز قوت، که څه هم هر ځومره غیر بشري او حیواني وي، دده مینه سړه کړي. د استعمار له پنجو نه د ملي خلاصون او ولسي آزادۍ نهضت او د ولسونو پورته کېدل او د خپل ژوند په چارو لارو کې د هغوی برخه اخېستل کومه سرسري خبره نه ده. دا د لوی بحر پرله پسې څپې دي چې یو په بل پسې روانې دي. ددې څپو او ددې حرکت بېخ د بحر په تل کې دی، تر څو په خپله بحر وي، څپې به یې هم وي. د غني خان د حماسي او جنګي او وطن خواهۍ افکارو او اشعارو بېخ هم ډېر ژور دی چې هر لور یې رېښې غځولي، په هر زړه

او هر کومي کې منبع لري. یوازې حساس زړه او قوي دماغ دده په لاندې شعر کې دده د احساس په ژوروالي پوهېدای شي. دده دا حس ځانته یو جهان دی، داسې جهان چې سروبر او عمق یې بې پایانه او نامحدود دی او یوازې د آزادۍ او ملي خپلواکۍ وړمې په کې په هر لور په حرکت دي او دی یې مست او نېشه کړی دی. دی وایي:

ای زما وطنه د لالونو خزانې زما
ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما

زه یمه ستا خاورې ته زما د مینې جوړ یې
ته مې د غېرت او د پښتو رنګینې جوړ یې

ته مې د نېکه او د بابا د وینې جوړ یې
ستا زړه کې ویدې دي ټولې تللې زمانې زما
ای زما وطنه د لالونو خزانې زما

سترګې مې لوګی شه ستا د خاورو د کورونو نه
عقل مې ایرې شه ستا لپاره د فکرونو نه

ځار شمه قربان شم ستا د غرونو نه سیندونو نه
ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما
ای زما وطنه د لالونو خزانې زما

ستا عزت چې نه وي زه به نوم او عزت څه کړمه
ته چې خوار او زار یې زه به خوب او راحت څه کړمه

ستا سر چې وي ټیټ نو به زه شان او شوکت څه کړمه
مسته به دې خاوره کړم په وینې مستانې زما
ای زما وطنه د لالونو خزانې زما

یا خو به دې سیال کړمه وطنه د جهان
یا به ستا په ښېښو کې تورې خاورې کړم دا ځان

زه به دړې وړې شم خو تا به کړم ودان
نر یمه پښتون یم تاته یاد دي افسانې زما
ای زما وطنه د لالونو خزانې زما

دغه ټوټه شعرونه کوم پاخه روحیات دان ته په ګوتو ورشي او تحلیل او تجزیه یې کړي، نه پوهېږم څه شیان او څه نتایج به ترې وباسي، د څنګه محیط محصول به یې وګڼي او شاته به څنګه محیط او څنګه ولس ترسیم کړی وښیي.
درسته ده چې الفاظ او کلمات یې معمولي او اصطلاحي دي، مګر هغه جذبې چې دې الفاظو یو تربله تړلي، بس د یوې لېونۍ او عمیقې او نه رام کېدونکي مینې نښه ده چې له ولس نه منبع اخلي. هغسې ولس چې په ازادۍ او وطن مین دی، یا دا چې په خپله ازادي او وطن دی؛ نو ځکه دا جذبه نه وېشېدونکې ده او پایان نه مني. که دا اشعار کوم جهاني وتلي شاعر ته منسوب وای، که (هومر) ته واي که ( په ایلیاد) کې وای که(مهاباراتا) کې واي، که (ویرجېل) ته وای که (تولستوی) ته وای او په (جنګ او سوله) کې وای او که (خوشال) ته وای؛ یقیناً چې هر چېرې به یې اوازه وای او ټول جهان به پرې خبر وای. د دغسې افکارو او احساساتو او دلته د دغه شعر خپرول او جهاني کول دومره په غني خان اړه نه لري لکه چې دده د ولس په متې او دماغ تعلق لري، ځکه ولس دی زېږولی، ولس روزلی، ولس پوخ کړی او ولس شاعر کړی؛ نو به یې هرومرو ولس هم په نورو وپېژني او په نورو به یې مني.
ښایي تعجب ونه شي که وویل شي چې دا احساسات اصلاً د غني خان نه دي، دا احساسات د غني خان د محیط او ماحول او د هغه په ولس کې ژوندي حقایق دي. دومره ډینامیک دي چې ولاړه او سکون نه مني، بلکې د روانو اوبو په شان جریان غواړي او په دې ټینګار کوي چې په هره لاره کېدای شي ځان اوچت کړي او نورو ته یې وښیي او ځان پرې حس کړي. غني خان ورته لبیک ویلی، ژوندي زړه او خلاقه استعداد یې ورته رنګ او بڼه ورکړې او په دې وجه دغه ښاغلي خپل قام او ولس ته ستر خدمت کړی دی.
نو ویلی شو چې د ادب او شعر په میدان کې دا د استعمار او ملیت د غاصبو نه یو بل ضد لوی موفقیت دی چې د پرله پسې مبارزو په لړ کې پښتونستانیو آزادي خواهانو او مبارزینو ته ور په برخه شوی دی؛ مګر دا به پوره سمه نه وي او په دې لیکنې سره به

مـو د کتـاب پېژندنـه پـه ښـه توګـه کـړې نـه وي، کـه ووایـو دا مجموعـه یـوازې د حماسـیاتو مجموعـه ده. نـه! دغسـې نـه ده، د ژونـد او فکـر نـورې درنـې درنـې مسـئلې هـم پـه کـې راوړلـی شـوې دي. هغـه مسـئلې چـې د انسـان لـه پیدایښـت نـه تـر اوسـه لـوی او پاخـه مفکـران پـرې غږېدلي دي او یـو راز بـل راز او ضـد و نقیضـې نظریـې یـې پـرې اورولي دي. لکـه چـې ښـاغلي الفت ددغـه کتـاب پـه سرلیـک کـې وایـي:

«دده (غنـي خـان) پـه اشـعارو کـې عشـق او محبـت، پښـتو او پښـتونولي، رنـدي او خیامـي فلسـفه، ټوکـې او مسـخرې؛ هـر څـه شـته او لـه کارغانـو او مارغانـو سره یـې هـم پـه شـاعرانه ژبـه ډېـرې د خونـد  خـبرې کـړې دي. دده پـه مسـتانه لېونتـوب کـې شـاعرانه هوښـیاري او بېـداري پرتـه ده او پـه ملنـډو کـې یـې ډېـر د مقصـد ټکـي نغښـتي دي، ځکـه ورتـه لېونـی فلسـفي هـم وایـي. دده لـه مـچ او مېـږي، لـه چـرګ او ملاچـرګک، لـه اوښ او لـه نـورو لویـو وړو ځنـاورو سره ډېـر څـه ویـلي او پـه دغسـې پېرایـو کـې یـې سـیاسي او انتقـادي مطالـب بیـان کـړي دي».

رښـتیا هـم دا ده چـې دده پـه دغـو لـږ و ډېـر شـپږ زرو نیـم بیتیـو کـې ډېـر څـه شـته او ښـاغلی غنـي لـه هـر بـاب نـه غږېدلـی دی.

ټولـې هغـه مسـئلې چـې د روحیاتـو او فلسـفې پـه سـاحه کـې دي او لا قطعیـت تـه نـه دي رسـېدلې او همداسـې هـم د مینـې او جذباتـو او خیالاتـو دنیـا، پـه دې مجموعـه کـې شـته. دلتـه رومانسیزم د ریالیـزم ملګری دی. دا خـبره شـاید ځینـو تـه عجبـه غونـدې وبرېښـي چـې رومانتـزم او ریالیـزم او پـه یـوه مجموعـه کـې د دوی ملګرتـوب؟

خـو د نـړۍ د ځینـو نـورو شـاعرانو او لیکوالـو پـه څېـر ښـاغلي غنـي دغسـې  تعجـب بـې بېـخ او بنیـاده کـړی دی، ځکـه چـې دده رومانتیـزم فعـال، متحـرک او د مقصـد پـه لـور او مترقـي دی؛ یعنـې مړ او سست نـه دی چـې بـس انسـان تـه ووایـي کـرار شـه، غلـی اوسـه، قناعـت وکـړه او داخـلي  جهـان تـه ځیـر شـه او هـر څـه چـې دربانـدې راځـي ویـې  زغمـه.

نـه، دده رومانتیـزم انسـان دې تـه بـولي چـې اراده پخـه کـړي او لـه ژونـد او د ژونـد لـه کړاوونـو سره پـه جګـړه او لاس پـه ګرېـوان او پـه هغـو غالـب شي. دده لـه مـچ او مېـږي، لـه چـرګ او ملاچـرګک، لـه اوښ او لـه نـورو لویـو وړو ځنـاورو سره ډېـر څـه ویـلي او پـه دغسـې پېرایـو کـې یـې سـیاسي او انتقـادي مطالـب بیـان کـړي دي. نـو چـې دده رومانتیـزم فعـال او مترقـي دی، هرومـرو بـه ریالیـزم  سره اوږه پـه اوږه روان هـم وي او دا مجموعـه یـې یـو ژونـدی مثـال دی.

داسـې هـم د محیـط اجتماعـي بـې عدالتـۍ او هغـو خلقـو څېـره پـه دې کتـاب کـې واضحـه شـوې چـې پـه اصـل او باطـن کـې یـو څـه وي خـو پـه ظاهـر کـې ځـان بـل څـه ښـیي او خلـق غولـوي، وایـي:

ای په اسلام مینه
ای سیاسي مومنه
سترګې دې برګې بهر
برګ دې ایمان دننه
پرون یې ځان نه ګاټه
نن دی اسلام ګټې
په خرڅ د ننګ د پښتون
خپل ننګ او قام ګټې
ای په.......
څه به وي رب ته خپل
چې یې د ګور دننه
تا د پښتون سترګو ته
د تیارو جال جوړ کړ
او د جناح د خره
دې خردجال جوړ کړ
ای په........

او په پای کې یې یو څو رندانه اشعار خو هم ولولئ.

زه یم زه رنګ سرود او شرنګار زه یم
د جانان سترګو کې مړاوی خمار زه یم
دا تعبیر زما د مست زړه د تلاش دی
یار زما د زړه ارمان دی دلدار زه یم
دا زما زړه چې د ښایست او رنګ شي وړی
سپرلي سره ګلونه راشي بهار زه یم
دا چې زه شم د مسکو شونډو لېواله
لیلی جوړه کړم د حسن معمار زه یم
دا خو زه د ځیګر سوز په هوا سور کړم
روح، مطلب، معنا اواز د ستار زه یم
چې زه نه یم بې معنا جنت اسمان دي
د جهان د سوز او مینې مختار زه یم
دومره پوی شوم په دې وړوکی غوندې ژوند کې
یار زما کمال، کمال د دلدار زه یم

په اخره کې، موږ د دغو اشعارو مجموعه د پښتني ادب په جهان کې یوه ګټوره اضافه بولو. ښاغلي غني خان ته مبارکي ورکوو او د پښتو ادب علاقمن یې لوستلو ته بولو.

## درېیمه برخه

# تاریخ او اجتماعیات

# استاد داکتر حسن کاکړ
# او د هغه تاریخي او ټولنپوهنیز لید

(۱)

په دې لیکنه کې د یو مشهور او وتلي استاد پروفیسور داکتر حسن کاکړ مرحوم د مقالو د ټولګې په یوې برخې چې تاریخ او ټولنیز علوم نومیږي، خبرې کوو. دغه لیکنې د استاد د بیلابیلو وختونو د لید توکو او عکس العملونو انځور دی چې کله ورسره مخامخ شوی نو څرګند کړی یې دی. ما په تېرو کلونو، په تېره د پوهنتون او ان د ښوونځي په دوره کې د استاد کاکړ زیاتره لیکنې لوستي او ګټه مې ترې اخیستې ده.

استاد کاکړ د خپلې مسلکي پوهې او درایت له کبله په تاریخ لیکنه کې یکه تاز او بې بدیله و، نورو پوهانو هم د تاریخ په برخه کې څیړنې کړې دي؛ خو د استاد کاکړ ممیزه صفت په دې کې دی چې هغه له یوې خوا «اسطوره ماتوونکي»، « تابو ماتوونکی » دی او له بلې خوا لوستونکي ته د یوې پېښې اړوند ټول اړخونه را سپړي او هغه دې ته را بولي چې د فاکتونو او قضایایو په بنیاد خپله قضاوت وکړي.

د بیلګې په توګه د امیرعبدالرحمان په باره کې د هغه څیړنې د وخت د شرایطو او هیواد د قضایاوو په چوکاټ کې شوي دي. لوستونکی که په غور هغه ولولي دا دلیل ورته نه پریږدي چې د خپل ذهنیت له مخې قضاوت وکړي؛ او یا د وخت جبر او ناسم شرایط له پامه وغورځوي.

همدارنګه د استاد بله مقاله چې د انګلیس په وړاندې د کابل د خلکو قیام ده، په هغه کې هم په څرګنده توګه یو لړعوامل په ډاګه کوي؛ کله چې د افغان-انګلیس ترمنځ دویمه جګړه اثر لولو دا واقعیت په کې په ډاګه کیږي. همدارنګه دا چې یو زمامدار څرنګه د خلکو له پامه بد راځي او څرنګه او د کومو معیارونو له مخې د اولس د کرکې او نفرت وړ ګرځي لکه امیر یعقوب خان او شاه شجاع په روښانه توګه په ډاګه کوي.

استاد په خپلو لیکنو او په تیره د نونسمي پیړۍ کې د افغانستان په حالاتو ژوره او اکاډیمیکه او متودیکه څیړنه کوي ـ افغانستان کې د یو مرکزي دولت ایجاد او د دولت اصلي ارګانونو جوړښت باندې تمرکز کوي، د عصري او دودیز دولت توپیرونه د لوستونکي په وړاندې ایږدي.

په دې ټولګه کې چې د استاد د بېلابېلو وختونو مقالې او ليکنې را ټولې شوې او شمير يې ۱۷ مقالو ته رسيږي، په دوه اساسي مسالو را ټولي دي يو تاريخ او بل ټولنپوهنه. تاريخ له ټولنپوهنې پرته او ټولنپوهنه هم د تاريخ پر مټ لوستونکي د روښنايي لور ته وربرابروي. په دې برخه کې به بې ځايه نه وي چې د تاريخ اړوند بېلابيل فلسفي تعبيراتو يادونه وکړو.

(۲)

ليو تولستوي وايي: «انساني تاريخ له عجايبو او اسرارو ډک جريان دی ـ کله هم د نه پوهيدني وړ او له اټکل نه بهر جريان دی». د تولستوي په نظر کيدای شي چې يو ماورا ء قدرت د تاريخ لوری د خپلې خوښې وړ لوري ته وربرابر کړي. کارل ياسپرس معاصر الماني فيلسوف بيا په دې باور دی چې تاريخ د ټاکلو ارمانونو د تدريجي تحقق په عنوان نه دی؛ بلکې د حالت او عيني نهاد او په مستقله توګه د انسان له واک او اختيار نه خپلواک دی، خبري کوي. د نوموړي په باور تاريخ هغه لور ته نه درومي چې نسلونه يې غواړي؛ بلکې نا منتظره عجايب يې په لستونې کې ځای شوي دي.
هايدګر معاصر الماني فيلسوف هم د ياسپرس په څير چې د وجودي اصالت له فلاسفه وو څخه دی تاريخ د يو مطلق او شنډ بيابان سره ورته بولي چې انساني چلند بايد له هغه سره مطابقت ولري. دا بايد په رواقي ډول په سړه سينه د هغه له سوځنده جريان سره مطابقت ولري. البته پوهيږو چې دا فکر يو ډول افراطي ځانګړنه لري؛ خو د دې تفکر په وړاندې يو بل تفريطي فکر هم شته چې هغه د تاريخ سير د تقدير او ازل پورې تړي ـ يعنې څه چې په ازل کې ويل شوي يا کښل شوي هماغه د عمل جامه اغوندي او د انسان اراده او عمل په کې نقش نه لري. هغوي چې تيولوژيک يا مذهبي باور لري، د ماوراءالطبيعت نقش برجسته بولي نو په دې باور دي چې هغه څه چې درسولانو له خوا انسان ته ويل کيږي هماغه د عملي کيدو جوګه دي. په همدې لړ او همدې بهير کې انسان د خپلو اعمالو په بنياد يا دوزخ ته درومي او يا جنت ته او بيا د قيامت ورځ راځي چې حساب کتاب ورسره کيږي. دا يو منجمد او متحجر تصور دی.
خو په ساده عباراتو کې کله چې موږ د افغانستان په تاريخ خبري کوو، نو په استاد کاکړ خبري کوو او کله چې د استاد کاکړ صيب پاڼه را اړوو نيغ په نيغه د افغانستان د برخليک، ماضي او مستقبل سره مخامخ کيږو دا ځکه چې د استاد کاکړ ليکنې د افغانستان د هويت او د پيښو د مسير له څرنګوالي سره ميتوديکې اړيکې لري؛ نو پوښتنه دا ده چې تاريخ څه شی دی؟

(۳)
تاریخ په فلسفي مفهوم سره یوازې په تیرو خبرتیا نه ده. یوازې د ټولنې او خلکو د فرهنگونو مطالعه هم نه ده. د نژادونو، قومونو او قبایلو تمدن په باب په یو خاص دوران کې مطالعه هم نه ده. تاریخ د ادبیاتو او د اشعارو او د لیکوالو یادونه هم نه ده. تاریخ یوازې د عبرت هینداره هم نه ده ـ او همدارنگه تاریخ هغه څه هم نه دي چې یو مهال ول او اوس نشته.

نو تاریخ څه دی؟ بلکي د پورتني لست په پایله کې تاریخ هغه تېر او یا ماضې ده چې د حال زمان را منځ ته کوي، تاریخ هغه حرکت دی چې د راتلونکي په لور جریان لري. تاریخ د انسان عمر دی. لکه څنگه چې یو انساني فرد یو واقعیت دی چې د ژوند د کلونو په عمومي مسیر کې له پیدایښت نه تر اوسه پوري یې شکل نیولي او شخصیت یې پیدا کړی دی، د انسان نوع هم د خپل عمر په مسیر کې یعني تاریخ کې چې د هغه په اوږدو کې یې ژوند کړی دی اوسني شکل ته رارسیدلي دي. په دې اساس مبالغه به نه وي چې د وجودي اصالت د فلاسفه وو په عبارت ووایو: چې انسان هغه وجود دی چې په تاریخ کي خپل ماهیت پیدا کوي.
په دې اساس تاریخ د انسان د څرنگوالي خلقت دی له همدې امله تاریخ د یو حیوان د انسان کیدلو سرگذشت دی چې په دوه پښو درومي دا سر گذشت چې دا ډول ستر رسالت ته اوږه ورکوي او په ډېر دقت یې تر سره کوي نو نشي کیدای چې بې ځایه عبث، تصادفي او بې جهته او د علیت او عیني وحدت او علمي حقیقت څخه لري او په واټن کې وي.
په دې اساس د ټولنې عمر یا د بشریت عمر د زمان په اوږدو کې پرمخ ځي، بدلون کوي، حرکت کوي او بدلونونه په کې را منځ ته کیږي ـ نو په دې اسا س په همدې مسیر کې د تاریخ د علم قواعد او اصول رامنځته کیږي ـ قوانین یعنې په دې مسیر کې د کیدلو یا (شدن) مساله مطرح ده. تاریخ د انسان د ماضي پیژندنه نه ده؛ بلکې د څرنگه کیدلو پیژندنه ده. علل عوامل او د بدلون او تحول او ودې او تکامل قوانین دي. همدارنگه د ناجوړي او سلامتي کمزورۍ او د انسان د قدرت او د انساني ټولنې علل اوعوامل راښیي.
په دې اساس یوازې د اقوامو او ټولنو څیړنه او مطالعه او د تیرو پېښو مطالعه تاریخ نه دی؛ بلکې جزیي اوعیني برخي او بېلگې دي چې مورخ له دې لوري هڅه کوي چې د تاریخ علمي قوانین کشف کړي. داسې قوانین چې هم انسان را وپیژني او هم ټولنه را پیژني. له همدې لاري انسان ته دا وس او پوهه ورکوي چې د ټولنې او د بشریت د تکامل

په پيچلو مسايلو يې سر خلاص شي؛ څرنګه وکولې شي په خپل تقدير پوه شي او څرنګه وکړای شي چې د طبعيت ړندي قواوې مهار کړي، په تاريخي جبر يې سر خلاص شي او د طبعيت جبر په خپل لاس کنټرول کړي. په همدي اساس ده چې د استاد کاکړ مقام او منزلت د ستاينې او پوهيدني وړ دی ـ هغه هم موږ ته په خپلو څيړنو او درسونو کې د ماضي پر اوږو د مستقبل لاره رانښيي.
د شناخت په همدي لړ کې د هيواد انسان کولي شي ځان پيژندنې ته ورسيږي له همدې لاري افغان انسان د خپل طبعيت هستوونکي او خالق ګرزي. له همدې امله ده چې کله انسان په دې ړندو قواو برى حاصل کړي طبعيت مهار کړي. د خپل طبعيت او تاريخ خالق شي هماغه ډول چې په عرفان او مذهب کې وايي چې انسان د خدای ځای ناستی ګرځي: نيچه هم وايي «انسان خدای شو» اوهګل وايي چې «خداې په انسان کې تجلي کوي» او د يونان د افسانوي قهرمانانو ارزو وه چې تل اساطيري هيروګانو له خدايانو سره رقابت کاوه ـ په پای کې د انسان ابدي رنځ پای ته رسوي، دا نيمه خدای چې د طبعيت د قاهره قواو بندي وو تحقق پيدا کوي چې انسان تعالي ته ورستنيږي او خپل ورک شوی جنت پيدا کوي. افغان انسان هم يوازې او يوازي خپل ځامن او د خپلې ماضې په پيژندلو سره کولي شي د خپل ځان او خپل هيواد رښتيني مالک شي.

(۴)

په همدې اساس کله چې په ملي سطحه کې د تاريخ په اړوند خبري کوو ـ دا نو بيا بل څه دي: له ملي تاريخ او د اولسونو د ژوند له تاريخ او ماضي نه ناخبري، ځان خبري او شعور ټکنې کيږي او يو ډول «ځان پردي کيدنه» يا «ايناسيون» را منځ ته کوي.
زه چې د استاد د زده کوونکي په توګه وياړ لرم څو وارې يې په ليدنو او بحثونو کې راته ويل چې له امانيه دوري وروسته حکومتونو په قصدي توګه د امانيه دوري پيښې رابرسيره نه کړي او نه پرې زيات څه وليکل شول ـ که چېري «کېن پلوه » ځواکونو د دغې دورې سمه مطالعه کړې وای، کيدای شي د يو لړ تيروتنو مخه نيول شوي واي. استاد حسن کاکړ د زده کړې، کار او د استادي پر مهال او له هغه وروسته چې کوم اثار کښلي ټول يو هدف تعقيبوي ـ د هغه غوره هدف او موخه د روښانتيا مساله وه. روښانتيا په دي مانا چې وروستي نسلونه وپوهيږي چې د چا صداقت او نه صداقت هيواد پالنه او نه هيواد پالنه، پټ نه پاتي کيږي.
خبره دا ده چې موږ په يوه حيطه يا جغرافيه کې ژوند کوو. د دې حيطې نوم افغانستان دی. دا نوم په واقعيت کې د تاريخ په يوه خاصه مقطع کې د يو اولس نوم دی چې نور

په کې شامل نه دی او له نورو جلا دی. یا د ملي هویت څرګندوي دی؛ خو ځینې ډلې له دې سره په مخالفت کې دي، په لوي لاس هڅه کیږي چې په ملي مفهوم سره د دې جغرافیه راتلونکي نسلونه له خپلې ماضي او له خپلې جغرافیې نه ناخبره پاتي شي چې دا بیا بیل بحث دی. استاد هڅه کړې هغه ننګونې چې افغانان او د افغانستان شتون، د پښتنو مسایل او د هغو دبرخلیک او مسایل ورسره مخامخ دي وخت په وخت پرې رڼا واچوي او نوی نسل له هغه سیاسي پردیوالي (الیناسیون) نه وژغوري.

اکبر کرګر

لندن

کال ۲۰۲۱ م د فبروري ٦ نیټه

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل کال، د لړم (عقرب) لومړۍ، ۵ مه گڼه، الف او ح مخونه.

# افغانستان او استقلال

یوځلوېښت کاله د مخه یوه اوږده جگړه قطعیت ته ورسېده. دا جگړه د خیر او شر، د مظلومیت او ظلم اهلیت پرستۍ او امپریالزم ترمنځ و. خپله وروستۍ نتیجه یې د ټل او وانې په میدان کې دنیاوالو ته اعلام کړه. بری د ملیت پرستۍ او ماتې د امپریالزم شوه. لومړنی سر لوړی او وروستنی سر ټیټی شو، افغانستان دا سارت کړی ماته کړه او برطانیه دنیا ته نامتورې شوه، د برتانیې نفوذ د هندو کش له لمنو نه لاړ او افغانستان په داخلي او خارجي چارو کې آزاد او د یوه خپلواک هېواد په څېر سر هسکی شو. په دې ډول زموږ هېواد په ټوله آسیا کې لومړنی ملک و چې هغه برطانیه چې د درستې نړۍ څلورمه برخه یې تر خېټې لاندې وه، ماته کړه او په دې ترتیب یې نه یوازې خپله بایلل شوې آزادي بېرته خپله کړه؛ بلکې د نورو لاندې ملکونو لپاره یې هم لار خلاصه کړه؛ نو دا پېښه نه یوازې موږ ته ډېره درنه ده، بلکې د نورو ملکونو او په تیره بیا د گاونډیو هېوادنو لپاره هم زیات اهمیت لري.

کله چې موږ وایو افغانستان مستقل، مقصد مو دا دی چې زموږ ولس په خپل ملک کې د خپل اختیار خاوند شو او د دې واکمن وگرځېده چې په خپله خوښه او د زړه په ډاډ د ملک د آبادۍ لپاره لاس او پښې ووهي، کوښښ او زحمت وباسي او د بېرته پاتې توب اساسي علاج وکړي. تر هغه رومبی زموږ ولس محصور او اسیر وو، دلته به هغه څه کېدل چې استعمار به ویل، داسې څه به اورېدل کېدل چې نورو به اورول، زموږ اهمیت تر هغو وو چې استعمار ته مفید کېدای شو، د خیبر لاره د هندوکش درو او د هرات دروازې او همدا راز پښتنو زلمو ته یوازې په دې سترگه کتل کېدل چې امپریالزم پرې آباد وي او لوی هند یې ور وساتي. د استعمار گټه لومړۍ وه او زموږ خیر ثانوي اهمیت لاره. همدغه سبب دی چې په استعماري دوران کې د وطن حال خراب، ژوند بې مزې او تری و، حرکت او نهضت درک نه درلود او ټول مړه پړه غوندې وو.

استعمار آبادۍ او تغییر نه خوښوي او فلسفه یې د مظلومو او لاندې شویو اولسونو پر پسمانۍ او نادانۍ ولاړه ده؛ نو څکه د هند د ساتلو او استثمارولو په منظور استعمار په

افغانستان کې حتی طبیعي پرمختګ ته هم خنډ کېده او دا ویره یې په سر وه چې د هندوکش په هسکو غرونو کې به بل زمان شاه پیدا شي او له لاسه تللی هند به بېرته خپل کړي. ولسي قوتونه خو په مبارزو کې لګېدل، له دې کبله په وطن کې ورانه ورانی وه. دا چې د استقلال ګټل موړ ته انقلاب شو، له دې حقیقت نه پوره څرګندېږي چې له هغه وروسته د ژوندانه په ټولو اړخونو کې محسوس پرمختګ او نهضت عملي شو او له ړومبنیو کلونو نه پوره فرق پکې راغی. له دې سببه دا وار به دا ښه وي چې د استقلال مثبت اثرات د ژوندانه په ټولو اړخونو خصوصاً په اقتصادي، سیاسي او ادبي ساحو کې په اجمالي ډول ولیکو او دا ښکاره کړو چې په تېرو یوڅلوېښتو کلونو کې (۱۹۱۸ - ۱۹۵۹ م) د استقلال له برکته موږ څه کړي او څومره او په څه تناسب له مخکې څلوېښتو (۱۸۷۸ - ۱۹۱۸ م) استعماري کلونه نه وړاندې تللي یو.
لومړی به له اقتصادي پرمختګ نه خبرې وکړو، د (۱۹۱۸ م) نه د مخه د وطن ټول حاصلات زراعتي و، دهقاني او ملکي د ټولو هېوادوالو کار وو، په ډېرو ابتدائي وسایلو له مخکې نه کار اخیستل کېده، نو ځکه زراعت د زیاترو هېوادوالو لوی کسب و، ملاک او زمیندار به آباد وو، خو زارع او دهقان بد ژوند لاره؛ نور کسبګر هم همدغسې وبولی، لوی لوی ملاکان به حاکمان او لویان وو او د دوی مشري او لویي به حتمي وه، یعنې مشري او لویي د ملکیت په اساس وه او شخصي لیاقت دوهم اهمیت لاره؛ احتکار او سود د زمیندارانو لویه مشغولا وه او د دانو او غلو، قالینو او قره قلو او همداسې نورو شیانو سوداګري وه؛ خو تجارت محلي شکل لاره، کله کله به له ګاونډیو هېوادو سره سوداګري روانه وه؛ مګر له لرې هېوادو سره تجارتي تعلقات نه وو؛ د تجارت وسیله هم یوازې اوښان، خره او قاطرې وې، لدې کبله محلیت قوت لاره او په هر حال کې به لوی ملاک واقعي حاکم و. یوازې په وروستیو کالونو کې یو څه وشول، د چک وردګ د برېښنا څلور زره کیلوواټې کارخانه جوړه شوه او په ننګرهار کې د کابل د سیند له پاسه د درونټې پل او د الیشنګ د سیند له پاسه د قرغیو او ده زیارت قوي پلونه آباد شول؛ خو هغه هم د کوم خاص مقصد له پاره. ژوند زیاتره په کلیو، بانډو او درو کې د ښاري ژوند رونق نه لاره، له دې کبله ویلای شو چې فیودالزم (Feudalism) یعنې ملوک الطوایفي په جوش او خروش کې وه او د خانانو، ملکانو، اربابانو او لویو زمیندارانو د قدرت بې جوړې دوران و. که څه هم د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې ښایسته ډېر سر زوري ملاکان او محلي خانان فرار او نیست شول؛ خو دې کار امني ارزښت لاره او فیوډالي مناسبات په ځای وو. تر استقلال وروسته نږدې کلونو پورې ګورو چې اقتصادي ساحه کې ښکاره فرق راغلی دی، تر ټولو ښه د یاد وړ خبره د پانګې ده؛ یعنې سرمایه په کار ولوېده او په دوران راغله

او په دې ډول د شخصي ګټې په منظور اقتصادي ساحه کې فعالیت تر پخوا زیات شو. کارخانې، فابریکې، شرکتونه او مرکزي بانکونه – دولتي او شخصي (د افغانستان بانک او ملي بانک) او وروسته پسې نور بانکونه جوړ شول. د سرمایې تدویر په جامعې اثر وکړ او اقتصادي طبقات یې پکې ورو ورو مشخص کړل او په اقتصادي فعالیت لګیاه شول. تجارت هم له محلي سرحد څخه واوښت او بین المللي ښکلا یې غوره کړه.
تجارتي مناسبات له باندنیو کمپنیو او سوداګرو سره تاسیس شول، د دې ملک زیاتره اومه مواد د صنعتي شویو هېوادو کارخانو ته چالان شول او همداسې د نورو ملکونو مصنوعاتو دلته لاره پیدا کړه او بازارونه ترې ډک شول. د کارخانو، فابریکو، بانکونو، شرکتونو او تجارتي موسسو د تاسیس له کبله نوي ښارونه ودان شول (قندوز)؛ ښاري ژوند فعال او زیات شو او ښارونو په بېساري ډول وسعت وموند.
خصوصاً د کابل ښار په دې وروستیو کلونو کې ډېر پراخ شو، همدغه سبب دی چې اقتصادي قدرت هم په عمومي ډول ورو ورو له کلیو او بانډو نه د ښارونو په خوا انتقال کوي او هلته د شتمنو په لاس تمرکز کوي؛ نو شتمنو ته اوس د دې امکانات برابر شوي دي چې د خپل پخواني عادت یعنی احتکار او سود خوړلو نه واوړي، پانګه په کار واچوي او له اقتصادي ازادۍ نه فایده اوچته کړي. دولت هم د عامه ګټې په منظور په ډېرو اقتصادي تشبثاتو لاس پورې کړي او د دې له پاره چې عام المنفعه اقتصادي پروژې، پلانونه او پروګرامونه عملي کړي، د ځینو شیانو تجارت او تولید یې هم انحصار کړی دی او همدا راز باندنیو سرمایه دارنو ته مادي امکان برابر شوی چې خپله سرمایه په کار واچوي. دا ټول ددې له پاره چې ملي منابع استثمار شي، په کار ولوېږي او ترې استفاده وشي. نو موږ وینو چې جامعه د انتقال په حال کې ده، دا انتقال تر هر وخت نه اوس چټک دی. کوم وخت چې دولتي وجې تکمیلېږي؛ یعنې د تجارت لویه لاره ښویه او قیر ریزي شي، د سالنګ سړک جوړېږي، د کندهار بین المللي هوایي ډګر خلاصېږي، د هلمند پروژې تمامیږي د درونټې بند ودانیږي او د ځمکې لاندې تېل را ایستل کیږي او داسې نورې دولتي پروژې او پروګرامونه کمال ته رسیږي.
نو بې له شکه دا به د انتقال سرعت ورو ورو زیاتوي او په دې ډول به عامه اقتصاد لوړ پوړ ته هسکېږي. له دې کبله ویلای شو چې په دې څلویښتو کلونو کې جامعه له ملوک الطوایفي نه وار په وار خلاصیږي او اوس د سرمایه دارۍ لومړیو پړاونو ته ننوزي. دا نوې مرحله له هغې ړومبنۍ نه مترقي، فعاله، چابکه او پراخه ده او دا امکان پکې زیات دی چې عمومي تولیدات وار په وار ډېر شي.
د اقتصادي انتقال له سببه د دولت په عمومي جوړښت او سیاسي تشکیلاتو کې هم

ښکاره فرق راغلی دی؛ یعنی د اجرائیې، مقننې او عدلیې قواوو په څرنګوالي او خصوصیاتو کې هم د ویلو ډېر شیان پیدا شوي دي. تر استقلال د ټولو خارجي واک له موږ نه سلب و، یعنې موږ نشوای کولای له باندنیو هېوادونو سره راساً راشه درشه وکړو او اړیکې ورسره ولرو. که دې کار ته کوم ضرورت وو، د انګریزانو په وساطت به موږ کولای شوای له نورو سره وګړیږو. سربېره پردې په استعماري دوران کې د دولت قواوو څرنګوالي نا مشخص و، سلطنت او حکومت دواړه یو و، منظم پارلمان نه وو؛ خو جرګې او مرکې به کله کله د ضرورت په وخت کې کیدې. له دې کبله کوم نمایشي انتخابات او رایه ګیري هم نه وه. حزب او ګوندي ماري خو په عصري مفهوم سره درک نه لاره، له صنفي اتحادیو او نورو ډلو ټپلو سره لا څوک اشنا قدرې هم نه و؛ نو مقننه په اجرائیې کې حل وه، یعنی حکومت او سلطنت یو واحد و او پاچا د دواړو په راس کې و او هغه به امیر یادېده. له دې کبله که کوم خطر به په سلطنت لګېده او په دې ډول به په عمومي نظام کې ګډوډۍ راتله. دا ترتیب د انقلاب نه وروسته به په سمدستي کلونو کې هم ورک نشو. د امیر امان الله خان د خلع یو لوی موجب همدغه د هېواد د داخلي تشکیلاتو پر مرکزیت (Centrism) بناتوب و؛ یعنې عدم مرکزیت (Departmentalism) و او د ولایاتو مشران او لویان به د مرکز له خوا انتخابېدل، نه پخپله د خلکو له خوا. لکه څنګه چې اوس په ډېرو ملکونو کې معمول دی، د استقلال نه وروسته په دولتي تشکیلاتو کې ښکاره فرق راغلی. لومړی خو افغانستان د یوه مستقل سیاسي شخصیت په څېر په نړۍ کې وپېژندل شو.

له همدې کبله سیاسي او تجارتي مناسبات له نورو ملکونو سره راساً ټینګ شول او دا دی اوس زموږ ملک د نړۍ زیاتره ملکونو سره سیاسي او تجارتي تعلقات لري. د امیر امان الله خان په وختونو کې د ملت نماینده ګان وغوښتل شول (۱۹۲۸ م) او په پغمان کې لویه جرګه جوړه شوه. مطلب صدر اعظم ټاکل و، مګر د مشروطه شاهي (Constitutional Monarchy) په اساس د منظم پارلماني سیستم د برقرار ولو په منظور د اعلیحضرت شهید محمد نادر خان په وخت کې نوی اساسي قانون راووت. دا قانون په (۱۳۰۹ ل) کې د لویې جرګې په تصویب ورسېد او په دې ډول افغانستان د لومړي ځل لپاره د لیکل شوي اساسي قانون خاوند شو. په دې قانون کې د دولت تشکیلات او صلاحیت واضح شول.

پارلمان له دوو مجلسونو نه جوړ شو، یو یې ملي شورا یا د نماینده ګانو مجلس وبلل شو او بل یې د اعیانو مجلس شو؛ لومړی یې انتخابي او بل یې انتصابي شو. په دې ترتیب چې نارینه افراد به د هېواد د اداري واحدونو په اساس د قانون له مخې لومړني مجلس

ته په هرو درې کلونو کې اعضا ټاکي او د هغه بل مجلس اعضا به د پاچا له خوا وي. د پخوانیو خدمتونو په اساس د تعینیدنې په اجرایي هیئت کې هم لویه خبره راغله، یعنې د اجرائیې سمدستي مشر صدر اعظم شو چې د هغه انتخاب به د باچا له خوا کېږي او صدر اعظم به بیا د کابینې اعضا په خپله ټاکي او د پاچا هوکې به پرې اخلي. عدلیه قوه په قانون کې هم آزاده وبلل شوه، په دې قرار د درې گونو قواوو څرنگه والی مشخص شو او د هر یوه د فعالیت او اجراء ساحه معینه شوه. له دې سره د مسئولیتونو میدان هم معلوم شو؛ یعنی د هېواد د ټولو اجتماعي، اقتصادي، مذهبي، عرفاني او نورو چارو د اجراء لپاره مسئولې اداري او کسان وټاکل شول.

پاچا د دولت د ستر مشر په حیث د درې گونو قواوو رئیس او له مسؤلیت نه خلاص وگڼل شو. له (۱۳۰۹ ل) څخه تر اوسه پورې ځینې نورې مادې هم د وخت او ضرورت په تقاضا قانون پورې اضافه شوې دي؛ نو دا اضافات او د جامعې حتمي انتقال، را ښیي چې قانون مکمل نه دی او ترمیماتو ته اړتیا لري. د دولت د مختلفو ساحو لپاره ډېرې نورې اصولنامې هم ووتلې او اوس د ښایسته زیاتو دولتي امورو له پاره اصولنامې پرتې دي چې لارښوونې یکې ښکاره او واضحې دي.

په ادبي او لیکوالي میدان کې هم د استقلال اثرات پوره واضح دي. تر استقلال د مخه په استعماري دوران کې لکه څنگه چې د استعمار فلسفه ده، د انساني مافي الضمیر او مافي الدماغ د افادې له پاره امکانات ډېر لږ او حتی هېڅ نه و. له دې کبله دې ته متوجه نه و چې موسیقي، هنر، ښکلې صنایع، لیکوالي، نقاشي، رسامي او داسې نور وده وکړي او په دې فنونو کې پیاوړي اشخاص پیدا او پاخه فکرونه تعمیم شي. د افکارو د تلقین وسایل محدود او هغه هم محصور و. سره له دې په دې سبب چې د استعمار په ضد افکارو به ارو مرو لار پیدا کوله او په مختلفو شکلونو به یې ځان ښوده؛ له دې کبله داسې ډېر ملي ادیبان، لیکوالان، او شاعران خصوصاً په کلیو او بانډو کې پیدا شوي او د استعمار یعنې انگریزانو په ضد یې اشعار ویلې او احساسات یې څرگند کړي دي. په دې برخه کې ډېر لوی شخصیت محمود طرزی و چې د استعمار په ضد د یوه فکري نهضت مشر بلل کېده، له همدې کبله د ده افکار او نظریات چې زیاتره یې په سراج الاخبار کې خپرېدل، د استقلال په تحریک کې اغیزناک شول. تر استقلال وروسته هم دا خیر روان و. که څه هم انگریزان مجبور شول افغانستان پرېږدي او هند ته په شا شي؛ مگر دا ځل یې دسیسې او فتنې جوړې کړې، جاسوسان یې په اشنا جامو او محترمو شکلونو کې راواستول او په نتیجه کې یې زموږ په ملک کې لویه غوغا جوړه کړه. د غوغا له چوپولو نه وورسته اعلیحضرت محمد نادر خان په دې فکر کې شو چې ملي او

ادبي ټولنې جوړې او په هغو کې فاضلان او لیکوالان ټول کړي. همدغه و چې په کابل په کال (۱۳۱۰ ل) کې د ادبي انجمن او په کندهار کې یو کال وروسته د پښتو انجمن په نامه دوه ادبي ټولنې جوړې شوې او د دې ټولنو وظیفه دا شوه چې د علم او فلسفې سره خلک آشنا کړي او ملي کلتور د علم په رڼا کې وپالي. د لومړي انجمن نشراتي اورګان د کابل مجله شوه چې تر اوسه یې په دې باب کې خپل هېوادوالو ته د یاد وړ خدمتونه کړي دي.

په کال (۱۳٦۱ ل) کې دواړه ټولنې سره یو شوې او د زیات فعالیت په انتظار پښتو ټولنه ورنه جوړه شوه. دا ټولنه په دې لاندې وظیفو ماموره شوه.

۱. د افغانستان د تاریخ تدوین او د افغانستان په تاریخي ځرنګوالي له هر پلوه پوره پوره رڼا اچول.
۲. ژبې او ادب ته تحول او ترقي ورکول، ملي آثار «فولکلور» د وطن له هره ګوټه را ټولول او نشرول.
۳. د یوې عصري او علمي ژبې په حیث د پښتو ژبې د را ژوندي کولو او تدوینولو کار.
۴. د کابل مجلې او کالنۍ او نورو وطني جریدو په واسطه ادب او ژبې ته ترقي ورکول او جهان ته په یو ابرومند صورت د افغانستان معرفي کول.[۳۵]

پښتو ټولنې د وظیفې د تر سره رسولو په منظور سربېره پردې چې د خپل اورګان یعنې کابل مجلې په صفحو کې په فلسفي، اجتماعي، علمي، تاریخي، ادبي، ژبنۍ، هنري او داسې نورو ساحو کې د لیکوالو څېړنې او تحقیقات لوستونکو ته وړاندې کړي دي، تر اوسه پورې نژدې یو نیم سل جلده کتابونه هم په پورته موضوعاتو کې په پښتو ژبه خپاره کړي دي. همداسې نورو علمي، تاریخي او مطبوعاتي ټولنو او موسسو هم په خپل وار سره د فکري سویې د لوړولو په منظور خپرونې کړې دي.

خبره چې لنډه کړو د دغه دوه څلوېښت ګونو کلونو په منځ کې چې د خپلواکۍ بېرته ګټلو کال (۱۹۱۹ م) یې سره بېلوي د ژوندانه په ټولو اړخونو کې ښکاره توپیر راغلی دی؛ یعنې واکمنه دوره یې استعماري نه منونکې، وړاندې تللې او روښانه ده. سربېره پر دې د ویلو ډېر نور څه هم ددې دورې په طول کې پیدا شوي چې د مجلې په وړو صفحو کې اوس نه ځاییږي او له دې کبله د جشن د خوشیو ورځو په مناسبت په ډېر تنګ وخت کې یو څه ولیکل شول.

---

۳۵. پښتو کتابونه، ۱۴ مخ.

کابل مجله، یودېرشم کال، ۱۳۴۰ ل، پینځمه ګڼه، ۱ او ۱۱ مخونه.

# د استعمار حقیقت

د روانې نوې میاشتې په لومړۍ ورځ افغانستان د خپل ملي استقلال درناوی کوي چې ۴۳ کاله د مخه په (۱۹۱۹ م، ۱۲۹۸ ل) کې یې د جوزا په شپږمه د غاصب د استعمار له منګولو نه بېرته راخپل کړی و، په دغومره کلونو کې د دغې لویې ورځې په مبارک تقریب د سنبلې په لومړۍ هفته کې په ټول هېواد کې جشنونه وي او ښادۍ-خوښۍ روانې وي، مجلې، ورځپاڼې او ټولې خپرونې د هغو مېړنیو او قهرمانانو او د هغو د تاریخي کارنامو یادونه کوي؛ په کومو چې د ګران افغانستان سپېځلې ازادي ترسره شوې، داسې هم د خپلواکۍ هغه ښېګڼې بیانوي چې د هغو په برکت د وطنوالو د ژوندانه په ټولو اړخونو اقتصادي، عرفاني، اجتماعي، سیاسي... کې ښکاره او بېجوړې پرمختګ شوی او افغانستان د هغو وختو له بیرته پاتېتوب نه دغه اوسني پرمختللي حال ته رارسېدلی دی.

کابل مجلې په دې برخه کې په خپل حد و سویه تر اوسه ډېرې خپرونې کړې او په تېرو (۴۶۳، ۴۷۸ او ۴۹۰) ګڼو کې یې د (زموږ ملي ښادي، افغانستان او استقلال او ولسي ښادي) تر عنوانو لاندې په ملي ژوندانه کې د استقلال مثبت تأثیرات واضح کړي دي.

دا ځل دا ښه وبرېښېده چې د استقلال د عظمت د لارې روښانه ښوولو په مقصد په خپله د استعمار په باب آفاقي لیکنه وشي؛ یعنې چې د استعمار یا د استقلال د سلب کوونکي څنګه والی او خصوصیت واضحه شي، داسې لیکنه خو موږ ته اوس ځکه ضروري ده چې استعمار سربېره

پردې چې د ملتونو د پرمختګ مانع او د بین المللي سولې او انساني تفاهم لوی مخرب دی؛ د افغانستان یوه پخوانۍ برخه؛ یعنې پښتونستان لا اوس هم مستعمره ده او د پاکستان استعمار د جهاني استعمار په ډاډ هغه په همدغه حال ساتل غواړي او د دغه منظور لپاره د پښتونستان مشران، لیکوال او ټول هغه مبارزین چې د خپلې ازادۍ او حقه حقوقو د تأمین لپاره فعالیت کوي؛ بندیانوي او د زندانو په تورو تیارو کې هر ډول ظلم او زور پرې چلوي؛ سربېره پر دې پاکستاني عمال نه یوازې شخصاً هغو ته سختې جزاوې ورکوي؛ بلکې د هغوی د جایدادونو او شتو په ضبطولو د دوی نورو منسوبینو او نږدې خپلوانو ته جزاوې ورکوي، دا د لومړنیو پېړیو هغه درنې او بېرحمانه جزاوې دي چې د پاکستان واکمن یې آن په شلمه پېړۍ کې په پښتونستانیو روا بولي؛ دا ټول نه یوازې د افغانستان د سختې اندېښنې سبب ګرځي او د سلف ډیټرمنیشن حق په دغې شلمه پېړۍ کې په هغه وخت کې چې لا یونو په همدغه اساس جوړه ده او کار کوي، له پښتونستانیو نه سلبوي؛ بلکې بین المللي سوله هم یقیناً په خطر کې اچوي؛ نو د پښتونستان مسئله چې د افغانستان لپاره یوه حیاتي موضوع ده؛ د استعمار میراث او د استعمار له لاسه ده.

ما دا لیکنه په همدغه منظور وکړه، هیله ده چې په دغې لیکنې سره به د استعمار اصلي بڼه او ماهیت واضح شي او ګران لوستونکي به یې له پخوا نه نور هم ښه وپېژني.

## مقدمه

په دې وروستیو کلونو کې د استعمار کلمه یو ځای بل ځای ډېره اورېدل کېږي، اسیایي او افریقایي ولسونه خو یې تر هر چا ښه پېژني؛ ځکه چې استعمار د ژوندانه په ټولو برخو کې په دوی غلبه لرلې وه او په ځینو لا اوس هم مسلط دی، بعضې ولسونه همدا اوس هم ورسره لاس په گرېوان دي او ډېر نور یې لا له بقایاو نه سر ټکوي او له هغه نه د پوره خلاصون لپاره په یو راز بل راز مبارزو بوخت دي. دا چې استعمار خاص د یوه ولس مسئله نه ده؛ بلکې یوه بین المللي حادثه ده، له همدغه حقیقت نه پوره څرگندېدای شي.

## د استعمار کلمه

استعمار د کولونې (مستعمره) له کلمې نه راوتې ده، کولونې د لاتیني (کولونیا) نه مشتقه ده، د وروستۍ معنا د خلکو هغه برخه کېږي چې له یوه ملک نه بل ملک ته تللې وي او هجرت یې کړی وي او یا به د ځایي (بومي) خلکو په مینځ کې مېشته وي او ژوند به کوي. په سیاسي لحاظ کولوني دوه مفهومه لري:
لومړی: هغه ډله خلک؛ یا اتباع چې له خپل اصلي هېواد نه په جغرافیایي لحاظ بېل شوې وي او له حدودو نه یې دباندې ژوند کوي.
دویم: هغه سیمه ییز واحد دی چې په جغرافیوي لحاظ؛ یعنې په خاوره کې له اصلي او مورني دولت نه بېل وي؛ سره له دې هم له هغه سره یو راز بل راز اړیکې لري.

## استعماري سیستم

استعماري سیستم یا طرز بیا د استعمار او کولوني د متقابلو اړیکو او روابطو مجموعه ده؛ په بل عبارت:
استعماري سیستم هغه ترتیب ته وایه شي چې اصلي او مورنی هېواد به زیار باسي چې کولوني په تجارتي او اقتصادي لحاظ په ځان پورې وتړي، مستعمره به په اصلي هېواد دومره تړلې وي چې که نور یې د لاندې کولو په تکل شي؛ هغه به وردانگې او متجاوز به تري شړي.
کولوني په پخوا وختو کې په همدغه ډول مینځ ته راغلې؛ خو د تاریخ په جریان کې په خپل اصلي حال پاتې نه شوې او وسعت یې وموند؛ یعنې چې د ځایي (بومي) خلکو شاوخوا سیمې یې ونیولې او خپلې سیمې یې ورو-ورو پراخې کړې، بومیان یې لاندې کړل او د هغو تړلې شمتنۍ یې د ځان کړې.

## استعمار د تاریخ په جریان کې

استعمار اصلاً طبیعي شی نه دی؛ بلکې د افاقي، اجتماعي او اقتصادي شرایطو مولود دی، هغه وخت چې یوه ډله په نورو امتیاز پیدا کوي او په یوه دلیل او بل دلیل ترې لوړېږي؛ زیار باسي چې په کم کار سره ښه ژوند وکړي او سیادت او باداري هم ولري، دا فکر ورله پیدا شي چې راځه د خپل مقام د دایمي استحکام لپاره په یوه او بل نامه ډسپلینونه وباسه او لاندنۍ ډله یې منلو ته اړه کړه.
ډېر پوهان په دې عقیده دي چې لومړنیو ټولنو کې تفوق او امتیاز نه و، استعمار هم چې د تفوق منطقي مولود دی؛ هغه وخت درک نه لاره؛ یعنې څنګه چې بېرونیو شرایطو کې د استعمار د وجود لپاره لاره خلاصه نه وه؛ ځکه نو د استعمار مفهوم د بشر په ذهن کې تشکل نه و کړی او لفظ یې هم لا درک و؛ خو د بېرونیو شرایطو په اوښتو سره څه وخت چې د کار وېش مینځ ته راغی او ورسره د (زما) او (ستا) خبرې شروع شوې؛ یوه ډله په بلې له پاسه شوه او حاکمیت او محکومیت پیدا شو؛ د نورو ځیزونو په ډله کې استعمار هم تشکل وکړ او د ژوند په ځینو خواوو کې ننوت، تر دې چې وروسته یې ټولې خواوې ور اشغال کړې؛ اوس نو استعمار د ژوند میدان ته رسماً ننوت او په جنګ جګړو یې پیل وکړ او د بشر تاریخ د همدغسې جنګ جګړو میدان شو.
دا حادثه په فنیقیانو، مصریانو، کلدانیانو، آریایانو او وروسته کلونو کې په یونانیانو کې پوره ښکاره ده؛ سربېره پر دې چې د دوی د نورو ولسونو په هېوادو هم ودانګل، دا وخت نو د تاریخ لومړۍ پېړۍ چې د غلامانو دوره هم ورته وایي؛ د باندني استعمار حادثه په فنیقیانو کې پوره واضحه ده، د دوی ځینې خلک د مدیترانې د بحیرې په غاړه کې مېشته شول؛ څرنګه چې دوی تجارتي خلک هم وو او د دغه منظور لپاره یې کښتۍ هم په کار اچولې وې؛ ځکه یې د دغه بحر په څنډو کې ورې ټولنې جوړې کړې او د شاوخوا ملکو په استثمار یې شروع وکړه؛ وروسته بیا د کریت د خلکو او یونانیانو وار شو، هغه وخت چې یونانیان د قوت لوړ پوړ ته وختل او په سیاسي او اقتصادي لحاظ له ګاونډیو هېوادو نه ډېر دمخه او پیاوړي شول، د دوی ډېرې ډلې او برخې بیا د مدیترانې په ټولو څنډو کې مېشته وې، د دوی کولوني له هر بل چا نه په شمېر کې زیاتې شوې، د ایجن شاوخوا ټول ټاپوګان یې نیولي وو، د ترکیې زیات غربي ساحلونه له دوی نه ډک وو، د ایټالې، فرانسې، شمالي افریقې غاړې یې آن د هسپانیې تر کادز پورې لاندې کړې وې، د اصلي یونان صناعتي محصولات به یې په سوداګرۍ سره په مجاورو ولسونو خرڅول او په عوض کې یې له هغوی هغه اومه مواد په ډېره ارزانه پلورل، داسې یې هم ډېر غیر یوناني خلک په جنګونو کې ونیول او په خپلو کښتونو او کارخانو کې یې ترې کار اخیست،

دغسې کارګر له بومي کارګرو سره د دوی غلامان وو چې په هېڅ راز انساني حقوقو ورته قایل نه وو، د نورو هېوادو خلک به یې خپل غلامان کړل او په کښت و کار کې به یې ترې کار اخیست، په ټولو منځنیو پېړیو کې د غلامۍ او استعمار شکل واوښت، هغه پوره غلامي لاړه، په ځای یې نیمه غلامي راغله؛ داسې چې غلام به د لومړنیو کلونو په څېر له ځمکې سره یوځای تړلی نه وو؛ بله لویه خبره دا ده چې ایلخانې او خانخاني شوه، مرکزیت او امپراتوریت کمزوری شو او په ځای یې محلیت او امارت قوت ومونډ، په ټوله اروپا کې تیاره خپره شوه او ځانځاني راغله، ښاري ژوند سقوط وکړ، د پخو او کلکو کلاوو دوران شو، دې حال تر هغو دوام لاره چې تر څو باروت او کاغذ جوړ شو او د کښتۍ بادبان مینځ ته راغی چې د هغه په نتیجه کې د لرې ځایونو بحري مساپرتونه کامیاب شول، پخې کلاوې په باروت والوزول شوې او بحري مساپرتو سره نوې مفکورې کشف شوې، د عصري استعماري سیستم انکشاف له هغو کلونو نه وروسته پسې شروع شو؛ په کومو کې چې د اروپا غربي هېوادونه په نوو ځمکو پسې ملا وتړله او له پینځلسمې پېړۍ نه یې د اتلسمې پېړۍ تر پایه پورې نوي هېوادونه کشف کړل؛ یا یې له صناعتي انقلاب نه وروسته څه وخت چې دوی په اقتصادي لحاظ پیاوړي شول؛ نور هېوادونه یې ورو-ورو لاندې کړل او په دې ډول دغو هېوادو ته یې د خپلو خلکو د ورتګ لار خلاصه کړه، له یو خوا په نوو کشف شوو او لاندې شوو هېوادو کې اروپایان مېشته شول او له بلې خوا د دغو سیمو ډېر قېمتي فلزات؛ لکه مس، طلا، نقره او داسې اروپایي استعماري هېوادو ته یوړل شول، د امریکا هېوادو مخصوصاً اتازوني او مکسیکو کې طلا باب زښته زیات وو، د اروپا په بازارو او بانکو کې طلا او نقرې کوټې او خرې شوې، مرکانټلزم د یوه تجارتي او اقتصادي طرز په شان وده او تشکل وکړ، هسپانیه، پرتګال، هالینډ، فرانسه، برتانیه، بلجیم او داسې نور په ترتیب سره استعماري هېوادونه شول، دا وخت د اسیا، امریکا، اسټرالیا او افریقا زیاتره هېوادونه د دوی مستعمرات شول او یو په بل پسې یې په یوه او بل نامه لاندې کړه. د برتانې امپراتورۍ تر ټولو پراخه شوه، د دنیا په څلورمې برخې د هغې خېټه پلنه وه؛ داسې چې وویل شول: «د برتانې په امپراتورۍ څلورویشت ساعته لمر ځلېږي».

د نوو اکتشافاتو، اختراعاتو او متصرفاتو په وجه استعمار او مستعمره په لومړني شکل پاتې نه شو؛ بلکې ښایسته زیات تغیر یې وکړ؛ ځکه چې هېڅ مفهوم تل په خپل اصلي حال نه پاتې کېږي او د زمانې په اوښتو سره یو راز اوړي رااوړي، د کولوني یا مستعمرې مفهوم هم تغیر وخوړ؛ داسې چې نن ورځ په تغیر سره هغو سیمو؛ یا هېوادو ته راجع کېږي چې تر اوسه لا د سلف ډیټرمنیشن حق؛ یعنې د خپل سرنوشت د ټاکلو له حق نه محروم وي او د بل هېواد تر سیاسي سلطې لاندې وي.

## د استعمار اجتماعي څېره

د استعمار د دوام او مستعمرو د مؤثر استثمار لپاره لاندې شوې او نیول شوې سیمې په خپل حال پاتې نه شوې چې بس استعمار به یوځل ترې شوکه کړې وي او بیا به بېرته خپل اصلي ملک ته ستون شوی وي؛ لوی مقصد دا شو چې یو څه یې مستعمرو ته لاړ شي او هلته مېشته وي چې دوی وکړای شي د تل لپاره شکاونه وکړي او په دې ډول د مستعمرو ښې او غنې سیمې بالکل خپلې کړي او ځایي وګړي یې یا خو ترې وشړي او یا یې په مختلفو لارو او وسیلو تر فشار لاندې راولي او اقلیت ترې جوړ کړي او په خپله اکثریت شي. ننني اتازوني، کاناډا، اسټرالیا، نیوزیلینډ او داسې نور هغه هېوادونه دي چې زیاتره وګړي یې اروپاي مهاجر دي، دوی په هغو شپو ورځو کې دغو هېوادو ته مخه وکړه چې په خپله په اروپا کې کلیسا د زور او بند بازار تود کړی و او د مذهب په نامه یې په خلکو رنګ-رنګ فشارونه راوستل، د مهاجرو او ځایي خلکو تر مینځ دایمي او پرله پسې اخ و ډب روان شو چې په دغو یادو شویو هېوادو کې، ځایي خلک په پای کې لاندې شول او سلطه او قدرت د مهاجرو لاس ته ورغله، ځایي خلک د جنګ، جګړو، افتونو، مصیبتونو او ناروغیو له کبله یا خو لږ شول او یا پرار شول او یا مطیع وګرځېدل.

په هر حال، د دوی آینده خرابه شوه او له هر راز مدني او انساني حقوقو نه محروم شول او لکه غلامان داسې شول، حکومتونه او تشکیلات او هر راز دولتي شئون د مهاجرو په برخه شو، دوی د څه مودې لپاره د اصلي هېوادو تابع؛ خو وروسته یې د مطاوعت کړۍ ماته کړه او ازاد شول؛ لکه اتازوني، کاناډا، اسټرالیا...او داسې نور.
طبعاً ټول مستعمرات دغه شان نه وو، په پاتو مستعمرو کې یا خو اقلیم ډېر شدید او سخت وو او یا خو یې بومي خلک ډېر وو او یا د سترو مدنیتونو خاوندان وو چې د دوی ورکاوی استعماریونو ته ممکن نه وو؛ لکه هند، چین، برما، افغانستان، اندونیزیا او داسې ډېر نور....
څنګه چې د دوی هضم او ورک کول غیر ممکن وو؛ استعمار دا لازمه وبلله چې په خپله د تل لپاره پکې مېشته نه وي؛ بلکې تر څو یې توان وي؛ حکومت پرې وکړي او په اقتصادي لحاظ یې وزبېښي او خپل کولتور او تمدن پرې ومني؛ مګر ځینې داسې نور هېوادونه ول چې د دوی په اصطلاح وحشي او بربري وو، له بلې خوا یې طبیعي شتمنۍ په حساب نه راتلې او ډېرې وې، په دغو هېوادو کې هم ځینې ملکونه د اب او هوا او پیداوارو له مخې په زړه پورې او دوی ته د اوسېدو و؛ لکه د مدیترانې غاړې، الجزایر، جنوبي افریقا او داسې نور.

دوی دغـو سیمو تـه پـه زیـات شـمېر مخـه وکړه، فرانسـویان پـه الجزایـر او انگلیسـیان پـه جنـوبي افریقـا کـې مېشته شـول، د افریقـا نـور ملکونـه بیـا داسـې نـه وو؛ څرنگـه چـې د اسـتوا خـط پـه شـاوخوا کـې پراتـه وو، سـخت او گـرم اقلیـم یـې لاره او دوی تـه پـه زړه پـورې نـه وو؛ نـو دوی پـه زیـات شـمېر هلتـه نـه لاړل، یواځـې هغـه ځایونـه چـې ښـه وو؛ دوی ونیـول او بومـي خلـک یـې تـرې وشـړل، پـه دې ډول اروپایـان لـږ او ډېـر پـه مسـتعمرو کـې خپاره شـول، سره لـه دې هـم دوی پـه دغـو سیمو کـې پـه اقلیـت کـې وو او هېڅکلـه اکثریت شـوي نـه وو؛ خـو بیا هـم وینـو چـې اسـتعمار الجزایـر، نیوگینـي او تـر پرونـه پـورې کانگـو گویـا د خپـل اصلـي هېـواد نـه بېلېدونکـې برخـې اعلانـوي او یـا لکـه پـه سـهیلي افریقـا کـې کـه څـه هـم هغـه هېـواد ازادي خپلـه کـړې؛ خـو مـدني او سیاسي حقـوق یواځـې د اروپایـي مهاجـرو بـولي او نـور تـرې محـروم شـمېري او یـا لکـه پـه اتـازوني کـې چـې هغـه بـل کال تـور پوسـتو تـه پـه قانـون کـې پـه مـدني او سیاسي حقوقـو قایـل شـول؛ مگـر پـه عمـل کـې لا تـور پوسـتکي تـر اوسـه هـم محکـوم دي؛ نـو وینـو چـې پـه هـره مسـتعمره کـې پـه لومړي نظـر دوه ډلـې یـا اتبـاع ښـکاري:

۱. لومړۍ ډله د اصلي او استعماري هېواد خلک دي.

۲. دویمه ډله ځایي او بومي خلک دي.

لومړۍ ډلـه پـه مطلـق اقلیـت او وروسـتني پـه مطلـق اکثریـت کـې ده؛ مگـر مـدني او سیاسي حقـوق د همدغـه اقلیـت پـه برخـه وي او گـڼ اکثریـت یـا ځایـي خلـک تـرې محـروم وي؛ البتـه چـې د گـڼ اکثریـت حـال یـو راز نـه دی، پـه دوی کـې هـم توپیـر ډېـر دی، لوی-لـوی زمینـداران او سـوداگر او ځینـې نـور نظامـي منصبـداران پـه دوی کـې لـوړ دي، دوی پـه یـوه او بـل نامـه لـه اسـتعماریونو سره یـو دي او لـه هغـو سره جـوړه لـري؛ دا ځکـه چـې دوی تـه اسـتعمار شاباسـی وایـي او اسـتعمار زیـار بـاسي چـې د دوی لـه لارې چـې څـه غـواړي؛ هغـه پـه ولـس او وگـړو عملـي کـړي، دوی تـر هغـو اسـتعمار تـه نـژدې وي او پـه معتمدینـو کـې یـې راځـي چـې د هغـه پـه پلـه روان وي، کـه څـه هـم د مسـتعمرو اشـکال یـو راز نـه دی او یـو تـر بلـه ښـکاره توپیـر لـري؛ لکـه پـه خپلـه کولـوني تـر سـاتنې لانـدې سیمه (عـدن) تـر قیمومیـت لانـدې هېـواد (رونـدا او رونـدی)؛ مگـر پـه ټولـو کـې دا حقیقـت مشـترک دی چـې دولتـي واکمنـي او اقتـدار پـه واقعـي صـورت د اسـتعمار او یـا د هغـوی د ایجنټانـو پـه لاس وي.

اسـتعمار د همدغـه دولتـي قـدرت پـه برکـت لښـکرې سـاتي او پولیسي قـوت لـري، دولتـي ادارې پـه هـر نامـه او هـر څومـره چـې وي؛ عسـکري طاقـت نـه سرغړولـی نـه شي، د همدغـه قـوت پـه برکـت ټـول ولسي اعـمال او ملـي نهضتونـه د امـن او عـدل برقـرارۍ پـه نامـه شـنډوي، څـوک وژني او پـه دار یـې ځـړوي، څـوک کارگـري کمپـو تـه لېـږدوي او څـوک لـه یـوه ځـای نـه بـل ځـای تـه پـراروي، پـه ټولـو مسـتعمرو کـې بـشري مناسـبات یـا پـه خـاص ډول د ځایـي خلکـو

(تـور پوسـتو) او اصـلي هېـواد خلکو(سـپین پوسـتو)؛ یعنـې اروپـاي الاصلـه خلکـو تـر مینـځ ذات البینـي مناسبات پـه دغـې زړې عقیـدې اېښـود شـوي وي چـې انسـان پـه طبیعـت کـې مسـاوي نـه دی، سـپین پوسـتی؛ یعنـې زېړپوسـتی او تورپوسـتی بېرتـه پاتـې او نامنکشـف، دوی پـه اصـل او ماهیـت کـې ټیـټ او نامسـتعد دي؛ بنـا پـر دې عقیـدې د ژوندانـه پـه ټولـو اړخونـو، سیاسي، مـدني او کولتـوري سـاحو کـې د رنـګ، نسـل او نـژاد پـه نامـه توپیر ښکاره وي، سـپین پوسـتی حـق لـري چـې پـه انتخاباتـو کـې ګـډون وکـړي، دولتـي ادارو لپـاره انتخـاب وکـړي او یـا خـو پـه خپلـه انتخـاب شي، پـه ښـوونځیو کـې درس ووایـي او لـوړ تحصیـلات وکـړي، کـه چېرتـه کار کـوي؛ لـه ځایـي خلکـو نـه پـه کراتـو زیـات معـاش واخـلي.
بومـي خلـک نـه دا چـې پـه خپـل ابایـي او اصـلي هېـواد کـې هېـڅ راز امتیـاز نـه لـري؛ بلکـې دوی لـه ټولـو مـدني حقوقـو نـه محـروم دي، مجبـور دي چـې ډېـر کار وکـړي او لـږه وخوري او د بخورنمیر پـه حـال کـې شـپې ورځـې تېـرې کـړي او هېـڅ و نـه وایـي او قانـع هـم اوسي.
پـه دغـو نـږدې کلونـو کـې اسـتعمار د مـلي ازادۍ خواهـۍ او جهـاني ذهنیـت لـه پرلـه پسـې مبـارزو او نـارو مجبـور شـول چـې تـر خپـل لاس لانـدې افریقایـي مسـتعمرو کـې نـوي ترتیبـات ونیسـي او د اصلاحاتـو نـوم پـرې کېـږدي او یـا دا چـې مشـتورتي کومېټـې راوباسي او اټانومـي او نیمـه اټانومـي نومونـه ورتـه وضـع کـړي، دوی د دې پرځـای چـې مسـتعمرو تـه پـوره ازادي ورکـړي؛ وایـي چـې دوی لا واکمـن کېـدو تـه تیـار شـوي نـه دي او دا اصلاحـات د واکمـن کېـدو مقدمـات دي؛ مګـر حقیقـت دا دی چـې دغـه اصلاحـات د نـوو شرایطـو پـه بنـا تعدیـل شـوی اسـتعمار دی او بـس، یـا پـه بـل عبـارت، دغـه اصلاحـات یواځـې د اسـتعماري سـاختمان د پورتنـي شـکل تغیر او تعدیـل دی او اسـتعماري بنسـټ همغسـې پـه ځـای او ټینـګ دی.
پـه فرانسـوي جامعـه کـې د افریقایـي نـوو ازادشـوو هېـوادو حـال هـم لـه دې نـه څـه توپیر نـه لـري؛ ځکـه چـې د جامعـې اصـلي او مرکـزي غـړي (فرانسـه) د دغـو هېـوادو زیاتـره لوی-لـوی مسـایل؛ لکـه دفـاع، بودجـه، اسـعاري سیسـټم، اقتصـاد، معـارف، مخابـرات او داسـې نـور پـه خپلـه کـوي او یواځـې هغـه مسـایل چـې ثانـوي اهمیـت لـري؛ د محـلي حکومتـو لـه خـوا اجـرا کېـږي.

## د استعمار اقتصادي څېره

پـه مسـتعمرو کـې د سـیاسي او اجتماعـي واکمنـۍ انحصـار د اسـتعمار لپـاره اسـاسي غایـه نـه ده، اسـتعمار دا ټـول د دې لپـاره کـوي چـې اقتصـادي اسـتعمار پـه بیـړه او اسـانه وکـړي او چـې څومـره کېـدای شي؛ هغومـره مسـتعمرې وزبېښـي او شـتمني تـرې وبـاسي او اصـلي هېـواد تـه یـې نقـل کـړي.

د همدغو شتمنیو په سر په لومړي سر کې د استعماریونو تر مینځ سیالي پیدا شوې؛ ان تر دې چې سیالي او رقابتونه یې په اخ وډب واوښتل او یو لړ جنگونه یې پرې وکړل، د همدغو شخړو او لښکر جنگونو له امله ډېر ځله مستعمرې او لاس لاندې تصرفات له یوه نه بل ته لاړل؛ خو وروسته د دوی تر مینځ یوه روغه وشوه، قرارداد یې سره وکړ چې یو به د بل په مستعمرو نه وردانگي، هر یو په دې پسې شو چې اخ وډب به بس کوي او اعظمي استفادې ته به ملا تړي؛ یواځې په دویم جهاني جنگ کې وو چې نازي جرمنیانو مستعمرو نیولو ته هڅه وکړه؛ خو نتیجه یې دا شوه چې اخر په خپله جرمن وویشل شو او تر اوسه دوه جرمنه دی.
دا فکر په ټولو خلکو کې قوت لري چې د اروپا غربي هېوادونه بې له مستعمرو او بازار لرلو نه په دغه اوسني حال نه شي پاتې کېدای، د دوی سویه دومره اوچته ده او دوی دومره زیات مصرف کوي چې خپل داخلي زراعتي محصولات یې بس نه دي؛ باید له نورو ملکو نه یې وارد کړي؛ له بلې خوا دا مجبوریت یې زور دی چې د فابریکو او کارخانو مصنوعات په خارج کې خرڅ کړي او اومه مواد هم له باندې نه ور تهیه کړي، په مستعمرو کې دا کار ډېر ښه عملي کېږي، زراعتي او اومه مواد یې په ارزانه بیه اخلي؛ مگر مصنوع مواد بیا په ډېره لوړه بیه پرې خرڅوي، دا کار دوی تر اوسه ډېر ښه وکړ.
ډېر کسان په دې عقیده دي چې که لوېدیځې اروپا نه مستعمرې لاړلې او خارجي بازارونه د دوی د مصنوعاتو په مخ بند شول او په عوض یې د مستعمرو او بېرته پاتې هېوادو ملي اقتصاد قوت وموند، د دوی اوسنی اقتصادي سیستم او طرز ته به لوی خطر وي؛ داسې چې نور به نو دوام و نه کړي، بل څه به ترې راووځي او یا به همېشنۍ مظاهرې او اعتصابونه وي او کارگر به درانه مالیات او ټاکسونه نه مني او د زیات اجرت تقاضا به لري.
د مستعمرو اقتصاد زراعتي دی؛ یعنې دوی هر راز زراعتي محصولات لري، له بلې خوا معدني او طبیعي پیداوار یې بېحسابه دي، بل یې انساني قوت ډېر ارزانه دی، استعمار هم همدغو درېو ټکو ته ښه متوجه دی:

۱. ځمکه
۲. معدن
۳. او بشري قوت

له دغو نه د مؤثرې استفادې په غرض استعمار کوښښ کوي، چې د مستعمرو د اقتصاد سیاسي اړخونه محدودو ډلو پورې انحصار کړي او د محلي خلکو له سلطې او قدرت نه یې خارج کړي؛ مثلاً په افریقا او مخصوصاً کانگو کې پخوا تر دې چې استعمار هلته لاړ شي؛ ځمکې د ټولو وې، په گډه به یې کرلې او رېبلې او په دې ډول به یې پرې ژوند کاوه؛

خو چې استعمار ورننوت؛ دغسې ځمکې یې د بلجیم د تاج مال وبللې او د نورو لاس یې ترې لنډ کړ، داسې یې هم هغه وسیعې ځمکې چې د کانونو په شاوخوا کې وې؛ بلجیمي شرکتونو ته په امتیاز ورکړې او نور یې ترې وشړل، مستعمرو ته د اروپایانو له ورتګ نه وروسته کلیسا هم مخه وکړه، د وعظ لپاره یې یو ځای بل ځای ډېرې ودانۍ وکړې او د شاوخوا ځمکې یې خپلې کړې؛ داسې هم هغه اروپایان چې په ودانو سیمو کې مېشته شول؛ په یوه او بل نامه یې له خلکو نه ځمکې ونیولې.

په بل عبارت، د افریقا په هغه هېواد کې چې هوا او اقلیم ښه او په زړه پورې وو؛ اروپایان واوسېدل، د هغو ځایو ځمکې له بومي خلکو نه ضبطې شوې، اروپایانو او کمپنیو ته تخصیص شوې او بومي خلک ګڼو؛ مګر بېکاره وو سیمو ته ولېږدول شول او په دې ډول د افریقې په زړه کې اروپایي ټولنې جوړې شوې.

د افریقا په ځینو برخو کې ډېرې ولسي ځمکې د استعماري هېواد ملکیت اعلام شوې، د دغو ځمکو د اداري او تنظیم کار قامي مشرانو او هغو خانانو او لویانو ته وسپارل شو چې لویه تکیه یې په استعمار وه، دوی تر هغو د دغو ځمکو اداره لرلای شي چې استعماري ترې خوښ وي، په هغه ورځ چې رضایت او اعتماد یې ترې سلب شو؛ بیا نو دوی نور د ځمکې اداره چیان نه دي.

داسې هم ډېر شوي چې ټوټه-ټوټه ځمکې د څه وخت لپاره په بزګرو ووېشي او په بدل کې یې هر ډنګه کار او بېګار او خدمت چې وي؛ په هغو وکړې؛ حتی ویې وهې او مړه یې هم کړې، د دغو اداري لویانو یو مهم کار دا دی چې له دغسې بزګرو نه مالیې ټولې کړي او حکومت ته یې وسپاري.

په بل عبارت، حکومت دغسې قومي مشرانو ته د دې واک ورکوي، چې لاس لاندې بزګر او دهقانان چې ډنګه غواړي؛ هغسې پرې وکړي، بزګر د قام لویانو او لویان بیا حکومت ته د مالیو او کار وبېګار په باب سخت مسؤلیت لري، قومي لویان چې هر څه وغواړي؛ په دې برخه کې په بزګر وکولی شي.

په دې ټولو کې د امتیاز ورکولو مسئله مهمه وه، خارجي شرکتونو په ډېرو اسیایي او افریقایي هېوادو کې په لومړۍ یوه ټوټه ځمکه په امتیاز اخیسته، هغه به یې استعماري مرکز وو او له هغه ځایه به بیا رشوتونه، دسیسې او سل راز چلونه په ټولو هېوادو کې خپرېدل چې نتیجه به یې د دوی په قوت او ځایي وګړو په ضعف تمامه شوه.

په هند کې د ایسټ انډیا کمپنۍ چل او ول ټولو ته ښکاره دی؛ همدغه کمپني وه چې د ټول هند سیاسي او نظامي تسخیر لپاره یې لار خلاصه کړه او بیا هند خپل حاکمیت او سیاسي شخصیت بایلود، همدغه کانې په روډیشیا، بلجیم، کانګو، نایجریا، تقریباً په

انډونيزيا، عراق په نزدې ختيځ کې په عربستان، مصر او نورو وشوې؛ همدغه سبب دی چې څه وخت چې ولسي نهضت قوت موندلی؛ لومړی مقصد يې دا شوی چې د خارجي شرکت امتياز لغوه کړي، د ايران د تېلو مسئله د سويز کانال د امتياز الغا په همدغه حساب کې راځي.
استعمار په زراعت کې خلک دېته مجبوروي چې هغه شيان وکري، چې صناعتي مملکتو ته زيات پکار دي او کارخانې پرې چلوي؛ لکه پنبه، ربړ، جوټ، کافي، ککاو او داسې نور.
افريقا د طبيعي شتمنيو او کانو له حيثه ډېره غني ده، هر راز معدنيات پکې شته، لاندنۍ احصايه يې معدني شتمني داسې ثبتوي.

د نړۍ په معدني پيداوارو کې د افريقا برخه:
(۱۹۵٦ م، فيصدي)

| | |
|---|---|
| د مسو معدنيات | ۲۴,۴ |
| سرب | ۱۲,۷ |
| قلعي | ۱۵,۹ |
| رانجه | ۴,۷۷ |
| طلا | ٦۲,۸ |
| الماس | ۹٦,۳ |
| فاسفيټ | ۳۲,۳ [۳٦] |

مگر دا ټول معدنيات اروپايي او امريکايي شرکتونو ته په امتياز ورکړل شوي دي، انحصاري شرکتونه په ټول طاقت زيار باسي چې استخراج وکړي او د نړۍ بازارو ته يې وړاندې کړي او لويه گټه پرې وکړي، دغو شرکتونو د اومو موادو د خارجولو او د مصنوعي موادو د راوړلو لپاره ښاېسته ډېر د وړو راوړو لارې جوړې کړي هم دي، سړکونه، د اوسپنې لارې او بندرونه يې ودان کړي؛ خو دا ټول د خپلې اقتصادي گټې لپاره.
يو نفر فرانسوی محقق ښاغلی اياشي په خپل يوه کتاب کې داسې ليکي:
«هغه عصري بندرونه چې په استعماري دوران کې په مراکش کې جوړ شوي؛ له خارج نه د اموالو د واردولو او د محلي خامو موادو د صادرولو لپاره وو؛ داسې هم دا بندرونه د استعماري لښکرو د تگ راتگ لپاره جوړ شوي وو، د موټرو سرکونه د خارجيانو د عرادو

۳٦. د احصايې له انټرنېشل افبيرز، دويمه گڼه، ۱۹٦۰ نه اخيستل شوې ده.

لپاره وو چې اتیا فیصده جوړ وو، داسې هم په سلو کې اتیا برخې د اوسپنې لارې په هغو سیمو کې جوړې وې؛ چېرته چې د فاسفورایټ، اوسپنې، منګانیز او نورو فلزي موادو کانونه او داسې نور هغه محصولات وو چې اروپایي شرکتونو پورې یې اړه لرله، د برېښنا ۷۷ فیصده د خارجي کمپنیو کانو فابریکو او کارخانو ته تلې، په داسې حال کې چې د تولیدي ټولې برېښنا اتمه برخه به مراکشیانو مصرفوله، موږ پوهېږو چې مراکش نظر د افریقې نورو هېوادو ته په صناعتي لحاظ ډېر د مخه دی».
د دې ټولو خبرو نتیجه دا کېږي چې د مستعمرو له طبیعي منابعو نه اعظمي استفاده د استعمار اصلي هدف دی، د امریکې څینو کمپنیو د غربي اروپا په مستعمرو کې د (۱۹۴۷- ۱۹۵۴ م) کلو په مینځ کې په کال کې ۳۳ فیصده ګټه خپلو سهموالو ته ورکړه؛ په داسې حال کې چې په خپل ملک کې یې پکار اچول شوو پانګو ګټه په سلو کې له ۴، ۱۱ نه تر ٦، ۱۳ وه، داسې هم د بریتانیې (لوګانا) کمپنۍ په روډیشیا کې خپلو سهموالو ته په (۱۹۵۰- ۱۹۵۴ م) کلونو کې کال له (۲۰۰ نه تر ۲۵۰) فیصده ګټه ورکړه (اخستنه: له انټرنیشنل افیرز، دویمه ګڼه، ۱۹٦۰ م).
افریقا سربېره پر معدنیاتو نورې طبیعي منابع هم لري؛ خو څنګه چې په هغو کې استعماریونو ته دومره زیاته ګټه ممکن کېدای نه شي؛ څکه نو په هغو ساحو کې څه نه دي شوي او یا که شوي؛ ډېر لږ او یواځې هغومره چې د دوی ښه پرې کېږي؛ لکه برېښنا او که نه افریقا دا بې برېښنا د منابعو له کبله د لوي او اوږدو سیندو لرلو په وجه په ټوله نړۍ کې په درېیمه درجه کې راځي او د لمر د انرژۍ له پلوه بېجوړې ده.
د ګټې بله لاره پور ورکول او نظامي وسلې خرڅول دي؛ څکه هغه څه چې د هغو په بدل کې اخیستل کېږي؛ په کراتو له اصل قیمت نه زیات دی.
له مستعمرې نه اومه مواد او زراعتي محصولات د استعماري کمپنیو په کښتیو او وسایلو داخل او خارج ته وړل کېږي او څنګه چې تجارتي بېړۍ د اوسپنې لارې، الوتکې، بندرونه او داسې نور وسایل د کمپنیو په انحصار کې دي؛ څکه له دې لارې هم ډېره ګټه د استعمار په بانک کې ننوځي.
خبره چې لنډه کړو؛ د مستعمرو ټولې اقتصادي مهمې څانګې زیاتره د استعماري هېواد پانګور سوداګر وي، کله-کله بومي سوداګر هم ورسره شریک وي.
هو! انساني قوت پاتې شو؛ د بومي خلکو شمېر طبعاً زیات وي او څنګه چې د دوی د ژوند سویه ډېره ټیټه ده او بېکاري هم پکې زیاته ده؛ څکه نو د کار اجرت هم ډېر لږ ورته ورکول کېږي.
کانګو په افریقا کې نظر نورو هېوادو ته صناعتي دی؛ یعنې ډېرې کمپنۍ مخصوصاً د

کتانګا په معدني سیمه کې په کیندنو (استخراج) لګیا دي، دغه هېواد له یو میلیون نه زیات کارګر لري چې د ټول نفوس اته فیصده یې تشکیلوي، په کانګو کې پینځه انحصاري کمپنۍ کار کوي چې تقریباً نوي فیصده پانګه د دوی ده او دوی د کانګو واقعي واکمنان دي، دغو کمپنیو ته انساني قدرت ډېر په ارزانه بیه لوېږي، دوی دا وایي چې د بومي خلکو د ژوند ضروریات کم دي؛ نو باید هغومره اجوره واخلي چې څومره د دوی په ملک کې رواج لري، دغو کمپینو او همدا راز په خپله استعماري حکومت په پخوا وختو کې نه یواځې د اموالو تجارت کاوه؛ بلکې د کارګرو؛ یعنې افریقایي تورپوستو کارګرو په تجارت هم لیګیا وو، ډېر افریقایي کارګر له افریقا نه نورو ځایو ته او یا له یوه ملک نه بل ملک ته د پیسو په بدل کې ورکړل شوي او خرڅ شوي دي او استعماریانو د غلامانو او تورپوستو په تجارت ډېرې ګټې کړي دي.

## د استعمار طبیعي ملګري

سره له دې هم دا ټول کارونه نه یواځې په زور او قوت نه کېږي، له زور نه پرته نورې لارې هم شته چې کله-کله ډېرې مؤثرې وي؛ خو دومره ده چې د هر کار شاته زور وي او چې کشاله پیدا شي او په نورو لارو یې کرارول ممکن نه وي؛ پولیس او ژاندارم او وسلې خو شته، خلک تقسیم کړه او حکومت وکړه، ډېر مشهور استعماري اصل دی، په تګ راتګ باندې ډېر قید او قیود دوی د یوه هېواد له یوې سیمې نه بله سیمه نه خبرېږي، هره پېښه او هر څه چې کېږي؛ کوښښ کېږي چې په همغه حد او حدود کې پاتې شي او نورو ځایو ته سر و نه وهي، محلیت په قوت ساتل کېږي.
په هر قیمت او هره وسیله چې وي؛ استعمار غواړي چې ولسي او ملي قوتونه دې تل په کنټرول کې وي، د پیسو، فتنو او دسیسو ښندلو ته لویه پاملرنه وي، څوک وېرول کېږي، چا ته د سرو او زېړو ګلونو باغ بخښي او څوک د مجهولې آینده لپاره په تمه کوي، په هره مستعمره کې تل دا فکر کرل کېږي چې استعمار او اروپایي هېوادونه یواځنې خلک دي چې د مملکت متخالف قوتونه په کنټرول کې ساتلی شي او که دوی نه وي؛ قامونه به یو بل سره وخوري او تل به جنګونه او وژنې وي، د دغه منظور لپاره زیار ایستل کېږي چې هغه قبیلې چې ښېرته پاتې او اطرافي او جنګې وي؛ د نسبتاً پوهو او منورو او ښاري خلکو په مقابل کې حمایه کړي او پیسې ورته ورکړي او چې کله ملي نهضت پیدا شي؛ ولسي مشران او لویان تیار زور کړي، معاش خواره یې په مقابل کې جګ کړي او که لازمه شوه، په جنګ یې واچوي، یعنې اوبه خړې کړي او ماهیان پکې ونیسي.
د استعمار ټول فکر په دغو لارو خرڅېږي؛ ځکه نو صحي، عرفاني او اجتماعي چارو ته

دومره توجه نه وي، د دې نتیجه دا وي چې یوه خو د ژوند سویه په اخري درجه ټیټه وي او بله دا چې بېکاري او غربت پکې ډېر شي او اخلاقي فساد زیادت وکړي، قحطي، قېمتي، ناروغي دومره زیاته وي چې حتی د نفوسو د طبیعي انکشاف مخه نیسي؛ همدغه سبب دی چې په افریقا کې د نفوسو غټه برخه یا خو په جنګو کې وژل شوې او یا قحطۍ او قېمتۍ ځپلې وي؛ یا خو غربت لاندې کړې وي او رنځ او مرض پکې ځای نیولی وی.

## د استعمار منطق

سره له دې ټولو خبرو استعمار هم بېځوابه نه دی، یو عالم دلایل لري او یو وخت بل وخت یې یوه او بل ته اوروي، استعمار ځانته مفسران لري، لیکوال او عالمان لري، ښوونځي لري چې په هغو کې د مستعمرو او ادارو په باب خپلې مفکورې خپروي او کوښښ کوي چې په هر سر کې حق د ځان په خوا وښیي او ځان بېګناه او لوی خدمتګاره معرفي کړي؛ دلته هم تل له تلقیني وسایلو کار اخلي، خپرونې، ورځپاڼې، مبلغان او مذهبي مشران په کار اچوي او کوښښ کوي چې خپل د مطلب او مقصد ټکي خپاره کړي، دوی تر هر څه د مخه په دې عقیده ټینګ ولاړ دي چې انسانان په طبیعت کې برابر او یو شان نه دي، ځینې طبعاً لوړ او عالي استعداد لري او د دې لپاره خلق شوي چې باداري او سرداري ولري او نور؛ یعنې تورپوستي او زېړپوستي طبعاً نامنکشف او نامستعد دي؛ یعنې چې رنګ او نژاد د استعداد علامه ده، همدغه رنګ او نژاد د استعداد علامه ده؛ همدغه سبب دی چې د رنګ او نژاد اجتماعي مؤقف او عقیدې امتیاز یو طبیعي کار ګڼل کېږي او ذات البیني مناسبات په همدغه اساس ولاړ وي، په دې کې ټینګار کوي چې تورپوستو ته کتل او له هغو سره نژدې کېدل د سړي د اکراه سبب ګرځي او چې دوی له ښکلو سپین پوستو سره طبعاً برابر نه دي؛ باید دوی بېل وساتل شي، مکتب یې بېل وي، روغتونونه، د وړو راوړو وسایل او هر څه یې سپین پوستو سره یو ځای نه وي.

د دوی په عقیده آریایان، سپین پوستي، انګلوساکسون او ځینې خاص نژادونه په دې مامور دي چې نامستعمرو ته هدایت وکړي او د ترقۍ په لار یې روان کړي؛ دوی وایي چې موږ بېرته پاتې هېوادو او مستعمرو سره مرسته کوو؛ یعنې چې دوی په کولتور، ادب، اقتصاد او سیاست کې دومره وروسته دي چې نه شي کولی خپل ځانونه تمدن او تهذیب ته ورسوي.

په بل عبارت، موږ په دې مامور یو چې دوی ته تهذیب او تمدن، اداره، سیاست او چل او ول وښیو؛ سربېره پر دې د دوی په عقیده وروسته پاتې او مخصوصاً افریقایي قبایل که په خپل سره پاتې شي؛ یو تر بله به تل په اخ و ډب او جنګ جګړو اخته وي، دوی ځان

نه شي اداره کولی، د حکومت په چم نه پوهېږي، په دې نه دي خبر چې د ژوندانه بېل بېل اړخونه څنګه په مخ بوځي، پانګې نه لري، وسايل او ذرايع پکې نشته؛ نو دوی په دې ټينګار لر چې همدا موږ يو چې دوی سره مرسته کوو؛ يعنې چې غواړو د دوی سويه لوړه کړو.
علم او تخنيک او صنعت پکې رواج کړو، روغتونونه، پلونه او د وړو لارې ورجوړې کړو، د اقتصاد طرز، سوداګري او نور ورته ښيوو او دې حد ته يې ورسو چې څه وخت موږ بېرته شو او وطنو ته ځو؛ دوی دومره حد ته رسېدلي وي چې ځان او هېواد اداره کړي، په دې بانه دوی تل زيار باسي چې خپل سيستم، اخلاق، کولتور او هر څه پرې وتپي، د کليسا لويان وراستوي چې هغوی عيسويان کړي او له خپل مذهب نه يې واړوي.
په همدې منطق دوی په مستعمرو کې هر راز مطالب او ولسي حرکت ته چې مطلب يې د خپل هېواد ازادي او د استعمار وتل وي؛ په کرکه ګوري او هغه پخوا له وخته ښيي؛ وايي چې دغسې ډلې او لويان په حقيقت کې ورانکاري او مخبران او يا د خارجيانو نمايندګان دي چې غواړي د شخصي غرض لپاره امنيت او کرارۍ ته صدمه ورسوي او په ملک کې شورو غوغا سازه کړي؛ ځکه نو د دوی په مقابل کې زور زياتی روا بولي او چې څو يې له لاسه کېږي؛ دغسې خلک يا خو وژني او يا خو يې له وطنه پراروي او د کار کمپو ته يې لېږي؛ مګر سره له دې ټولو استعماري زورګيريو او وهلو ټکولو بيا هم د استعمار په مقابل کې لوی-لوی نهضتونه شته او کېږي، دا نهضتونه مخصوصاً له دويم جنګ را په دېخوا په مستقيم ډول روان شوي دي او نن ورځ يې د بېطرفه هېوادو په نامه د سولې او امنيت يوه لويه او پراخه سيمه جوړه کړې، دا نهضت د ملي ازادۍ حرکت د چې موجونه يې په ټولو اسيرو او مستعمرو هېوادو کې په ډېر قوت خواره دي، د همدغه حرکت په برکت قوي اميد دی چې پاتې اسير او مستعمره هېوادونه چې زياتره يې په افريقا او ځينې يې په اسيا او د لويو بحرونو په ټاپوګانو کې ژوند لري او نژدې يوسل ميليونه وګړو ته ورسېږي؛ ازاد شي.

## یادونه:

د دې مقالې په لیکلو کې له لاندې خپرونو له هغو برخو نه چې استعمار سره یې تعلق لاره؛ استفادې شوې دي:

۱. د اجتماعي علومو دایرةالمعارف، دربیم ټوک، د نیویارک چاپ، ٦٥٣ مخ.
۲. بریټانیکا دایرةالمعارف، اووم ټوک، د شیکاګو چاپ، ۳۰۰ مخ.
۳. امریکانا دایرةالمعارف، شپږم ټوک، د نیویارک چاپ، ۴۱ مخ.
٤. د انټرنیشنل افیرز مجله، دویمه ګڼه، ۱۹٦۰ م، د ک. ایوانوف مقاله، د مسکو چاپ.

ورمه مجله، يوويشتم کال، ۱۳۵٦ ل، څلورمه ګڼه، ۳۱ او ۴۳ مخونه.

# افغان، افغانستان

پورتني نومونه؛ په تېره بيا افغان او افغانستان سره نږدې اړيکې لري. په دې ليکنې کې دا او داسې نور نومونه؛ لکه پښتون، پټان، پکتيکا په لنډ ډول د تاريخ په رڼا کې تر بحث لاندې نيول کېږي:

## افغان

افغان ښه لرغونې کلمه ده، د ابوريحان البيروني په قول د افغان کلمه په هغه نامه پورې اړه لري چې په مهاباراته (د هندوانو ستر حماسي اثر چې له ويدي عصر نه وروسته د (ق. م، ۱۲۰۰) په شاوخوا کې منځ ته راغلی دی) کې د اسواکا (Asvaka) په نامه راغلې او معنا يې (اس سواره) کېږي، په هغه وخت کې افغانان د سليمان د غرو او هوارو په شاوخوا کې اوسېدل او دا سيمه د اسونو د ودې سيمه وه.[۳۷]
مؤرخ کهزاد په دې باب کې لا هم واضح بحث کړی دی، د ده په نظر د افغان کلمه د مکان مرکب نوم دی او د سانسکريټ له يوه نامه آسوه غانه (Asva ghana) څخه اخيستل شوی دی، لومړی برخه آسوه يې د اس معنا او دويمه برخه غانه يې د مکان مفهوم لري. په دې ډول افغان، اسواکا او آسوه غانه د سورو هېواد کېږي.[۳۸]
نو د افغان کلمه هم د خلکو او هم د ملک په معنا راوړل کېده او له پېړيو-پېړيو وروسته و چې د افغانستان کلمه د وروستي مفهوم لپاره اختصاص شوه، په دې ملک کې داسې مثالونه ډېر دي چې يو نوم هم د خلکو او هم د ملک په معنا راغلی؛ لکه مومند، شينواري، خوګيانۍ او نور.
له هغه وروسته د افغان نوم په پرسي پولس کې د نقش رستم په عبادتځي کې راغلی

۳۷. البيروني د E. Sachau هندوستان، ترجمه، لندن، ۱۹۱۰ م، ۲۰۸۰ مخ، لومړی ټوک، G. Bosworth د غزنويانو امپراتوری، د ايډنبره پوهنتون خپرونه، ۱۹٦۳ م، ۱۱۳ مخ.
۳۸. کهزاد، افغانستان په شاهنامه کې، د بيهقي کتاب خپرولو مؤسسه، کابل، ۱۳۵۵ ل، ۲۸۸ مخ.

دی، پروفیسر شپرنگلنگ (M. Spreng ling) لیکي چې د افغان کلمه د گوندا فرایگان رازمایود (Gondafarr Abgan Razmyod) له هغه خاص نامه څخه دی چې د شاهپور ساساني (د مړینې نېټه ۲۷۳ م) په امر د نقش رستم په ډبرینه لیکنه کې په پارتي، منځنۍ پاړسو او یوناني کې کښل شوې، په دې منظور چې دغه پاچا خپل بری په اډیسه (Edessa) کې نړۍ ته اعلام کړي.

د شپرنگلنگ خپل عبارات دا دي: «دابگان، اوگان لپاره دغه لیکونکی تر اوسني افغان څخه بله ښه کلمه موندلی نه شي».[۳۹]

سراولاف کېرو هم دغې ته ورته نظریه ښکاره کړې او لیکلي یې دي چې د اپه کان (Apakan) او ابگان (Abgan) له کلمو څخه د افغان د کلمې تکامل طبیعي برېښي.[٤۰]

د یادونې وړ خبره ده چې تر اوسه هم دري ویونکي عامه خلک اوغان وایي؛ مگر پروفیسر فرای پورتنی نظر مشکوک گڼي.[٤۱]

او یو ارمنی مؤرخ لیکي چې د اپه کان او ابگان کلمې د شوروي اتحاد اوسني اذربایجان د لرغونو خلکو لپاره استعمالېدل او دغه نومونه په دغه مفهوم سره د پینځمې پېړۍ په ارمني لیکنو کې لیدل کېږي.[٤۲]

د دغو پوهانو نظر د ابگان د کلمې په باب چې هر څه وي؛ دغه کلمه د سلیمان د سیمې د افغان خلکو په مفهوم په وروستیو هندي، چیني، عربي او فارسي منابعو کې په کراتو سره راغلې او بې له کوم شک نه د افغان له کلمې سره پوره سر خوري.

په شپږمې عیسوي پېړۍ کې نامتو هندي منجم وراهامیرا (Varahamira) په خپل اثر بري هت سمهیتا (Brihat Samhita) کې د اواگانه (Avagana) کلمه دوه ځله د نورو کلمو په ترڅ کې د چولا (Chola) له سپینو هونانو او چینایانو سره یو ځای راوړې ده.[٤۳] مگر دی د اوگانه خلکو د ځای په باب چوپ دی؛ خو څنگه چې اوگانه او افغان سره یو پېژندل شوي؛ نورو لیکوالو افغانان له خپل ملک سره یوځای ذکر کړي دي.[٤٤]

---

۳۹. لومړی ستر شاهپور، د زردشتي په کعبې باندې، د امریکې د عبراني، د ادبیاتو او ژبو مجله، شیکاگو، Lvii، اکتوبر، ۱۹٤۰ م، څلورمه گڼه، ٤۱۱ او ٤۱۲ مخونه.

٤۰. کېرو، سراولاف، پټانان، د میکمیلن خپرونه، کاغذي وقایه، ۱۹٦٥ م، ۷۹ او ۸۰ مخونه.

٤۱. شخصي مفاهمه، د هاروډ پوهنتون، اگست، ۱۹۷۳ م.

٤۲. گریگورین، وازتن، د معاصر افغانستان ظهور، د ستنفورډ پوهنتون خپرونه، ۱۹٦۹ م، ۲۹ مخ.

٤۳. په متن کې ذکر شوی کتاب، N.C. Madura ، ترجمه، ۱۸۸٤ م، دویم فصل، ۱٦ لمبر، ۱٦ فصل، ۳۸ لمبر.

٤٤. په متن کې ذکر شوی کتاب، د P.S. Sastri او V. M. R. Bhat ترجمه، بنگلور، ۱۹٤۷ م، دویم فصل، ٦۱ لمبر، شپاړلسم فصل، ۳۸ لمبر.

له هغه وروسته مشهور چیني زایر شون چونګ (زوکړې نېټه، ۶۰۳ م) پوره دېرش کاله په هندوستان او افغانستان کې وګرځېد او په دوو ټوکونو کې یې د لوېدیځې نړۍ بودایي اسناد په نامه یو کتاب ولیکه، د یو شمېر لیکوالو په قرار شون چونګ د افغان د کلمې په ځای اوپوکین (O. Po. Kien) راوړی دی.
سرپرسي سایکس (Sir P. Sykes) ممکن لومړنی کس وي چې دا ویلي وي، دی د شون چونګ له قوله لیکي چې اپوکین (سرسخت او وېروونکي خلک دي) په کړو وړو کې زیږه او په عقیدې کې په خپلو ګاونډیو ښه والی لري.
یو شمېر نورو لیکوالو هم لږودېر ورته نظریات ښکاره کړي دي.[٤٥] مګر ما نه د اپوکین نوم، نه پورتنی نقل قول د شون چونګ په هغه اثر کې ومومند چې پروفیسر ساموئیل بیل (Samuel Beal) ژباړلی او د ترینر خپرونکې مؤسسې په (۱۱۸۴ م) کې په لندن کې خپور کړی دی؛ دا په دې علت چې اول سایکس د شون چونګ نه په غلط نقل قول کړی دی.
پورتنی نقل قول د شون چونګ له خوا اصلاً د بامیانو د خلکو په باب وړاندې شوی دی، دوی به اپوکین وای او یا به نه وای؛ سربېره پر دې هغه څه چې شون چونګ د بامیانو د خلکو په باب ویلي دي؛ هغه نه دي چې سایکس نقل کړي دي؛ بلکې دا دي:
«... د دوی د خلکو کړه وړه سخت او زیږه دي، پوښاک یې په عمومي ډول له وړیو او پوټکو څخه دي... ادبیات، رسومي مقررات او په سوداګرۍ کې یې مروجې پیسې کټ مټ هغه دي چې د تخارا په ملک کې رواج لري... ژبه یې لږ سره توپیر لري؛ خو د شکل او قوارې له مخې ډېر سره ورته دي».[٤٦]
دویمه دا چې پروفیسر بیل د کتاب هغه برخه نه ده ژباړلې چې د اپوکین نوم پکې ذکر شوی دی؛ مګر دا برخه د شون چونګ په هغه متن کې لیدل کېږي چې ستانیلاس جولین (Stanilas Julien) په انګریزي اړولی او د دغه مقصد لپاره یې د چیني او سانسکریټ د زده کړې لپاره شل کاله صرف کړي دي؛ وروسته همدغه متن د الیکزاندر کننګهم د کتاب د لرغوني هند جغرافیه، اساس تشکیل کړي دي، کننګهم لیکي: «شون چونګ یواځې یوځل د یوې فقرې په ترڅ کې د اپوکین ذکر کوي او هغه د فه لانه (Falana) او غزني په

---

۴۵. سایکس، د افغانستان تاریخ، لندن، لومړی ټوک، ۱۵۴ مخ، حبیبي، عبدالحی، افغان او افغانستان، آریانا، دریمه ګڼه، ۱۳۴۸ ل، ۱۹۷۰ م، ۱ او ٦ مخونه، جاوید، احمد، افغان او افغانستان، لمر مجله، دولسمه ګڼه، ۱۳۴۹ ل، ۱۹۷۱ م...ولبر، دی، افغانسان، ۱۹۶۲ م، ۴۰ مخ.
۴۶. د زیات تفصیل لپاره وګورئ! د شون چونګ ذکر شوی کتاب، لومړی ټوک، ۴۹ او ۵۱ مخونه.

مینځ کې؛ یعنې د لومړني شمال غرب ته او د وروستي جنوب شرق ته ښیي».[٤٧]
په دې ډول لکه څنګه چې دمخه وویل شول؛ د شون چونګ په نظر هم اپوکین اصلاً د یوې سیمې نوم دی چې کننګهم د یوه مفصل بحث په ترڅ کې هغه هم د ملک او هم د خلکو نوم ګڼلی دی؛ دی اضافه کوي:
«زه تر دې ډاډه یم چې د اپوکین د کلمې له ذکره د شون چونګ مقصد افغان دی».[٤٨]
وروسته له هغه چې مسلمانانو افغانستان فتح کړ؛ ممکن د حدودالعالم د کتاب نامعلوم مصنف لومړنی لیکوال وي چې د افغان د کلمې ذکر یې کړی وي، ده دا کتاب د (۳۷۲-۹۸۲) په حدودو کې لیکلی دی؛ له هغه وروسته د افغان کلمه دومره عامه شوې وه چې هر لیکوال چې په عربي یا دري کې د دغې سیمې په باب بحث کړی دی؛ حتماً یې د افغان کلمې ذکر کړی دی او ښاغلی محمدانور نیر دا ټول بحثونه په یوې لیکنې کې ځای کړي دي.[٤٩]
پښتو ویونکو لیکوالو په لومړي سر کې افغان یو خارجي نوم ګاڼه؛ ورو-ورو یې د هغه یادونه په خپلو اثارو کې ومنله، خان جهان لودي (۱٦۳۰ مړ) په دغه لړ کې شاید لومړنی لیکوال وي، له هغه وروسته خوشحال خان خټک دا نوم په کراتو په خپلو اشعارو کې راوړی دی.
په یوه بیت کې وایي:

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

احمدشاه درانی په خپل یوه لیک کې چې د عثماني سلطان دریېم مصطفی (۱۷۵۷-۱۷۷۴ م) نامه استولی و؛ د (جلیل افغان قوم...) یادونه کړې ده؛[٥٠] مګر په خپله د افغانانو په مینځ کې د دغه نوم رواج ډېر وخت ونیوه.
فرانسوی سیاح فریر چې د نولسمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې په افغانستان کې

۴۷. د کننګهم ذکر شوی کتاب، ۱ او ۸۷ مخونه.
۴۸. پورتنی مأخذ، ۷۸ مخ.
٤۹. آریانا، خراسان، افغانستان، آریانا مجله، پرله پسې ۲۵۷ ګڼه، ۷۳ او ۸۳ مخونه.
۵۰. جلالي، غلام جیلاني، عثماني سلطان ته د احمدشاه لیک، کابل مجله، ۱۳۴٦ ل، ۹ او ۱۵ مخونه.

ګرځېدلی دی؛ وايي چې افغانان نه غواړي «د افغان په نامه یاد شي»،[۵۱] دوی په تېرې پېړۍ کې ځانونه هغو قبیلو او خپلونو ته منسوب بلل چې ورپورې مربوط و؛ خو د بهرنیو په مقابل کې یې ځانونه پښتانه بلل، ښایسته موده شوې چې دغه نوم د افغانستان په ټول لروبر کې دومره عام شوی چې نه یواځې پښتانه ځانونه افغانان بولي؛ بلکې د مملکت د ټولو عرفي ډلو افراد یې د ژبې، مذهب او سیمې په فرق افغانان بلل کېږي. په بل عبارت:

هر هغه فرد چې د افغانستان په سیاسي حدودو کې دننه ژوند کوي او د دغه ملک تبعه دي؛ افغان دی. نو د افغان د کلمې دغه تعمیم د ملیت د مفکورې د پراخېدو او ټینګېدو یو ښه ښکارندوی دی.

## پښتون

د پښتون کلمه د افغان تر کلمې هم لرغونې ده، دا نوم د لومړي ځل لپاره د هندوانو د مذهبي سرودونو په یوې مجموعې ریګویدا کې چې د ق. م له (۲۰۰۰) نه تر (۱۵۰۰) کالونو کې مینځ ته راغلی؛ د پکتاس په شکل ذکر شوی دی.[۵۲]

ځینې لیکوال پکتاس د پښتون فلالوجیکي سلف بولي؛[۵۳] مګر وروسته د تاریخ پلار هیرودوتس (ق. م، ۴۸۴- ۴۳۱) پکتاس یې د پکتیان (Pactyan) په ډول ذکر کړی او هغه یې د پکتیکا د ملک (Pactyica)[۵۴] اوسېدونکي ښودلي، پکتیکا همغه د سلیمان د غرو او هوارو یا تاریخي ګندارا سیمه ده او د پکتیا په شکل دغه نوم تر اوسه هم د یوې سیمې لپاره پکارېږي؛ مګر ناروېژي نامتو فلالوجېست مارګن سټرن (G.Morgenstierne) پښتون او پکتیان سره جلا کلمې بولي، دی وايي چې پښتون ممکن له پرسوتیا (Parsyetae) سره چې لرغونی شکل یې پرسوانا (Parswana) دی؛ اړیکې ولري، پرسوتیا هغه قوم دی چې

۵۱. فریر. جي. پي، د افغانانو تاریخ، د (W. Jesse) ترجمه، لندن، ۱۸۵۷ م، ۱۱ مخ.

۵۲. ټېټ. جي. پي. د افغانستان سلطنت، کلکته، ۱۹۱۱ م، ۱۵ مخ، یو شمېر افغاني لیکوالو د پښتون کلمه له بخدا، بخت، پخت، پکت او پښت څخه راوتلې ګڼلې ده؛ مګر دغه لفظي مشابهتونه هغه وخت د اعتبار وړ ګرځېدلی شي چې تاریخي شواهد یې تاید کړي.

۵۳. تریمان. جي. کې، نننی افغانستان، اسلامي کولتور، لومړی ګڼه، ۱۹۲۷ م، ۲۵۲ مخ.

۵۴. د یونان مؤرخان، ترجمه، درالنسن. جي، په مقدمه او نوټونو د ګودولفن، اف، دوه ټوکه، لومړی ټوک، نیویارک، پینځم کتاب، ۸۵ او ۴۱۷ فصلونه، درېیم کتاب، ۱۰۲ فصل، ځینو لیکوالو پکتیان او پکتیکا د پکتویس Paktues او پکتویکا Paktuika په ډول لیکلی دی.

د بطليموس په روايت په پاراپاميزوس (Parapmisus) کې اوسېده.[۵۵]
د مارګن ستېرن دليل صوتي دی، په تاريخي شواهدو بنا نه دی؛ څنګه چې دی د ش (Sh) نرم اواز د (خ) يا (ګ) په سخت اواز مقدم بولي؛ دې نتيجې ته رسېږي چې د هېرودوتس په وخت کې او تر هغه د مخه د ريګويدا په وخت کې د وروستي اواز درک هم نه و؛ په دې ډول د ماګن ستېرن په نظر پښتون د پکتيان او پکتاس معرف کېدای نه شي؛ مګر سراولاف کېرو د يوه اوږده بحث په ترڅ کې دا تشبېه کړې ده چې د پښتو سخته لهجه لږ تر لږه د لوی سکندر (۳۵۶- ۳۲۳ ق. م) په وختو کې موجوده وه، د کېرو دوه دليلونه داسې خلاصه کېدای شي:
لومړی دا چې د پښتو سخته لهجه د لرغونو اسپه زيو، اوسنيو يوسفزيو (Aspazii) او د پېښور د سيمې په خلکو کې موجوده وه او د يونان لرغونو ليکوالو مثلاً آري ين (Arrian) د سکندر د راتګ په وخت کې د اسپه زيو ذکر کړی دی.
بله دا چې د پښتو سخته لهجه د خوسپس (Khoaspes)؛ يا کوسپس (Choaspes) په کلمې کې چې د کونړ د سيند لپاره استعمال شوې ده؛ قيده شوې ده؛ خو (ياکو) د پښتو د (خه) يا (ښه) يوناني شوی شکل دی چې د کونړ د سيمې د آرياني خلکو په ژبو کې دود و او د يونان لرغونو ليکوالو لکه آرستو، سترابو او نورو د هغه ذکر کړی دی.
په دې ډول د کونړ د سيند معنا د ښو اسونو سيند کېږي؛ نو داسې ښکاري چې د سکندر په وخت کې د کونړ په سيمې کې هم د پښتو سخته لهجه موجوده وه.
داسې هم سراولاف کېرو د مارګن ستېرن دا نظر ردوي چې د پښتو کلمه له پرسوانا څخه وتلې ده، د کېرو نظر دا کلمه له پښتو نه د پارس (Pars)؛ يا فارس (Fars) کلمې ته نزدې ده.[۵۶]

## پټان

د پټان کلمه د پښتون او افغان له کلمو څخه ډېره وروسته راپيدا شوې ده؛ مګر د هغې د ظهور په باب روايتونه او نظريات سره مختلف دي، د فرشته په قول د پټان کلمه د هندوستان د بهار د ايالت د پټنه له سيمې سره ارتباط لري، دی وايي:
وروسته له هغه چې افغانان له غور څخه وکوچېدل او په پټنه (Pathna) کې مېشته

۵۵. مارګن ستېرن، افغان، اسلامي دايرةالمعارف، لومړی ټوک، ۱۹۶۰ م، ۲۱۷ مخ.
۵۶. کېرو، سراولاف، پټانان، ياد شوی اثر، ۳۵ او ۳۸ مخونه.

شول؛ هندیانړو دوی، د دوی د نوي مکان؛ یعنې پټهان (پټهان) په نامه یاد کړل.[۵۷] مگر فلالوجېست مارگن ستړن په دې نظر دی چې:
«کلمه پطهان... از شکل قدیمتر کلمه پشتو گرفته شده است، که مطابق استدلال زبان شناسی (پښتان) بوده است».[۵۸]
په هر حال، هغه څه چې دلته د ذکر وړ دي؛ دا دي چې دغه نوم له دولسمې پېړۍ څخه راپه دېخوا د لومړي ځل لپاره هغو پښتنو باندې ایښودل شوی دی چې د اباسین له سیند نه اغاړه په هندوستان کې مېشته شوي وو؛ له هغه وروسته انگرېزانو کوښښ وکړ چې د اباسین نه دېخوا پښتانه هم د ډېورنډ تر کرښې پورې هم د پټهان په نامه یاد کړي او په دې ډول د دوی په سیاسي لحاظ له هغو پښتنو څخه بېل ونیسي چې دننه په معاصر افغانستان کې اوسېدل.[۵۹]
له دې کبله د پټهان نوم یواځې په انگرېزي او هندي ژبو کې په کثرت ذکر شوی دی؛ مگر په خپله پښتانه (هر چېرته چې دي) ځانونه د نسب، ژبې او تاریخ په لحاظ یو واحد قوم گڼي.

## افغانستان

په عمومي ډول داسې فکر کېږي چې افغانستان یو نوی نوم دی او د لومړي ځل لپاره د احمدشاه بابا په دوره کې استعمال شوی دی، نامتو مؤرخ کهزاد که څه هم خپل ډېر وروستی اثر یې (افغانستان در شاهنامه) عنوان کړی دی؛ همدغسې نظر لري؛ دی لیکي:
«افغانستان یک نام بسیار تازه و جدید است» و از (۱۵۰) سال تجاوز نمی کند».[۶۰]
مگر دا سمه نه ده. تر هغه ځایه چې معلومه شوې ده؛ د افغانستان کلمه په سیاسي مفهوم سره د یوه ملک په حیث لومړی د مؤرخ سیفي هروي له خوا د څوارلسمې پېړۍ په لومړۍ څلورمې کې په هغه کتاب کې قید شوی دی چې (تاریخ نامه هرات) نومېږي، سیفي خپل کتاب د (۱۳۱۸- ۱۳۲۲ م\ ۷۱۸- ۷۲۲ هـ،ق) کلونو په مینځ کې لیکلی دی او

۵۷. د سلطان محمد دراني په تاریخ سلطاني کې د فرشته د قول نقل، بمبې، ۱۸۸۴ م، ۲۰ او ۲۱ مخونه.
۵۸. فرهادي، روان (مترجم)، د پښتو د تلفظ او صرف تاریخ، لومړی ټوک، د ادبیاتو د پوهنځي خپرونه، ۱۳۵٦ ل، ۲۱۱ مخ.
۵۹. پټهان (هـ)، (پښتانه)، وړمه مجله، درېیمه گڼه، ۱۳۵۴ ل، ۱۳۵ او ۱۷۲ مخونه.
۶۰. د کهزاد یاد شوی اثر.

د نورو نومونو په ترڅ کې یې (۳۴) کرته د افغانستان د نامه ذکر کړی دی.[٦١]
له دغه کتابه داسې معلومېږي چې د څوارلسمې پېړۍ نه د مخه او د چنګېزخان (۱۲۰٦-۱۲۲۷) له تاړاکونو وروسته افغانستان د خارجي قوتونو تر اثر لاندې نه و؛ مګر یو متحد حکومت یې هم نه لاره؛ بلکې یو شمېر محلي حاکمانو پرې حکومت کاوه چې تر ټولو مشهور یې د مستونګ (د ننني کوټه) حاکم و؛ مګر دغه ټول محلي حکمرانان د هرات د کرت د حکومتونو په دوره کې (۱۲۴۵- ۱۳۸۱) د خراسان تابع کړای شول.
په هر حال، په دغې ټولې دورې کې افغانستان هغه سیمې وې چې د اباسین او غزني په منځ کې پرتې وې. په بل عبارت: د سلیمان د غرو لوړې او هوارې چې د کابل او اباسین ترمنځ پرتې وې؛ د افغانستان په نامه یادېدلې. دا هغه سیمه ده چې پښتانه پکې تر هغو د مخه دوه زره کالونو کې اوسېدل.
له سیفي نه وروسته مؤرخانو هم افغانستان لړو ډېر په هغو حدودو سره ښودلی دی. زمچي اسفزاري په شپاړلسمې پېړۍ کې لیکلي چې محمدخدا پنده الیجایتو (۱۳۰۴-۱۳۱۷) امر وکړ چې «هرات دې له هغو ولایتونو سره د امو له سینده د افغانستان تر ختیځې نقطې پورې هغه «غیاث الدین» ته ورکړل شي».[٦٢]
په ملفوظات تېموري کې هم افغانستان لړو ډېر په همدغو حدودو سره ذکر شوی دی.[٦٣] که څه هم دغه کتاب جعلي دی،[٦٤] په دغه جعلي کتاب کې افغانستان له خراسان، سستان او کندهار نه بېل راغلی دی. بابر هم څه وخت چې د کابل د حدودو ذکر کوي؛ افغانستان د هغه جنوب ته ښيي او ختیځ اړخ یې تر پېښوره پورې رسوي.[٦٥]
په شپاړسمې پېړۍ کې د یو شمېر امپراتوریو له هسکېدو وروسته افغانستان او خراسان د هغوی او ګورګاني امپراتوریو په مینځ کې وېشل کېږي، افغانستان د هندوکش تر غرو پورې (ځینې وخت له دغو غرو نه اخوا هم) د هند برخه کېږي او خراسان د صفویانو تابع ګرځي، وروسته له هغه چې په (۱٦۲۲) کې شاه عباس صفوي د هندوستان له

---

٦١. هروي، سیفي، تاریخ نامه هرات، د پروفیسر صدیقي په مقدمه، کلکته، ۱۹۴۳ م، ۷۷ مخ.
٦۲. اسفزاري، زمچي، روضةالجنات فی اوصاف مدینة هرات، د کاظم امام په مقدمه، تهران، لومړی ټوک، ۱۹۵۹ م، ۴٦۴ مخ.
٦۳. ملفوظات تېمور، لومړی کتاب، انګرېزي ترجمه، د (W. Davy) اکسفورډ، ۱۷۸۳ م، ۱۱۲۰ مخ، په دغې بلې ترجمې کې د تېمور له قول نه ویل شوي چې: ما د افغانانو ملک چې د سلیمان په غرو کې اوسېدل؛ ونیو، ملفوظات تېمور، د تاریخ هند بقول مؤرخان آن، تدوین د (H. M. Elliot)، ۱۸۷۱ م، درېیم ټوک، ۳۹۹ مخ.
٦۴. پروفیسر (J. Flitcher) د هارورډ پوهنتون، شخصي مفاهمه، ۱۹۷۵ م.
٦۵. بابرنامه، انګرېزي ترجمه، د (A. S. Beverige) لندن، ۱۹۲۱ م، لومړی ټوک، ۲۰۰ مخ.

ګورګانیانو نه کندهار نیسي، د مقر چینه د دواړو امپراتوریو تر منځ سرحد کېږي[٦٦] او له هندوکش نه اخوا سیمې د شیبانیانو په لاس کې لوېږي، که څه هم شاه جهان یوځل دا سیمې په (١٦۴٦) د امو تر سینده پورې فتح کوي.
افغانستان په دې ډول د احمدشاه دراني تر هسکېدو پورې په درېو برخو وېشل شوی و او د افغانستان نوم دغو ټولو برخو ته نه پکارېده؛ حتی د احمدشاه په وخت کې چې دا ټولې سیمې د یوه مرکز تر اداري لاندې وې، افغانستان یواځې د هغه ملک نوم و چې د افغاني مؤرخ دراني په قول: «بین هندوستان و ایران و «مناطق شمال هندوکش» واقع و».[٦٧] همدغه ملک ته کله-کله آن د تېرې پېړۍ تر دویمې نیمایي پورې د خراسان نوم هم استعمالېده چې د هغې پېړۍ تر پایه پورې د افغانستان نوم بالکل د هغه ځای ونیو. مګر د افغان د کلمې په څېر د افغانستان نوم هم نورو په تېره بیا دري ویونکو اول په لیکنو کې راوړی دی، د افغانستان کلمه افغاني حکمرانانو په نولسمې پېړۍ کې ورو-ورو ومنله، افغانانو خپل ملک د روه؛ یا پښتونخوا په نامه یادوه چې ژر به پرې بحث وشي او هغه وخت چې د تېرې پېړۍ په دویمې نیمایي کې د افغانستان اوسني حدود د رسمي معاهدو له مخې وټاکل شول، دا نوم د همدغه اوسني حدود او ملک په معنا ورو-ورو عام شو.

## پکتیکا

د روه او پښتونخوا په باب له بحث نه دمخه د هیرودوتس په پکتیکا بحث کول ضروري دي. نامتو ختیځپوه اورل ستاین (Avrel stein) او داسې هم اولاف کېرو پکتیکا او ګندهارا د عین سیمو نوم بولي چې د کابل او کونړ د سیندونو په اوږدو کې پرتې وې او مرکز یې پېښور لرغونی پرشاپورا (Purushapvra).[٦٨] مګر د بیلو په نظر د پکتیکا ساحه تر هغو پراخه ده او ټولو هغو ځمکو ته راجع کېده چې د اباسین او هلمند تر مینځ پرتې وې.[٦٩] په دې ډول پښتونخوا، روه او پکتیکا لږو ډېر د یوه واحد ملک نوم وچې آریایي او هندي عناصر یې اوسېدونکي وو. هندي نامتو مؤرخ ماجومدار لیکلي چې: «پختون یا هندي

---

٦٦. درانی، سلطان محمد، تاریخ سلطاني، بمبي، ۱۸۸۴ م، ...
٦٧. تاریخ سلطاني، ۱۰ مخ، الفنسن، م. د کابل د سلطنت شرح او بیان، لندن، لومړی ټوک، ۱۸۴۲ م، ۱۲۴ مخ.
٦٨. د کېرو ذکر شوی کتاب، ۳۴ مخ.
٦٩. بیلو، د افغانستان نژادونه، کلکته، ۱۸۸۰ م، ٦۰ مخ.

پټهان ممکن د پکټیکا معرف اوسي». [۷۰]
مګر بیلو چې د هیرودوتس د لیکنو په اساس د پکټیکا د اوسېدونکو په باب نسبتاً مشخص بحث کړی دی؛ لیکي چې په (ق. م) پینځمې پېړۍ کې څلور ډلې خلک په پکټیکا کې اوسېدل: ګنداري (Gandarii)، اپه ری تای (Aparytae)، سته ګېدای (Sattagyddae) او دادیکای (Dadicae)، لومړنۍ درې ډلې یې پکتین؛ یعنې مهمند، یوسفزي، اپریدي او خټک وو او وروستۍ ډله یې هغه خلک وو چې د دادي (Dadi) په نامه د نولسمې پېړۍ په پای کې د خټکو سهیل اړخ ته د کاکړو په منځ کې اوسېدل. [۷۱]
لوی سکندر هند ته د تګ په وخت کې په باجوړ، سوات او کونړ کې د دریو ډلو خلکو: اسپه زي (Aspazii)، ګورالینان (Gvraeans) او اساسي نیانو (Gvraeans) سره مخامخ شو او په یوې نښتې کې د دغو خلکو له خوا په اوږه کې زخمي شو او که د زرې کالي یې په تن کې نه وای؛ پرهار یې ممکن کاري وای. [۷۲]
په هر حال، د دغو خلکو یوه ډله اسپه زي د یوسف زیو په حیث پېژندل شوي دي او بیلو دوی د ګنداریانو په ډله کې ګڼي.
سترابو اسپه زي د هپه سي (Hippasi) په نامه یاد کړي دي. [۷۳]
اولاف کیرو لیکي چې دا دواړه کلمې یو دي او د یوسف زي کلمه د اسپه زي معربه کلمه ده، د ده په قول همدا اوس هم (یو عادي کلیوال یوسف زي هېڅکله ځان د یوسف زي په نامه نه یادوي؛ لکه ځان ته ای سپزي (Isapzai)؛ یا حتی آسپ زي (Asapzai) وایي. [۷۴]
دا کلمه واضحاً پښتو او د اسپه او زي ترکیب دی؛ څنګه چې د افغان کلمه د اس سورو معنا ورکوي، اسپه زي ممکن له زر اسپه یي (Zariaspai)، لرغوني بلخ ته د یوه نږدې ښار اوسېدونکي او تر اوستا نه ړومبی اسپه کورنۍ [۷۵] سره اړیکې ولري؛ مګر د تاریخي شواهدو له مخې د دغې موضوع تثبیت ډېرو پلټنو ته اړه لري.

---

۷۰. ماجومدار. آر. سي. د هندوستان په باب لرغوني اثار، ۱۹۶۰ م، ۴ مخ، پایلیک.
۷۱. د بیلو یاد شوی اثر، ۵۸ مخ.
۷۲. آري بن، د سکندر یرغلونه، د (D. Selincovrt) ترجمه، (Penguin) خپرونه، ۱۹۷۱ م، ۲۴۰ او ۲۴۱ مخونه.
۷۳. د قول نقل د کیرو په یاد شوي کتاب کې ، ۵۵ مخ.
۷۴. د قوي نقل د کیرو په یاد شوي کتاب کې، ۵۵ مخ.
۷۵. د کهزاد یاد شوی اثر، ۷۷ مخ.

## روه، پښتونخوا

روه د غرني ملک په معنا اوس هم د پنجابیانو او د دېره جات او ملتان د جټانو له خوا له سند نه لوېدیځو سیمو؛ یعنې د سلیمان غرو او هوارو لپاره استعمالېږي.[۷۶]
د اولاف کیرو په نظر روه یو غیر پښتو او غالباً پنجابي کلمه ده؛ مګر دا کلمه ډېره لرغونې ده او د سلیمان د سیمې د پښتنو ملک لپاره پکارېده، روه د اوره په شکل د لومړي ځل لپاره د شپاړسو نورو جغرافیوي سیمو په ترڅ کې؛ لکه سغد، مسورو، بخدي، هریو او نور په اوستا کې راغلي دي.[۷۷]
په مهاباراته کې د دغې کلمې همدا شکللوها (Loha) دی او پاڼیني د سانسکریټ نومیالی ګرامرپوه دا کلمه په روهیتاګري (Rohita Giri) کې د روه د غره په معنا راوړې ده؛ مګر له هغه ځخه د ده مقصد د هندوکش غر دی.[۷۸]
وروسته په پینځمې عیسوي پېړۍ کې یو چینایي زایر فه شین (Fa-shin) روه د لوی (Lo-i) په شکل ذکر کړی؛ مګر له هغه ځخه د ده مقصد له واورو ډک واړه غرونه (Little Snowy Mountains) دي چې د ننګرهارا (Nagarhara)؛ یعنې ننګرهار او پو نه (Po-na)؛ یعنې بنو او سن تو (Sin-tv)؛ یعنې اباسین په مینځ کې واقع وو.[۷۹]
تر هغه وروسته د فرشته په قول روه د هغو سیمو لپاره پکارېده چې په باجوړ کې له سوات ځخه په بهکار (Bhukkar) کې د سېوي (Sevi) تر ښار پورې او په پنجاب کې له حسن ابدال ځخه تر کابل او کندهار پورې پرتې وې.[۸۰]
دا ساحه لږو ډېر هغه سیمه ده چې په ریاض المحبت کې راغلې ده، په دې کتاب کې ویل شوي چې روه چې دافغانانو ملک دی؛ په لوېدیځ کې په ایلمن (Ilmen) پورې محدوده ده، ختیځ لور ته په قاشقار (Kaskar) پورې، سهیل طرف ته د بلوجستان براهوي پورې او شرق ته بیا په کشمیر پورې.[۸۱] په دې لړ کې په داسې حال کې چې د افغانستان کلمه لږو ډېر د عین ساحې لپاره غیرپښتنو استعمالوله، پښتنو شاعرانو د روه کلمه د همدغه

---

۷۶. د کیرو ذکر شوی اثر، ۴۳۹ مخ، د الفنسټن ذکر شوی کتاب، لومړی ټوک، ۲۰۱ مخ، پایلیک.
۷۷. د کهزاد یاد شوی اثر، ۱۷۵ مخ.
۷۸. حبیبي، عبدالحی، روه په ادب او تاریخ کې، وږمه مجله، دریمه او ځلورمه ګڼه، ۱۳۵۲ ل، ۱ او ۹ مخونه.
۷۹. د فه شین د قول نقل د سمالوئیل بیل له خوا د شون چونګ نه ذکر شوی کتاب په مقدمې کې، ۳۶ مخ، لومړی ټوک.
۸۰. فرشته، محمدقاسم، د فرشته تاریخ، کانپور، ۱۳۰۱/ ۱۸۸۴، ۲۲۰ مخ.
۸۱. ملا نعمت الله په (تاریخ افغانها) باندې د (Dorn) له ملحقاتو ځخه، لندن، ۱۹۶ م، ٦۴ مخ.

ملک لپاره په کراتو راوړې ده.[۸۲]
د پښتونخوا نوم تر هر بل نوم نه ډېر د پښتو په مینځ کې رواج لاره؛ مګر برخلاف په خارجي اثارو کې یې لاره نه وه میندلې؛ خو دا په یقین معلومه نه ده، چې دغه نوم یواځې جغرافیوي سیمه ښووله؛ یا سیاسي مفهوم یې لاره، د ځینو لیکوالو په نظر دا نوم د لومړي ځل لپاره د دولسمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې د پښتو په ادب کې ننوتی دی.[۸۳]
د اتلسمې پېړۍ په نیمایي کې احمدشاه درانی د پښتونخوا نوم په خپلو اشعارو کې راوړی دی، په یوه بیت کې یې ویلي دي:

د ډهلي تخت هېرومه چې راياد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

د نولسمې پېړۍ په سر کې مشهور الفنسټن د ډاکتر لیډن (Leyden) په قول د پښتونخوا ذکر کړی؛ مګر ورسره یې جوخته زیاته کړې ده، چې ده پخپله دغه نوم نه دی اورېدلی.[۸۴] لکه څنګه چې د مخه وویل شول؛ دا کلمه په خپله پښتنو کې ډېره معموله ده او د هغې پېړۍ په وروستیو کلونو کې نورو باندنیو لیکوالو په کراتو سره د هغې ذکر کړی دی.[۸۵]

۸۲. د حبیبي (روه په ادب او تاریخ کې) ذکر شوي مقاله، ۲ او ۳ مخونه.
۸۳. رښتین، صدیق الله، د پښتو ادب تاریخ، کابل مجله، ۱۳۲۵ ل، ۱ مخ.
۸۴. د الفنسټن ذکر شوی کتاب، لومړی ټوک، ۲۰۰ مخ.
۸۵. بیلو، د افغانستان د اتنوګرافۍ په باب یو تحقیق، لندن، ۱۸۹۱ م، ۱۹۸د مخ، د بیلو بل ذکر شوی کتاب، ۵۸ مخ، ډارمسټېټر جم، د پښتونخوا د شعر هاروبهار، دریم چاپ، پښتو ټولنه، ۱۳۵٦ ل.

آریانا مجله، ۱۳۵۹ ل کال، ۲مه ګڼه، پرلپسې ګڼه ۳۳۲، ۷۳-۸۰ مخونه.

# نگاهی به حکومت و جامعه افغانستان در دوره امارت امیر عبدالرحمن خان[۸۶]

در اثر تازه اینجانب که بنام حکومت و جامعه افغانستان در دوره امارت امیر عبدالرحمن خان نشر شده است، شخصیت امیر با تاریخ افغانستان در دوره مورد بحث مزج گردیده است. این امیر که بیشتر از هر حکمران سلف خود بالای جامعه افغانستان اثر خود را بجا گذاشته است، در سر و صورت دادن تاریخ کشور نه بحیث یک فرد منزوی، بلکه بحیث یک شخص اجتماعی که اساساً ممثل قوای محافظه کار بود، تبارز نموده است. در بدو امر خطرات داخلی ای که در دوره جنگ های داخلی دهه (۱۸۶۰ م) بروز نمود، امیر را به ضرورت تاسیس یک حکومت مقتدر مرکزی متقاعد ساخت. متعاقب آن این فکر با خطرات خارجی تقویه شد که متوجه سلامت کشور و حکمرانی امیر گردید. امیر برای دفع این خطرات یک اردوی قوی دایمی و منابع طبیعی و بشری را که در دسترس خود داشت، تنظیم و تجهیز کرد. در عین حال کشور افغانستان را به اساس این مفکوره منزوی ساخت که بگفته خودش: «یک خانه پیش از آنکه اثاث البیت و پرده در آن گذاشته شود، باید دیوار ها داشته باشد، ورنه دزدان خواهند آمد و آن چیزها را به یغما خواهند برد.»[۸۷] این مفکوره امیر نهایت مهم ثابت گردید، چونکه در داخل کشور تشکیلات حکومتی و دسته های مختلف جامعه را و در خارج کشور روابط آن را با همسایه گانش بطور جدی متاثر ساخت.

اردو جدید توسعه بیوروکراسی موجود را ضروری ساخت تا به اردو معاش، یونیفورم و

---

۸۶. این نوشته قسمت خاتمه و نتیجه کتابی بقلم نویسنده است که بنام «حکومت و جامعه افغانستان در دوره امارت امیر عبدالرحمن خان، از طرف پوهنتون تکزاس امریکا در ۳۵۰ صفحه بزبان انگلیسی در ۱۹۷۹ نشر شده است.

۸۷. به نقل قول والتر پاین، سر انجنیر کارخانه کابل در جریده اډوکیت هندوستان، در سلسله مکتوب های سیاسی و سری وارده از هندوستان، جورنال فرنتیرز، صفحه ۱۵۶ قسمت ب، در اسناد دفتر هندو کتابخانه دفتر هند در لندن.

وسایل خوراکی ترتیب و تهیه کرده به بقای خود ادامه دهد. مصارف لازمی از مدارک مالیات بر زمین و انواع مختلف سایر محصولات تهیه شد که در دوره امیر به اندازه بی سابقه زیاد گردید؛ با آنهم این عواید کفایت نکرد، زیرا که تشکیلات حکومتی و مصارف که برای اجرای عادی امور لازم بود، بتدریج آنقدر زیاد شد که رفع آن با منابع قلیل داخلی ممکن نبود. بگفته امیر تنها اردو (۷۸) فیصد تمام عواید دولت را می بلعید. امیر و بعد از او اخلافش برای سبک ساختن این بار سنگین مالی به کمک خارجی متوسل شدند، مگر با این کار خود را بر قدرت های خارجی متکی گردانیدند. این امر دو نتیجه داد، و هر دوی آن موقف اخلاقی شان را متضرر ساخت. اول آنها در مورد روابط خارجی، مخصوصاً راجع به آن مناطق که در اثر معاهده دیورند داخل منطقه نفوذی حکومت هند برتانوی خوانده میشد، ولی در خود افغانستان هنوز هم اجزای آن شمرده میشد؛ آزادی عمل را از دست دادند. دوم امیر عبدالرحمن خان بمثل اخلاف خود از طرف مردم افغانستان به نظر بی اعتمادی دیده میشد، به سببیکه چون او و اخلافش از حکومت هند برتانوی کمک های مالی و اسلحه دریافت مینمودند، بر ضد آن از مبارزه جدی شانه خالی میکردند. این رویه و نظر مردم با آنکه احساسات ضد کفر رسما به شدت تقویه میشد، دوام و شدت داشت.

اردو و بیروکراسی جدید سبب شد که افراد مستعد در این ساحات غیر تولیدی اقتصادی جذب شوند. چون این انجذاب قدرت انسانی، شغل ها را در ساحات دیگر محدود ساخت، اردو و بیروکراسی تا حد زیادی جای تشبثات فردی را اشغال نمود. شرایط مساعد برای انکشاف اقتصاد ملی از راه تشبثات خصوصی فراهم نگردید. یک مشاهد چنین اظهار نظر می کند:« آنچه این کشور را در مرحله اول متضرر می سازد، قطعه قطعه بودن و مخالفت های ناشی از آن است. در درجه دوم این واقعیت که مردم برای خود صلاحیت اجرایی ندارند، وقتی یک شخص مقتدر و جاه طلب و مستعد ظهور می کند، بجای آنکه چنان کاری را پیشه خود سازد که با آن در منطقه خود اهمیتی کسب کند، به دربار رو می کند و بچنان یک سیستم دسیسه بازی توسل مینماید، که میخواهد یک شخص دیگری را از موقفش بر اندازد و خود جای او را اشغال کند. بمفهوم بسیار دقیق این حکومت مثل پدر بسیار حاکمانه است و هر چیز به رئیس دولت تعلق دارد.»[۸۸] تاثیرات سوء اردو و بیروکراسی جدید مخصوصا در ساحه زراعت که اساس اقتصاد افغانستان را تشکیل میدهد، نمایان بود.

---

۸۸. هملتن لیلیاس دختر یک وزیر، قصه جنگ هزاره، ص ۱۵، لندن، ۱۹۰۰.

سیستم جدید مالیات بر زمین و سایر محصولات، دولت را قادر برآن ساخت که قسمت زیاد محصولات زراعتی را بخود اختصاص دهد. این امر در کشوریکه مؤلیدین کوچک زراعتی در آن غلبه داشت، باعث آن شد که دهقانان صرف در حال به اصطلاح «بخور نمیر» زنده‌گی نمایند. بدتر از آن این اقدامات محرک زمینداران کوچک را که اکثریت عظیم ملاکین را تشکیل میدادند، بحدی از بین برد که تمام کوششات امیر جهت اصلاح زراعت از قبیل اعطای قرضه های زراعتی، اعمار و اصلاح کانال های آبیاری پروگرام تحت زرع در آوردن زمین های وسیع در ترکستان زمین بلحاظ تاثیرات ناچیز ثابت گردید.

سیاست امیر در مورد توزیع و تجارت در محصولات زراعتی هم بهمین اندازه غیر مفید ثابت شد. موصوف با تاسیس انحصارات حکومتی و وضع محصولات زیاد بر اموال صناعتی بدون آنکه در عین زمان صنایع دستی را حمایه کرده باشد، مانع ظهور یک طبقه متشبث تجارتی شد. در فرجام تمام این سیاست ها ناکام شد و علل آن این بود که غیر واقعبینانه بود و علاوه بر آن کارداران نالایق و علاقمند به منافع شخصی متکفل اجرا و تطبیق آن بودند. بجای آن تجارت آزاد در پیش گرفته شد ولی در آنوقت تجار آنقدر کوبیده شده بودند که نتوانستند با رقبای خارجی در دهه آینده موفقانه مقابله نمایند. مختصر اینکه گرچه اصلاح سیستم های مخابرات و سرک ها، منکوب ساختن رسم راهزنی و تاسیس کارخانه کابل در ذات خود کارنامه های قابل وصفی بحساب می آیند، ولی سیاست های اقتصادی امیر در مجموع خود افغانستان را بچنان حالت زراعتی محکوم کرد که در آن حتی خود زراعت هم بدون آنکه در مدت کوتاهی جبیره شده بتواند، بصورت اساسی متضرر شد. مگر در ارزیابی نمودن سیاست های امیر باید نگرانی مردم آن وقت برای سلامت افغانستان از نظر انداخته نشود و هم از تجاوزات احتمالی انگلیس و روس در هراس بودند. امیر عبدالرحمن خان این ترس را خوب درک کرده بود. برای آن چنان نقشه ها را طرح نمود که بموجب آن باید دولت تقویه گردد تا با عبارت خودش«مملکت افغانستان برای مردم مسلمان تا ابد باقی بماند و اینکه موخرالذکر هیچ وقت از طرف کدام ملت خارجی مغلوب نگردد».[۸۹]

ولی در زمینه امیر تا حدی پیش رفت که نسبت به دولت علاقمندی از حد زیاد را نشان داده و بهبود واقعی خود مردم را که باید کمک اساس کارنامه های بشری باشد، فراموش نمود. این نگرانی از حد زیاد درباره دولت باعث آن شد که او از درک این موضوع عاجز ماند که قدرت خالص نظامی در حالیکه فاقد پشتوانه قوی اقتصاد ملی باشد، بر اساس

۸۹. عبدالرحمن . امیر. رساله موعظه. ص ۲۲. کابل ۱۸۹۴.

متینی استوار بوده نمی تواند. موصوف چنان کوششات بعمل نیاورد که باعث تقویه اقتصاد و استثمار منابع طبیعی بطرق جدید باشد. اینکه موصوف اجازه نداد خطوط آهن و تیلگراف در داخل کشور اعمار گردد، قابل درک بود. دلایل موجود بود که اگر چنین میشد، تمامیت افغانستان ویا آنچه از آن باقیمانده بود، در معرض خطر جدی قرار میگرفت. در عین حال او احساسات ضد کفر را در بین مردم تقویه کرد و درین موضوع بحدی پیچیده، که بگفته یک مشاهد «مقصر فراموشی استخراج معادن از کشورش شد.» مرزنک مارتن، سر انجنیر کارخانه کابل می نویسد که امیر: «اکثر اوقات از فوایدیکه به کشورش عاید میشد بمن سخن ها میگفت و بزودی بعد از تقرر من او امر کتبی صادر نمود که اقدامات لازم درباره ذوب معادن مس که در نزدیکی کابل کشف شده بود انجام نمایم. ولی همینکه این کار تا نصف آن پیش رفت، بمن هدایت داد که کار بالای آن معطل گردد. این موضوع به همین ترتیب معلق ماند.»[۹۰] مارتن چنان می اندیشید که امیر «نمیخواست با آشکار ساختن ثروت مملکت، سایق تجاوزات به همسایگانش را فراهم نموده باشد.»[۹۱] بجای این چیز ها امیر کوشید دولت و حاکمیت خاندانی را با وسایل و طرق درشت عنعنوی استحکام بخشد که در نتیجه آن تمام دسته های مردم در پنجه چنان یک دولت مقتدر و خوردکننده قرار گرفت که افغان ها تا آنوقت ندیده بودند.

سیاست های امیر وقت از یک نگاه دیگری دیده شود، معلوم خواهد شد که یک جامعه نسبتاً مساوی را در افغانستان بمیان آورد. عین همان روش هائیکه مانع تولید ثروت گردید. در عین حال باعث آن شد که تفاوت ها در عواید را که در بین مردم موجود بود، با هم در سطح نسبتاً مساوی قرار دهد. موثرترین عامل در این زمینه، در جمله سایر چیز ها عبارت از تطبیق کلی سیستم سه کوت مالیات بر زمین بود که به موجب آن زارعان بی زمین مستحق ثلث محصولات زمین شدند. البته این موضوع محصول غیر ارادی سیاست های امیر بود، نه نتیجه مساعی شعوری او. امیر را عقیده بر آن بود که انسان ها در اصل با هم برابر نیستند. او میگفت که چون «عقل درجه های دارد، خداوند قسمت های بزرگ را به دماغ های بزرگ و قسمت های کوچک را به دماغ های کوچک اعطا کرده، او هیچ انسان را از آن محروم ننموده و این برای خیر و فلاح انسان است تا انسان ها نیازمند همدیگر باشند.»[۹۲] این عقیده بلاخره به چنان انجام منتهی شد

---

۹۰. مرز نک مارتن. در تحت حکمرانی امیر مطلق العنان ص ۳۰۵ لندن ـ ۱۰۹۷.
۹۱. ایضاً ص ۳۰٦.
۹۲. امیر عبدالرحمن خان، مرات العقول، کابل، ۱۸۹۴ ص ۱۴.

که امیر درباره تنظیم مجدد جامعه به اساس چنان یک سلسله مرتبه وار و درجه دار مساعی شعوری به خرچ داد که خاندان محمدزایی ها در راس آن قرار داده شدند.
کارنامه های امیر تا آن جا که به سیاست داخلی ارتباط داشت، خیلی موفق بود و این موفقیت مرهون اردویی بود که امیر آن را منظم کرده بود و عصاره این کارنامه ها تصفیه بعضی مردم و تابع ساختن آن عده دیگر بود که امیر تمام آنها را بنام «طبقه متوسط» میخواند. مگر اینها در واقع کسانی بودند که استعداد مخالفت با دولت و خاندان امیر را داشتند. این موضوع تابع ساختن با علاوه هراس از خطرات خارجی برای امیر این را ممکن گردانید که شاهی مطلقه را در داخل نظام قدرت مرکزی متمرکز برقرار نماید که متقی بر ادعای ناشی از مقام الهی باشد. در عین حال در دوره امارت امیر آغاز چنان یک دولت ملی به مشاهده میرسد که افراد این را درک کردند که بعلاوه متعلق بودن ایشان به جوامع کوچک عنعنوی عضو یک واحد بزرگتر بنام افغانستان میباشند و این افغانستان دارای مقررات و قوانین متحد الشکل و واحد های نسبتاً معیاری شده وزن و سکه بوده و هم در نتیجه فتح شدن مناطق جدید و اصلاحات سرک ها مستعد انکشاف تجارت داخلی به سویه ملی شده بود. مختصر اینکه افغانستان در این دوره برای اولین بار بحیث یک واحد یگانه اقتصادی و سیاسی ظهور نمود. این حال به علاوه ترویج تکنالوجی عصری نظامی در این کشور که در واقع هنوز هم بیشتر مشابه به نظام قدیمی بود، تا یک دولت عصری؛ راه را برای عصری شدن در دهه های آینده آماده ساخت.
امیرعبدالرحمن خان در ترویج ریفورم های یاد شده فوق باید بین یک مصلح مطلق العنان و یک مصلح معتقد به تحول تدریجی، انتخابی مینمود. موصوف رول اولی را انتخاب کرد و پروای حمایت انسان را یا هیچ ننمود و یا علاقمندی کمی نسبت به آن نشان داد. ولی تشدد و جبری که در دوره امارت او بنام دولت و جامعه مورد استفاده قرار داده شد، تا آنوقت در تاریخ و حیات سیاسی افغانستان سابقه نداشت. در واقع عین همان دولت را که امیر تنظیم نمود، بر مبنای زور و جبر استوار بود.[۹۳] خود امیر با آنکه از مردم عوام سخن ها میگفت، بگفته یکی به شاهینی مبدل شد که بسیار علاقمند گوشت بود.
بنابر همین علت است که حکمرانی مطلقه او با اینکه موصوف موسس واقعی افغانستان

۹۳. نایب کوتوال میر سلطان، نقل قول در یاد داشت پشاور ۱۲ فبروری ۱۸۸۷. در سلسله مکتوب های سری و سیاسی وارده از هندوستان. جلد ۴۹.ص۵۷٦، اسناد دفتر هندو کتابخانه دفتر هند در لندن.

معاصر میباشد، تا امروز بحیث سمبول ترور و دهشت خوانده میشود. ولی باید بخاطر داشت که او بالای چنان مردمان حکمرانی مینمود که بگفته یک مشاهد زور و جبر «قوت یگانه قانونی آنها» بود.[٩٤] و این میرساند که چرا طرق درشت حکمروایی او را اخلافش هم در پیش گرفتند. ولی در عین حال دولت را که امیر تنظیم نمود، همچو یک مانع موثری به مقابل دوره های دوامدار جنگ های داخلی قرار گرفت. که تا آنوقت در این کشور بکثرت واقع میشد.

---

۹۴. یپل گریفن. (امیر و اخلاف او) مجله فورت نایتلی، ۱۹۰۱ ص ۷۵۷.

کابل مجله، ۱۳۵۷ ل، د چنګابښ نه ویشتمه، څلورمه ګڼه، ۲۹ او ۳٦ مخونه.

# د احمدشاهي دولت ځینې خصوصیتونه

همدا چې مالومه شوه چې صفوي حکومت نور نشي کولی له میرویس څخه کندهار ترلاسه کړي، دُرانیانو هم په لومړیو کې له صفویانو سره مرسته کړې وه او بیا یې د استقلال بیرغ په هرات کې پورته کړ او صفویان یې له ښار نه پسې واخیستل. وروسته هغوی په دې ټولو ولایاتو مسلط شول او په غور، بالامرغاب، بادغیس او اُوبه حاکمان مقرر کړل. لکه څرنګه چې غلجیانو په کندهار کې د دولت بنسټ ایښی و، دُرانیانو په هماغه ترتیب په هرات کې کېښود. په دې وخت کې د ټول دُراني قوم مشر اسدالله سدوزی و؛ خو لکه څنګه چې مخکې ذکر شو په (۱۷۲۰ م) کې د دوی او د غلجیانو ترمنځ په دلارام کې د فراه پر سر جنګ وشو. دُرانیانو ماته وخوړه او مشر یې ووژل شو. دُرانیان وروسته د مشهد نیولو ته متوجه شول، خو بریالي نه شول. بیا یې هم د هغو شاوخوا سیمو کې فعالیت کاوه که څه هم څو مخالفو ډلو د دوی ترمنځ ظهور کړی و. نادرشاه په (۱۷۳۰م) کال کې د افغانانو د ټکولو تصمیم ونیو او (۱۷۳۱ م) په مارچ کې وروسته له یو لړ بریاوو چې په ډېر مشکل سره یې په نصیب شوې (په کافر کلا کې نادر زخمي شوی و) د هرات په لور روان شو، په دې وخت کې د دُرانیانو مشر ذولفقار سدوزی و. د رقیبانو پر خلاف، الله یارخان او نور له نادر قلي سره د هر ډول مصالحت مخالف ول. یوه ډله فارسي ژبي خلک او یو شمیر غلجیان چې له نادر سره د مخالف له مخې هغه ځای ته تللي ول، له دُرانیانو سره یوځای شول. د ښار امامیان او تیمنیان د نادر طرفدار شول. له دې هر څه سره بیا هم هغه و نه شو کولی څو د خپلو ضعیفو ملګرو په وسیله د هرات ښار ته لار وکړي. هرات د (۱۱) میاشتو لپاره محاصره و، تر دې چې د (۱۷۳۲م) کال په فبرورۍ کې پرانیستل شو. نادرشاه سره له دې چې له دُرانیانو سره یې سخت مخالفت درلوده، خو بیا یې هم هغوی قتل عام نه کړل. یوازې د دُرانیانو مشران یې زنداني کړل او نور یې د سمنان او مشهد ترمنځ سیمو کې هستوګن کړل. هغه دُرانیان چې له نادرشاه سره پاتې شول، ښه خدمتونه یې ترسره کړل. دا دُرانیان چې مشري عبدالغني خان الکوزي کوله، د دامغان د پاڅون کوونکو یعنې الیزیو او همدرانګه د دجلې د سیند ترڅنګ د عثماني

اردو پر وړاندې د نادرخان په ګټه وجنګیدل. د دې خدمتونو په بدل کې نادرخان د دوی بندیان ازاد کړل او له دوی سره یې وعده وکړه چې وروسته له دې چې کندهار له غلجایو څخه ونیسي، بیرته به یې دوی ته سپاري. په (۱۷۳۸ م) کې یې کله چې دا کار وکړ، نادرشاه دُرانیانو ته، کندهار او هرات ته د تګ اجازه ورکړه او کومې ځمکه چې یو وخت یې خپل ملکیت و، بیرته ورته ورکړل شوې. دا ځمکې د نادرشاه له هدایت سره سم، د عبدالغني الکوزي په واسطه د دُرانیانو د لویو قومونو ترمنځ ووېشلې. ارغنداب الکوزیانو، زمینداور الیزیو، ارغستان اچکزیو او ځینې نورې سیمې بارکزیو او داسې نورو ته ورکړل شوې. (۹۳) دُراني مشران د پخوا په څیر د نادرشاه تر وژلو پورې په (۱۷۴۷ م) کې د خراسان د خبوشان په فتحه کې د نور محمدخان الیزي په مشري (په دې وخت کې عبدالغني خان الیزی وفات شوی و) له خپلو قطعاتو سره په لښکرکشیو کې ونډه درلوده. د دې مشرانو په منځ کې یو کس د احمدخان سدوزي په نوم، د افغانستان راتلوونکی امپراتور و.
دُرانیانو د نادرشاه تر وژلو پورې د مشهد له شاوخوا سیمو څخه کندهار او هرات ته لاړل. د دوی مشران او هغه کسان چې له نادرشاه سره په خدمت بوخت وو، ډېر ژر له دوی سره یوځای شول او په دې خاطر د یوه مشر د درلودو په فکر کې شول چې هم یې له غلجیانو سره مخالفت درلود او هم دراني قومونه تازه په یوه نوي ځای کې هستوګن شوي ول؛ نو ځکه دوی یوه اغېزمن او قوي حکومت ته اړتیا درلوده چې د دې کار لپاره دوی تیار له نادرشاه سره د خدمت په دوره کې د ښې حکومتولۍ او نظامي مسایلو تجربه ترلاسه کړې وه؛ نو بنا پر دې، د دُرانیانو د عمده قومونو مشران لکه جمال خان بارکزی، نورمحمد خان الیزی، نصرالله خان نورزی، مهابت خان پوپل زی، موسی خان اسحاق زی او ځینې نور په (۱۷۴۷ م) کې نادرآباد ته نږدې په شیرسرخ زیارت کې جرګه وکړه، خو هیڅ څوک د مشر په توګه ونه ټاکل شو او د یو شمیر نوماندانو ترمنځ موازینه هماغسې پاتې وه. ظاهراً هیڅ یوه له دوی څخه نه غوښتل چې داسې یو کس غوره شي چې د شخصیت په لحاظ دکتاتوري ته میل لري او د قومیت په لحاظ یې شمیر او قوت زیات وي او یا له دواړو نه بهرمند وي. دوی حاضر نه ول چې یو ځل بیا ورباندې د نادرشاه په څیر مطلق العنان حاکم شي. همدا لامل و، چې دُرانیان نه په جمال خان راضي وو او نه هم په محمدخان الیزي، هغه په دې سبب چې لومړنی یې د یوه لوی قوم مشر و او دویم یې دکتاتوري ته ډېر میل درلود، په داسې حال کې چې اوس هم د میرافغان په حیث د ټولو مشر و. بالاخره له نهو ورځو جرګو وروسته د یوه روحاني شخص له لوري چې نوم صابرشاه لاهوري و، د سدوزیو د یوه کوچني قوم مشر احمدخان د ټولو دُرانیانو د مشر په

توګه ومنل شو، پرته له دې چې احمدخان د نورو قومونو د مشرانو په خير ځان نوماند کړي. هغه څه چې د جرګې غړي يې د احمدخان په مشري موافقت ته ورسول هغه د احمدخان اجتماعي او ټولو ته د منلو وړ شخصيت او د نادرشاه په لښکر کې د نوموړي بريالیتوبونه ول. په دې ټاکنه کې ځينې نور ملاحظات هم اغېزناک ول چې له هغې ډلې د سدوخان د نيکونو لوړ مقام و چې احمدخان هم د دوی له ډلې څخه يو و. د دوی په کورنۍ کې د ټول قوم مشري نيمه ميراثي وه (د نادرشاه د سلطنت په دوره کې سدوزيو دا مقام له لاسه ورکړی و). له دې پرته د صابرشاه وړانديز يو الهي مظهر ګڼل کيده، په ځانګړي توګه هغه وخت کله چې صابرشاه په يوه لنډ شانته وعظ کې دوی ته په خطاب کې وويل چې د احمدخان د نه ټاکل کيدو په صورت کې شايد دوی، په الهي قهر او غضب مبتلا شي.

نورو مشرانو دا فکر هم وکړ چې احمدخان د يوه کوچني قوم مشر دی، که چېرې نوموړی ديکتاتوري ته مخه کړي؛ نو د هغه خالي سلاح کول ورته کوم سخت کار نه دی. په دې ترتيب احمدخان د احمدشاه دُراني په حيث، په داسې حال کې چې د غنمو وږی يې د تاج په توګه په سر کې ايښی و، له جرګې راووت. دا هغه وخت و چې صفوي امپراتورۍ له منځه تللې وه او بابري امپراتوري په هند کې مخ په ختميدو وه. احمدشاه د افغاني دولت په تنظيم او جوړولو پيل وکړ او لښکر کشۍ يې پيل کړې؛ خو کوم دولت چې احمدشاه رامنځته کړ، په واقعيت کې د هغو دولتونو انکشافي شکل و چې دُرانيانو په هرات او غلجيانو په کندهار کې مخکې تاسيس کړي وو. احمدشاهي دولت د جرګې په پايله کې منځته راغلی او حداقل پخپله د احمدشاه په دوره کې همداسې د جرګو په مشوره مخته لاړ. علاوه له دې، د دې دولت بنسټګر د نورو امپراتوريانو د بنسټګرو (اسمعيل صفوي يا بابر ګورګاني او نادرشاه افشار) پر خلاف د زور او شدت پر ځای له مصلحت او مشورې نه کار واخيست او قدرت ته ورسيد. د احمدشاه د (۲٦) کلن سلطنت پر مهال (۱۷۴۷-۱۷۷۳ م) په افغانستان کې مهمې پېښې رامنځته شوې. له ټولو مهمه يې د اصلي افغانستان استقلال او تر يوه واحد مرکز لاندې له سند نه تر هندوکش پورې د يوې افغانې سدوزي کورنۍ تر حاکميت لاندې راوستل و. له افغانستان سره د ځينو نورو سيمو لکه کشمير، پنجاب، سند، بلوچستان، د فارس خراسان، ترکستان او بدخشان په يوځای کېدو يوه لويه امپراتوري رامنځته شوه. احمدشاه د شاهنشاه په نوم ياديده (احمدشاه ډېری په هند کې په دې لقب ياديده) او د نوموړي امپراتوري تر ډېره د دُراني امپراتوري په نوم ياديده. د امپراتورۍ سيمو باج ورکاوو او خپله د افغانستان ځينو قومونو او سيمو يا هيڅ ماليه نه ورکوله او يا يې هم ډېره کمه ماليه ورکوله. د دولت

مصارف په ډېره اندازه د فتوحاتو له غنیمتونو او باج څخه لاسته راتلل؛ نو په دې وجه د افغانستان له خپلو خلکو څخه د ډېرې مالیې د اخېستلو اړتیا پیدا نه شوه او په پایله کې د حکومت او عامو خلکو ترمنځ کوم ضدیت رامنځته نه شو. علاوه له دې، دا چې اداري سیستم د مرکزیت د نشتون د اصل پر بنسټ و، والیان او قومي مشران د سیمو او د قومونو په اداره کې تر ډېره حده ازاد ول. د دولت تجهیزات اکثره د حکومت په ښارونو کې کیدل او د ملکي او فوځي اداراتو په رأس کې دُرانیان واقع ول. د دُراني قومونو دې مشرانو په عین وخت کې د دې نظامي قطعاتو مشري هم په غاړه درلوده چې هم یې خپل ځانونه او هم یې قومي مشران د اړتیا په وخت کې حکومت ته برابرول او د دې کار په بدل کې یې یا معاشات اخیستل او یا به یې له حکومت نه ځمکه اخیسته، ترڅو عایدات یې دوی ترلاسه کړي. حکومت د فوځ یوه کوچنۍ منظمه دایمي قطعه د شاهي غلام یا د کور غلام په نوم په واک کې درلوده چې د دود له مخې له ځینې اقلیتونو او د دربار له غلامانو جوړه شوې وه. دفتري کارونه په دفتري ژبه اجرا کیدل او د دولت عمال دري ژبي ول، په داسې حال کې چې د دربار ژبه او د دولت لوړپوړي اعیان او ارکان او ډېره برخه خلک پښتانه ول. علاوه له دې احمدشاهي دولت لاندې خصوصیات درلودل:

۱. په احمدشاهي دولت کې خپله د شاه شخصیت د توازن په راوستلو کې له بل هر څه نه ډېر اهمیت درلود. د احمدشاه سیاستمداري په دې کې وه چې موازینه یې په داسې ډول وساتله چې له څو ځایونو پرته یې هیڅ له زور او زیاتي څخه کار وانخیست. همدا لامل و چې د ده په دوره کې، له څو ناکامو توطیو پرته چې د جاه طلبو سردارانو لکه نورمحمد الیزي په وسیله ترسره شوې، نور د احمدشاه پر ضد هیڅ پاڅون ونشو؛ خو ځایناستي یې د دا ډول انډول له ساتلو عاجز شول او احمدشاهي دولت یې په پایله کې متزلزله کړ.

۲. په احمدشاهي دولت کې دُراني سرداران، لکه څنګه یې چې مخکې یادونه وشوه، د ډېرو نظامي، سیاسي او مالي امتیازاتو په لاسته راوړلو سره لوړ موقف ته ورسیدل. له دې پرته دوی د جنګي غنیمتونو په لاسته راوړلو سره په ډېرو لښکر کشیانو کې تمویل شول او په عمومي توګه د احمدشاهي دولت د ملا تیر په توګه د درباري اشرافو یوه ممتازه طبقه جوړه کړه او تر دې حده په قدرت کې شول چې حتی د دولت لپاره خطر ګڼل کیدل. دا خطر د احمدشاه د زوی او ځایناستي تیمورشاه (۱۷۷۳-۱۷۹۳ م) په دوره کې هغه وخت محسوس شو چې اکثرو دُراني سردرانو د تیمورشاه ورور او د هغه رقیب د تیمورشاه پر خلاف حمایت کړ. تیمورشاه چې د

غير تيموريانو په سيمه کې تربيه او پيدا شوی و، د دې لپاره چې دا خطر اغيز و نه کړي، د سلطنت مرکز کابل ته را نقل کړ او لوړ رتبه دولتي منصبونه يې غير دُرانيانو ته ورکړل او خپله يې ډېر د ښار پر اقليتونو تکيه وکړه. دا اقدامات چې اصلاً تيمورشاه د مرکزي حکومت د استحکام لپاره وکړل، د دې لامل شول چې دُرانيان او يو شمير نور پښتانه (غير پښتنو د نوموړي د سلطنت په دوره کې پاڅون ونکړ) يو لړ پاڅونونه وکړي. تيمورشاه ټول دا پاڅونونه پر افغان امپراتورۍ د پرديو يرغلگرو د يرغل په گډون، ټول ناکام او دفع کړل؛ خو د امپراتورۍ دولت د همدې شاه په دوران کې مخ په ماتيدو شو او د زامنو په دوره کې يې تجزيه او د سدوزيو کورنۍ د نوولسمې پېړۍ په لومړۍ ربع کې سقوط وکړ.

٣. د احمدشاه د دولت دوام او استحکام تر ډېره د واليانو او قومي مشرانو له ښه نيت پورې تړلی و او مرکزي حکومت د مملکت له مستقيمې ادارې نه عاجز و؛ خو واليان اکثره شهزادگان ول او شمير يې زيات وو. شاهانو د حکومت د استحکام لپاره له متنفذو (خدمتگاران) کورنيو سره د واده اړيکې ساتلې او د خدمتگارو ښځو به يې ډېر خيال ساته. په بل عبارت شاهانو ډير اولادونه درلودل او ناسکه وروڼه به له نورو نه جدا تربيه او لويدل. هغه شهزادگان چې په حاکمو ولاياتو کې به له خپلو ناسکه ورڼو سره يو ځای ول، د شاه له مړينې وروسته به يې د تخت او تاج پر سر پخپلو کې جگړې کولې. دوی د ځايناستي کومه مالومه سياسي تگلاره نه عملي کوله، همدا ډول جگړو ته لار خلاصه وه چې په پای کې د داخلي دوامداره جگړو لامل شوې. په دې کې خدمتگارانو او قومي مشرانو هم د يوه لوري طرفداري کوله، په ځانگړې توگه د تيمورشاه له مرگ وروسته دغه حالت خطرناک شو، تر دې اندازې چې د سدوزي کورنۍ د امپراتورۍ د سقوط عمده لامل هم همدا داخلي اړې دوړې شوې.

٤. دا چې د اصلي افغانستان عايداتي منابعو بسنه نه کوله او د امپراتورۍ له سيمو څخه په کم او نامنظم ډول دا عايدات راتلل، دې حالت د احمدشاهي امپراتورۍ بنسټ متزلزله کړ، خو دا تزلزل په تدريجي او غير محسوس ډول و. احمدشاه له خپل ټول ثروت او قدرت سره ونشو کولی چې د خپل دولت لپاره بشپړ ثابت عوايد برابر کړي او دولت يې لکه څنگه چې مخکې يې يادونه وشوه، اکثر د جنگي غنايمو او د امپراتورۍ د سيمو په باج تمويليده. بهرني باجونه حتی د حکومت په ايجاد او نظم کې په هماغه لومړيو کلونو کې ډير اغيزناک ول (په هغه کال کې دوه ميلونه روپۍ چې د باج په شکل نادرافشار ته ليږل کېدلې، د احمدشاه په تصرف کې شوې). د نوموړي د نيکونو په دوره کې د امپراتورۍ سيمې لکه پنجاب او کشمير

چې ډېر عواید یې ورځخه ترلاسه کیدل پردي شول، افغانستان له سختو مالي ستونزو سره مخ او داخلي جګړې رامنځته شوې. د نوموړي نیکونو د نوولسمې پېړۍ تر څلورمې ربع پورې یا یې ونشو کولی او یا یې هم ونغوښتل د هغو ځمکو مالیه واخلي چې دولت معاف کړې وې او یا د هغو ځمکو مالیه زیاته کړي چې مخکې یې دولت ته په ډېره کمه اندازه مالیه ورکوله. دوی و نشو کولی چې په ښه ډول مالیه راټوله او د دولت عواید زیات کړي. د دې په بدل کې یې ګمرکي محصولات او پر کسبکارانو محصولات زیات کړل. دا سیاست د دې لامل شو چې د ځمکو والا خلک د قدرت په لوړه برخې کې پاتې شي او تجاران او کسبه کار خلک تر فشار لاندې راشي او تجارت له پرمختګ ځخه وروسته پاتې شو. دا چاره هغه وخت ډېره شوه چې دودیز ترانزیټي تجارت د بحري تجارت د پراخیدو له امله کمزوری شو او افغانستان په دې برخه کې ډېر تاوان وکړ. د احمدشاه له مرګ وروسته ښارونه له پرمختګ پاتې شول. په نولسمه پیړۍ کې د بهرنیو هېوادونو فشار او مداخلو د افغانستان پر داخلي اوضاع بدې اغېزې وکړې. پایله دا شوه چې په (۱۸۱۸م) کال کې د احمدشاهي کورنۍ حاکمیت پای ته ورسېد.

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د کب نه ویشتمه، دولسمه ګڼه، ۳۲ او ۳٦ مخونه.

# لومړني انسانان

د انسان پلټونکی فکر ارام نه وي، تل کوښښ کوي، مجهولاتو پسې شي او کشف یې کړي، البته د ده دغه راز کوښښ ځانله اساسي محرک لري چې د ژوندانه ضرورت او اړتیاوې په کې لوی رول لري. دا چې وایي «احتیاج د ایجاد مور ده» ډېر په ځای خبره ده، یو له هغو لویو مسئلو څخه چې یې تل د انسان فکر ځان ته را ګرځولی د هغه د پیدایښت خبره ده؛ خو تر اوسه داسې فیصلې ته نه دی رسېدلی چې ټول انسانان یا دا چې ټول علما پرې اتفاق ولري، همدغه سبب دی چې په دې باب کې هم لکه د نورو مسئلو په شان مختلف نظریات شته.

یو ځانله بېل ډسپلین په دې باب کې وضع شوی چې د انتروپولوجي یا معرفت الانسان په نامه یې شهرت میندلی دی.

زیاتره انتروپولوجستان یا انسان پېژندونکي په دې عقیده دي چې لومړني انسانان نیم میلیون کاله د مخه د مځکې په سر پیدا شوي دي، دا عقیده د هغو هډوکو د راپیداکېدو نه وروسته اظهار شوې، په نورو ځایونو لکه پیکنګ، هایډل برګ او سویکس (انګلستان) کې هم د ډېرو پخوانیو انسانانو هډوکي لاس ته راغلي چې هغوی ته د پیکینګ انسان، د هایډل برګ انسان، اوسویکس او پلیټ ډون انسانان وایي.

جیولوجستان یعنې مځکه پېژندونکي، د مځکې د هغو طبقاتو د مطالعې په اثر چې پورتني هډوکي په کې پیدا شوي داسې اټکلوي چې د جاوا انسان پینځه سوه زره کاله د مخه او د پلیټ ډرن انسان دوسوه او پنځوس زره کاله د مخه اوسېدل.

سره له دې بیا هم خبره حل شوې او قطعي شوې نه ده، دا نظریات هغه وخت بیان شول چې پورتني هډوکي په لاس راغلل، څوک نه شي ویلای چې دغه هډوکي ارو مرو د لومړنیو انسانانو دي.

وروستي کشفیات شاید د انسان قدامت تر دې هم د مخه کړي، دلته ارو مرو دا پوښتنه منځ ته راځي چې ښه څه وخت چې لومړنی انسان پیدا شو، د ژوندانه چل ول یې څنګه زده کړ، معلم خو یې مسلماً نه لاره، که یې لرلای، معلم له پاره د بل معلم ضرورت میدان

تـه راځـي چـې پـه دې ډول د دوو او تسلسل نظريـه صحيـح کېـږي او حـال دا چـې د تسلسل نظريـه عقـل نـه منـي.
پـه دې پوهېـږو چـې هـر مـادي ترکيـب پـه هـر شـکل او حـال چـې وي، ځانلـه خـواص لـري، دا خـواص د هغـه ترکيـب طبيعـي زېږنـده وي چـې اثبـات او دلايلـو تـه هيـڅ حاجـت نـه لـري او پـه مسـلماتو او بديهيانـو کـې راځـي، مثـلاً کـه يـو جسـم پورتـه واچـوو، بېرتـه مځکـې تـه رالويـږي، ولـې رالويـږي؟ مځکـه يـې کشـوي، مځکـه يـې ولـې کشـوي؟ ځکـه چـې د جاذبـې قـوت لـري؛ ولـې د جاذبـې قـوت لـري؟ دا يـې طبيعـي خاصـه ده، يعنـې هـره مـادي ذره د جذبولـو خاصيـت لـري او څرنګـه چـې مـادي ذرات د مځکـې پـه لويـه مجموعـه کـې سره ټولـه او متکاشـف دي؛ نـو ځکـه يـې قـوت هـم محسـوس دی او د دې پـر ځـای چـې مځکـه د کـوم جسـم (غيـر د لمـر د کـرې نـه چـې هغـه بيـا پـه خپـل نوبـت کـې تـر مځکـې پـه وارو لـوی او متکاشـف دی) پـه لـور کـش شي، جسـم د مځکـې پـه لـور جذبيـږي.
همدغسـې مـادي متکاشـف ذرات پـه بعضـې خاصـو حالاتـو او شرايطـو کـې ځانلـه مخصـوص او معيـن تظاهـرات لـري؛ نـو چـې خـبره بېرتـه انسـان تـه وګرځـوو، دا بـه ووايـو هـر وخـت چـې د مځکـې پـه سر پيـدا شـوی، د ځانلـه خصوصياتـو څښـتن شـوی دی، مثـلاً خـوراک، څښـاک، خـوب، توليـد د نسـل او داسـې نـور يـې د خپـل طبيعـي خاصيـت پـه برکـت پـه خپلـه کـړي دي.
د ده د وجـود ترکيباتـو او ورسره د هغـو خواصـو او صفاتـو چـې د طبيعـي سـوق پـه نامـه ياديـږي، انسـان تـه يـې پورتنـي اعـمال ښـوولي دي، پـه انسـانانو او حيواناتـو کـې طبيعـي سـوق بـل څـه نـه دي؛ مګـر د دوی د جسـمي ترکيباتـو طبيعـي خـواص او تمايـلات دي چـې انسـانانو کـې لـه طبيعـي سـوق نـه غيـر نـور څـه هـم شـته چـې محيـط يـې ور زده کـوي او کسـبي خـوا لـري.
ډېـر امـکان لـري چـې دغسـې لومـړني کشـفيات يـې تصادفـاً زده کـړي دي او هغـه وخـت چـې يـې لومـړني تصـادفي کشـف کـړی وي، لـه هغـه نـه يـې پـه وروسـتيو کشـفياتو کـې کار اخيسـتی وي او پـه دې ډول کـه مـوږ هـر کشـف تـه نظـر واچـوو، پـه حقيقـت کـې بـه هـم هغـې ټاکلـې موضـوع کـې لـه ابتـدا نـه تـر اوسـه پـورې د کشـفياتو يـو لـړ وينـو، مثـلاً ژبـه چـې يـوه اجتماعـي حادثـه او د پوهولـو او را پوهولـو او د باطنـي احساسـاتو د اظهارولـو يـوه وسـيله ده.
پـه ابتـدا کـې يعنـې پـه هغـه وخـت کـې چـې لومـړني انسـانان د مځکـې پـه سر پيـدا شـوي وو، پـه اوسـني حـال نـه وو او ډېـر امـکان شـته چـې پـه آينـده کـې هـم پـه دې اوسـني حـال کـې پاتـې نـه شي او فـرق وکـړي.
پـه ابتـدا کـې انسـانانو لـه اشـارو نـه کار اخيسـته او پـه مخصوصـو اوازونـو او حرکاتـو سره يـې د ډار، خوښـۍ، غـم او باطنـي احساسـاتو اظهـار کاوه، پـه زرګونـو کلونـو تېـر شـول. اشـارات او حـرکات پـه الفبـا واوښـتل او د نـن ورځـې ژبـې يـې جـوړې کـړې، لا بـه هـم د تکامـل پـه لـور

درومي؛ څکه تر هغې اندازې چې پخوانۍ ژبې مور ته نیمګړې ښکاري، زمونږ اوسنۍ ژبې به آینده ته هم نیمګړې وبریښي، اوس هم ډېر باطني جریانات او تمایلات شته چې زمونږ ژبې یې له اظهارولو نه عاجزې دي.

همداسې خوراک او څښاک هم و نیسئ، د لومړنیو انسانانو خواړه شاید وابښه، بوټي او میوې دانې وې، تر انسانانو د مخه د نرۍ په سر پیدا شوي وو، زرګونه کاله به تېر شوي وي او له هغه وروسته به انسان په دې بریالی شوی وی چې اور بل کړي او بیا له هغه نه په ژوندانه کې کار واخلي او له ډېرو خطرونو نه پرې ځان وژغوري، اور د لومړي ځل لپاره شاید په تصادف پیدا شوی وي، خو دا خبره یقیني ده چې د اور په کشف سره انسان د تمدن لوړ پوړ ته هسک شوی دی او دا کشف په خپل وخت کې دومره اهمیت لري، لکه برق چې یې اوس لري، لومړنی انسان په اوله کې په دې هېڅ نه پوهېده چې طبیعي شیان څنګه په کار کړي او په ژوندانه کې ترې کار واخلي.

له هغه وخت نه چې انسان د مځکې په مخ پیدا شوی، ځان یې له طبیعت او طبیعي حوادثو سره په جګړه کې ګېر لیدلی دی، سړو، تودو، لمر، باران، واورې، باد، مرضونو او داسې نورو ربړولي او مړه کړي دي.

په دې ډول تنازع دې ته اړ کړي چې ارام کیننې؛ بلکې کوښښ وکړي چې ژوندی پاتې شي او په دې سبب په طبیعي شیانو کار وکړي، یعنې ځینو شیانو ته تغییر شکل ورکړي او بیا یې د خپل ضرورت لپاره استعمال کړي.

په دې راز پوهېدل د انسان له پاره ښکه ډېر اهمیت لاره، دا پوهه هم سمدلاسه ور په برخه نه شوه، بلکې زرګونه کلونه تېر شول او له نیم میلیون نه تر (۵۸ ق م) پورې کلونه تېرل شول او له هغه وروسته انسان وکولای شول چې له ډېرو نه د ځان له پاره الات او وسایل جوړ کړي، یعنې ډېر په هغه اصلي شکل استعمال کړي او په ژوندانه کې ترې کار واخلي.

په دې ډول د انسان په تاریخ کې د زړې ډېرې با پلیولیتیک دوره راغله، تر عیسویت پنځوس زره کاله د مخه د یخچالو دوره وه چې په اروپا کې یې له شمالي قطب څخه نیولې تر فرانسې او المان او په شمالي امریکا کې یې تر نیویارک پورې ټولې مځکې لاندې کړې وې.

په دې دوره کې هوا زښته زیاته سړه شوې ده، همدغه بې سارې او له حده زیات ساړه و چې د ډېرینو آلاتو او وسایلو جوړونکي انسانان یې چې انتروپولوجستانو به ورته نیندر تل ویلې، له منځه لاړل، له عیسویت څخه تر شل زرو کلونو د مخه یعنې هغه وخت چې یخچالونه ورک شول او هوا ورو ورو پسې معتدله شوه، له آسیا او افریقې څخه

انسانان اروپا ته ولیږدېدل.
دا انسانان چې د نیندرتل د انسانانو په ځای خپاره او میشته شول، ډېرو میګنن په نامه یاد شول، دا انسانان په آسیا او افریقا کې شاید هومره اوسېدلی وي، لکه نیندرتل په اروپا کې خو څومره چې د نیندرتل په باب چې که څه هم د زړې ډبرې لومړني انسانان دي، معلومات شته، هومره د ګرومیګنن په باب نشته، د دې لوی علت دادی چې په اروپا کې نظر آسیا او افریقې کې زیاتې کیندنې شوې.
له همدې امله د اروپا په هکله معلومات زیات دي، ګرومیګنن ننیو انسانانو ته زیات ورته وو، دوی هنر پالونکي و، د غارونو، دیوالونه چې په کې به اوسېدل، د دوی له خوا نقش شوي وو، دوی نژدې شل زره کلونه په اروپا کې واوسېدل، همدوی وو چې له هډوکو څخه یې ستنې جوړې کړې و؛ خو په نورو کشفیاتو کې له نیندرتل څخه بېرته پاتې وو، پینځلس یا لس زره کاله د مخه دوی هم نیندرتل په څېر له اروپا نه ورک شول.
داسې ښکاري چې نور انسانان به له آسیا څخه اروپا ته تللي وي او هغوی به یې وژلي یا شړلي وي.
وروستني انسانان چې نظرو نیند رټل او ګرومیګنن ته په ترقي او تمدن کې د مخه وو، د اوسنیو انسانانو نیکونه بلل کېږي، تر عیسویت شپږ زره کاله د مخه کوم وخت چې فلز د لومړي ځل له پاره په بین النهرین یعنې د فرات او دجلې ترمنځ سیندونو په سیمه کې کشف شو. د نیولیتک یعنې د نوي یا ښویه شوې ډبرې دوره خلاصه شوه او بشر د تمدن لوړ پوړ ته هسک شو.

## افکار

بشر په هره مرحله کې د فکر خاوند و، هغه وخت چې د مځکې په سر ښکاره شوی، فکر هم ورسره ملګری شوی دی؛ خو دومره ده چې په اولو دورو کې یې نظر اوس ته فکر ساده او بسیط و؛ ځکه چې په ساده او بسیطو محیطونو کې یې ژوند کاوه، سره له دې یې د ټولو او هغو شیزونو په باره کې فکر قایم کړی و، کوم چې دی ورسره په تماس کې و او ضررت یې ورته حس کاوه.
ځینې پوهان په دې عقیده دي چې په لومړنیو ټولنو کې هر څه یوځای وو، د هیڅ شیز بغضیت نه و، روحیه یې هم د ګډ ژوند په اساس وه، ښه او بد، خیر او شر یې سره یو و.
له دې کبله د نظام قانون او د تشکیل وجود ته ضرورت نه و؛ مګر کوم وخت چې د کار وېش پیدا شو، یعنې یوه ډله مثلاً د ماهیانو په ښکار پسې لاړه او بلې ډلې میوې، دانې ټولې کړې، د شخصي ملکیت فکر پیدا شو او په دې ډول زور ورو شتمنو نور لاندې کړل

او ډېر څه یې خپل کړل، وروسته بیا د دې له پاره چې خپل شته په امن کړي او د نورو له چور او چپاول څخه یې وساتي؛ نو یې مقررات وضع کړل.
په دې ډول حکومتونه او تشکیلات مینځ ته راغلل، کوم هغه شیان چې یې په لومړنیو دورو کې انسان ته زحمت ورکاوه، هغه پرله پسې طبیعي اوښتنې وې چې ده ته یې زیان رساوه او یا به یې په ګټه تمامېدل، لکه تودوخې، لمر، باران، تالنده، برېښنا، وچکالي او ناروغۍ، مرګ او داسې نور، دا شیان ده ته لکه اسرار وو.
په حقیقت او څنګه والی یې هیڅ نه پوهېده؛ خو په دې کوښښ پسې و چې یو تعبیر ورته وکړي داسې یې ګمان کاوه چې ځان لري، یعنې هغه جهان هم د ډار، ویرې ښه نیت، بد نیت، هیلې او لوړو په اثر حرکت کوي.
څه وخت چې به یې کرهڼه په وخت پخېده او حاصل به یې ښه و؛ نو د باران او لمر روح به یې د ځان په خوا باله او که داسې به نه و او وچکالي چې ګرد چاپېر مادي جهان هم د ده په شان یا ډېر زیات او یا ډېر لږ لمر او یا سیلاب او داسې نورو طبیعي عواملو په وجه به یې ده او یا د ده کښت ته زیان اوښته؛ نو به یې د لمر، باران روح له ځان نه خپه ګاڼه او دا به یې په زړه شول چې د لمر روح په ده په قهر دی او غواړي جزا ورکړي، په دې ډول د طبیعي قواوو په لمانځلو سوق شو او د دین او فلسفې څښتن وګرځېد.

وږمه مجله، ۲۲ کال، لومړۍ ګڼه، ۱۳۵۷ ل.

# د اتلسمې پېړۍ په دریېمې لسیزې کې په فارس د پښتنو غلبه

په پورتنۍ دورې کې په فارس باندې د غلبې په باب ډېر اثار موجود دي؛ مګر ټول یې د خارجي یا د ایرانیو لیکوالو دي، پخپله د پښتنو له خوا په دې باب لومړنۍ لیکنې تر اوسه لیدل شوې نه دي؛ یواځې تاریخ سلطاني د سلطان محمد دراني تألیف یوه نیمه پېړۍ وروسته په (۱۸۸۴ م ) کې مینځته راغلی دی، په دې اثر کې هم په دې باب ډېر معلومات نشته، له هغو غلزیو څخه چې په فارس باندې یې حکومت کړی دی؛ اثار نه دي راپاتې، د دې ټولو نتیجه دا شوې ده چې د ټولو هغو لیکنو په باب، چې د غلزیو په باب شوې دي؛ د دوی د نظر مراعات نه دی شوی، تر ټولو ډېر جامع اثر چې په فارس کې د پښتنو د غلبې په باب په دې وروستیو وختو کې (۱۹۵۸م) مینځ ته راغلی دی؛ لارنس لاکهارت (Lourence Lackhart) یوه معاصر انګلیس مؤرخ ته منسوب دی، دا اثر هم د پښتنو په باب افاقي نظر نه لري، د ځینو تنګ نظرو ایراني لیکوالو په اثارو کې دا دوره په فتنه افاغنه یاده شوې ده؛ مګر دغو لیکوالو دا له یاده اېستلې ده چې په فارس د پښتنو له غلبې نه په پېړیو-پېړیو د مخه او له هغه وروسته د پهلوي د خاندان تر واکمن کېدو پورې خارجي الاصل کورنیو په فارس باندې حاکمیت کړی دی او د هوتکي افغان شاهي کورنۍ له دغه اصل نه څه مثتثنی نه ده، سره له دې هم دغو لیکوالو خپل د افغان د دورې تاریخ سره له دې چې له حوادثو ډک وي؛ مسخه کړی دی.

زه په فارس باندې د پښتنو د غلبې په باب دغه لنډه لیکنه د ټاډیوز جوډا کروسلنسکي (Tadeusz Juda Kruslinski) په اثارو بنا کوم، په دې باب یو شمېر اثار دغه لیکوال ته منسوب دي؛ مګر ټول یې په لږ یا ډېر تفصیل سره عین مطالب لري، هغه کتاب چې د هغه په اساس زه دغه لیکنه برابروم؛ اصلاً د سیاح تاریخ نومېږي چې کروشنسکي د شاه اشرف هوتکي د واکمنۍ په دوره کې د عثماني ترکیې د لوی وزیر ابراهیم پاشا د استفادې لپاره لیکلی دی او په (۱۷۲۹ م) کې په قسطنطینې کې خپور شوی، یوه انګلیسي لیکوال مټ فورډ (G.N. Mitforad) دغه اثر له یوې لاتینې نسخې څخه (J.c.cloudid) ترجمه

په لندن کې په (۱۸۴۰ م) کې د یوه ګرځنده داستانونه یا له فارس سره د افغان جنګونه په نامه خپور کړ، کروشنسکي اصلاً یو پولینډی اسقف و چې له (۱۶۹۵ نه تر ۱۷۲۵ م) پورې پوره اتلس کاله یې په اصفهان کې ژوند کړی و، دی تر (۱۷۲۵ م) پورې په فارس باندې د افغانانو د غلبې په وخت کې د پېښو ناظر و او په څو ژبو پوهېده، د ده لیکنې د افغانانو په باب افاقي ښکاري؛ څنګه چې دغه لیکنه ټوله د ده د اثر له مخې شوې ده؛ د رفرنسونو له ورکولو نه ډډه شوې؛ مګر په ځینو خاصو مواردو کې د پېښو نېټې د لاکهارت له کتابه اخیستل شوي دي.[۹۵]

څنګه چې د میرویس هوتکي ورور او جانشین میر عبدالعزیز (له ډېرو ربړوونکو جنګونو نه په تنګ شوی و) په هغه څه، چې د میرویس د واکمنۍ په وخت (۱۷۰۹ او ۱۷۱۷ م) کې حاصل شوي وه، قانع وه، لا دا یې غوښتل چې د صفوي حکومت ته باج ومني، په دې شرط چې د کندهار حکومت د ده په کورنۍ کې میراثي وپېژندل شي؛ مګر ډېر زر په دغه باب انزاع ولاړه شوه، که څه هم چې میرویس د اتفاق په باب سخت وصیت کړی و، ډېر زر د جنګ یوه پارټۍ د میرویس د مشر زوی محمود (زوکړې نېټه ۱۷۰۲ م) په مشرۍ مینځ ته راغله، د (۱۷۱۷ م) په اخر کې محمود خپل تره له فارس سره د بیا جګړې کولو د وعدې «نقض» په تومت له منځ نه یووړ، د محمود دغه کار په واقع کې د واک د ګټلو لپاره و؛ مګر عجیبه دا ده چې په دغه کار سره یې عامه رضایت وګاټه او په خپله د لیډر په حیث ومنل شو، که څه هم ده په چارسوق کې په ډاګه وویل چې «ما دی له منځه وړی دی».

هغه څه چې له محمود سره یې په دغه ډراماتیکي او کودتایي عمل کې مرسته وکړه؛ د افغانانو مخالفت له فارس ته بیا د تابع کېدو مفکوره وه، دغه حقیقت هم له محمود سره مرسته وکړه چې دی د خپل پلار معتمد و او د ده په ټولو جنګونو کې یې برخه

---

۹۵. کروسلنسکي د یوه ګرځنده داستانونه؛ یا له فارس سره د افغان جنګونه د ج، ن، مټ فورډ ترجمه، د جیمز رجوي نشریه، لندن، ۱۸۴۰، لاکهارت، د سفوي د خاندان سقوط او د افغان له خوا د فارس اشغال، د کمبرج د پوهنتون خپرونه (کمبرج) ۱۹۵۸، دلته باید وویل شي چې یوه وړه رساله د فارس د کرومول (Jha Perslau Cromwell) په نامه په ۱۷۲۴ کې په لندن کې د یوه نامعلوم لیکوال له خوا خپره شوې ده؛ مګر دا اثر جعلي دی، د نورو غلطیو لیکنو په جمله کې وایي چې:
میرویس د کسپین د بحیرې په غاړه د روسیې لوی پیټر ته ماتې ورکړه او میرویس ته د فارس تخت په دې شرط ورکړل شو چې دی د سني مذهب ومني.
د تفصیل لپاره وګورئ:
د لاکهارت کتاب، ۵۴۲ او ۵۴۴ مخونه.

اخیستې وه او په نظامي چارو کې د تجربې خاوند شوی و؛ مګر د قتل له لارې د واک ګټل د میرویس په کورنۍ کې یو لوی درز واچاوه، چې وروسته په یوې نازکې مرحلې کې د شومو او ناوړو عواقبوسبب شو.
محمود د خپلې واکمنۍ په لنډه موده کې (۱۷۱۷ او ۱۷۲۵ م) ډېر جنګونه وکړل، د فراه په دل آرام کې له ابدالیو سره له یوه غیرقاطعانه جنګ نه وروسته چې په هغې کې اسدالله سدوزی د ابدالیو مشر هم ووژل شو، محمود د خپل پلار په وصیت فارس ته متوجه شو، دا د ده نفوذ او اعتبار ښیي چې د دغه خطیر امر لپاره ده نه یواځې د خپل قوم، غلزیو حمایه تر لاسه کړې وه؛ د امامي هزاره او بلوچانو ملاتړ یې هم د ځان کړی و، محمود د (۱۷۰۲ م) د اوړي په پای کې د یولسو زرو یو لښکر د سیستان له وچې پراخې میرې نه په اوښانو او اسانو تېر کړ او کرمان ته ورسېد؛ مګر دا سخت سفر هر چا نه شو کولی او دوه زره کسه کندهار ته ستانه شول، د لښکرو ډېره برخه د هغه کال په پای کې کرمان ته ورسېده او هغه ښار یې د زردښتیانو په کومک سره بې له جنګه ونیوه؛ مګر زر یې دغه ښار د فارس د یوې ډېرې لویې لښکرې د موفقې مقابلې په اثر ترک کړ، د دغو لښکرو قوماندان لطف علي خان و، د تعجب ځای دی چې همدغه بری د فارس د بدبختۍ لومړنی ظاهري علت شو، د اصفهان درباریانو د هغه هېواد د لوی مجتهد په مرسته شاه حسین صفوي د اعتمادالدوله (صدراعظم) او د هغه د همدغه فاتح زوم لطف علي په ضد ولمسول، دوی په دې تومتې شول چې دغو سترو ماموړانو بغاوت ته ملا تړلې ده، په حقیقت کې دغه دوه ماموران، چې سنیان وو، باکفایته او د شاه لوی معتمدان وو؛ نورو ترې ترا خوړله، د شاه په امر اعتمادالدوله ړوند شو او لطف علي په زندان کې واچول شو، د دغو پېښو فوري نتیجه دا شوه چې د لطف علي لښکر خور وور شي او په کرمان او داغستان کې لزګیان قیام وکړي، افغانان چې له دغو پېښو نه خبر وو؛ د (۱۷۲۱ م) په ژمي کې یې په چټکۍ سره بیا په کرمان ودانګل او له حصار نه پرته یې دغه ښار ونیو، په دغه وخت کې محمود ته خبر ورسېد چې په اصفهان کې د صفوي حکومت په وسه کې نه ده چې په چټکو اسونو د اصفهان په لور روان شي، تر اوسه هم د هغه فیصله دا نه وه چې اصفهان ونیسي، منظور یې دا و چې د صفوي حکومت و نه شي کولی؛ د هغه په ضد لوازم او غلې ذخیره کړي؛ نو د محمود لښکرو د اصفهان د شاوخوا ټولو علاقو نه آن تر شېراز او لورستان پورې واښه او خوراکي مواد په زور ټول کړل، یواځې دغه وخت و چې د صفوي حکومت په چټکۍ سره د لښکرو د ترتیب تکل وکړ، نوې لښکرې یې د فارس د خلکو ګرجیانو او عربو نه جوړې وې، رستم علي خان، نوی اعتمادالدوله او دا هوز سني خان د نویو لښکرو مشران وټاکل شول، د دغو لښکرو اصفهان ته نژدې په ګلناباد

کې موقف ونیو، هم یې شمېر تر افغانانو ډېر و او هم یې تر هغو ډېر ښه توپونه لرل؛ مگر افغانان د تنظیم او قوماندانانو په لرلو سره تر هغو ښه وو.
دواړه لښکرې د (۱۷۲۲ م) د مارچ په اتمه مقابل شولې، لومړی رستم خان د شاهي غلامانو قوماندان حمله وکړه، نزدې و چې د افغان د لښکرو منځنۍ برخه چې مشر یې پخپله محمود و؛ په شا شي؛ مگر امان الله او نصرالله د ښي او کیڼ برخو د لښکر قوماندانانو په دغه وخت کې ښه مېړانه او زړه ورتوب وښود او د افغان د لښکرو روحیه ژوندۍ او ټینگه شوه، په دغه وخت کې د افغان د لښکرو یوې برخې د صفویانو د لښکرو په هغې برخې ودانگل چې مشر یې بې کفایته اعتمادالدوله و. اعتمادالدوله وتښتېد او له هغه وروسته د صفوي لښکرو د عربو قطعه هم مخ په شا شوله او وروسته همدا چې د توپچې د قطعې قوماندان ووژل شو، د صفوي ټول لښکر وتښتېد، د صفویانو د اردو ټول شمېر (۴۲۰۰۰) او د افغان د لښکرو شمېر د هغه تر نیمایي نه هم یو څه لږ و، سره له دې چې هم د صفوي د لښکرو تلفات د افغان له تلفاتو نه دوه چنده ډېر وو.[۹۶]
افغانانو په گلناباد کې په خپل تاریخ کې یو ستر او بېجوړې جنگ وگاټه، دغه فاتح محمود د خپل عصر د ځوانو فاتحانو په جملې کې راوست (دی هغه وخت شل کلن و)، محمود له گلناباد نه وروسته ظاهراً د اصفهان د نیولو قصد نه لاره او عسکر یې د ډېرې ولجې له گټلو وروسته وطن ته د ستنېدو په تکل وو؛ مگر د فارس خلک او د صفوي حکومت دومره وارخطا شوی و چې محمود فیصله وکړه، اصفهان ونیسي او په فارس حکومت وکړي؛ نو ده د صفوي د شاه د سولې پېشنهاد منل په هغه شرط سره مقید کړ چې باید شاه خپله لور همده ته په نکاح ورکړي، شاه لا تر اوسه هغه ته حاضر نه و او هغه یې کسرشان گاڼه، له هغه وروسته محمود په اصفهان ودانگل چې د خپل عظمت په وخت کې یې (۶۵۰۰۰۰) نفوس لاره؛ مگر د حملې کولو په ځای یې د ښار په محاصره کولو اکتفا وکړه او په دې فکر و چې ښاریان به یې له جنگ نه تسلیم شي، محمود په دغه تجویز کې موفق هم شو؛ خو د زرگونو انسانانو د ژوند په قیمت.
حقیقت دا و چې له گلناباد نه وروسته د صفوي حکومت له منځه تللی او متشکل قدرت یې د تاریخ جز گرځېدلی و، شاه ځان په خپل قصر کې نیولی و او نظامي ساتونکو یې څو ځله په خلکو ډزې وکړې چې د امان غوښتنې او چاره سنجولو لپاره د قصر ته نزدې شوي وو، ډېر خلک یې ترېنه ووژل، د ښار محاصرینو ته د اطرافي حکمرانانو له خوا کومه مرسته و نه رسېده، د گرجستان والي له کومک استولو نه عذر وغوښت، اصفهان

---

۹۶. د لاکهارت یاد شوی کتاب، ۱۳۶ او ۱۴۲ مخونه.

ته نږدې د قزوین د ښار خلکو (۸۰۰۰) مسلح کسان شاهزاد طهماسپ لپاره برابر کړل؛ مګر ده ته یې اخطار ورکړ چې د بري په صورت کې ممکن د صفوي حاکمانو د عنعنې له مخې د شاه په امر نابود کړل شي، د اصفهان د جلفا سوداګر پېشه ارمنیان څنګه چې د خپل ثروت د محافظې په فکر کې وو؛ له افغانانو سره یې مرسته وکړله او د دوی د غوښتنې په اثر یې (۵۰) نجونې هم ور واستولې، د کردستان سنیان په دې پلمه چې غواړي له متجاوزو عثمانیانو سره مقابله وکړي؛ له ښار نه ووتل؛ مګر دوی دغه کار د افغانانو په موافقې تر سره کړ، د اهوز سني خان چې په دې وخت کې په ښار کې یو مهم سړی و؛ له افغانانو سره ملګری شو؛ مګر هغه څه چې په پای کې د محاصرینو روحیه ماته کړه؛ د خوړو د موادو لړوالی او د مرضونو خپرېدل و، په ښار کې اصلاً خوراکي مواد نه وو راټول شوي، که څه هم د محاصرې په اولو درېو میاشتو کې د هغه امکان وو. قحطي شروع شوه، لومړی د اوښ، اس او خره غوښه په لوړ قیمت سره خرڅېده؛ مګر دغه ذخیره زر خلاصه شوه او خلکو د (سپیو او پشکو په غوښو تر هغو چې په اصفهان کې پیدا کېدې) ځانونه مړول، خلک د اصفهان په کوڅو او سرکو کې خواره شول، نجونې او مېرمنې ښځې چې تر اوسه پورې په ستر کې وې او په مروارید او جواهرو ښکلې شوې وې؛ له کورو نه بهر ووتلې او بېهوده د ډوډۍ په لټه کې شوې؛ خو هېچا د دوی ګانې نه غوښتې او په دې قادر نه وو چې د هغو په عوض ډوډۍ ورکړي چې په پای کې ټولې په داسې حال کې چې په ژړا او انګولا سر وې؛ په مځکه ولوېدلې او هلاکې شوې، ځینو اشرافو او متمولینو چې نور یې نه شو کولای خپلو اولادونو او ښځو ته ډوډۍ ورکړي؛ ځانونه او دوی یې سره مسموم کړل، د هغو کسانو شمېر چې له لوږې نه هلاک شول (حتماً سلو زرو ته رسېده).

محمود چې له دې حاله خبر شو؛ لښکرې یې له ښار نه لرې بېرته کړې، د دې لپاره چې (ښار له کاملې ورانۍ نه په امان پاتې شي) خپلو افسرانو ته یې امر وکړ چې «په خکلو حمله و نه کړي» شاه وروسته بې له تسلیمېدو بله چاره و نه لیده، لومړی یې خپله یوه لور محمود ته د نکاح لپاره واستوله؛ بیا یې د (۱۷۲۲ م) د اکتوبر په درویشتمه په فتح اباد کې خپله استعفا محمود ته وړاندې کړه او ورته یې وویل چې:

«زویه! د خدای رضا په دې کې ده چې له دې وروسته زه پاچا نه اوسم او څنګه چې د دې وخت رارسېدلی دی چې په تخت کښېنې؛ زه په ټول اخلاص او صمیمیت سره خپله امپراتوري تاته پرېږدم».[۹۷]

---

۹۷. هان وي جان، د فارس انقلابونه، د شاه حسین د سلطنت او د افغان د غلبې په شمول، لندن، ۱۷۶۲ م، ۱۸۰ مخ.

لـه هغـه وروسـته هـر صفـوي وزیـر چـې لـه شـاه سره وو؛ (د نـوي سـلطان لاسـونه مـچ کـړل او پـه ډېـرې تواضـع سره یـې د اطاعـت او بیعـت وعـده ورکـړلـه).
شـاه محمـود اصفهـان تـه د باشـوکته ورتلـو نـه وروسـته امـر وکـړ چـې خوراکـي مـواد لـه نظامـي کمـپ ښـخه ښـار تـه واسـتول شي، تـر دې حـده چـې پـه ښـار کـې د قحطـۍ پـه ځـای وافـري راغلـه، شـاه محمـود د حکومـت پـه ترتیـب کـې مهـم بدلـون را نـه وسـت او د صفـوي مخلـوع پاچایـي د مشـاور پـه حیـث مقـرر کـړ؛ مگـر د هـر وزارت پـه سر کـې یـې یـو افغـان د ناظـر پـه حیـث مقـرر کـړ، د دیـوان بېگـي دفـتر یـې دغسـې یـوه افغـان تـه ورکـړ چـې هغـه لـه خپـل صلاحیـت ښـخه دغسـې نرمـي او عدالـت سره کار واخیسـت چـې د فـارس ټولـو خلکـو د هغـه سـتاینه کولـه؛ مگـر نظامـي منصبدارانـو او عسـکرو ډېـرې ولجـې او پیسـې تـر لاسـه کـړې.



شاه حسین صفوي په داسې حال کې چې د (۱۷۲۲ م) په اکتوبر کې اصفهان ته نژدې په فتح اباد کې خپله شاهي جغه د شاه محمود افغان په سر ټومبي.[۹۸]

زر پـه قزویـن کـې چـې سـل زره وګـړي یـې درلـودل؛ یـوه پېښـه د دې سـبب شـوه چـې افغانـان او د فـارس خلـک سره سـخت مخالـف شي، د دغـه ښـار خلکـو د (۱۷۲۳ م) د جنـوري میاشـتې

۹۸. د جان هاوې له کتابه

په اتمې شپې کې د افغانانو په یوې عسکري قطعې ناخبره ودانګل او ځلور زره تنه یې ترېنه ووژل، په اصفهان کې زر په انتقام اخیستلو پیل وشو او ټول هغه کسان ووژل شول چې د وسلې چلولو قدرت یې لاره او اشراف له خپلو دارایۍ څخه محروم کړای شول، مخلوع شاه په زندان کې واچول شو او ډېر شهزادګان ووژل شول؛ سربېره پر دې شاه محمود نفوسي ډلې په شپږو درجو ووېشل او د فارس خلکو ته په اخري درجه قایل شو، دوی مجبور هم شول چې څه وخت چې له افغانانو سره مخامخ کېدل؛ لومړی هغو ته سلام واچوي، د درګه زین سني خلک په اردو کې استخدام شول او له کندهاره یواځې دوه ځله هغه ته نوی قوت ورسېد، اردو ته منظم معاش نه ورکول کېده او عسکرو په جنګي ولجو ژوند کاوه او د ولجو پینځمه برخه یې د اسلامي مقرراتو په اساس دولت ته سپارله، شاه محمود په دې ډول د (۱۷۲۵ م) تر جنوري پورې د لایقو او باکفایتو جنرالانو؛ لکه امان الله او نصرالله په مرسته وکولی شول چې شېراز، ګل پیکان، کاشان او نور ځایونه لاندې کړي، یواځې په یزد کې له څه مانع سره مخامخ شو؛ مګر د ده یواځېنی رقیب شاهزاده طهماسپ ازاد او د فرار په حال کې و.

د یزد له پېښې وروسته شاه محمود په ریاضت پیل وکړ او ممکن ځلوېښت ورځې ځله شوی وي، په دغې مودې کې له سهار نه تر ماښامه پورې ده یواځې وچه ډوډۍ خوړله او اوبه یې څښلې، داسې ښکاري چې شاه محمود د ځلې په وخت کې روژه نیوله، د شاه محمود د ځله کېدو علت واضح نه دی، ده په داسې وخت کې په ځله اېستلو پیل وکړ چې حاکمیت یې په ټول فارس تثبیت شوی نه و او د ده شخصي مشرۍ او قوماندانۍ ته سخت ضرورت و؛ مګر د ده شخصي ژوند له مطالعې نه موږ کولی شو؛ ځینو نتایجو ته ورسېږو، شاه محمود په خصوصي ژوندانه کې معتدل، متقي او خپلې ښځې ته وفادار و، قرآن یې لوسته او په غریبانو یې زړه سواندی لاره، مذهبي تعصب یې نه لاره او امامي هزاره ګان د ده په شخصي محافظانو کې و، د ده یو ستر قوماندان نصرالله زردشتي و، شاه محمود چې د فارس له خلکو سره ډېره سخته رویه غوره کړه؛ له دې امله نه وه چې دوی امامیان وو (که څه هم دا یو له علتونو څخه و)؛ بلکې له دې امله وو چې دوی په قزوین کې د ده یو ټولی عسکر له منځه وړي وو، د قزوین له پېښې نه دمخه شاه محمود د فارس له خلکو سره سخته رویه نه لرله، پلار یې حاجي و او د ده یو کشر ورور د کندهار حکمران د درویش په نامه یادېده، له دېنه ښکاري چې ورور یې په تصوف عقیده لرله، علایم ښیي چې پخپله شاه محمود هم هغو روحي تمریناتو ته معتقد وو چې هندي مسلمانانو چې تر نورو مسلمانانو پرې ډېر معتقد وو، بیا یې کندهار ته رواج کړې وه.[۹۹]

---

۹۹. هان وې، ۲۲۱ مخ.

له دغو (روحي تمریناتو) څخه مقصد اسلامي طریقې وې، په غالب گومان د شاه محمود مقصد له ځله کېدو څخه له خدای نه د هغو وژلو عفوه غوښتل و چې د ده په امر شوي وو؛ خو په پای کې شخصاً دی په خپله وینو تویولو ته متمایل شو؛ ځکه چې ریاضت د ده عقل ته صدمه ورسوله.[۱۰۰]
شاه محمود له ځله کېدو وروسته په دوست او دښمن بدگومانه شو، داسې یې انگېرل چې هر یو د ده دښمن دی، نه یوازې د فارس له خلکو سره یې شدت او زور روا گاڼه؛ بلکې په خپله افغانان هم له ده نه مامون پاتې نه شول؛ آن تر دې چې په خپله هم په همدغه سرنوشت واوښت او داسې وخت راغیچې ده (لاسونه او اوږې په خپلو غاښونو) شکولې.
د (۱۷۲۵ م) د اپرېل په شپږویشتمه افغاني لویان سره جرگه شول او اشرف یې چې د ده د تره زوی او د ده په منگ و، پاچا کړ. په شاه اشرف کې د میرویس تدبیر او د محمود جنرالي یوځای شوي وو؛ خو تر محمود نه د ده موقف ضعیف و، نوی شاه له کندهار نه د نور قوت او ملاتړ امید کولی نه شو او دا ځکه چې ده محمود چې ژوند او مرگ هغه ته د دماغ د اختلال له امله بې تفاوته شوی و؛ له منځه وړی و (ممکن د انتقام حس هم په دغه قتل کې دخیل و؛ ځکه چې محمود د اشرف پلار له منځه وړی و) او مصاحبان یې له دارایۍ څخه محروم کړل.
د کندهار حکمران چې د محمود سکه ورور و؛ د شاه اشرف دښمن شو؛ مگر شاه اشرف چې هر څوک ورته په احترام قایل وو؛ یعنې په فارس کې افغانانو ورته په درنده سترگه کتل او په خپله د فارس په خلکو کې یې هم ښه نوم درلود؛ د ټولو خلکو په باب یې نرمه رویه غوره کړله، ټولو منطقو او ټولو هغو کسانو ته چې لا تر اوسه یې بیعت نه و ورکړی او مقاومت یې کاوه؛ د عفوې لیکنې واستولې، په دغو لیکنو کې شاه اشرف د فارس د دغه ښکلي هېواد نه وغړېد، د شاه اشرف مخصوصاً د مخلوع صفوي شاه ډاډگېرنه وکړه، له بنده یې ازاد کړ او د شاهي قصر ناظر یې مقرر کړ او امر یې صادر کړ چې ټول هغه شاهزادگان چې د محمود په امر وژل شوي وو؛ د عنعنې په اساس دې د قم په مذهبي ښار کې ښخ کړل شي، شاه اشرف د یو کتاب تذکرة الملوک د تدوین لپاره امر صادر کړ چې اوس د فارس په باب د یوه ډېر قېمتي او مهم اثر گڼل کېږي؛ مگر د ده ټولې هڅې د شاهزاده طهماسپ د نیولو په غرض شنډې شولې او هغه صفوي وزیران چې ده ته یې د تېښتې اخطار ورکړی وو؛ د شاه اشرف په امر اصفهان کې ووژل شول؛

۱۰۰. هان وې، ۲۲۱ مخ.

مګر د تاج او تخت دغه صفوي مدعي له يو څو تنو سره د مازندران غرونو ته وتښتېد او دغلته يې تېښته نه شوه کولی.

شاه اشرف په دغه وخت کې مجبور شو چې له سترو خارجي خطرونو سره مقابله وکړي او د افغان حاکميت په فارس کې ټينګ کړي، عثماني ترکيې او روسيې په اصفهان کې د محمود له مسلط کېدو وروسته په (۱۷۲۴ م) کې سره يو تړون وکړ او د هغه په اساس يې وغوښتل چې خپلو امپراتوريو ته ورځېرمه د فارس علاقې ضميمه کړي او له طهماسپ سره له فارس نه د افغانانو په شړلو سره کومک وکړي، په دې شرط چې طهماسپ هم د همدغه تړون مواد ومني؛ په دې ډول روسيې د کسپين د بحيرې ټولې لوېديځې سيمې ونيولې او عثماني ترکيې ګرجستان، ارمنستان او اذربايجان يو څه سيمې هم ونيولې چې له اصفهان نه د درېو ورځو د فاصلې په اندازه لرې وې؛ مګر شاه اشرف له دغو خطرونو سره د مقابلې په غرض هم په نظامي او هم په سياسي ميدان کې د ستاينې وړ اقدامات وکړل، د (۱۷۲۵ م) په اخر کې يې يو هيئت د عبدالعزيز افغان په مشرۍ قسطنطنيې ته واستوه، د دغه هيئت مشر اصلاً يو قاطرچي  چې د سترو کارو په کولو سره يې نوم ګټلی و.
شاه اشرف او ميانجي (د افغاني علماو مشر) د عبدالعزيز په لاس عثماني سلطان لوی وزير ابراهيم پاشا او د فلسطين ستر مفتي په نامه مکتوبونه واستول، عبدالعزيز د عثمانيې ترکيې له وزيراعظم او نورو وزيرانو سره د خبرو په ترڅ کې د (۱۷۲۶ م) په فبروري کې په ډېرې زړورتيا سره ترکان ورټل چې د افغانانو په خلاف د فارس د صفوي دولت په سقوط کې يې څه نه و کړي، دغو وزيرانو ته دا مشکل و چې له افغانانو سره چې د دوی پخوانی دښمن لاندې کړی وو؛ د جنګ حقانيت ثابت کړي، دوی د هغه په عوض په دې ټينګار وکړ چې ځنګه چې اشرف خان امام او شاهنشاه بللی دی او ځنګه چې په شريعت کې د امام کثرت روا نه دی؛ دی ياغي ګڼل کېږي، عبدالعزيز په مقابل کې وويل: «ځنګه چې د مسلمانانو ملکونه اوس ډېر پراخ شوي دي، بل دليل نشته؛ مګر دا چې اوس دوه امامه موجود نه وي او که بيا هم د دوو امامو وجود په اسلام کې جايز نه وي».
عبدالعزيز وويل:
«دی غواړي دا ثابته کړي چې د ده امام د نسب او حيثيت په لحاظ تر عثماني سلطان نه ښه دی؛ په دې دليل چې د ده (عبدالعزيز) په فکر شاه اشرف د قريشو درانه قوم ته منسوب دی.»[101]

۱۰۱. هان وې، ۲۴۳ مخ.

سره له دې هم څنګه چې فکر کېده؛ ستر مفتي د يوې فتوی په ضمن کې د عثمانې د حکومت ملاتړ وکړ او اشرف يې ياغي اعلام کړ، عبدالعزيز په ظاهر کې په خپل ماموريت کې ناکام شو؛ مګر د ده زړور استدلال د رسمي ليکنو او فتوا له عامېدو سره يوځای عامه اذهان د افغانانو طرفدار کړل چې وروسته په جنګ کې د دوی په ګټه تمام شول.

احمد پاشا د يوه سرلښکر له (۷۰۰۰۰ نه تر ۸۰۰۰۰) په مرسته تر همدان پورې د فارس ټولې سيمې ونيولې، شاه اشرف په خپل لښکر سره (۳۲۰۰۰)، چې له افغانانو، د فارس له خلکو او له رګه زين نه مرکب و؛ د عثماني لښکرو په مقابل کې ځايونه سنګرونه ونيول، داسې ويل کېده چې د دغسې يو ستر لښکر په مقابل کې افغانانو سقوط حتمي دی؛[102] مګر په حقيقت کې که د عثماني لښکرو شمېر په کراتو زيات و؛ په اختلافي او مذهبي لحاظ د هغه دريغ سست و.

شاه اشرف د ميانجي په سلا مشوره له دغه ضعف نه اعظمي استفاده وکړه او په دې هڅه کې شو چې د عثماني په عسکرو کې د نفاق تخم وشيندي[103] له نظامي مقابلې نه يو څه ړومبی يې د علماوو يو هيئت د احمد پاشا کمپ ته واستوه، دغه هيئت عملاً د سني مذهب ښودلو او له عثماني مسلمانانو عسکرو سره د اهل سنت او جماعت په طريقې سره د لمانځه په ادا کولو سره دوی ډېر تر تاثير لاندې راوستل؛ تر دې حده چې احمد پاشا د خيانت بدګوماني وکړه، احمد پاشا هغسې ځواب دغه هيئت ته ورکړ؛ څنګه چې په قسطنطنيه کې عبدالعزيز ته ورکړ شوی و، د هيئت له رخصتېدو وروسته د کردانو يوه قطعه د احمد پاشاه له کمپ نه ووته او له افغانانو سره يوځای شوه.

احمد پاشا په دې فکر چې ښايي له افغانانو سره د ملاتړ اوازه په ټولو لښکرو کې خپره شي؛ سمدلاسه مقابلې په فکر کې شو؛ مګر څنګه چې افغانانو د ده د قراول يوه قطعه (٦۰۰۰) له منځه يووړه؛ سخت خپه شو او له هغه وروسته د ده ستړې حملې د افغانانو له خوا دفع شوې او ده په ډېرې بې نظمۍ سره په شاتللو شروع وکړه او ډېر حربي لوازم او سامان يې له (۱۲۰۰۰) مړو سره په ميدان کې پرېښودل.

څنګه چې شاه اشرف په دې ښه پوهېده چې په فارس کې د خپل حاکميت د ټينګتيا لپاره د عثماني ترکيې ښه نيت او ملاتړ ته اړه لري؛ ويې غوښتل چې احمد پاشا زيات تحقير شي؛ په داسې حال کې چې احمد پاشا د تېښتې په حال کې و؛ ورته يې د سولې پېغام واستوه او ورته يې وليکل چې څنګه چې ده د يوه قانوني حکمران په حيث دغه

۱۰۲. هان وې، ۲٤۷ مخ.
۱۰۳. هان وې، ۲٤۸ مخ.

ځمکې تر لاسه کړې دي؛ لازمه نه ګڼي چې د یوه داړه مار په حیث عمل وکړي او د خپلو ورونو مالونه ضبط کړي.[۱۰٤]
مګر عثمانیان په دې ټینګ وو چې د شاه اشرف د سخاوت له عمل سره-سره دغه داغ ایسته کړي، تر (۱۷۲۷ م) پورې یې یو بل لښکر چې ډېر غړي یې عیسوي وو، ترتیب کړ؛ مګر دغه نوي لښکر د امپراتورۍ د پولو له تېرېدو نه ډډه وکړه[۱۰٥] او ویې نه غوښت چې د احمد پاشا له لښکر سره چې د مخه تر هغه یې په همدان کې موقع نیولې وه او له اعرابو او کردو نه جوړ و او شمېر یې (۶۰۰۰۰) ته وو؛ یوځای شي، په دې مهال کې عثمانیان د خپلې امپراطورۍ په نورو برخو کې مخصوصاً له روسانو سره له غټو خطرناکو مسایلو سره لاس په ګرېوان وو؛ سربېره پر دې دوی له دې نه هم په وېره کې وو چې څنګه چې شاه اشرف ځان قریش بللی دی؛ ممکن د عربو په مرستې سره د مدینې او مکې څښتن شي او ځان د اسلامي نړۍ مشر اعلان کړي.[۱۰٦]
نو وزیر اعظم په کلکه سره احمد پاشا ته هدایت واستوه چې له اشرف سره سوله وکړي، د (۱۷۲۷ م) په اکتوبر کې د سولې یو تړون په همدان کې لاسلیک شو، عثمانیانو اشرف د فارس د قانوني شاه په حیث وپېژاند، اشرف په مقابل کې د عثمانیانو فتوحات په فارس کې وپېژندل او عثماني سلطان یې د مسلمانانو د مشر او د خلیفه د رښتیني ځایناستي په حیث ومانه، شاه اشرف په دې ډول د فارس د خاورې په قیمت خپل موقف د عثمانیانو له خطره مامون کړ؛ مګر په همدغه وخت کې یو بل خطر د نادرشاه افشار او شاهزاده طهماسپ د ایتلاف نه د فارس په ختیځ په خراسان کې راپیدا شو چې په پای کې یې په فارس کې د افغان حاکمیت ته خاتمه ورکړه.
له هغه وخته چې اصفهان د افغانانو په لاس کې پرېوت؛ په خراسان کې محلي لویانو د واک ګټلو په مبارزې لاس پورې کړی وو، ابدالیانو په هرات کې قیام کړی وو او ملک محمود سیستاني په مشهد قبضه کړې وه، فتح علي خان قاجار په استراباد کې په فعالیت پیل کړی و او ازبکانو په خراسان ودانګل، په دغې نارامۍ کې داړه مارو دلته او هلته لارې نیولې، په دغو داړه مارانو کې یو تن نادرقلي افشار(د زوکړې نېټه یې ۱۶۸۷م) نومېده چې د یو څه وخت لپاره د خراسان له والي سره د ازبکانو په شړلو کې یې مرسته کوله؛ خو له (۱۷۲۲ م) وروسته نادرقلي په خپله د یوې لویې ډلې مشر ګرځېدلی و او له

---

۱۰۴. هان وې، ۲۵۱ مخ.
۱۰۵. هان وې، ۲۵۳ مخ.
۱۰۶. هان وې، ۲۵۱ مخ.

ابداليانو سره يې د مقابلې په وجه ځان ته نوم ګټلی و، نادرقلي تر هغو چې طهماسپ مازندران ته پنا راوړه؛ زيات قدرت تر لاسه کړی و؛ سره له دې هم دی يو ياغي سړی و. له بلې خوا شاهزاده طهماسپ چې د فارس د تاج و تخت رښتياني وارث و؛ له قدرت نه محروم او کور په کور ګرځېده، نادرقلي په دې اميد چې ممکن يوه ورځ د قانون تر سيوري لاندې واکمني ته ورسېږي؛ د فتح علي خان قاجار په سپارښتنه د طهماسپ په خدمت کې داخل شو او د هغه جنرال شو، شاهزاده د هغه تېرې ګناوې وبخښلې؛ مګر نادرقلي د شاهزاده په نامستقيمه اجازه فتح علي خان چې د ځان رقيب يې ګاڼه؛ له منځه يووړ، پلمه يې دا وه چې فتح علي خان غوښتل د شاهزاده په مقابل کې خيانت وکړي، په دې کار سره نادرقلي بې اختياره شاهزاده يواځې په خپل ځان متکي کړ، که څه هم برالا يې ويل چې، «دی د شاهزاده مطيع او وفادار نوکر دی، دغه بې تجربې شاهزاده په دې فکر و چې څنګه چې د ده کورنۍ په اوله کې د ترکمنو او په هغوی کې د افشارو په مرسته واکمنۍ ته رسېدلې وه؛ نادرقلي افشار به اوس د زړه له کومي سره هم مرسته وکړي».

په هر حال، نادرقلي وار په وار په جنګو کې بری مونده چې د (۱۷۲۸ م) په اخر کې يې د مشهد ښار د يوه اتلس زري لښکر په مرسته ونيو، د مشهد دغه اشغال د هغوی واکمنۍ د بياژوندي کېدو په لور لومړنی ګام ګڼل کېده او شاهزاده طهماسپ له هغه وروسته نادرقلي د طهماسپ قلي په نامه ياد کړ، طهماسپ قلي وروسته ټول خراسان ونيو؛ مګر ده د شاهزاده دا پېشنهاد چې په اصفهان ودانګي؛ په نرمۍ سره رد کړ او ورته يې توصيه وکړه چې ښه به دا وي چې له شاه اشرف سره هغه وخت پنجه نرمه کړي، چې د هغه لښکر د (۴۰۰) ميلو سفر نه وروسته ښه ستړی شوی وي.
طهماسپ قلي د محلي بزګرو په مرسته د خپلو لښکرو په ترتيب او انتظام مصروف شو او هغه يې له شاه اشرف سره د جنګ لپاره اماده کاوه.[۱۰۷]
شاه اشرف له عثمانيانو سره له تړون وروسته د خپلې واکمنۍ په ټينګولو بوخت و او په عين حال کې يې کرمان، يزد او نورې سيمې اطاعت منلو ته مجبورې کړې، د (۱۷۲۹ م) د سپټمبر په اولو کې له خپل دېرش زري لښکر سره چې له غلزيو، هزاره وو او له رګه زينانو څخه جوړ وو؛ د خراسان په لور روان شو چې خپل نوی دښمن پخوا له دې چې تر هغو هم پياوړی شي؛ له مينځه لرې کړي؛ مګر د شاه اشرف دريځ اساساً ټينګ نه

۱۰۷. د تفصيل لپاره وګورئ! لاکهارت، نادرشاه، لندن، ۱۹۳۸ م.

وو؛ سره له دې چې برياوې يې تر لاسه کړې وې او د فارس له خلکو سره يې ان له اول نه نرمه رويه غوره کړې وه؛ د ده حکومت تر اوسه هم خارجي بلل کېده او له همدې امله و چې دی پخوا له دې چې د خراسان په لور حرکت وکړي؛ د فارس له خلکو نه يې هغه کسان له ښارو څخه وايست چې د وسلې د استعمالولو وړتيا يې لرله، يواځې عثمانيانو د ده حکومت قانوني باله، د ده تربور د کندهار حکمران اشرف يې د لوی دښمن په صفت پېژانده او لږ يې د دوست په حيث[۱۰۸] او ده لا پخوا د اشرف ټول هغه کوښښونه شنډ کړي و چې غوښتل يې په کندهار خپله سلطه قايمه کړي او له هغه ځايه تازه ملاتړ راوبولي، د اشرف د حکومت اساس په يوه بېگانه ملک کې يواځې د ده لښکر په بنا و، هغه وخت چې اشرف د خراسان په لور روان و؛ طهماسپ قلي خان له خپل لښکر (۲۵۰۰۰) سره د استراباد سهيل ته د دامغان ښار ته نږدې موقع ونيوله.
شاه اشرف د فارس د لښکر د مساعد موقعيت[۱۰۹] له امله لازمه نه گڼله چې په هغه ځای کې په جنگ لاس پورې کړي؛ مگر د ده جنرالانو داسې استدلال کاوه چې که مقابله وځنډول شي؛ د شاوخوا خلک او دهقانان به په دې فکر کې شي چې دوی ضعيف دي، دوی به د خوړو د موادو او وښو له ورکولو نه انکار وکړي او بيا به موږ مجبور شو، تر دې نور هم په نامساعدو شرايطو کې وجنگېږو.[۱۱۰]
د شاه اشرف لښکرو د (۱۷۲۹ م) د اکتوبر په دويمه د طهماسپ قلي په لښکرو يرغل وکړ؛ مگر اثر پرې و نه کړای شو، شاه اشرف له هغه وروسته خپل لښکر له سره تنظيم او تقسيم کړ او له څلورو خواو يې په دښمن حمله وکړه. د طهماسپ قلي لښکر وروسته له دې چې د افغان د حملو دفع يې په منظم ډول وکړه؛ خپله يې په حمله لاس پورې کړ او غالب شو، افغانانو د اصفهان په لور په شا تلو پيل وکړ، د افغان لښکر که څه هم د شا تلو په وخت کې اصفهان ته نږدې په مورچه خور او د فارس په نورو جنوبي سيمو کې په جنگ لاس پورې کړ؛ مگر هر ځل له نامساعدو شرايطو سره مخامخ و چې د (۱۷۳۰ م) په اولو کې شاه اشرف له يو څو تنو ملگرو سره په داسې حال کې چې د بلوچستان په لور روان وو؛ زردکوه ته نږدې د هغو کسانو له خوا ووژل شو چې د کندهار حکمران د همدغه مقصد لپاره مامور کړی و.[۱۱۱]

---

۱۰۸. هان وې، ۲۷۱ مخ.
۱۰۹. هان وې، ۲۷۴ مخ.
۱۱۰. هان وې، ۲۷۴ مخ.
۱۱۱. سلطاني تاريخ، د سلطان محمد دراني، بمبي، ۱۸۸۴ م، ۸۵ مخ.

په پورته ډول د افغان واکمنۍ په فارس کې پای ته ورسېده. په (۱۷۳۸ م) کې نادرشاه افشار د غلزیو واکمني په خپله په کندهار کې هم پای ته ورسوله، غلزیان بیا واکمنۍ ته و نه رسېدل، سره له دې چې د نولسمې پېړۍ په اوله او اخره کې یې د همدغه منظور لپاره په قیامونو هم لاس پورې کړ؛ مګر د نادرشاه افشار له لاسه د دوی لاندې کېدلو درانیان په دې قادر کړل چې د یوه قدرت په حیث ظهور وکړي او د افغانستان یوه پراخه؛ مګر کم دوامه امپراتوري جوړه کړي؛ مګر د یوه مستقل قدرت په حیث د غلزیو ظهور په فارس باندې د دوی غلبه او د دوی فوري لوېدنه د درانیو لپاره یو ښه سرمشق شو.

درانیانو هم څنګه چې غلزیان په کندهار کې د احمدشاه په مشرۍ په فتوحاتو لاس پورې کړ؛ مګر احمدشاه د شاه اشرف او شاه محمود په خلاف ځان هېڅکله د خپل قدرت له اصلي مرکز نه جلا نه کړ او همدا چې د فتوحاتو منظور یې تر سره کېده؛ خپل مرکز ته ستنېده، داسې هم احمدشاه د شاه اشرف او شاه محمود په خلاف په شمالي هندوستان کې په ډېرو فتوحاتو پیل وکړ؛ یعنې په داسې سیمې کې چې د هغې د لاندې کولو لپاره یې د اصلي افغانستان له اوسېدونکو نه ملاتړ تر لاسه کولی شو.

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د سلواغې نه ویشتمه، یوولسمه ګڼه، ۱ او ۹ مخونه.

# زموږ معارف

افغانستان په دې وروستیو کلونو کې د خوځېدنې په یو خاص حال کې دی، دولتي موسسې ټولې حرکت کوي او مخ په انکشاف دي، دا انکشاف تر هر وخت نه زیات او مخ په وړاندې دی، معنی دا چې ټول موسسات چې مجموعاً ترې دولت جوړ دی، د یوه اساسي او مرکزي هدف په اساس فعالیت لري، لوی مقصد یې دا دی چې د هېواد اوسنی حالت نور د زغمېدو نه دی، هر څنګه چې وي باید انکشاف ورله ورکړل شي، د همدې منظور له پاره دولت د هېواد انکشافي خوا په کلکه پسې نیولې او لویو لویو اصلاحي کارونو ته یې ملاتړلې ده.

د دې اصلاحي فعالیتونو باوجود تاثیرات سمدلاسه نه حس کېږي او شاید ځینو ته دومره مهم هم ونه برېښي؛ خو یقیني خبره دا ده چې د موفقیت په صورت کې به یې آینده تاثیرات ډېر ژور او مهم وي.

په دې اصلاحاتو کې د معارف برخه زیاته او مهمه ده؛ نو ځکه به موږ کوښښ وکړو چې د معارف اصلي هدف او کارونه څه نا څه دلته وښیو او ګران وطنوال پرې پوه کړو.

## هـــدف

معارف په پراخ مفهوم سره دا هدف لري چې د وطن د هر فرد جسمي او روحي استعداد ته انکشاف ورکړي، د شخصیت درجې ته یې ورسوي او دې ته یې تیار کړي چې د ژوندانه له مسایلو او مشکلاتو سره په کلکه مبارزه وکړي، «زموږ هدف دا دی چې د نن ورځې ماشوم د سبا ورځې صحیح میړه یعنې دیندار وظیفه شناس، وطن دوست او علم پالونکی افغان، د قانون او مقرراتو ساتونکی شي، په ذهني او جسمي قواوو ټینګ زړه، ښه کرکټر، د خیر او شر په ممیزې سره خپل اخلاقي، اجتماعي او انساني مسئولیتونو ته هر کلی ووایي».[۱۱۲]

---

۱۱۲. د افغانستان د ثانوي او مسلکي ښوونځیو د تعلیمات نامې له مقدمې نه.

نو وينو چې معارف ډېره ستره وظيفه لري او دا ورپه غاړه ده چې د وطن هر ماشوم د هر چا او په هر گوټ کې چې وي، وروزي او خپلو اجتماعي مسئوليتونو ته يې متوجې کړي. همدغه سبب دی چې په معارف کې تبعيض نه شته، معارف د ټولو مشترک مال دی او هر څوک کولی شي، ترې مستفيد شي. د اساسي قانون شلمه ماده وايي: «ابتدائي تعليم د افغانستان د تبعه وو د کوچنيانو له پاره واجبې او حتمي دی».[113]
په دې حساب هر څوک چې افغان او د دې وطن دی، بې د مذهب و نسب، نژاد، عقيدې او اجتماعي او اقتصادي موقف له لحاظ نه په مساوي ډول په معارف کې برخه لري.

## تاريخي سابقه

زموږ د معارف تاريخ د هېواد په تاريخ کې پروت دی، څه وخت چې د هېواد د تاريخ شروع کېږي، معارف هم په کې راځي، ويلای شو چې معارف هم د هېواد تاريخ غوندې زرگونو کلونو ته رسيږي.
خو دومره ده چې پروني او نننی معارف سره فرق لري، په تاريخي دورو کې د معارف او کلتور وسايل محدود او انحصار وو، مگر اوس عمومي دي، تنظيم او ترتيب يې د دولت له خوا کېږي، د اساسي قانون دوويشتمه ماده وايي چې: «د افغانستان ټول مکتبونه د حکومت تر پاملرنې او نظارت لاندې دي ....»[114] نو ويلی شو چې په دې وروستيو لس گونو کلونو او په تيره بيا د استقلال د جنگ (۱۹۱۹ م) نه وروسته معارف خاص شکل نيسي.

## استقلال او معارف

هغسې چې د هېواد پوره واکمن کېدل د جامعې په ټولو شنونو کې مثبت اثرات وارد کړل، په معارف کې يې هم لوی تحول راوست.
په پخوا وختونو او په تيره بيا د آزادۍ د گټلو نه د مخه په استعماري دوران کې د استعداد له څښتنانو نه يواځې څو تنو کولای شو له پوهې او روزنې نه استفاده وکړي، ولې خلک مخصوصاً له پوهې او زده کړې نه بې برخې وو، دوی ته د دې امکان نه وو چې پوهې او زده کړې پسې شي، خپل روحي او جسمي استعدادونه وروزي او انکشاف ورته ورکړي؛ ځکه چې د پوهې او زده کړې وسايل محدود او انحصار وو، سربېره پردې استعمار دا هم نه غوښتل چې معارف عمومي او لوړ شي، په دې کې يې ضرر و، هغه ته استثمار

۱۱۳. د افغانستان اساسي اصول، ٦ مخ.
۱۱٤. پورتنی مأخذ، ٦ مخ.

لومړۍ و، لـه دې کبلـه معـارف او خصوصاً ولـسي او عمومـي معـارف تـه هيـڅ توجه نـه وه.
مگـر اسـتقلال ډېـر ممکنـات پـه لاس راوړل او دا يـې وکـړای شـوای چـې محدوديتونـه لـري او د معـارف دروازې د ټولـو پـه مـخ خلاصـې کـړي، د افـرادو د جسـمي او روحـي قابليتونـو د انکشـاف لپـاره زمينـه برابـره کـړي. پـه دې ډول علـم او معرفـت انحصـار نـه خـلاص کـړي او د کلتـور مـادي وسـايل لکـه قلـم، کاغـذ، چاپخانـه، کتابخانـه، موزيـم، تياتـر، سـينما، کلـب او داسـې نـور تهيـه کـړي.
دوکتـور رضايـي ليکـي: «دغـه کلتـوري مناسـبات د افغانسـتان د پـوره ازادۍ گټلـو نـه وروسـته شـدت پيـدا کـوي، زده کوونکـي فرانسـه، المـان او ترکيـې تـه اسـتول کېـږي او لـه مـصر، ترکـې ايـران، فرانسـې، المـان نـه ښـوونکي اسـتخداميږي».[۱۱۵]
لـه غـربي معـارف سر تمـاس او د عـصري ښـوونځيو تاسيس په افغانسـتان کـې البته د اسـتقلال لـه جنـگ نـه د مخـه و، «لومړۍ ليسـه چـې پـه افغانسـتان کـې افتتـاح شـوه پـه کال (۱۹۰۳م) کـې د اميـر شـهيد حبيـب اللـه خـان پـه وخـت کـې وه».[۱۱٦]
دا ليسـه ننـنۍ حبيبيـه او پـه کابـل کـې وه؛ مگـر پـه اطـراف کـې درس همغسـې خصـوصي او پـه کورنـو او ماجتونـو کـې يـې دوام لاره. د حبيبيـې د ليسـې پـه تأسـيس سره پـه دې ملـک کـې د انگرېزانـو هغـه تعليمـي سيسـتم رانونځـي چـې د مخـه پـه هنـد کـې تطبيـق شـوی و (نهـه کالـه وروسـته د فرانسـې کـوم نفـوذ کـه څـه هـم خفيـف او غيـر مسـتقيم و؛ د عثمـاني ترکيـې لـه لارې چـې يـو مسـلمان ملـک و او لـه غـربي علومـو او خـاص نحـوې څخـه يـې اسـتفاده کولـه او لـه افغـاني روحيـې سره يـې مطابقـت لاره) رانونوځـي.[۱۱۷]
د حبيبيـې ليسـې لومـړني معلـمان هنديـان وو، هـدف يـې دا و چـې اداري مامـوران وروزي، ترڅـو چـې د هغـه وخـت حکومـت سره مرسـته وکـړي. وروسـته لـه هغـه چـې افغانسـتان پـه کال (۱۹۱۹ م) کـې خپـل اسـتقلال بېرتـه وگاټـه او د آزادو هېوادونـو پـه قطـار کـې ودرېـده، حکومـت احسـاس کـړه چـې يواځـې د حبيبيـې ليسـه نـه شي کـولای د هېـواد اړتيـاوې پـوره کـړي، دا وو چـې د اعليحضـرت امير امـان اللـه خـان پـه وخـت کـې د اسـتقلال، نجـات او غـازي ښـوونځيو تاداوونـه هـم کېښـودل شـول او فرانسـوي او المـاني ژبـې هـم پـه کـې داخلـې شـوې. پـه ولاياتـو کـې هـم څـو ښـوونځي پرانېسـتل شـول، خـو د خلکـو د نـه علاقـې پـه سـبب يـې زياتـه نتيجـه ور نـه کـړه.

---

۱۱۵. د افغانستان عمومي ترفيات، د دکتور رضايي له درسي نوټونو څخه.
۱۱٦. د افغانستان معارف، د پوهنې وزارت، انگرېزي خپرونه، ۷ مخ.
۱۱۷. د افغانستان کالنۍ، (۳٦/ ۱۳۳۷ ل)، ۱۸ مخ.

یو شمېر زیات زده کوونکي هلکان او زده کوونکې نجونې هم د تحصیل له پاره خارج ته لکه ترکیې، فرانسې او المان ته ولېږلی شو او یو نوی نهضت را پیدا شو، مگر نوو جوړو شویو لیسو پوره انکشاف نه و کړی چې په داخل کې اغتشاش شروع شو او مکتبونه هم وتړل شول، د اعلیحضرت شهید محمد نادرشاه په لاس د مملکت د نجات نه وروسته معارف ته زیاته توجه وشوه، د حکومت د توجه په اثر پخوانیو لیسو په شدت سره خپل کار ته پسې دوام ورکړ او د لومړي ځل له پاره د استقلال له ښوونځي نه په کال (۱۳۱۰ل) او د نجات نه په کال (۱۳۱۳ ل) کې فارغ التحصیلان ووتل.[۱۱۸]
له هغه وروسته معارف خپل سیر ته دوام ورکړ او په وار سره یې نوي مکتبونه او لیسې پسې جوړې شوې او ابتدائي مکتبونه او کلیوالي ښوونځي افتتاح شول. د معارف په دې انکشاف سره له یوې خوا عمومي تنویر ته توجه زیاته شوه، یعنې ابتدائي ښوونځي ډېر شوي او له بلې خوا لوړې زده کړې هم رواج شوې. د لوړو زده کړو له پاره محصلان د باندنیو مترقي هېوادونو ته واستول شول او دننه په ملک کې پوهنتون تاسیس شو (۱۹۴۶ م) په داخل یا په خارج کې د تخصیصي مطالعاتو کار پوهنتون ته وسپارل شو، له هغه دمخه دا کار د معارف په غاړه و.

## اوسنی حال

معارف له وخت نه اوس متکامل دی او لا کوښښ جاري دی چې تر دې زیات تکامل وکړي، پخوانی معارف چې که له اوسني سره مقایسه شي، خاصیت او د ترقۍ سرعت یې ترې معلومیږي، هیڅ شوک نه وایي چې معارف اخر پوړ ته رسېدلی، موږ پوهېږو چې وظیفه یې ډېره مهمه او درنه او د هېواد د ټولو افرادو انکشاف دی؛ خو د دې حقیقت سپړل په کار دي چې سیر یې مترقي او مخ په وړاندې دی، لکه چې له لاندیني جدول[۱۱۹] نه به دا حقیقت ښه څرګند شي:

| کال | د ښوونځیو شمېر | د زده کوونکو شمېر |
|---|---|---|
| ۱۳۱۱ | ۲۲ | ۱۳۵۰ |
| ۱۳۲۰ | ۳۳۱ | ٦۴۰۰۰ |
| ۱۳۳۸ | ۱۰۵۵ | ۱٦۵۵۹٦ |

۱۱۸. د افغانستان معارف په وروستۍ نیمایي پېړۍ کې، د پوهنې وزارت، فارسي خپرونه، الف مخ.
۱۱۹. د پوهنې وزارت د احصایې له اساس نه دا جدول اخیستل شوی.

له دې جدول نه ښکاري چې په (۲۷) کلونو کې د ښوونځيو شمېر په سلو کې (۴۷۹۷) او د زده کوونکو شمېر په سلو کې (۱۲۲٦٦) زيات شوی؛ يعنې ښوونځي په (۱۳۳۸ ل) کال کې د (۱۳۱۱ ل) کال په نسبت (۴۸) واره او زده کوونکي (۱۲۲) واره زيات شوي دي.

## د ښوونځيو اقسام

د ښوونځيو ځرنګوالی د هغو هدف په قرار کې دی چې معارف غوره کړی او له هغه احتياج سره هماهنګي لرو چې يې مملکت لري د معارف عمومي هدف د سواد اعطا، د ژوندانه د سويې اوچتول او د دولتي امورو لپاره د لايقو اشخاصو روزل دي.[۱۲۰]
له دې هدف سره سم له يوې خوا لومړنی او له بلې خوا د لوړې زده کړې د معارف په پروګرام کې شاملېږي.
په ابتدايي تعليماتو کې عمومي تنوير راځي او په عالي زده کړو کې تخصص داخل دی؛ نو ځکه د افغانستان معارف په څلورو ابتدايي، ثانوي، مسلکي او عالي دورو وېشل کېږي چې درې لومړۍ دورې يې د پوهنې وزارت له خوا او عالي تحصيلات يې د پوهنتون له خوا چې شخص وزير ته به ارتباط لري؛ اداره کېږي.[۱۲۱]
بايد وويل شي چې د تحصيل څلور واړه دورې د دولت له خوا وړيا دي، فارغ التحصيلان سربېره پر دې چې دولتي مؤسسو کې کار کوي؛ شخصي او انفرادي مؤسسو ته هم ورکول کېږي.
درې وروستۍ دورې چې د معارف په غاړه دي؛ ټولې دلته پوره کېدای شي، مګر د عالي تحصيلاتو له پاره په هغو کې چې لا تر اوسه په پوهنتون کې نشته، زده کوونکي خارج ته هم لېږل کېږي؛ د لوړو زده کړو له پاره د محصلانو لېږل، په نورو هغو څانګو کې چې که څه هم دلته يې پوهنځۍ شته جايز دی او همدغه سبب دی چې زيات شمېر افغاني زده کوونکي د اروپا زياترو هېوادو او امريکې ته هم لېږل شوي دي.

## لګښت

د دومره سترې او مهمې وظيفې انجامول پوره لګښت او ښه نظام غواړي، د يوې موسسې مسؤليت هم تر هغه حده وي چې صلاحيت او مالي توان يې روا بولي، په دې ټول خوښ

۱۲۰. په تېره نيمايي پېړۍ کې د افغانستان معارف، ۲ مخ.
۱۲۱. (۱۳۳۷- ۱۳٦۰ ل) کالنۍ، ۱۹ مخ.

دي چې په معارف دې زيات لګښت وشي، ځکه چې په لږ لګښت څنګه چې ښايي معارف پرمختللی نه شي، د دولت عمومي بودجه په مالي کال (۱۳۳۷– ۱۳۳۸ ل) کې ټول (۹۶۳ر ۹۱۵ر ۹۳۳ ر ۱) افغانی ته رسيږي، دا لګښت د دولت د عمومي بودېجې په قرار په سلو کې نهه عشاريه پنځه ته رسيږي.[۱۲۲]
د معارف د اداري معين الحاج عطايي له خولې په جاري مالي کال (۱۳۳۸ - ۱۳۳۹ ل) کې اتيا ميليونه زيات والی راغلی چې په دې حساب په دې کال کې د معارف، پوهنتون، صحي موسسې او طب پوهنځي ټوله بودجه (۶۷۳ر ۸۵۸ر ۲۶۴) افغانيو ته رسيږي.

## معارف او خلک

معارف له ولس سره ډېرې نژدې او نه بېلېدونکې اړيکې لري. معارف د خلکو له پاره او د خلکو په پيسو د ولس معارف په وجود راولي او معارف د ولس د ذهنيت د روښانولو او روزلو له پاره کار کوي، څومره چې معارف کامياب وي، هغومره به يې اولس ته خدمت کړی وي.
د همدغه متقابل ارتباط له کبله ده چې ولس له معارف نه کار غواړي او معارف ولس ته د همکارۍ او سلا مشورې سترګې غړوي، څومره چې د دوی ترمنځ همکاري او علايق زيات وي، هغومره دواړو خواوو ته فايده لري، په تربيتي سيستم او مسئلو فکر کول او ژور کېدل، يوازې د پوهنې د وزارت او ښوونکو کار نه دی، په دې لويې او حياتي مسئلې کې ټول شريک دي، ښايي له خپلو عرفاني مؤسسو سره ټول فکري مرسته وکړي.[۱۲۳]
يا دا چې موږ وايو چې خلک په خپل خير او شر ډېر ښه پوهېږي، د دوی زړونه پاک دي، که له دوی سره سلا مشوره وشي؛ ښه نظريات لري، ځکه مو نن دوی ټولو ته د معارف وَر بېرته کړی او هېڅ څوک د دوی د راتګ نه مانع کېږي.
د ولس سلا مشورې ته ډېر اړ يوو؛ چې هغوی له موږ سره همکاري و نه کړي، موږ يو ګام په مخ تلای نه شو، دوی بايد دا فکر و نه کړي، کله چې يې کوچنيان موږ ته وسپارل، د دوی مسئوليت خلاص شو.
برخلاف مسئوليت يې زياتېږي؛ بايد دوی راشي له موږ سره کېني، د پروګرام او تعليم پر طرز، د معلم په انتخاب، د بودجې په پيدا کولو او د ودانيو په جوړولو کې خبرې وکړي

۱۲۲. د (۳۷– ۱۳۳۸ ل) د بودجې د عمومي قانون موازنه، د ماليې وزارت خپرونه.
۱۲۳. د معلم د ورځې په تناسب د پوهنې وزير دوکتور پوپل له وينا نه، د عرفان مجله، اتمه ګڼه، ۵ مخ.

او خپل نظریات او افکار ښکاره کړي.[۱۲٤]

## د معارف اداره د افغاني متخصصانو په لاس ده

لکه چې د مخه مو وویل: عصري معارف د غرب له معارف سره موازي دی.
«د افغانستان د لېسو پروګرام د فرانسې او المان د ثانوي سیستم په اساس دی».[۱۲۵]
له همدې کبله بیخي لر و، خارجي متخصصان نه یواځې مدرسان وو؛ بلکې د ځینو ښوونځیو اداره هم دوی ته ورکړل شوې وه، لکه چې د تاسیس په لومړنیو کلونو کې حبیبیه د هندي ښوونکو په لاس وه او وروسته پسې د حبیبیې، استقلال، غازي او نجات د لیسو اداره په ترتیب سره امریکایي، فرانسوي، انګلیسي او جرمني متخصصانو ته ورکړل شوې وه.
خو د معارف په سریع انکشاف سره کله چې د پوهنې او روزنې په ساحه کې افغاني متخصصان پیدا او ډېر شول، اداره د دوی په لاس شوه اوس ویلی شو چې د هېواد په ټولو عرفاني او تربیتي مرکزونو کې افغاني متخصصان اداره چیان او مدیران دي، دا نظر خصوصاً په دې وروستیو کلونو کې عملي شوی او دا د هغه امکان په اساس ده چې د پوهنې واکمنو برابر کړی دی.
د پوهنې وزارت د افغاني ځوانانو له پاره د پوهنې او روزنې په ساحه کې هم د زیات تحصیل چانس ورکړی، کله چې په داخل او خارج کې افغاني ځوانان کامیاب شوي او ښه استعداد یې ښوولی، دلته د پوهنې او روزنې په مرکزونو کې آمران شوي او په درسي او عرفاني موسسو کې یې له علم او پوهې سره موازي د جامعې عمومي ایډیال هم پرمخ بیولی دی.
«خارجي متخصصان د څېړنې او تحقیق لار ښوولی شي؛ مګر هغه چې ښه فکرونه به له مختلفو هېوادونو او مختلفو فکري مکتبونو نه ټول کړي او د افغاني چاپېریال او کلتور په مطابق به یې تربوي عمومي مفکورې او ایډیال لاندې راولي او عرفاني تلنلار به وټاکي، هغه یواځې زموږ پوه او عالم ځوانان دي.[۱۲٦]

---

۱۲٤. ملي شورا ته د پوهنې وزیر دوکتور پوپل له راپور نه، د شورا د مجلې څلورمه او پینځمه ګڼه، ۳۴ مخ.
۱۲۵. په تېره نیمایي پېړۍ کې د افغانستان معارف، ۱۵ مخ.
۱۲٦. د ښوونکو په ورځ د پوهنې وزیر دوکتور پوپل له وینا نه، د عرفان مجله، اتمه ګڼه، ٦ مخ.

## معارف او د ژبو مسئله

ژبه د افادې او استفادې لويه او موثره وسيله ده؛ ځکه نو په هغو ژبو چې اولس ګړيږي، معارف ورسره خاصه علاقه لري، څومره چې زده کړه د ماشوم له پاره په خپله مورنۍ ژبه وي، هغومره د هغه استعداد زيات روزل کيږي او انکشاف پيدا کوي.
هغه وخت چې د ځينو عرفاني مرکزونو اداره د خارجي متخصصانو په لاس وه او خارجي مدرسان زيات وو، د مرکز او اطراف څه ثانوي تعليمات په خارجي ژبو کېده، البته دا د روزنې او پوهنې له پرنسيپ سره چندان ښه نه لګېده؛ خو له (۱۳۲۹ـ ۱۳۳۰ ل) کلونو نه را په دېخوا خارجي ژبو کې تعليم ترک شوی او په مورنۍ ژبه کې کيږي، يعنې خارجي ژبې ولس د تعليم وسيله نه؛ بلکې د استفادې ډېپلوم دی او تعليم په مورنيو ژبو کې کيږي؛ څرنګه چې افغانستان په پښتو ويونکو او فارسي ويونکو سيمو وېشل کيږي؛ نو د تعليماتنامې د څلوروشتمې مادې په اساس په هر مکتب کې دواړه ژبې تدريسيږي.
په دې ډول چې د فارسي ژبې په سيمه کې درس په فارسي وي او پښتو په څلورم ټولګي کې شروع کيږي او د پښتنو په سيمه کې درس په پښتو وي او فارسي په څلورم کې ټولګي کې پيل کيږي.
«په هغو ښوونځيو کې چې د پښتو ويونکو زده کوونکو شمېر له نيمايي نه زيات وي، هغه ښوونځی په پښتو ويونکو سيمو کې راځي او په هغو سيمو کې چې د فارسي ويونکو شمېر زيات وي، هغه ښوونځي په فارسي ويونکو کې حسابيږي او که په کوم ښوونځي کې پښتو او فارسي ويونکي سره برابر وو، داسې مکتبونه په پښتو ويونکو کې حسابيږي، په مختلفو سيمو کې د دواړو ژبو زده کړه، ضروري ده».[۱۲۷]

## معارف او پښتو

د معارف متعلق له پښتو سره د معارف له لاندې خپرونې نه ښه څرګندېدای شي:
(له بده مرغه د پښتو د عمومي کېدو له پاره چې د افغانستان زياتره وګړي پرې ګړيږي، رومبی لکه څنګه چې لازم و، منظم کوښښ نه و شوی، دا ژبه له فارسي نه زيات توپير لري، ډېره ارته او له شور و ژوند نه ډکه ده، پښتو د ارياېي د مهمې څانګې په حيث له سانسکريت او فارسي سره نژدې اړيکې لري.
د افغانستان حکومت شل کاله رومبی (۱۳۱۵ ل) په ښوونځيو کې د دې ژبې زده کړه

۱۲۷. په نيمايي تېره پېړۍ کې د افغانستان معارف، ٦ مخ.

حتمي کړه او په هغه وخت کې ټول تدریس په پښتو کې کېده، زیات شمېر علمي او عرفاني ټولنې د پښتو د څېړنې او په ملک کې یې د ترقۍ ورکولو په منظور جوړې شوې. د حکومت په کلک ملاتړ او د دې ټولنو په فعالیت پښتو نن خپل اهمیت تر لاسه کړی او تدریس یې حتمي شوی دی، پښتو ټولنه په دې بریالۍ شوې چې د پښتو په ګرامر، ادبیاتو او تاریخ رڼا واچوي، په دې ژبه کې اوس زیاتې خپرونې شته.[۱۲۸]

نن سبا چې د پښتو د دفتر کېدو کار روان دی، معارف هم دې ټکي ته ښه متوجه دی: د معارف د پښتو د لویانو ځانګه په دې موظفه ده چې د پښتو د ترویج او تعمیم لپاره متمرکز پلان په اساس زیار وباسي، د تاسیس له اول نه یې تر اوسه کار کړی؛ خو په دې وختو کې خصوصاً ورته حتمي ده چې خپلو وظیفو ته ښه ځیر شي.

اوس د معارف په درې مهمو ځانګو کې پښتو دفتري شوې هم ده، پښتو ټولنه او د پښتو د تدریساتو ځانګه، خو البته د خپل دفتري کارونه له پخوا نه په پښتو کوي، له څو میاشتو راهیسې د معارف تفتیش ټولې ځانګې هم په پښتو شوې او  په دې برخه کې یې د هغه ریاست کارکوونکي او مخصوصاً رئیس ښاغلی عزیز احمد خان ډېر زیار باسي.

## معارف او د پښتو ټولنه

پښتو ټولنه د پښتو په تاریخ، ادب او فلالوجي کې زیات تحقیق، ریسرچ او څېړنې کوي، اکاډمیکه یا علمي ټولنه هم له دې پلوه ورته ویل کېږي چې کار یې په پښتو څېړنه او تحقیقات کول دي.

معارف ته بیا د پښتو د عمومي کولو او ارزولو وظیفه ور په غاړه ده، سربېره په دې معارف له پښتو نه په تعلیم کې د وسیلې په حیث استفاده هم کوي، همدغه سبب دی چې معارف او پښتو ټولنه سره نږدې علایق لري، د پښتو په برخه کې دواړه یو د بل متمم او مکمل دي.

د همدغه ارتباط له کبله ده چې پښتو ټولنه د معارف د اکاډمۍ په حیث وپېژندل شوه چې له  شخص وزیر سره ارتباط لري؛ ځکه چې د پوهنې وزیر د پښتو ټولنې د واکمنې جرګې غړی دی.

د دې ارتباط په اساس ده چې پښتو ټولنه په معارف کې د پښتو د تدریسي پروګرامونو او مفرداتو په جوړولو کې له معارف سره هر وخت همکاري لري او معارف هم هر وخت

---

۱۲۸. په نیمایي تېرې پېړۍ کې د افغانستان معارف (انګرېزي خبرونه)، ۷٦ مخ.

چې په دې برخه کې احتیاج حس کړی، له پښتو ټولنې سره سلا مشوره او جرګې کوي، سربېره پر دې معارف د پښتو په برخه کې د پښتو ټولنې له نویو علمي تحقیقاتو نه استفاده کوي او د پښتو د ادب، فلالوجی، تاریخ او نورو برخو کې یې هغه خپرونې چېس د معارف له پروګرام سره مطابقت ولري، په ښوونځیو کې د خپلو ښوونکو په وسیله تدریسوي.

## هېواد کې د معارف تأثیرات

معارف له یوې خوا د عمومي تنویر له پاره کار کوي او له بلې خوا متخصصان او عالمان روزي او طبیعي ده چې بری یې مثبت او ښه تاثیرات پرېږدي.
له همدې ځایه ده چې سریع انکشاف یې په دې وروستیو کلونو او په تېره بیا هغه وخت چې معارف حیاتي شکل غوره کړ، ډېر ښه استقبال شوی دی.
ږومبی به په اطرافي ښوونځیو کې واړه په جبر او زړه نا زړه داخلېدل؛ خو اوس واسطې کوي اول به حکومت د ښوونځیو په جوړولو کې تشویق کاوه؛ خو اوس ولس په خپله حکومت ته عریضې کوي او ترې ښوونځي غواړي، مرستې او همکارۍ لاهم ورسره کوي.
د معارف له خوا متخصصانو او فني کسانو روزل دي چې د دولت د فني کار حجم یې زیات کړی او اوس د دولت په اصلاحي پلانونو کې لوی رول لوبوي.
د معارف برکت دی چې عمومي ذهنیت ته یې پوره خدمت کړی او نن ورځ یې وروستي اصلاحات ممکن ګرځولي دي.
موږ تر دې زیات د خپل معارف بری غواړو او هیله کوو چې معارف مو په دې موفق شي چې د وطن ټول افراد وروزي.

آریانا مجله، ۱۳٦۰ ل، کال دوبی، ۲مه گڼه،پرلپسې گڼه ۳۳۷، ۱۵۰-۱٦۵ مخونه.

# قیام صدو دو سال پیش کابل علیه تسلط انگلیس های مهاجم

## مقدمه

بعد از آنکه حکومت هند برتانوي به قیادت وایسرای لارد لیتن، بتاریخ (۲۰ نومبر ۱۸۷۸م) با افغانستان اعلان جنگ داد، این کشور مورد تاخت و تاز قشون استعماری انگلیس قرار گرفت. شیر علی خان امیر آن وقت افغانستان به سبب فشار جنگ از کابل به مزار رفت و در آنجا وفات نمود. پسر و جانشین او در کابل امیر محمد یعقوب خان، به تقاضا های حکومت هند برتانوی تن داد و در (۲٦ می ۱۸۷۹م) معاهده گندمک را با ایشان منعقد نمود که بر طبق آن در جمله دیگر چیز ها، استقلال افغانستان را به انگلیس ها تسلیم، و قبول نمود که یک هیئت انگلیسی الاصل بحیث سفیر یا نماینده سیاسی انگلیس با تعدادی از محافظان خود در کابل اقامه اختیار کند و تمام آن عده از افغان هائیکه در جریان جنگ با انگلیس ها به اشکال و درجات مختلف کمک نموده بودند، معاف دانسته شوند. ولی افغان ها بعد در صحنه عمل این معاهده را رد کردند و بعد ار اینکه هیئت سیاسی انگلیسی به سر کردگی سر لویی کوگناری (Sir Louis Cavagnari) در بالاحصار کابل اقامه اختیار کرد، آنها بتاریخ (۳ سپتمر ۱۸۷۹م) در اثر یک قیام مردم کابل و عساکر مقیم آن نابود شدند، مقصد از این مقاله شرح همین قیام و علل آن میباشد.

## قیام

دو موضوع عمده یکه امیر محمدیعقوب خان را بعد از معاهده گندمک مشوش نگهداشت، تطبیق(ویا عدم تطبیق) مندرجات معاهدۀ گندمک و در زیر کنترول در آوردن موثر اردو بود که امیر شیرعلی خان در دوره دوم امارت خود تنظیم نموده، تعداد مجموعی آن به (۵٦۰۰۰) نفر میرسید. در موضوع اول تعهد معافیت کامل برای آن عده افغان هائیکه در جریان جنگ با اعمال انگلیس مراوده داشتند، بسیار جدی و مهم بشمار میرفت.

اشخاص عمده مردم بنام «کوگناری زای» یا سرداران متمایل بانگلیس یاد میشدند، که در رأس آن ها سردار ولی محمد خان مشهور به «لاتی» عم امیر محمدیعقوب خان قرار داشت. بعضی سران قومی اطرافی هم در جمله همین اشخاص بحساب میرفتند. مگر امیر صرف از طرف سرداران محمد زایی این دسته نگران بود؛ به سببیکه سردار ولی محمد خان رقیب او بود و او با اعمال و سفیر انگلیس مقیم کابل روابط خوبی قایم نموده بود. امیر در جمله سایر اقدامات که در باره تضعیف این سرداران مینمود، از قبیل تخفیف معاشات، و نگماشتن آنها به مقامات دولتی؛ و برخلاف تقویه سرداران طرفدار خودش. او زیر کنترول در آوردن اردو را بسیار مهم میشمرد. در جمله سایر اقدامات که برای راضی نگهداشتن اردو کرده شد، یکی و عمده ترین آن اعطای معاش به عساکر و دادن ترخیض به آنهای بود که مشتاق مراجعت به خانه های خود بودند. این موضوعات میراث دوره امیر شیر علی خان بود و از آنهایکه در افغانستان وقتی یک امیر وفات مینمود، خلف او بمقصد جلوگیری از ایجاد نارامی احتمالی به عساکر یا معاشات تا آن وقت تادیه نشده را تادیه مینمود و یا به معاشات شان می افزود. امیر محمد یعقوب خان بعد از انعقاد معاهدۀ گندمک به همین کار اقدام کرده بود که هیئت انگلیس در کابل به شرح ذیل نابود گردید.

بقول تیمور نام شاهد عینی این واقعه بروز چهارشنبه (۳ سپتمبر ۱۸۷۹م) (مطابق ۱۵ رمضان ۱۲٦۹ هـ ق) حوالی ساعت ۸ صبح نزدیک مقر شاهی یک قطعه موسوم به اردل ( دراصل سه قطعه بود) برای اخذ معاش که تا آن وقت تادیه نشده، صف بسته بود. به امر سپاه سالار داودشاه، معاش یک ماهه برای شان داده میشد، ولی آنها معاش دو ماهه (سه ماهه) میخواستند. چون دریافت نکردند، قیام نمودند. آنها مسلح هم نبودند. یکی از عساکر به آواز بلند گفت: « بیائید اول سفیر را بکشیم و سپس امیر را». متصل آنها بسوی مقر هیئت روان شدند. مقر هیئت منزل امیر محمد اعظم خان متوفا بود که در جوار مقر شاهی قرار داشت. عساکر با ورود به آن تنی چند از ملازمین آن را به سنگ زدند. ولی گارد بدون امر منصبداران انگلیس که در داخل عمارت بودند، بسوی شان فیر نمود. عساکر افغان پس شدند و غرض دریافت اسلحه به چمن رفتند و در ظرف ربع یک ساعت (اصلاً نیم ساعت) مراجعه کردند و مقر هیئت انگلیس را محاصره نمودند و از موقع ستراتیجیکی خود بام قرارگاه انگلیس را غیر قابل دفاع ساختند. مدافعین در بعضی حصص بام بزودی یکنوع مرچل ها ساختند. بر کلکین ها بنای تیر اندازی نمودند. مردم شهر در حدود ساعت (۱۰) صبح با قیام کننده گان پیوستند و در حدود یک بجه کوگناری در پیشانی مورد اصابت قرار گرفت و زخمی شد و در داخل عمارت

برده شد. ودر همین اثنا طی یک نامه از امیر کمک خواسته شد و امیر اظهار نمود که بحکم خدا همین آن سر رشته میگیریم. به تعقیب آن پیام دیگری بغرض حصول کمک فرستاده شد، مگر حامل آن که یکنفر هندو بود؛ پاره پاره کرده شد. در حدود (۳) بجه بعد از پیشین تیمور (راوی حکایه) از طرف همیلتن اتاشه نظامی به قیام کنندگان به معه یک نامه فرستاده شد و به آنها وعدۀ معاش شش ماهه داده شد. قیام کنندگان تا آنوقت به بام عمارت رسیده بودند. تیمور در بین جمعیت خلع سلاح گردید و از عمارت به بام یک خانه پایانی انداخته شد و بیهوش شد و همینکه بحال آمد، به جنرال عبدالکریم خان قوماندان قطعه برده شد که در حدود (٦۰) نفر دور او را گرفته بودند. تیمور برایش اظهار نمود که معاش شش ماهه برایش تادیه خواهد شد ولی او نپذیرفت و اظهار نمود که چیزی ازو شده نمیتواند و او تیمور را بازداشت نمود. مقارن این وقت به عمارت آتش زده شد.[۱۲۹]

شاید وقتی این آتش زده شده باشد که حمله آوران نتوانستند عمارت را به ذریعه یک حمله شدید اشغال نمایند. بعضی از مدافعین کشته شدند و دیگران در عمارت سوزان هلاک گشتند. بقول تمام راویان، مدافعین به شدت از خود دفاع کردند و دفاع وقتی خفیف شد که کوگناری در داخل عمارت در اثر سقوط بام نابود گردید.[۱۳۰]

به روایت امیر محمد یعقوب خان در همان مرحله اول سه قطعه اردل ( نه یک قطعه طوریکه تیمور گوید) حمله نمود و بعد از آنکه این خبر منتشر گردید؛ قطعات نظامی که در چمن، شیرپور و یا بالاحصار بودند هم سهم گرفتند.[۱۳۱] تمام قطعات نظامی قرارگاه های متذکره در عملیات ضد انگلیس سهم نگرفت و تعداد تمام قطعات به (۱۱) میرسید که متشکل از (٦٦٦٨) نفر عسکر بود. در حالیکه قطعات سه گانه اردو متشکل از عناصر انتخابی و بخصوص از مناطق کنر و کوهات بود؛ سایر قطعات نظامی متشکل از پشتون ها، بویژه غلزایی ها و وردگ بودند. تمام مردم که در این قیام سهم گرفتند، بین ده هزار و پانزده هزار تخمین شده اند، یعنی آن تعداد که بالاحصار گنجایش آن ها را در یک

---

۱۲۹. روایت تیمور به جنرال دوران، در لندی کوتل، ۱۵ سپتمر ۱۸۷۹، مکاتب و ضمایم سری سیاسی وارده از هند ( از این به بعد م ض س س ه). جلد ۲۳- ص ٦٤، کتابخانه و دفتر هند در لندن.

۱۳۰. لتین به کرین بروک (وزیر در امور هند)، ۱۵ سپتمبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ، ج ۲۳- ص ٤٤٤، کتابخانه هند در لندن.

۱۳۱. بیانیه امیر محمد یعقوب خان در برابر کمیسیون تحقیق قتل کوگناری، ۵ نومبر ۱۸۷۹، م ض-س س ه، ج ۲۳، ص ۷۵۱.

وقت داشت. در جریان حمله، امیر از محل خود یعنی سراچه که در آن دربار مینمود حرکت نکرد. اول داودشاه خان سپاه سالار را به حمله آوران فرستاد، ولی آنها نه اینکه بحرف او گوش ندادند، او را با سنگ زدند و از اسپ پیاده نمودند. امیر بعد خسر خود سردار یحیی خان را با پسر خورد سال خود سردار موسی خان بمعه قران شریف فرستاد. این وقتی بود که عساکر در چمن بودند و اسلحه میگرفتند. یحیی خان بر طبق هدایت امیر از آنها خواست که از این کار منصرف شوند و در صورتیکه کفار را در ملک خود نه پسندند، امیر آنها را واپس خواهند فرستاد. ولی اینهم فایده نکرد. آنها وقتی از جوار سراچه شاهی بسوی مقر هیئت انگلیس در حرکت بودند، امیر (بگفته خودش) سر خود برهنه کرد و از ایشان خواست که « بلحاظ خدا و قران از این کار منصرف شوید و به سبب قتل این چار نفر نام مرا نابود نسازید. من ایشان را پس خواهم فرستاد و باز آنچه دل تان میخواهد همان طور کنید.»[۱۳۲]
التماس امیر هم موثر واقع نه شد و بعد از آن او اشخاص دیگر چون جنرال عبدالکریم خان و یک چند سرکرده کوهستانی و احمد زایی بشمول پادشاه خان احمدزایی را بهمان مقصد نزد هجوم آوران فرستاد. ولی جنرال موصوف بگفته امیر، عوض انکه امر او را اطاعت کند، هجوم آوران را هنوز تشویق کرد و برای شان گفت « کار خود را بزودی تمام کنید.»[۱۳۳] در هجوم بالای نفر هیئت انگلیس منصبداران نظامی افغان حصه گرفتند.[۱۳۴]
اینکه سپاهیان و مردم کابل چرا در ظاهر بصورت آنی نمایندگان یک کشور بسیار مقتدر وقت را که امیر شان در قلب کشور و در جوار مقر خود جا داده بود، بدون کدام اخطار واضح و مظاهره قبلی کشتند؛ موضوع بحث برای تمام آن نویسنده گان است که تا کنون در این باره نوشته ها کرده اند. تقریباً تمام نویسندگان انگلیس آن زمان و بعد از آن، نسبت این واقعه را به معاش و پول مینمایند و مدعی اند که هجوم آوران افغان در

---

۱۳۲. ایضاً.
۱۳۳. ایضاً.
۱۳۴. نام های منصبداران با مناصب شان که در قیام عملاً سهم گرفتند، این بود. سید خان زرمشر(لغمان)، شمس الدین خان نایب(لغمان)، الیاس خان سل مشر(وزیر از تگاب)، محمد علم خان بلوک مشر(وردگ)، جان محمد خان بلوک مشر(نرخ)، سلام شاه سل مشر(پغمان)، محمدخان بلوک مشر(وردگ)، گل احمدخان سل مشر(تزین)، غلام محمد خان بلوک مشر(گردن مراد وردگ)، دین محمد سل مشر(تنگی لوگر)، گل محمد خان بلوک مشر(بندر لغمان)، اخی خان بلوک مشر(زرمت)، کمال خان بلوک مشر(اجورمات)، دین محمد خان زرمشر(اندر)، خوشدل خان زرمشر(پغمان)، گل داد خان زرمشر، امین خان نایب(کاکړ سلطان پور) و بردولا خان زرمشر(وردگ).

همان روز و ساعت و در همان ساحه دفعتاً تحریک شدند و این عمل را بدون کدام پلان طرح شده قبلی محض از روی محرکات پولی انجام دادند. این نظر باشکال مختلف آن بقدری عام شده که حاجت به تذکر منابع ندارد. حتی از نوشته محمد یوسف ریاضی مورخ افغان هم، همین مفهوم استنباط میگردد.[۱۳۵]
مدون سراج التواریخ، ملافیض محمد کاتب هم می نویسد که وقتی سپاهیان شنیدند که معاش سه ماهه برای شان تادیه نمی شود «به اواز بلند گفتند که از کیوناری طبق استدعای خود تنخواه خواهیم گرفت.»[۱۳٦] غبار می نویسد که بعد از آنکه مردم شهر با سپاهیان به روز سووم سپتمبر یکجا شدند «در این اجتماع سخنان اشتعال انگیزی بر ضد سلطه خارجی و خارجی پرستی امیر محمد یعقوب خان بگفتند و تصمیم خود را برای امحای سفارت نظامی دشمن اظهار کردند.»[۱۳۷]
در شرح واقع جنجال نیست. در تمام منابع آن عصر بشمول راپور های سری حکومت هند برتانوی که نهایت زیاد و مهم است، مذکور است که سه قطعه اردل معاش یک ماهه را قبول نکرد و برای دریافت معاش سه ماهه رو به سفارت نمود. مگر مطالعه دقیق راپور های سری و از آن بیانیه های عمال حکومت افغان و تمام آن کسانیکه از طرف کمیسیون تحقیق قتل کوگناری مورد تحقیق قرار گرفتند، معلوم میگردد که موضوع معاش و پول که حقیقت داشت، اصلاً یک بهانه و وسیله برای اظهار عکس العمل جدی بر ضد حضور نمایندگان یک کشور متجاوز و توسعه طلب استعماری اروپایی در کشور مردم مسلمان افغانستان بود. از روایت تیمور که معتبرترین تمام روایات در زمینه است، واضح است که هجوم آوران و جنرال عبدالکریم خان به پول اهمیت ندادند و معاش شش ماهه را هم که برای شان وعده تحریری داده شد، قبول ننمودند. و جنرال موصوف به سپاهیان گفت «کار خود را بزودی تمام کنید.» موضوع محرک پولی هم به سبب ضعیف و غیر قابل دفاع معلوم میگردد که سپاهیان به خزانه شاهی که در نزدیکی واقع بود توجه نکردند و سر راست به مقر هیئت رفتند. (آنها البته پول را که نزد معتمد معاش موجود بود، چور کردند). چنانچه سپاه سالار داود شاه گوید: «معاش دلیل ظاهری برای این قیام خوانده می شد» و او علاوه می کند که شخصی او به هجوم کنندگان اظهار نمود، که : «اگر شما پول میخواهید در آنجا خزانه موجود است اگر مایلید معاش پنج

---

۱۳۵. محمد یوسف ریاضی، عین الوقایع در کلیات ریاضی، چاپ مشهد، ۱۹۰٤، ص ۱۸۳.
۱۳٦. سراج التواریخ، ج ۳، طبع کابل، ۱۹۱۵، ص ۳۵۲.
۱۳۷. غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، موسسه طبع کتب، کابل، ۱۹٦۷، ص ٦۲۰.

شش ماهه را بگیرید.»[۱۳۸] ولی آنها گوش ندادند. مستوفی حبیب الله وردگ بعد از آنکه سایق پولی را بطور مشخص رد می کند میگوید که سپاهیان بعد از واقعه طوری معلوم می شدند که گویا وظیفه محوله خود را انجام داده باشند. او میگوید:«برای من خوب مسلم است که قیام سپاهیان برای معاش نبود، زیرا که آنها خزانه را که نزدیک دفتر معاش واقع بود، غرض نگرفتند. این یک بهانه محض بود. اگر سپاهیان تصمیم داشتند به امیر آسیبی برسانند، میتوانستند. مگر آنها نه او و نه کدام کس دیگر را با استثنا داود شاه جریحه دار نمودند. سپاهیان مسلماً غیر از انهدام سفارت هدف دیگری نداشتند و همینکه چنان کردند، به کامپ خود برگشتند و کاملاً تحت کنترول بودند. در واقع سلوک شان طوری بود که گویا وظیفه ای را که به آنها سپرده شده بود انجام دادند.»[۱۳۹] ذکر این نقطه هم درینجا موزون است که غضب هجوم آوران نه تنها متوجه انگلیس ها بود، بلکه متوجه آن افغان ها حتی ماموران بزرگ دولتی هم بود که با انگلیس ها در تماس بودند. چنانچه ملا شاه محمد وزیر خارجه از اجاری این امر امیر معذرت خواست که نزد سپاهیان برود. «زیرا که او اکثراً با کوگناری دیده شده بود و میترسید از اینکه او را خواهند کشت.»[۱٤۰] این نقطه تثبیت نشده که این وظیفه را کدام اشخاص به سپاهیان داده بود، ولی به اطمینان گفته شده میتواند که آنها افسران نظامی شان، خود شان بودند.

علل قیام و محرکین اصلی که جمعاً این حادثه و شرایط هجوم و قیام را ممکن نمود، به دو دسته تقسیم شده میتواند: علل دور و علل نزدیک: در جمله علل دور مهمترین و بلکه اساسی ترین آن معاهده گندمک بشمار میرود.

تا وقتیکه معاهده گندمک بصورت مجرد جزء اوراق بود، عکس العمل موضوع بحث نبود؛ مگر وقتیکه مندرجات آن در عمل پیاده میشد و شکل مشخص را بخود میگرفت و مردم اثرات آن را در زندگی واقعی خود بصورت مجسم میدیدند و آن را برضد ارزش های بسیار عزیز و منافع خود تشخیص کردند، دیگر به آن بی علاقه مانده نمیتوانستند. اولین کسی که با معاهده اظهار مخالفت نمود، سردار محمدایوب خان والی هرات بود. عمال انگلیس به دفعات شنیده بودند که او به برادر امیر خود علیه اتحاد با حکومت

---

۱۳۸. بیانیه داود شاه خان، ۲۳ اکتوبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ج ۲٤، ص ۷۲۵.
۱۳۹. بیانیه مستوفی حبیب الله وردگ، ۱۵ نوامبر ۱۸۷۹، م ض س س ٥، ج ۲۳، ص ۷۲۱.
۱٤۰. بیانیه سردار عبدالله خان پسر سلطان جان، ۲۵ جنوری ۱۸۸۰، م ض س س هـ ، ج ۲۳، ص ۷۲٦.

برتاینه اعتراض نمود، مگر امیر محمد یعقوب خان به او جواب سختی داد و اظهار نمود که قدرت مقابله با حکومت برتاینه را در خود نمی دید و این حکومت رویه منصفانه و محترمانه در برابر او نشان داده بود.[۱٤۱]
سردار محمد ایوب خان بقول واترفیلد کمشنر پشاور درباره این معاهده با همان «احساس ملی» تحریک شده بود، مثلیکه تمام افغان ها کم و بیش با آن متاثر شده بودند و یکدسته قوای نظامی حتی در همان مرحله اول در باره بی اثر ساختن معاهده فعالیت می نمود؛[۱٤۲] مگر در آن مرحله مخالفت با انگلیسها نشان داده نه شد، بلکه از هیئت در موقع ورود آن بصورت رسمی و از طرف تماشاچیان شهر استقبال بعمل آمد. در این وقت اظهار هیچگونه احساسات بر ضد شان نشان داده نه شد. بعد از ورود شش قطعه سپاهیان پیاده از هرات به کابل در هفته اول اگست، تحریک مخالفت با معاهده و انگلیس جان گرفت و به سرعت عجیب تقویه شد. این سپاهیان که در اصل از منطقه کابلستان بودند، در بازار های کابل احساسات ضد انگلیس و کفار را علناً نشان دادند و حتی بوسیله منصبداران خود بر امیر اعتراض دوستانه هم نمودند.[۱٤۳]
کوگناری بعد از ورود خود به کابل در هفته اخیر جولای به همراهی سوران و وزیر خارجه افغان یا ناظر امیر از موقع دلچسپ کابل دیدن میکرد و با اعضای هیئت خود در جاهای عمومی نیزه بازی مینمود. امیر برایش توصیه کرد که «بهتر خواهد بود بازدید های خود را به چمن و یا کدام میدان هموار منحصر نماید که در انجا تعداد مردم و خطر به شخص او کمتر باشد.» کوگناری توصیه او را پذیرفت، ولی از آن ببعد یک واقعه کوچکی رخ داده که احساسات مردم را برضد انگلیس ها بر انگیخت. روزی یک اردلی کوگناری که منسوب بقوم افریدی بود، با دو سپاهی افغان منازعه نمود. در اثر آن به اردلی از طرف کوگناری جایزه داده شد. ولی امیر آن دو سپاهی را در زندان انداخت و «این واقعه در ذهن مردم و سپاهیان احساسات خشم را تولید نمود».[۱٤٤]
از محرکات و علل نزدیک و فوری مثال های زیادی در دست است. به قرار راپور واتر فیلد، چند نفر که او نظر انها را «پر ارزش ترین» خوانده است اظهار نمودند که « سردار ایوب خان محرک مخفی این بغاوت بود.»[۱٤۵] مگر اینکه او برای تحقق آن از کدام ذرایع

---

۱٤۱. واتر فیلد، ۱٤ سپتمبر ۱۸۷۹، م ض س س ه، ج ۲۳، ص ٤۷۸.
۱٤۲. ایضاً، لیتن به کرین بروک ۷ جنوری ۱۸۸۰، م ص س س هـ، ج ۲٤، ص ۸.
۱٤۳. ایضاً.
۱٤٤. نقل قول علی حسن قزلباش، پسر نایب قاسم کوتوال کابل، ایضاً.
۱٤۵. ایضاً.

استفاده نموده، به یقین معلوم نیست. در کابل والده ولیعهد عبدالله جان مرحوم هم بنابر دلایلی که غالباً شخصی بود، یک محرک مخفی این واقعه شمرده می شود. این ملکه سابق که در وقت شوهرش امیر شیرعلی خان در امور سیاسی زیاد تشبث مینمود، اکنون در تلاش آن بود که پسر اندرش امیر محمد یعقوب خان، بدنام و ناکام باشد. امیر پول نقد او را که یکصدوشصت هزار طلای بخارایی و دوازده هزار طلای روسی بنام راتسکا (Ratiska) بود و در نزد داماد خود سردار محمد هاشم خان امانت گذاشته بود؛ را ضبط نمود.[۱۴۶] این پول جمعاً تقریباً یکنیم میلیون روپیه کابلی آن وقت میشد.[۱۴۷] مزید بر آن یعقوب خان برخلاف میل مادر اندرش بالای او فشار می آورد که با خسر او سردار یحیی خان ازدواج نماید.

به هر حال، مادر ولیعهد سپاه سالار داود شاه را با دادن سه هزار طلای مسکوک ترغیب نمود، که برای ایجاد فتنه دامن زند.[۱۴۸] شخص سپاه سالار هم چون به امر امیر به دادن حساب پول دولتی مجبور ساخته شده بود، از امیر ناراضی بود و شاید بهمین علت ها بوده باشد که او در دقایقی پیش از قیام به سپاهیان که معاش سه ماهه را تقاضا مینمودند، الفاظ اشتعال انگیزی استعمال نمود و برایشان گفت که معاش دیگر را از «شوهر زن تان» که مقصد او کوگناری بود، بگیرید. بگفته محمد یوسف ریاضی «سپاهیان به یکدیگر نگاهی کردند و گفتند که ما در کابل غیر از پادشاه خود دیگر امیدی نداشته و نداریم. پس از اینکه میگویند از شوهر زن تان مواجب دو ماهه دیگر را بگیرید، شوهر زن دیگری نداریم. مگر آن مردکه انگلیس که آمده در بالاحصار مقیم شده.»[۱۴۹] بقول سردار روشندل خان قندهاری، محرکین این قیام پنج تن صاحب منصب نظامی بودند که میخواستند نارامی خلق کنند تا از آن تحقیق صرف نظر شود که قرار بود به امر امیر در باره اتهام اختلاس شان از پول هنگفت دولتی بعمل آید.[۱۵۰] مگر شخصیکه بیشتر از دیگران سپاهیان را در خود صحنه قیام بعمل تشویق نمود؛ فقیر بزرگ شاه بود که «برای تقریباً دو ساعت مردم را تحریک مینمود که کافران را بکشید

---

۱۴۶. یاداشت هفته وار کابل، ۱۷ – ۲۳ اگست ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ج ۲۳، ص ۲۴۰.
۱۴۷. در آن وقت یک طلای بخارایی ۱۹ روپیه کابلی، و یک عدد طلای روسی ۱۲ روپیه کابلی ارزش داشت.
۱۴۸. سراج التواریخ، ص ۳۵۲. عین الوقایع، ص ۱۸۳.
۱۴۹. عین الوقایع، ص ۱۸۳.
۱۵۰. جنرال ستیوارت ( از قندهار ) به سکرتر خارجه در سمله، ( تیلگرام )، ۲۹ دسمبر ۱۸۷۹، م ض س س ق، ج ۲۳، ص ۷۰۹.

و به ایشان صدا مینمود که به جنت فردوس میروید.»[۱۵۱] به این ترتیب یک محرک و یک علت واحد سپاهیان، مردم و ایجاد شرایط که به قیام منتهی شد، موثر بوده است. در باره اینکه این قیام نتیجه احساسات موقع و آنی بود یا اینکه طرح آن قبلاً ریخته شده بود، اختلاف نظر موجود است. به قول امیر محمدیعقوب خان «تا آنجا که من میدانم این یورش یک قوه محرکه آنی بود. من نمیدانم که آنها (سپاهیان) برای آن سازش کرده باشند، و اگر مینمودند من خبر میشدم.»[۱۵۲]
مگر نظر یعقوب خان به سببی ضعیف معلوم می شود که او در مقابل کمیسیون تحقیق در روز هائیکه به حال محبوسی بسر میبرد، رفع مسئولیت خود را در نظر داشت. نظر قاضی عبدالرحمن خان خانعلوم (قاضی القضات) معکوس نظر امیر بود. او اظهار نمود که « بنظر من این یورش بالای سفیر نتیجه امری بود که قبلاً طرح شده بود، چون امیر در آن وقت تعداد چهارصد یا پنجصد عسکر با خود داشت و این تعداد برای جلوگیری از یورش در صورتیکه او میخواست، مکفی بود.» او علاوه می کند «من شنیدم که یعقوب خان وقتیکه کدام نفر در دربار پیرامون قتل سفیر اظهار تأسف مینمود، میگفت که اکنون این مسئله بزرگ واقع شده، انگلیس ها تا بسیاری سال ها به اینجا نخواهند آمد و عوض یک نفر اروپایی، یکنفر نماینده محلی (مسلمان هندی) خواهند فرستاد.[۱۵۳]دلیل که خانعلوم برای موجه ساختن نظر خود می آورد، وجود چهارصد یا پنجصد نفر با یعقوب خان بود، مقنع نمی نماید. بخصوص که بر طبق قول خود امیر در آن وقت صرف دووصد نفر در دربار حاضر بودند ولی از نظر خانعلوم چنان استنباط میگردد که گویا خود امیر به شکلی از اشکال در قتل انگلیس ها دست داشت که بحث بر آن نقطه آخرین این موضوع را تشکیل می نماید.
اینکه شخص امیر تا چه حد در باره تعمیل مندرجات معاهده گندمک صدیق بود، به وضاحت معلوم شده نمیتواند. موضوعات جنجالی برای امیر حضور کوگناری در کابل و ماده معافیت که هر دو جمعاً حکمرانی او را متاثر می نمود و از درجه و اندازه و اهمیت شخص او می کاست.
در کمیسیون تحقیق که بعد از ورود فریدریک رابرتس، قوماندان قوای انگلیس در کابل دایر شد، راجع به سهم امیر در قسمت تعمیل مواد معاهده اختلاف واضح دیده شده

---

۱۵۱. نقل قول علی حسن سابق الذکر
۱۵۲. بیانیه یعقوب خان، ۵ نومبر ۱۸۷۹، م ص س س ث ، ج ۲۳، ص ۷۵۰.
۱۵۳. بیانیه خانعلوم، ۵ نومبر ۱۸۷۹، م ص س س هـ ، ج ۲٤، ص ۷۵۰.

است. بطور موجز همینقدر کافی است گفته شود که «کوگناری زایی ها» بصورت عمومی شهادت دادند که امیر از همان مرحله اول مخالف معاهده گندمک بود. مشاوران نزدیک به امیر و سرداران درباری موسوم به «یعقوب زایی» برعکس آن نظر دادند. نتیجه آخرین خود کمیسیون نزدیک به نظر«کوگناری زایی ها» بود و آن این بود که «معلوم می شود که امیر از همان مرحله اول در صدد آن برآمد که مردم خود را از چندین طریق از بی اعتمادی خود نسبت به آن متقاعد نماید. به امثال خود در دربارها و اظهار علنی ناراضی بودن خود و به واسطه اغفال از مجازات نمودن، استعمال کلمات تحریک آمیز قطعات نظامی هرات و مختصر با هر ذریعه ممکنه بدون انکه علناً با ما قطع روابط نماید.»[۱۵٤] بنابر آن حکم آخرین کمیسیون تحقیق این شد که «امیر و مشاورین نزدیک او کم از کم بطور مقصر به سرنوشت سفیر و همراهان او بی اعتنا بودند».[۱۵۵]
شاید به همین علت بوده باشد که امیر متن معاهده را هیچ افشا نکرد و بجز تنی چند از مشاوران نزدیک او دیگر کسی حتی از آن خبر نداشت. و امیر به تمام سرداران و کسانیکه در باره معاهده می پرسیدند، همینقدر میگفت که او با برتانیه معاهده بسته است و آن به خیر افغانستان است و به عقیده کمیسیون این حقاً نشان میداد که امیر در باره آن نا رضایت داشت.[۱۵٦] بالاخره سخن بجای رسید که بختیار خان وکیل حکومت هند برتانوی در کابل در اوایل جولای یعنی پیش از ورود کوگناری از مستوفی حبیب الله تقاضا نمود که «بالای امیر در باره تعمیل مواد آن(معاهده) فشار وارد نماید» و «آن جلالتمآب مستوفی را فرستاد که به بختیار خان بگوید که مراجعات مکرر او به این موضوع ناموزون و نامعقول است و امیر آنچه در قدرت داشت، نمود و بیشتر از آن نمیخواهد بنماید.»[۱۵۷] بر طبق گفته سردار ولی محمد خان، امیر حتی روزی در باره ماده دوم ( یعنی ماده معافیت کامل) صریحاً اظهار نموده که «من کدام راجای هندوستان نیستم که آنرا اجرا نمایم.»[۱۵۸] در باره نسبت این گفته به امیر از قول رقیب او شاید تردید راه یابد ولی سردار یحیی خان حتی حضور بختیار خان به روز ۱۰هم جولای

---

۱۵٤. راپور تحقیق پیرامون علل وقایع کابل که بانهدام سفارت برتانیه منجر شد، ۱۵ نومبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ج ۲٤، ص ٦۸۳.
۱۵۵. راپور در باره حالات یورش بر سفارت برتانیه در کابل، نومبر ۱۸۷۹، م ص س س ٥، ج ۲٤، ص ۲۵.
۱۵٦. راپور تحقیق... سابق – الذکر، ص ٦۵۰
۱۵۷. ایضاً... ص ٦۵۲
۱۵۸. ایضاً... ص ٦۵۱

در یک دربار واضح نمود که «راجا ها و شهزادگان هندوستان که منطقه شان در مرکز قلمرو برتانیه قرار دارد، اختیار دارند بمیل خود یکی را ستایش و دیگری را تحقیر نمایند، دراینجا در افغانستان ما چرا ذکر ماده دوم معاهده را بنمایم؟»[۱۵۹] از این اختلاف در سلوک امیر بین قبولی معاهده و تطبیق آن معلوم می شود که امیر اساساً قدرت و استطاعت تعمیل آن در برابر مخالفتی که با آن نشانداده میشد، نداشت. بگفته تعدادی سرکردگان افغان از این ناتوانی امیر حتی «مقامات برتانوی هم بخوبی اگاه بودند،»[۱۶۰] و چون امیر شخصیت قوی و قاطع نداشت، از آن عاجز بود که یک راه را به جرئت بصورت علنی انتخاب نماید و درباره آن با قوت و ایمان راسخ عمل کند. امیر بنابران منتظر انکشاف وقایع ماند. عوض انکه بر شرایط و اوضاع اثر گذارد، خود مطیع آن شد و امیداوار بود که ممکن در اثر مخالفت های عامه در باره مواد این معاهده «سفیر به رضا و رغبت خود شهر را ترک کند مگر او (امیر) مایل بود این فشار از طرف مردم یا قبایل آزاد وارد شود نه از طرف قشون خود او.»[۱۶۱] نظر عمومی در کابل هم همینطور بود و بگفته واترفیلد «نظر عمومی در این جا این است که امیر در فکر آن بود خود را از هیئت نجات دهد ولی اکنون از وقایع که به چنین شکل بیش شده متاسف است. اکنون او نه مردم و نه قشون را در قبضه خود دارد و شاید مجبور شود خود را در رأس آنها قرار دهد و این یگانه چانس حفاظت او خواهد بود...» زیرا که «خواهش عمومی این است که با ما (انگلیس ها) مخالفت نمایند.»[۱۶۲] مگر امیر این آرزو و این قدرت را هم از دست داده بود. و در حالیکه پدرش امیر شیر علی خان به امید کمک روسیه تزاری و امید مقاومت بعدی از پیش قشون دشمن فرار نمود، امیر محمد یعقوب خان به خود قشون دشمن پناه برد، و از آن در رفع نارامی های داخلی کمک جست.

---

۱۵۹. ایضاً.
۱٦۰. سرگردگان افغان به رابرتس، رابرتس به لایل ( وزیر خارجه حکومت هند برتانوی)، ۳۰ دسمبر ۱۸۷۹، م ص س هـ ، ج ۲۳، ص ٦۲٤.
۱٦۱. بیانیه سابق الذکر علی – حسن قزلباش، س ۷۲۰
۱٦۲. واتر فیلد، ۱٤ دسمبر ۱۸۷۹، م ض س س ٥، ج ۲٤، ص ۷۲۱

کابل مجله، ۱۳۳۷ ل کال، سلواغه، ۱۹-۲۰ نمبر ګڼې، ۱۷-۳۳ مخونه.

# د شوروي ننني جامعه

زمونږ زیاتره لوستونکي به په دي خبر وي چې پښتو ټولنې څخه یوهیئت اتحاد شوروي ته بلل شوی و. دې هیئت چې زه هم په کې وم، یوه میاشت د شوروي په ملک کې تېره کړه. لومړی د تاشکند د جمهوریت له خوا کولتوري میلمانه وو، وروسته بیا د آسیا او افریقې هیوادونو د لیکوالو په جرګې کې مو ګډون وکړ، د جرګې له ختم نه وروسته ستالین آباد ته ولاړو. هلته د رودکي په یوولسویمه کالیزه کې مو ګډون وکړ، له هغه وروسته د مسکو په خوا روان شوو. په دې ډول مو په پورته ښارونو او هم دا راز په سمرقند کې د شوروي تاریخي، علمي، صناعتي، زراعتي او کلتوري موسسې ولیدلې او له شوروي وګړو، لیکوالو، پوهانو، کارګرو، بزګرانو، حکومتي لوړو مامورانو، کوچنیانو،

مغازه دارانو او ښوونکو او زده کوونکو نوی نسل او زوړ نسل او هم دا راز د آسیا او افریقې هیوادونو له لیکوالو او پوهانو سره مو ولېدل، ورسره په زیاتو موضوعاتو وګړېدو، د دوی له حال احوال، طرزتفکر او جهان بینۍ څخه موځان خبر کړ.
او مونږ هم په زیاتو موضوعاتو باندې وغږېدو او په ډېرو ټولنو او مېلمستیاوو او نورو ځایو کې مو خبرې وکړې. په دې ډول یو تر بله آشنایان شو او پدې نوې اشنایۍ کې د یوه بل د ژوندانه په طرز، عادت او رسم و رواج خصوصیاتو مستقیماً پوه شوو. د تاشکند د جرګې په باب کې په بېل ډول څه لیکم، دلته یوازې د شوروی ننۍ جامعې په باره کې غواړم څه ولیکم. خپل پخواني مطالعات او نوي مشاهدات دواړه یوځایوم او کوښښ کوم چې دشوروي دجامعې بېلې بېلې خواوې وڅېړم او په نتیجه کې دا جامعه ترسیم کړم او ګرانو لوستونکو ته یې وړاندې کړم. له دې کبله د هغو پرنسیپونو، کلیاتو او اساساتو خبرې کول او څه لېکل غواړم چې د شوروي جامعه پرې ولاړه ده. له تفصیلاتو، جزئیاتو او د سفر له خط سیر او نورو څخه دلته ځان ژغورم او د مجلې له سویې سره برابرې خبرې کوم؛ ځکه چې په دې ډول دا نوې جامعه، نوی سېستم په ښه ډول پیژندل کیدای شي. پېژندنه او معرفت د داسې جامعې، داسې وګړو او داسې هېواد چې له یوې خوا (۱۲۰۰) کیلومتره له مونږ سره ګډ سرحد لري او له بلې خوا د نړۍ په سترو هیوادونو کې

حسابیږي او نوی نظام او نوی سېستم په کې چلیږي، خصوصاً پښتنو لیکوالو او ځوانانو لپاره لازمي دی.
هغسي چې په یوه کورنی کې د فامیل د غړو او په شخصي ډول د فامیل د مشرانو او کشرانو ژوند یو د بل متمم دي، همداراز په ننني نړی کې لوی او واړه هېوادونه همدا حال لري. یو هېواد که هرڅومره ستر او لوی وي نشي کولای چې له نورو هیوادونو څخه بې نیازه شي. همداراز واړه هېوادونه هم په ډېرو مواردو کې لویو هیوادونو ته اړ دي او نشي کولی ځانله ژوند وکړي او له نورو هېوادونو څخه مستغني وگرځي.
همدغه دو جانبه او متقابله ارتباط او احتیاج لازموي چې یو بل ښه وپیژني، ترڅو چې په ذات البینی معاملو کې یو د بل ښه مرستیال وي او هر یو خپل شخصیت وساتي او په عین حال کې یو د بل دوست او انډیوال وگرځي، ځکه هره هغه دوستي چې په معرفت ولاړه وي دواړو خواوو ته گټوره وي. په دې صورت کې یو د بل په نزاکت او خصوصیت ښه پوهیږي او په نتیجه کې لازمي او باخبره رفتار سره کوي.
سربېره پردې د عصر نبض دا وایي چې د هیوادونو ترمنځ متقابل معرفت عمومي وي او د یوې جامعي ټول هغه کسان چې په داسې ارتباطاتو پوهېدل غواړي باید پوه او مطلع شي.
په دې برخې کې یعني د ولسونو د متقابل معرفت په باب کې لیکوال زیات مسئولیتونه لري او وربانديې فرض دی چې آفاقي لیکنې وکړي او یوه جامعه ځرنگه چې وي همغسي ترسیم کړي او له ځانه پکې شیان ورگډ او یا ځیني شیان ترې کټ نه کړي. د پورته مقصد، یعني د افغان او شوروي ولسونو د متقابل معرفت لپاره زه کوښښ کوم چې په دې مقالي کې د شوروي جامعې په باره کې افاقي لیکنه وکړم او په دې لیکنې کې ددې نوې جامعې ځرنگوالی وښیم او په دې ډول د خپل ولس لپاره خدمت وکړم؛ نو دا د جغرافیوی، تاریخي، سیاسي، حزبي، اقتصادي، زراعتي، عرفاني عنوانونو لاندې دا مقاله اوږدوم او په پای کې ددې نوي سېستم اغیزه په شورویانو باندې بیانوم.

## جغرافیوي وضعه

شوروي خاوره د مځکې د سر شپږمه برخه نېسي. دا خاوره د اروپا په نیمایي ختیځې او د اسیا په مرکزي او شمالي خواوو کې پرته ده، نو ځکه شوروي هم آسیایی او هم اروپایي هېواد باله شي. دا خاوره په میل (۴،۸) میلیونه مربع او په کیلومترمربع (۲۱،۸) میلیونه ده. (۱،۹) میلیونه مربع په اروپا او نوره په آسیا کې پرته ده، نو ځکه د موقعیت له مخې ویلی شو چې اتحاد شوروي زیاتره یو آسیایي هیواد دی. د امریکې د متحده هیوادونو

خاوره درې واره او برتانیه، فرانسه، ایټالیه او هسپانیه که ټول سره یوځای شي، نو څوارلس ځله ترې کوچنۍ ده. سیندونه، ډنډونه او بحیرې پریمانه لري؛ خو غرونه پکې نسبتاً لږ دي.
یوازې دیورال، ققفازاو پامیرغرونه یې د یادونې وړ دي، خو سره له دې هم د لوړې او ژورې فرق یې زیات او څه کم (۹۰۰۰) متره دی. درې بحرونه یې له ساحلي خاورې سره مستې کوي. دا درې واړه قطبي اتلانتیک او پاسیفیک نومیږي چې دېرش زره میله ساحلي خاوره مینځې. ددې خاورې ځینې متقابلې څنډې دومره سره لرې دي چې که په یوه ځای کې د سباوون رڼا خپریږي په بل ځای کې د ماښام تیاره څپري وهي.
دومره ارته او پراخه خاوره به هرومرو هر راز اقلیمونه لري. له دې کبله له استوائی اقلیم نه غیر نور ټول اقلیمونه په دې خاورې کې موجود دي. د اقلیم د تنوع او زیات اختلاف له کبله دی چې هر راز حیوانات اوهر راز نباتات پکې مېندل کیږي. سربېره پردې دا مځکه د معدني پیداوارو له مخې په عمومي صورت په ټوله نړۍ کې لومړی مقام نېسي.

## نفوس، ملتونه او ژبې

اتحاد شوروي (۲۰۰) میلیونه وګړي لري. له دې کبله د وګړو په لحاظ په ټولې نړۍ کې وروسته له چین او هند څخه درېیم دی. سره له دې هم کوښښ روان دی چې نفوس یې زیات شي لکه څرنګه چې شوروي ارته او پراخه خاوره لري، او سربېره پر دې د پیداوارو له مخې غني اوشتمن دی، نو د زیات نفوس ګنجایش لري. نفوس یې مخ په زیاتېدو دی او په څلورو کلونو کې له (۱۹۵۱ م) څخه تر (۱۹۵۵ م)پورې شپاړس میلیونه پکې زیاتې راغلی دی. په پخوا وختو کې نفوس ډېر نا منظم ویشل شوی و او په تېره بیا سایبریا او نورو ختیځو علاقو ته څوک نه تلل او هلته نه اوسېدل، مګر اوس نفوس ورو ورو خپریږي او په هر ځای کې دنویو ښارونو په آبادولوسره نفوس هم کوچ کوي او هرې خوا مېشته کېږي. په دې برخې کې د وړلو او راوړلو وسایل لکه ریلونه او نور او په تېره بیا د سایبریا ریلونو ارزښت زیات کومک کوي.
میلیتونه او مختلفي ژبې په دې ارتې خاورې کې ژښتې زیاتې دي. یوازې روسان سل میلیونو ته رسیږي. ققفازیان چې په یوې غرنۍ علاقي کې اوسیږي، د میلیت له مخې متعدد دي. د مثال په توګه په داغستان کې یوازې شل بېل میلیتونه ژوند کوي. له دوه سوو ژبو څخه زیاتې په شوروي کې شته. اوس ټولې لیکلی شوي دي، مګر ړومبی دا راز نه وې؛ یعنې الفبا لاندې نه وې راغلې، یوازې په دې وروستیو کلونو کې څلوېښت ژبې د الفبا څښتنې شوي دي او کتابت لاندې راغلي دي. ترسلو زیاتې ژبې په ښوونځیو کې تدریسیږي، مګر روسي ژبه اوس عمومي ده.

او په هرو ثانوي ښوونځیو کې ویلی کیږي، یعنې هر څوک چې په شوروي کې تحصیل کوي له خپلې ملي ژبې نه غېر باید په روسي هم پوه شي. په واقعیت کې روسي اوس یوه عمومي او مشترکه ژبه ده. د هر ملیت کلتورونو ته خاصه توجه کیږي. ژبني، عنعنوي او نور خصوصیتونه یې ساتل کیږي؛ مګر کولتور دسوشلیزم په چوکاټ کې دننه په ملي رنګ او شکل سره انکشاف کوي.

## تاریخي سابقه

د نولسمې پیړۍ په زیاترو اروپايي هیوادونو کې لبرالیزم (د ازادي خواهي) او کاپیټالیزم (سرمایه داري) کوښښ کاوه چې خپلې ریښې وغځوي او ټینګې یې کړي. سره له دې هم روسیه بېرته پاتې وه او سیاسي او اقتصادي حال یې تر نورو بېرته وو. بیروکراسۍ پکې قوت لاره، مګر مخرب، ناوړه او بې کاره وه. سره له خپلې بې کفایتۍ یې لویو کارونو ته ملا وتړله او دې ته یې شروع وکړه چې ترسلو زیات مختلف میلیتونه سره یو کړي او روسي رنګ ورکړي.

د روسي کولو سیاست په زور او قوت عملي کېده؛ خو ددې سیاست نتیجه دا شوه چې وحدت په ځای تشدد راشي او لږکي ناراضه شي او کینه او حسد پکې زیادت وکړي. د ملکې کاترینې او لوی پتر له کوښښونو سره بیا هم په روسي کې صنعتي پرمختګ زیات نه و. هېواد ټول زراعتي حال لاره. په (۱۹۰۰ م) کې روسي بزګران په سلو کې اتیا وو. د مځکو زیاتره برخه د اشرافو ملکیت وې. که څه هم سرف دم یا نیمه غلامي یادو مځکو غلامي په رسمي ډول منع شوې وه، خو بزګرانو بد حال لاره، په لیک او لوست نه پوهېدل، ظلمونه پرې جاري وو او تر اوړو پورې په پور کې ډوب وو؛ خو سره له دې هم له لویدیځې اروپا څخه مترقي افکارو دې هېواد ته لاره پیدا کړه. همدغه سبب و چې د مشروطه خواهۍ او قانوني حکومت اوازونه جګ شول. دا آوازونه ورځ په ورځ درانده شول او قوت یې پیدا کړ. هغه وخت چې حکومت دې درندو ولسي آوازونو ته زور وښودلو، خلک یې فراره او تبعید کړل، مبارزو خپل شکل ته تغییر ورکړ. وژل او ترور شروع شو. په (۱۸۹۶م) کې معتدل ګوند اجتماعي دیموکراتیکي کارګري په نامه او په (۱۹۰۱ م) کې انقلابي ګوند د اجتماعي پارټۍ په نامه جوړ شول. په (۱۹۰۳ م) کې لومړني ګوند خپل دوهم کانګرس پرانست. په دې کانګرس کې حزب دوه ځایه شو، د یوه نوم یې بلشویک (ډیرکي) او د بل نوم یې منشویک (لږکي) شو.

منشویکانو معتدل پروګرام غوره کړ او یوازې د سیاسي مقاصدو په لور رهي شول، یعنې دا یې خپل سیاست وګرځاوه چې یو قانوني ولسي رژیم په معتدل صورت د موجوده رژیم

په ځای ودروي او خپله دیوې اصلاحي پارټۍ په شان وظیفه اجرا کړي؛ خو بلشویکان د لینین په مشرتابه له دې هم وړاندې لاړل.
دوی دا پروګرام غوره کړ چې د زور او قوت اوعمومي قیام له لارې سیاسي قدرت ته ورسیږي او د بزګرو او کارګرو کتګوري جوړه کړي او په دې وسیله ټول ضد انقلابي اعمال شنډ کړي او داسې سوشیلیستي پروګرام عملي کړي چې د هغه له مخې ټولې مځکې او کارخانې یا په پراخ مفهوم سره د ثروت تولیدي وسایل اجتماعي وګرځوي. په (۱۹۰۴م) کې له جاپان سره دروسي جنګ ونښت. دې شخړې د ملک حال لا هم کړکېچن او د افراطي ډلو موقف یې ټینګ کړ. د وخت رژیم په قتل عام لاس پوري کړ او امر یې وکړ چې یونیم زر عریضه والو باندې اوربل کړي. دا پېښه په پیتروګراد یا نیني لینن ګراد کې وشوه او آرام خلک یې وپارول. دوهم نیکولای لږ څه وډار شو او ولس ته یې د دوما یعني انتخابي شورا وعده ورکړه او دا یې هم ومنله چې خلکو ته سیاسي او مدني حقوق ورکړي؛ خو بیا هم تکیه په زور او قوت وشوه او وعدې نیمګړې ترسره شوي. نا ارامي او بحران دوام پیدا کړ او هرې خواته یې رېښې وغځولې. په دې وخت کې و چې بولشویکانو د لومړي ځل لپاره شورا ګانې واېستلې او هغه یې د کارګرو، بزګرو او لښکرو له خوا وټاکلې. د بحران په شدید حال کې د لومړي جهاني جنګ لمبې پورته شوې (۱۹۱۴ م)، حکومت په جنګ کې داخل شو. زیاتره وګړو یې ملاتړ وکړ. دا خو ځکه چې وګړي له یوې خوا وېرېدل چې جرمنیان یې و نه نیسي او له بلې خوا ګوندې که د جنګ له کبله دننه په هېواد کې اصلاحات وشي.
د بولشویک د ګوند زیاتره مشران په دې عقیدې وو چې د روسیې ماتې به د تحول لپاره موقع برابره کړي. جنګ د روسیې لپاره زیان ورساوه. د بري او فتحې په ځای بې اعتمادي او وېره را ولاړه شوه، مخرب حکومت او نظامي مشرانو په بند لاس پوري کړ. ډېر خلک یې ونېول او په جېلونو کې یې واچول. داخلي حال لاهم خراب شو. قحطي او قیمتي زیاته شوه او د ملک اقتصادیات لا هم پسې خراب شول. د (۱۹۱۷م) کال د فبروري په (۲۰مه) د پیترګراد په ښار کې عمومي اعتصاب شروع شو. دولتي کارخانې او فابرېکې ودرېدلې. لښکریان ددې په ځای چې د آمرانو امرونه په ځای کړي او په اعتصاب کوونکو ډزې وکړي له هغو سره یوشول. بولشویکي شورا ګانې د عمل میدان ته راووتلې او دیو لوی قیام لپاره یې خلک راویښ کړل. د مارچ په (۱٦مه) تزارنیکولای پاچایی نه لاس واخېست او په دې ډول د رامانوف کورنۍ خاتمه ومونده. یو موقتي حکومت منځ ته راغی او معتدل جمهوري خواهان یې مشران شول. خو څرنګه چې دوي د انقلاب بنا په اصل کې نه وه ایښې نو ځکه یې ونشوای کړای چې سیر یې وټاکي. له هغه

وروسته د کرمیسکي (چې اوس هم د یوه امریکایی له خولې په امریکې کې دی) مشرتابه سوشلیستي حکومت جوړ کړ. نوي حکومت هم جنګ ته دوام ورکړ. ددې سیاست په مقابل کې بولشویکان را ولاړ شول او داسې نارې او شعارونه یې واورول چې جنګ نه ستومان ملت په زړه کې یې کاري اثر وکړ.
«سوله، مځکه او ډوډی» د دوی شعار شول. ددې لپاره یې دا لار وښووله چې باید ټول واک او قدرت شوراګانو ته وسپارل شي. د نومبر په (۷مه) چې د زړې جنتری له مخې د اکتوبر انقلاب یادیږي، د کرنسکي حکومت سقوط وکړ او په ځای یې بولشویکان راغلل. په دې ډول د شوروي حکومت د لینن تر مشرتابه لاندې جوړشو.
د نوي کال د جنوری په سر کې نوي شوروي حکومت له جرمنیانو سره روغه وکړه او ده (برسټلوټیسک) مشهوره سوله یې ورسره لاسلیک کړه. څلور میاشتې وروسته د جولای په (۱۰مه) د لومړي ځل لپاره د شوروي حکومت اساسي قانون میدان ته را ووت. د دې قانون له مخې د زمینداوانو او مالکانو ځمکې ضبطي شوې او د ملت مال وګڼل شوې او په دې ډول د خوارو او پوروړو بزګرو په منځ کې وویشل شوې. همدارنګه طبیعي منابع، بانکونه او ملي دارایی او شتمنی ټولې د ټول ولس مال وګڼل شو.
د دې قانون په مطابق دارایي حق عمومي شو، خو کارفرمایان، سوداګران، روحانیان او مالکان ترې محروم شول. سره له دې هم له (۱۹۱۸ م) څخه تر (۱۹۲۱م) پورې د نوي رژیم لپاره د احتیاط ورځې او شپې وې. داخلي جنګونو د هېواد زړه ټوټې ټوټې کړ. د متحدینو وسلوالو لښکرو د نوي رژیم په هیواد کې دننه دخالت وکړ او سربېره پردې داخلي ناراضه عناصر یې د نوي رژیم په مقابل کې ولمسول. په دې ډول د سرمایه داري هیوادونو له خوا د شوروي نوي جوړ شوي نظام له اقتصادي بایکاټ سره مخامخ شو. سره له ټولو مشکلاتو بیاهم سرو لښکرو میدان وګاټه او د جنګ په دېرشو محاذونو کې یې داخلي اغتشاشونه کرار کړل او خارجې تیري کوونکو متحدو لښکرو ته یې ښه سبق ورکړ. په (۱۹۲۴م) کې لینن مړ شو. ستالین د کمونست ګوند د مشرپه حیث په واک کې راغی. خو دده واکمن کېدل وروسته له هغو شخړو څخه وو چې ستالین له سرسخت اونه تسلیم کېدونکي تراتوسکي سره یې وکړې. د دوی ترمنځ اختلاف ډېر عمیق و. تراتیسکي په جهاني دایمي انقلاب معتقد و او دا یې نظریه وه چې باید کارګر او کمونیستي ګوندونه په هر هېواد او هرملک کې چې وي تقویه شي او ورسره مرسته وشي چې د وخت رژیمونه ونړوي او د زور له لارې واک او اختیار خپل کړي؟
د ده په عقیده په دې ډول به سوشیلیزم عمومي شي او ټوله دنیا به ونیسي؛ مګر ستالین د دې په خلاف دا وویل چې د یوه ښه سوشیلیزم تعمیل به دننه د شوروي په خاورې کې نور هیوادونه دې ته را وګماري چې سوشیلیزم غوره کړي.

د اختلاف نتیجه دا شوه چې تراتیسکي له تبعید نه وروسته له شوروي څخه وشړل شو؛ خو څرنګه چې دې سخت انقلابي و او د جهاني دایمي انقلاب د پاره یې د ځلورم بین المللي موسسه جوړه کړې وه. هیڅ هېواد به خپل ملک کې نه پرېښود ترڅو چې مکسیکو ومانه؛ خو هلته په (۱۹۴۰م) کې ووژل شو. د زراعتي او صنعتي چارو د پرمختګ لپاره په شوروي کې پنځه کلن پلانونه جوړ شول. لومړی پلان په (۱۹۲۷م) کال کې شروع شو. دا پلان چې د نېپ (نوې اقتصادي پالیسي) نه وروسته جوړشوی و، د دې مقصد لپاره و چې د هیواد زراعت او صنعت د سوشلایزي یعني اجتماعي کولو لپاره تیار او اماده وګرځوي. د همدې پلان د موفقانه تعمیل نه وروسته د دویم پلان په دوره کې و چې د لومړي ځل لپاره د سوشیلیستي په اساساتو سره برابر په (۱۹۳٦م) کې نوی اساسي قانون میدان ته راووت. په دې قانون کې لومړي تبعیضات او محدودیتونه ټول رفع او تشکیلات نوي شول. د سوشیلیستی کولو د دریم پلان په موده کې د نړۍ د دوهم جنګ اور بل شو (۱۹۳۹ م). د جنګ په سر کې شوروي له جرمني سره د دوستۍ تړون وکړ. دا تړون د شوروي لپاره ډېره ګټه ورسوله؛ ځکه چې په شرقي اروپا کې شپږ میلیونه وګړي د دوی له ملک سره لاندي کړل؛ خو په (۱۹۴۱م) کې جرمنیانو د تړون نه سترګې پټې کړې او په شورویو یې ور ودانګل. په پنځو لومړنیو میاشتو کې بری د دوی و او نږدې (۸۸) میلیونه شورویان یې لاندې کړل. مګر په اخره کې یې په ستالین ګراد کې د ماتې سخته څپېړه وخوړه چې په نتیجه کې یې برلین هم له لاسه ورکړ او ملک یې څلور ټوټې شو.

د جنګ له کبله د شورویانو پروژویي پلانونه، بېرته وغورځېدل او سربېره پر دې نږدې (۱۵) میلیونه شورویان هم پکې مړه شو. ابتکاري پروژې او عمراني پلانونه له هغه وروسته بیا په شوروي کې شروع شول. په (۱۹۵۳م) کې بله ښه وشوه چې هغه د ستالین مړینه وه. ستالین په دیرشو کالونو کې په شوروي کې بېجوړې لیډر وو.

له مړینې څخه یې وروسته لومړی مالنکوف او وروسته پسې بولګانین د حکومت مشر شول؛ خو دې دواړو دوام ونه کړ او په ځای خوروسچوف راغی چې هم د حکومت او هم د ګوند مشر شو.

## دولتي تشکیلات

کال (۱۹۱۷م) د اتحاد شوروي جامعې لپاره خط فاصل ګڼل کیږي چې دوه بېلې جامعې چې د اساس له مخې سره بېلکل توپیر لري، بیا له دې کال نه را په دېخوا شورویانو له پخوانې رژیم او لومړي کلچر سره مخه ښه وکړه؛ نو ځکه له هغه وروسته د دوی کوښښ

په دې شو چې جامعه له سره جوړه کړي او بېل نظام او جلا مناسبات ورته وټاکي. د دې کال یعنې د جامعې د بیا تنظیمولو او جوړولو لپاره نوي اساسي تشکیلات لازمي شول. څرنگه چې جامعه نوې شوه، یعنې نوی اساس ورته وټاکل شو، نو اساسي تشکیلات یې هم غیر له هغو څخه شول چې پخوا پکې موجود وو او یا په غربي نړۍ او نورو هیوادونو کې معمول وو. په دې ډول یې په (۱۹۱۸م) او (۱۹۲۴م) کې نوي قوانین راووتل؛ خو دواړه جامع او مکمل نه وو او حتی په لومړني قانون کې د افرادو د حقوقو یادونه هم نه وه شوي. په دې سندونو کې ډېر مهم او قوي ټکي دا شول چې په مځکې، کارخانې او نور ټول هغه الات چې د هغو په مرستې ثروت پیدا کیده له شخصي افرادو، سرمایه دارانو، ملاکانو، خانانو، روحانیانواو نورو څخه ضبط شي او د دولت مال وگڼل شي. همدا راز پورته کسان او د تزاریانو پاتي شوني له ړومبیو امتیازاتو او د دارایۍ ورکولو له حقوقو څخه محروم کړل شول؛ خو څرنگه چې د شوروي جامعه د یو نوي د سرمایه داری له جامعې له گیډې څخه راوتې وه، په دې بریالۍ نه شوه چې سم د لاسه سوشیلیزم عملي کړي او سوشیلیستي مناسبات او قوانین په دایمي ډول سره میدان ته راوباسي، نو ځکه نپ (نوي اقتصادی سیاست) راووت چې د هغه په اساس کاپیټالیزم او سوشیلیزم په غلبې سره په (۱۹۳٦م) کې نوی لیکل شوی اساسي قانون جوړ او ومنل شو. دا قانون چې زیاتره د ستالین په نامه یادیږي پرسوشیلیزم بنا دی، نو ځکه د نړۍ هغه لومړی قانون باله شي چې دسوشیلیستي جامعي لپاره یې نظام او تشکیل وربرابر کړی دی. دا قانون پوره په هغه وخت کې جوړشو چې په شوروي کې د زړو طبقاتو افراد یا سرمایه داران، ملاکان، تجاران او داسې نور بې بیخ او بنیاده شوي وو او په ځای یې دوه طبقې خلک - کارگران او بزگران قوي شوي او د سوشیلیزم پرلاري رهي کړی شوي وو؛ خو د مارکسیستي اصولو له مخې څرنگه چې سوشیلیزم د سرمایه دارۍ او کمونیزم ترمنځ یوه انتقالي موقتي مرحله گڼل شوې ده، نو ځکه په ځغرده ویلی شو چې دا قانون هم موقتي دی او کله که اوسنۍ جامعه خپل رنگ او څېره بدلوي او بله بڼه او شکل د ځان لپاره غوره کوي، نو دا قانون به هم کډه کوي او ځای به خالي پرېږدي. په هر حال اوس همدغه قانون په اتحاد شوروي باندي مسلط دی. د قانون نورې خواوې موږ نه څېړو، یوازې هغه خواوې روښانه کوو چې په دولت کې د اساسي تشکیلاتو باعث گرځي؛ خو دومره لیکو چې قانون وایي « کار د هر مستعد فرد لپاره یوه وجیبه ده، هغه څوک چې کار نه کوي، خوراک دي هم نه کوي یا دا چې هر یوه ته د استعداد په مطابق او هر یوه ته د کار په اندازه». اوس به راشو دې ته چې په دې قانون کې د دري واړو قواوو - مقنیني، اجرایې او قضایې - حد او حدود څرنگه ټاکل شوي دي او هره قوه تر کوم حده پورې واک او اختیار لري او څنگه منځ ته راځي.

## د اتحاد شوروي جوړښت

د قانـون لـه مخـې شـوروي يـو فـدرالي دولـت دی چـې (۱۵)[۱۶۳] جمهـوري دولتونـه پـه خپلـې خوښـې او رضـا سره ټـول شـوي او اتحاديـه يـا فـدرالي دولـت يـې منـځ تـه را ايسـتلی دی. هـر جمهوريـت ځانلـه اساسـي قانـون لـري، مگـر شرط دا دی چـې بايـد لـه فـدرالي قانـون سره مـوازات ولـري. د قانـون لـه مخـې هـر جمهوريـت حـق لـري چـې وغـواړي لـه اتحاديـې څخـه بهـر شي. هـر جمهوريـت د دې حـق لـري چـې لـه نـورو باندنيـو هېوادونـو سره ډيپلومـاسي او تجـارتي روابـط راسـاً ټينـگ کـړي .همـدا سـبب دی چـې د اوکرايـن او سـپينې روسـيې جمهوريتونـه د پوتسـدام د جرگـې پـه اسـاس اوس د ملگـرو ملتونـو پـه مؤسسـه کـې هـم غړيتـوب لـري. هـر جمهوريـت د خـاورې د وسـعت پـه لحـاظ دننـه پـه خپلـه خـاوره کـې پـه ازاد جمهوريـت، ازادي علاقـې او مـلي ازادې ناحيـې سره وېشـل شـوي دي.

## مقننه قوه

پـه شـوروي کـې ترټولـو لـوړ مجلس عـالي شـورا ده. عـالي شـورا پـه نـورو هيوادونـو کـې پارلمـان او کانگريـس بالـه شي. عـالي شـورا دوه مجلسـونه لـري. دواړه يـې انتخابي دي او پـه مسـتقيم، مسـاوي او عمومـي انتخـاب سره د مخفـي رای ورکولـو پـه اسـاس انتخابيـږي – د شـوروي هـر وگـړی چـې اتلسـو کالـو تـه ورسـيږي د انتخـاب حـق لـري خـو انتخابيدونکـی بايـد لـه (۲۳) کلنـۍ څخـه کـم نـه وي. يـو مجلـس يـې د ميلتونـو شـورا او بـل يـې د اتحـاد شـورا نوميـږي. د ملتونـو شـورا لـه مـلي شـورا يـا دوهـم مجلس سره ورتـه دي پـه داسـې حـال کـې چـې د اتحـاد شـورا د دارالعيـان يـا لومـړي مجلس پـه شـان ده. د اتحـاد شـورا د افـرادو پـه سر او د ملتونـو شـورا د جمهوريتونـو يـا مـلي واحدونـو پـه اسـاس انتخابيـږي. پـه دې معنـی چـې د اتحـاد پـه شـورا کـې د درې سـوه زرو شـورويانو پـه سر يـو نماينـده هلتـه ورليـږل کيـږي او دا بـل مجلس تـه لـه هـر اتحـادي جمهوريـت نـه (۲۵) لـه ازاد جمهوريـت نـه (۱۱)، لـه ازادې علاقـې څخـه پنځـه او لـه مـلي ناحيـې څخـه يـو نماينـده انتخـاب شـوی اسـتول کيـږي. د هـرې انتخـابي شـورا دوره څلـور کالـه ده. د انتخـاب پـه سر کـې دواړه مجلسـونه پـه گـډه سره غونـډه کـوي او لومـړی د ځـان لپـاره رييسـه هيئـت انتخابـوي. د همدغـه رئيسـه هئيـت مـشر دی چـې د جمهـور رييـس يـا د دولـت د مـشر پـه نامـه ياديـږي او اوس دغـه رييـس مارشـال وراشـيلوف

---

۱٦۳. ړومبـی شـپارلس جمهوريتونـه وو .خـواوس پـه دې تـازه وختـو کـې د کارالـين جمهوريـت پـه ازاد جمهوريـت بـدل شـوی دی.

دی. رييسه هيئت (۱۵) معاونان چې له هر اتحادي جمهوريت نه به يو يو پکې وي، (۱۵) غړي او نور منشيان لري چې ټول شمېر يې نږدې څلوېښتو ته رسيږي. عالي شورا د قانون له مخې د کال دوه ځله غونډې کوي. په فوق العاده ډول هر وخت د رييسه هيئت او د اتحادي جمهوريت له خوا غونډيدای شي؛ مگر رييسه هيئت د کال دولس مياشتې غونډې لري او د عالي شورا په غياب کې کار کوي. عادي قوانين په لږ اکثريت سره راوځي، مگر اساسي قوانين يا د اساسي قانون ترميمات د رايو په دوه دري اکثريت سره وي.

## اجرايه قوه

په شوروي کې ترټولو لوړ اداري مجلس د وزيرانو شورا ده. دا شورا وظيفه لري چې د عالي شورا تصميمات، قوانين او تصويبونه عملي کړي د وزيرانو شورا د عالي شورا د گډې غونډې له خوا انتخابيږي، نو ځکه هغې شورا ته مسؤليت لري. د وزيرانو شورا له رييس (صدراعظم) د هغه معاونانو، وزيرانو، د بېلوبېلو کمېټو له رييسانو او د مرکزي بانک له رييس څخه جوړه ده. وزيران دوه قسمه دي؛ يو قسم ته يې د ټول اتحاد وزيران ويل کيږي او بل راز يې د اتحادي جمهوريت وزيران دي.
لومړی قسم وزيران د اتحادي جمهوريت د مشابهو وزارت خانو له لارې کارونه په مخ بيايي. په قانون کې (۳٦) اتحادي وزيران او (۲۲) جمهوري وزيران ذکر دي چې په دې حساب د وزيرانو شورا له (٦۰) غړو څخه زيات لري، مگر ددې لپاره چې دولتي کارونه ژر اجرا شي په کابينې کې ټول ندي شامل، ځکه چې د شپېتو وزيرانو غونډيدل او په يوي موضوع خبرې کول ډېر وخت نېسي؛ نو له دې کبله کابينه يوازې له صدراعظم او د هغه له لومړيو معاونانو څخه چې هر يو يې څو وزارتونه ترلاس لاندي لري جوړه ده.

## قضايه قوه

قضاوت د اتحاديې د عالي محکمې، جمهوريتونو او بېلوبېلو علاقو او ناحيو، د عالي محکمو، د خاصومحکمو او د وگړو د محکمو له خوا کېږي. ترټولو لوړه او پورته اتحاديې عالي محکمه ده او همدغه محکمه ده چې هم په بېلو بېلو جمهوري واحدونو او هم په ټول شوروي کې قضايي محکمې تر مراقبت او څار لاندې نيسي. پورته ټولې ذکر شوې محکمې هم په اتحادي جمهوريت او هم په جمهوريتونو کې د مربوطه عالي شورا گانو او يا د محلي شوراگانو له خوا د پنځو کالو لپاره ټاکلی کېږي. دولتي مدعي العموم بيا تر

ټولو لوړ دی. دی د اوو کالونو لپاره د عالي شورا له خوا ټاکل کیږي او په دې موظف دی چې په ټول شوروي کې د سوشلستي قانون مراعات تر مراقبت او کتنې لاندې ونیسي. دا بیا د لوی مدعي العموم کار دی چې په لاندې قانوني واحدونو کې بل مدعي العموم د ځان له خوا وټاکي. په قانون کې ویل شوي دي چې دوی د هېچا تابع نه دي او یوازې عالي شورا ته مسؤلیت لري. که له لاندې خوا راشو، اول به د وګړو محکمه یاده کړو چې له یوه قاضي او دوه مفتیانو څخه جوړه ده. تر هغه پورته بیا د ازادو علاقو محکمه ده چې ورپسې پورته د جمهوریت او بیا ټول اتحاد محکمو ته رسېږو.
یو څو خبرې: اد تحاد شوروي (۱۹۳٦ م) کال اساسي قانون له مخې مو د دولت درې واړه قواوې په لنډ ډول سره یادې کړې او دولتي تشکیلات مو وښوول؛ خو هغه اساسي پرنسیپ او نظریه چې پورته درې ګونې قوې پرې ولاړې دي، یادونه ونه کړه. اوس به ښه وي چې په دې باره کې هم یو څه وګړیږو ترڅو چې ښه پرې پوه شو.
په نورو غیر سوشلستي جمهوري پادشاهي دولتونو کې د دولتي تشکیلاتو په باره کې دوه مهمې نظریې موجودې دي چې یوې ته یې د قواوو اتحاد او بلې ته یې د قواوو بېلوالی وایې، د قواوو د اتحاد په اساس برتانیې شاهي دولت جوړ دی. د دې معنی دا ده چې په هغه ملک کې حکومت یا په مشخص ډول سره اجراییه ارګان هغه وخت جوړیږي چې د پارلمان د اکثریت ځینې غړي د کابینې په جوړولو مامور شي. داسې کابینه تر هغه دوام لري چې پارلمان ترې راضي وي. خو هر کله چې عدم اعتماد یا نا رضایت د دوی ترمنځ راشي اجرائیه قوه رنګیږي او ماتې کوي. د قواوو بېلوالی د انتسکیو نظریه ده چې په زیاته اندازه د امریکې د متحده هېوادونو اساسي قانون پرې بنیاد دی. د دې نظریې په مطابق درې واړه قواوې یو له بلې نه بېلې او جلا دي. اعتماد او عدم اعتماد یو او بل نه جوړوي او نه یې رنګوي، مګر په عین حال کې یو په بل کې په ځینې اساسي مواردو کې داسې نښتي دي چې د دیکتاتورۍ او خود سرۍ مخه ونیسي؛ خو همدومره ده چې قاضي القضات یا د قضایي ارګان مشر په هغه ملک کې د جمهور رییس او یا د اجراییه ارګان د مشر له خوا ټاکلی کیږي؛ خو په اتحاد شوروي کې دا راز نه ده. هغه ملک د بېل پرنسیپ په اساس سیاسي او دولتي تشکیلات لري چې هغه د دیموکراتیک سنترالیزم یا ډیموکراټیکي مرکزیت په نامه یادیږي. د دې اصل په قرار د اتحاد شوروي د دولت اساس د هرم په څېر دي. دا هرم په خپل اساس یا په هندسي عبارت په خپلې قاعدې کې په شپیتو زرو محلي شورا ګانو ولاړ دی. هر څومره چې له قاعدې نه د راس یا څوکې په لور لوړیږو په هماغه تناسب شورا ګانې کمیږي، مګر قوت او اختیار یې معکوسآ زیادت کوي. په دې ډول عالي شورا ته رسېږو چې د قانون له مخې په قوت

او اقتدار کې ساری نلري. په بل عبارت د پورته اصل یعني دیموکراټیک سنټرالیزم په اساس عالي او واکمنو شورا ګانو ته د ولسي انتخاباتو له لارې واکمني ورکول کېږي او بیا همدغه ولسي واکمني په عالي شورا کې مرکزیت پیداکوي چې هغه بیا بېرته له پاس نه ښکته په ولس باندې تطبیق کیږي. په ولس باندې د همدغسې واکمنۍ د تطبیق او تعمیل څرنګوالی دی چې د ډیموکراسۍ مفهوم ترې اخېستل کیږي. هغه لوی اختلاف چې د کمونیستانو او کاپیټالیستانو ترمنځ موجود دی د همدغسې واکمنۍ له تطبیق نه ډېر ښه څرګند کیدای شي. بورژوا یا کاپیټالیستان (سرمایه داران) یا هغه چې د ډیموکراټانو په نامه یې شهرت موندلی دی او معمولاً ترې غربي ډیموکراټان مرادیږي، د دې واکمنۍ په تطبیق کې د ولس خوښې او رضا ته ګوري؛ نو ځکه په داسې جامعو کې دولتي کارونه زیاتره په سستۍ سره اجرا کیږي او ډېر ځله د ګوندي مارۍ له کبله د بېلو بېلو مفکورو په اساس نوي حکومتونه منځ ته راځي چې د پخواني حکومت د پروګرام ممد نه ګرځي، مګر سوشیلیستان یا کمونیستان یا مارکسستان یا هغه چې د کارګرو په دیکتاتورۍ عقیده لري وایي چې د دې واکمنۍ په تطبیق کې د ولس له خوښې او رضا څخه د ټول ولس ریښتني هوساینه، ارامي او سعادت معتبر او لومړی دی او وایي چې ټول هغه پلانونه، پروژې او کارونه چې په نهایي تحلیل کې د ولس په حقیقي خوښۍ او سعادت تمامیږي باید له پاس نه د ښکته په لور ولس باندې تطبیق شي او عالي شورا ګانې باید له هغې ورکړل شوې متمرکزې واکمنۍ څخه کار واخلي او د نورو خوښۍ او رضا ته دومره و نه ګوري، ځکه چې عامه شعور ختا وځي او منفعت جویان او غولوونکي سیاستمداران او سرمایه داران یې د خپلې ګټې لپاره استعمالوي. د همدې اصل په اساس د دوی سیاسي فلسفه د کارګرو په دیکتاتورۍ مشهوره شوې ده، نو که په اتحاد شوروي یا نورو سوشیلیستي هېوادونو کې عالي شورا او د وزیرانو شوراوو ته ځیرشو، هلته به ووینو چې واکمني په محدودو مرکزي واکمنو جرګو کې د واکمنو قوي انتخابي کسانو په لاس کې ده چې دوی کمونیستان دي، یعني دوی د انتخاب له لارې د همدغې مرکزي واکمنۍ تطبیق په وس باندې د اوس لپاره د سوشیلیزم د فلسفې په اساساتو کوي.

د سوشیلیستي او کارګري دیکتاتوریت نظریه چې غواړي ټول دولتي کارونه د مارکسېزم - لینېزم د فلسفي په اساس د یو معین هدف په لوري په چټکۍ سره په مخ بوځي او له زیاتو خبرو اترو او بحث او مباحثو څخه چې ډېر وخت نېسي مخنیوی وکړي او په دې ډول د سوشیلیستي انتقالي مرحلې څخه واوړي او کمونیستي د طبقاتو مطلوبې جامعې ته ورننوځي. د شوروي د نوي نظام او چلند مطالعه بې د حزب له کتنې نه، نه پوره کیږي. که څوک دا غواړي چې شوروي جامعه وپیژني او له بېلو اړخو سره یې اشنا

او څرنګوالی یې ورته معلوم شي، لازمه ده چې د هغه ملک د حزب په فلسفې هم تر یو څه حده پوره خبر وي او خصوصیت او اساس یې ځان ته معلوم کړي. دا کار دومره اسان هم نه دی، ځکه چې د حزبي اصولیاتو په باب کې مواد او خپرونې نشته، خو له دې کبله چې د شوروي دولت له مطالعې سره د حزب مطالعه تړلې ده او بې له هغه هر څومره تشریحات او لیکنې چې وي، ټولې نیمګړې معلومیږي. نو لازمه ده چې د حزب په باب کې هم هر څنګه چې وي یو څه ولیکو. هغسې چې د شوروي موجوده نظام نوی دی علمي او اجتماعي اصطلاحات، تعریفات او تغییرات یې هم جدید او د یوې نوې نظریې او فلسفې په اساس دي. دا نوی نظر هر څه او هر شی له بلې لارې څخه ګوري. دا نوې لار، نوی میتود له نورو نه فرق لري او دا فرق ډېر اساسي او عمیق دی. دوه اصطلاګانې به د مثال په توګه را واخلو او هغه به د دې دواړو له نظره تعریف کړو. د ډیموکراسی کلیمه خو اوس ډېره په کاریږي او ډېرې خبرې او لیکنې یې په باب کې روانې دي، خو هغه مفهوم چې له دې کلیمې څخه مشخص کیږي او هغه په یوه ټاکلي حد او معین چوکاټ کې لویږي د پورته جهان بینیو له نظره بلکل توپیر لري. ابراهام لنکن وایي چې «ډیموکراسي پر خلکو، د خلکو له خوا د خلکو لپاره حکومت دی» او یا دا چې امریکایي پروفیسورو اسرمن په خپل کتاب «سیاسي عصري فلسفه» کې لیکي «ډیموکراسي هغه اجتماعي فلسفه ده چې پر ټولو بشري مناسباتو، فردي وي او که مجموعي، حکومت لري» خو د ډیموکراسی تعریف د نوې جهان بینی په اساس له پورته تعریفاتو نه فرق لري هغه دا چې: ډیموکراسي هغه سیاسي تشکیلاتو او تطبیقاتو ته وایي چې د هغو په واسطه طبقات د خپلو اقتصادي منافعو د وړاندې بیولو لپاره خپل ځانونه قوي کوي چې په دې معنی ډیموکراسي د طبقاتو او د طبقاتو د مبارزو وجود بښیي. د لینن له خولې د ډیموکراسی تعریف له دې څخه هم مشخص کیږي. دی ډیموکراسي په یوې طبقې باندې د بلې طبقې حاکمیت بولي؛ په کاپیټالیستي نظام کې لږکي په ډېرکي او په سوشیلیستي نظام کې برعکس ډیرکي په لږکي یعنې اکثریت په اقلیت. دا لږکي او ډیرکي ثابت نه دي ګڼل شوي؛ بلکې د لږېدو او ډېرېدو په حال ګڼل شوي دي، یعنې ډیرکي په ډېریدو او لږکي په لږېدو کې فرض شوي دی. دا کمی او زیاتی به تر هغه دوام کوي چې ړومبی د خپل ډېرېدو په اخرني حد کې د جامعې ټول افراد په ځان کې شامل کړي او وروستنی د لږېدو په سلسله کې د صفر درجې ته تقرب وکړي او بلکل ورک او محوه شي؛ او په دې حساب د کارګري یوه سوچه جامعه جوړه شي. په دې اساس د حزب په باب کې هم د دوی نظر بل راز دی. دوی حزب د متشابهو او متجانسو افکارو څخه جوړ بولي او دا کار یوازې هلته ممکن کیدای شي چې د یوې واحدې طبقې هغه منورین چې

له عادي کسانو څخه د فکر او نظر په لحاظ دمخه دي؛ سره ټول اومتحد شي او په کامل نظم او ډیسپلین سره د یوه ټاکلي او معین هدف په لوري فعالیت او عمل وکړي. په دې حساب حزب کومه بېله ډله نده، بلکې د یوې طبقې پرمختللې او مترقي برخه ده چې اساس او بنسټ یې په خپله طبقه کښل کېږي. په عمومي ډول سره دا نشي کیدای چې سرمایه داران او مزدوران یا دهقانان او زمین داران به سره متحد شي او ځان ته کوم بېل حزب جوړ کړي. دا ځکه چې دوی له آره په بېلو طبقاتو پوري تړلې دي چې د اقتصادي منافعو په لحاظ یو د بل ضد دي. د دې معنې دا ده چې د یوه ګټه د بل تاوان، د یوه ژړا د بل خندا او د یوه قوت د بل ضعف دي. دلته هرومرو دا سوال منځ ته راځي چې طبقه یعنې څه؟
د دوی له نظره طبقه د وګړو هغه برخه ده چې تولیدي وسایلو پوري یو خاص ارتباط لري. سرمایه داران د فابریکو، کارخانو او په عمومي ډول سره د ثروت د تولیدي وسیلو خاوندان سرمایه او پانګه لري، نو ځکه دوی سرمایه داران یا پانګه لرونکې یا کپېټلیسټان شمېرل کېږي او ځانله یوه بېله او جلا طبقه جوړوي. کارګران او مزدوران به کارخانو، فابریکو او همداسې نورو ځایو کې مزدوري او کار کوي. دوی د دې الاتو څښتنان نه دي، دوی هیڅ نه لري او د دې لپاره چې ژوند وکړي د مجبورۍ ورځې خپل د کار قوت په نورو خرڅوي او یوه بېله طبقه جوړوي چې هغه ته د مزدورانو یا کارګرو طبقه ویل کیږي. د همدغو پورته دوو متضادو او متخالفو طبقو پرمختللې او مترقې برخې دي چې بیا ځانله ډلې تشکیلوي او د حکومت په نېولوسره کوښښ کوي چې د خپلو مربوطو طبقو په نماینده ګۍ او د دوی د منافعو او ګټو د ساتلو او د ډېرو په منظور قوانین، نظامات، او مقررات وضع کړي او ولسونه د هغوی په تطبیق او تعمیل سره مجبور یا تشویق کړي.
دا چې اتحاد شوروي نن ورځ خپل ځان د کارګرو نماینده ښیي او امریکا د یو سرمایه داري نظام په حیث پېژندل کېږي، د دې سبب دا دی چې په شوروي کې د کارګرو او بزګرانو د طبقاتو د مترقي او پرمختللې برخه یعنې کمونیست ګوند مسلط دی او په امریکې کې کله د جمهوریت خواه او کله د ډیموکراټ ګوندونه حاکمان وي چې د دواړو ګوندونو اساسات په یو څه فرق سره د سرمایه دارۍ په فلسفې ولاړ دي. د شوروي او امریکې د موجوده نظامونو ترمنځ د همدغه عمیق او اساسي تضاد له کبله دی چې نن ورځ د دوی مربوطه حکومتونه په بین المللی او ذات البیني ټولو مسئلو کې سره مخامخ او متضاد دي او نړۍ یې په دوه متخالفو او دښمنو قوي کمپو سره، ویشلې ده. تر هغو چې دوی په اساس او فلسفه کې سره وران وي، ګمان نه کیږي چې په دنیا کې په دایمي ډول ارامي قایمه شي او د ګډ ژوندون لارې او په سوله او ارامۍ سره د مختلفو او بېلو نظامونو

د ولسونو ژوند کولو لپاره هڅه او کوښښ وشي. همدا راز د قوت موازنه به دومره وکړای شي چې هغه عميق اختلاف چې په اصل اساس کې موجود دی، يوه څه لږ کړي. د دواړو بيلو نظامونو منوران او روشنفکران په دې اختلاف ډېر ښه پوهېږي، خو څرنګه چې د دوی موقف سره فرق لري او دوی د بېلو شرايطو او حالاتو لاندې ژوند کوي نو ځکه يوازې د خپلو مربوطه طبقاتو د ګټې او تقويې لپاره په مرګ کوښښ کوي او په زيات قوي کيدو سره زيار باسي چې په نورو هيوادونو کې د عسکري فتح او ملک ګيرۍ په عوض نن د خپلو نظامونو په رنګ نوي سېستمونه په کې مسلط او رواج کړي او په خپل کامپ کې يې راولي. د دې خبرې ډېر ژوندي مثالونه د المان او کوريا هېوادونه دي چې دواړه هيوادونه په دوه برخو شمالي او جنوبي، شرقي او غربي سره ويشل شوي او دوه راز مختلف سيستمونه – سوشيليستي او سرمايه داري پرې مسلط شوي دی. اوس به راشو دې ته چې په شوروي کې د کارګرو او د بزګرو د طبقاتو مترقي برخه يعنې کمونيستي ګوند څه تشکيلات لري او ولې هلته يوازې يو ګوند موجود دی او لکه غربي هيوادونه متعدد احزاب نه لري. د وروستۍ برخې په باب کې د دې ګوند روشنفکران داسې ادعا لري چې اوس په شوروي کې يوازې دوه طبقې موجودې دي چې يوه يې د کارګرو او بله يې د بزګرو ده. دا دواړه طبقې له دې کبله چې د ثروت د توليدي وسايلو په باب کې بېل غوندې ارتباط لري، دوه طبقې شمېرلی کيږي او له دې کبله چې د دوی مفاد او ګټه سره يو وي، يوه طبقه شمېرلی کېږي او د کمونست ګوند د دواړو طبقو د مفاد محافظ او ضرر او شر مدافع دي او په هغه ملک کې د اکتوبر له انقلاب نه راهيسې نور نور طبقات لکه د سرمايه دارانو، زمينداارانو، روحانيانو او نور؛ مضمحل شوي او د ورکېدو په حال کې دي، نو ځکه په هغه ملک کې يو حزبې سېستم رواج لري او د متعددو او نورو احزابو لپاره اساس او مورد نه دی پاتې. ددې ادعا په مقابل کې باندني منتقدين او په تېره بيا د بورژوا و د طبقاتو منوران او روشنفکران وايي چې په شوروي کې نور احزاب ځکه نشته چې کمونستي حزب په دکتاتوريت او زور ولاړ دی او نه پرېږدي چې نور احزاب ولاړ شي او سر هسک کړي.

دا چې وايي په شوروي کې د يموکراسي نشته، آزادي نشته او ولسي مخالف آواز نه اورېدل کيږي، دکتاتوري په زور او قوت سره روانه ده؛ له همدې انتقاد څخه ولاړيږي. د کمونيسي ګوند په باب کې بايد ووايو چې هغه ګوند په ديموکراتيک سنترالزم يعنی په ديموکراتيکي مرکزيت ولاړ دی. ديموکراتيک سنترالزم يعنی د کمونيستي ګوند هغه پرنسيپ چې له يوې خوا په عالی درجه د ډيموکراسۍ تطبيق پکې اجرا کيږي او له بلې خوا قدرت او اختيار مترقي او لاربشوونکو جرګه ګيو يا تشکيلاتو او يا کميټو ته ورسپارل

کېږي. دا جرګه ګۍ له هغو کمونیستانو څخه جوړې دي چې په فکر او نظر کې تر نورو دمخه وي او د مشرۍ او لیډرۍ اوصاف او خواص یې تر نورو زیات وي او ماتریالزم او مارکسسېزم لوی مجتهدان او پاخه مفسران شمېرل شوي او منل شوي. ډیموکراتیک سنټرالزم دا چې:

۱. ټول حزبي تشکیلات او مؤسسې له پورته نه تر ښکته، معکوساً لاندې خوا نه تر پورته لوړو پوړې انتخابي وي.
۲. حزبي لوړې جرګې باید وخت په وخت د خپل فعالیت او کار په باره کې ټولو حزبي مؤسسو ته حساب او ځواب ورکړي.
۳. باید یو قوي او سخت ډیسپلین او نظم په حزب کې موجود وي او لړکي د ډېرکیو ته انقیاد اطاعت ولري.
٤. د عالي او لوړو جرګو ټولې فیصلې باید د ښکته تشکیلاتو او حزبي غړو له خوا په مطلق ډول سره ومنل شي.

په کمونیستی حزبي تشکیلاتو کې تر ټولو لوړ او عالي تشکیل د ټول اتحاد کانګرس یا لوی کانګریس دی چې د شوروي د جمهوریتونو او اداري واحدونو په نماینده ګۍ، (۲۰۰۰) غړي لري او دا کانګرس یا لویه جرګه په درې یا څلورو کالو کې یو ځل غونډې کوي. د حزب د مقننه مجلس په شان حیثیت لري. عامله مؤسسه یا د حزب حکومت هغه اویا کسیزه مرکزي کمیټه ده چې د کانګرس فیصلې او وضع کړي مقررات او قوانین عملي کوي. دا کمېټه د کانګرس لخوا انتخابیږي، خو له دې کبله چې اویا کسیزه کمېټه د چټک او معاصره اقدام لپار لویه او پراخه ده، نو زیات قوت او اختیار د دې کمېټې رییس، عمومي منشي او نورو منشیانو او د دې جرګه ګیو ته چې د پولت بوریو (سیاسي څانګه) او آرګ بوریو (تشکیلاتي څانګه) نومېږي، ورکول کیږي.

## پولت بوریو

لکه چې د مخه وویل شول، د مرکزي کمېټې سیاسي څانګه ده چې یوولس غړي لري. په دې کمیټې کې د حزب زبده او قوي مشران شامل وي او رییس یې معمولاً د مرکزي کمېټې رئیس وي چې اوس خورسچوف دی.

دا څانګه د ټول حزب لپاره متفکره او مجتهده څانګه ده. د مارکسسېزم او کمونیزم په تعبیر او تفسیر کې دا څانګه لوړ اختیارات لري. دا څانګه مطاع او واکمنه ده. څه فیصلې چې کوي باید د ټولو غړو له خوا بې له کوم تردید او شک څخه ومنل شي، هر راز مخالفت د دې څانګې له فیصلو سره ستره او لویه ګناه بلل کیږي چې هیڅ نه عفوه کیږي.

فیصلې د رایو په اکثریت سره کیږي. هر غړی د پېشنهاد په وخت کې د هر راز مخالفت او نقیض استدلال حق لري. هر غړی د هر راز پېشنهاد حق هم لري؛ خو د دې څانگې د چوکاټ نه بهر د هرې فیصلې په باب کې یې مخالفت ډېره سخته او نا ښووونکې گناه ده. پولټ بوریو هر وخت په منظم ډول غونډې لري او معمولاً په اونۍ کې څو ځله سره ټولیږي.

## ارگ بوریو

هم یوه وړه څانگه ده چې د حزب له مشرانو او لیډرانو څخه جوړه ده، وظیفه یې دا ده چې په ټول شوروي کې حزبي تشکیلات تر مراقبت او څارنې لاندې وساتي. د مرکزي حزب ځای ماسکو دی چې هلته په زرگونو د حزب کمونیست غړي په کې کار کوي او په ټول شوروي او په حقیقت کې په ټوله نړۍ کې د حزبي فعالیتونو وظېفې څاري. دا حزب په داسې رقم سره جوړ شوی او تشکیل شوی دی چې کولای شي حکومت او حکومتي کسان ترڅار لاندې ونیسي او هغو ته لارښوونه وکړي او پرېنږدي چې له حزبي اصولیاتو او پرېکړو نه انحراف وکړي او گمراه شي. حزبي تشکیلات او ښکته مؤسسې باید یا په بل عبارت د حزب وزارت خانې او څانگې د شوروي له حکومتي دایرو سره توافق لري او هره څانگه یا وزارت خانه اومؤسسه په حکومتي دایرو پسې څار او مراقبت کوي، یعنې هر څومره چې حکومت تشکیلات لري هغومره یې حزب هم لري. د ماسکو تر مرکزي څانگو لاندې په جمهوریتونو او اداري واحدونو کې بیا نورې څانگې دي چې د هغو تشکیلات هم د مرکز په شان دي او له هغو سره پوره توافق لري. تر ټولو لاندې او ابتدایي تشکیل چې معمولا دوه یا درې کسه غړي لري، د واحدونو او حجرو په نامه یادیږي چې نږدې (۱۳۵۰۰۰) واحدونو ته رسیږي او په ټول شوروي کې خواره دي. په کوم ځای کې چې اجماع کېږي او یا د اجماع امکان موجود وي، دا واحدونه جوړیږي. په کارخانو، فابریکو، کولوخوزو، سوخوزو، کلیو، بانډو او مکتبونو کې دا واحدونه شته دي او هېڅ مجتمع ځای ترې خلاصی نه لري. حزب په ټولو جمهوریتونو کې ځانله مکتبونه لري. ټول هغه ځوانان چې د انرجۍ او کمونیستي فکر خاوندان دي، د کمونیستو ښوونکو او متفکرینو لخوا تدریسیږي او مارکسېزم او کمونیزم ورته درس ورکول کیږي او سربېره پر دې په کوم هغه ځای کې چې باید یو کمونیست غړی وظیفه ولري، د هغه ځای خصوصیت، عرف، عادت، رسم او رواج ورښودل کیږي. په دې ډول ټولو ځوانانو ته د مشرتابه لارې چارې زده کولی کېږي. ټول حزب اووه میلیونه غړي لري او کمونیست کیدل اسان هم نه دي، شرایط یې ډېر سنگین دي چې زیاته انرجي او ډېر فعالیت غواړي. نوی کاندید باید

دوه نفره کمونیستان معرفي کړي، دوه یا درې کاله تر نظارت لاندې نیول کیږي، د هغه شخصیت، کرکټر، فعالیت او طرز تفکر ښه سنجول کیږي او له یوه امتحان نه وروسته بیا په حزب کې شاملیږي. د حزب تصفیه هر وخت وي. ټول هغه غړي چې بد گومان پرې وشي او یا له مارکسېزم او لیننزم څخه یې انحراف کړی وي، له حزب نه اېستل کیږي او رټل کیږي. په دې ډول ویلی شو چې په شوروي کې اصلي او حقیقي حکومت او واکمنه مؤسسه خپله د کمونیست حزب دی او د شوروي حکومت یوازې د حزب د فیصلو، پرېکړو، تصمیماتو او پروگرام اجرا کوونکي دي. هر هغه تغییر چې په شوروي کې راځي او یا هر هغه پلان او پروژې چې میدان ته راوځي او یا هر هغه سیاست او طرز چې باید شورویان یې په داخل او خارج کې غوره کړي، ټول د حزب له خوا وي چې له حزبي لارو نه حکومتي دوایرو ته وړاندې کیږي او حکومت یې اجرا کوي.

کابل مجله، ۱۳۳۹ل، لړم، ۸ مه گڼه، پرلپسې ۴۹۳ مه گڼه.

# د يونان د ډيموکراسۍ ځنگه والی

ډيموکراسي دومره درنده او معناداره کلمه ده چې نن ورځ هره ډله او هر نظام که څه هم يو تر بله سره نقيضې فلسفې او مخالفې جهان بينۍ ولري، د هغې ادا کوي ځان ورته منسوبوي او ژوندي کول يې ارزو لري. له ولسي ډيموکراسۍ او غربي ډيموکراسۍ سره به د ټولو متفکرينو غوږونه اشنا وي، ځکه چې مخصوصاً په دې وروستيو وختو کې يې د استعمال موارد زيات شوي دي.
ډيموکراسي هم د نورو اجتماعي او فلسفي مفاهيمو په څېر مطلق او ثابت مفهوم نه لري، هر وخت يې په خپل مغز او متن کې بدلون منلی او زمان او مکان او مختلفو تلقياتو ته يې اطاعت کړی دی. نو طبيعي ده چې دا کلمه به بېلې بېلې ډلې يو راز او په يوه واحد مفهوم او تعريف سره نه پېژني، بلکې په مختلفو تعبيرونو به ورته قايل وي. د ډيموکراسۍ لپاره د حکومت د ولسي کنترول نه په پرته بل تعريف نه ميندل کېږي چې د ټولو پرې اتفاق وي.[١٦٤] دا د ډيموکراسۍ هغه تعريف دی چې له لفظ نه يې راوځي. (ډيمو) په يوناني ژبه کې د ولس معنا ورکوي او (کراسي) کنترول يا حکومت ته وايي؛ مگر په علمي دنيا کې دا دود اوس ډېر پخوانی او زوړ دی چې يو لفظ به د خپل مفهوم ټول اړخونه او ټوله معنا افاده کړای شي. الفاظ اصلاً قراردادي (کانونشنل) دي او مفاهيم په خارجي محيط کې ژوندي متغيير حقايق دي چې وخت په وخت په انساني ذهنيتونو کې انعکاس کوي او له دې لارې په خلکو ځانونه پېژني.
د ابراهام لنکلن مشهوره وينا به د هر چا په زړه وي چې وايي (ډيموکراسي د خلکو له خوا، د خلکو لپاره، د خلکو حکومت دی) ډيموکراسي په دې تعريف سره د حکومت شکل ښوول شوی دی او بيا دومره غيرمعين او غير مشخص ښوول شوی دی چې عين په فاشيزم کې هم تطبيق مومي، سره له دې چې فاشيزم د ټولو سياسي فلسفو په خلاف له ډيموکراسۍ سره برالا مخالفت کوي. خو بايد دا ومنو چې دغې تلقي د لنکلن په

١٦٤. امريکا دايرة المعارف ٦٣٩مخ، ١٩٦٠کال چاپ.

وخت کې پوره ډینامیزم لاره، ځکه هغه په خپل وخت کې د امریکې د متحدو هېوادو له سپین مخ نه د غلامۍ تور داغ لرې کاوه او بې له دېنه نه کېده.
د فکر او سوچ خاوندان اوس په دې فکر کې دي چې کوم ټکی مبدا او اساس وټاکي او له کومې لارې او څنګه یوه مفهوم ته نزدې شي چې نظر او عمل سره پخلا او مربوط کړي، تر څو چې ژوندانه کې ترې کار واخلي.
امریکایي پوهاند لویې واسرمین لیکي: «ډیموکراسي په خپل جامع مفهوم سره هغه اجتماعي فلسفه ده چې په ټولو بشري مناسباتو، خصوصي وي که اجتماعي، حاکمیت لري. ډیموکراسي په خپل خاصیت کې ډینامیکه ده او متحولو تقاضاوو ته ځواب وايي. ډیموکراسي باید داسې ونه ګڼل شي چې هغه د یوې جامعې د یوه حکومت او د یوه اقتصادي سیستم پوره شوې بڼه او نمونه ده. ډیموکراسي د خپل انکشاف په حال کې هېڅ وخت سکون او ولاړه نه مني. د ډیموکراسۍ مخلوق موسسات ټول متحول او تجربوي دي چې په مختلفو دورو کې د بېلو بېلو ولسونو په نزد بدلون مني.»[۱٦٥]
برتانوي نومیالی پروفیسور هیرولډلاسکي د ډیموکراسۍ په معرفۍ کې نور هم پس وړاندې ځي او زیات وضاحت ورکوي. په اجتماعي دایرة المعارف کې لیکي: (ډیموکراسي د ځینو په فکر د حکومت شکل دی، نور یې د ژوند طریقه ګڼي. انسانانو د ډیموکراسۍ جوهر د دې لاندې خیزونو په څنګه والي کې مینده کړی دی: د حکومت او ولس ترمنځ په مناسباتو کې، د افرادو ترمنځ د پراخ اقتصادي توپیر په نشته والي کې د مذهبي، نژادي شتمنۍ او ولادي امتیازاتو په انکار کې...)[۱٦٦]
وینو چې د ډیموکراسۍ په تاریخي یون کې یو ډېر مهم او اساسي عنصر زیات شوی دی. دا بېخکی عنصر د افرادو ترمنځ د پراخ اقتصادي توپیر نشته والی دی چې ځینو اقتصادي مساوات نومولی دی. دا عنصر د ډیموکراسۍ په تکامل او انکشاف کې یو ګرځوونکی ټکی دی، ځکه چې ددغه اصل په واقعي کولو سره دډیموکراسۍ نور عناصر په خپله واقعیت مومي او نظر او عمل سره یو کېږي، یا لږ تر لږه یو کېدو ته نږدې کېږي.
پروفیسور لاسکي وړاندې پسې لیکي: «نو اقتصادي مساوات د یوې داسې لارښوونکې نښې په حیث منل شوي چې د ډیموکراسۍ واقعي کول په هغې پورې تړلی دی.»[۱٦٧]
بیا لیکي: «که یو ولس په بې وزلو او شتمنو ووېشو، د دولت لپاره به ددې امکان پاتې

---

۱٦٥. اوسنۍ سیاسي فلسفې د ډاکټر واسرمین تالیف د نیویارک چاپ۱۹۵۱، ۱۲مخ.
۱٦٦. د اجتماعي دایرة المعارف پنځم ټوک ٦۷مخ.
۱٦۷. د اجتماعي دایرة المعارف پنځم ټوک ۷۷مخ.

نه شي چې عمومي منافع په خپلو کړو سره ترسره کړي». مګر ډيموکراسي ته د رسېدو لارې بېلې او ډېرې دي او ډيموکراسي په شکلونو پسې دومره نه ګرځي. ډېر معمول او منلی شوي يې هغه موسسات دي چې په مستقيمو يا غير مستقيمو او عمومي انتخاباتو سره ميدان ته وځي او د وجود په ډګر کې هسکه غاړه ودرېږي. البته دا به حتمي وي چې ولسي اراده به د دولتي موسساتو زېږوونکې وي. د واکمن کېدو منبع به يوازې ولس وي، يعنې واکمني به يوازې او يوازې د ولس وي. واکمن به د ولسي ارادې عملي کوونکي وي. افراد به په خپلو کې هېڅ راز توپير او امتياز نه سره لري، بلکې ټول به چې د يو سياسي حد دننه ژوند کوي؛ په حقوقي او مدني لحاظ برابر وي.
د ډيموکراسۍ ددې لنډې څېړنې په رڼا کې به اوس يونان ته وګرځو او دا به وښيو چې ډيموکراسي هلته څومره او څنګه عملي کېده. دا به دومره سمه نه وي چې د ډيموکراسۍ اوسنی مفهوم د بشر په دوه نيم زره کاله د مخه ټولنه کې تطبيق کړو وښيو. مګر دا کار له دې امله دومره بې ځايه نه دی چې د بشر په تاريخ کې د پريکلس د وختو يونان د ډيموکراسۍ ځلاندې وړانګې لرلې او دا وړانګې دومره روښانه وې چې تر ننه پورې يې روښانتيا پاتې ده. ددې خبرې يو ثبوت دا دی چې د اوسنيو ټولو اجتماعي او فلسفي عقايدو منبع يونان ګڼلی شي.
په بشري ټولنو کې يونان هغه لومړنی هېواد دی چې د کريت له مدنيت نه وروسته هلته قامي او قبيلوي ژوند په اجتماعي ژوند بدل شوی او اجتماعي احساساتو د قبيلوي احساساتو ځای نيولی دی. ددې بدلون په اساس يوه داسې اجتماعي روحيه په کې راهسکه شوه چې ورسره جامعه او دولت تر ټولو لوړ شو او احترام يې په هر چا واجب. يونان په اصل کې (۳۹) ښاري دولتونه لرل، غرونه او درې په کې ډېرې وې، غرو يې سيمې له يو بل نه بېلې کړې وې. دا ښاري دولتونه په اوسني يونان، د ايټاليې په سهيلي برخه، د ترکيې په ساحلي غاړو، د مديترانې په غاړو، د تورې بحيرې په غاړو او د ايجن د بحيرې په شاوخوا ټاپوګانو کې پراته وو. په ښاري دولتونو کې اتن، تب، کورنت او سپارتا زيات مشهور وو. د ډيموکراسۍ درجه په دوی کې يو راز نه وه، سره ښکاره فرق يې لاره؛ مګر په دې ټولو کې اتن په ډيموکراسۍ او سپارتا په ارستوکراسۍ کې پوره نوم لاره، مخصوصاً اتن د يونان د ډيموکراسۍ ځلانده تاج و. «د اتن خلق هغه لومړنی ولس و چې کوښښ يې وکه داسې ډيموکراتيکه امپراتوري جوړه کړي چې نه يوازې واکمن يې لري؛ بلکې هغه امپراتوري چې په مشترکو ډيموکراتيکي موسساتو او قوانينو تړلې وې.»[۱۶۸]

---

۱۶۸. بريتانيکا دايرة المعارف اووم ټوک ۸۲مخ د ۱۹۵۳کال چاپ.

ډارکوسولون، تراتوس، کلیس تنس او پریکلس د اتن د ق. م پنځمې او شپږمې پېړۍ نامتو کسان دي چې د اتن په ډیموکراسۍ کې د دوی نوم د نه هېرېدو دی. دوی هغه نومیالي او پیاوړي قانون پوهان او سیاست پوهان وو چې په خپلو اېستل شویو قوانینو یې د بېوزلو او شتمنو ترمنځ ډله ییزې شخړې او جګړې اخري حد ته کمې کړې او له دښمنۍ او مخالفت نه ډکې ډلې یې د څه وخت لپاره سره پخلا کړې. ډېر پوروړي او له بار لاندې خلک یې ازاد کړل او د تابعیت حقوق یې ورکړل. د کلیس تنس قانون چې د اتن د عظمت او لویۍ په وخت کې نافذ او حاکم وو، «په (۳۳۸ ق.م) کې اتن، مقدوني سکندر ته مغلوب شو».[۱۶۹]

په دغه وخت کې د یونان او مخصوصاً د اتن دیموکراسۍ دغه لاندې خصوصیتونه لرل:

۱. سیاسي حاکمیت او مدني حقوق د یونان اصلي غړیو ته په برخه وو. د دوی شمېر په اتن کې نسبتاً زیات، مګر په سپارتا کې بېخي لږ و. په دواړو ښارونو کې اصلي اعضا بېخي په اقلیت کې وو. د سپارتا اصلي غړي لس زره او د اتن درې څلوېښت زره وو، په داسې حال کې چې د اتن د ښار او ورسره د اتیکا د ولایت ټول نفوس د دریو او څلورو لکو ترمنځ ښوول شوی دی. اصلي غړیو لوکس ژوند لاره، دوی به یوازې دماغي او ذهني کارونه کول.

دولتي او حکومتي کارونه به ټول د دوی په غاړه وو؛ سپورت، آرت، هنر او نمایش کې به دوی برخه اخیسته. په رښتیا چې د دوی لپاره یونان مخصوصاً په اعلی درجه ډیموکراسي برابره کړې وه.

۲. د اتن ډیموکراسي مستقیمه وه یعنې اصلي غړیو به ټولنه کوله او مقننه مجلس به یې جوړاوه چې هغه ته به یې لویه شورا یا اکلیزیا ویلې. البته ټولو اصلي غړیو به عادي ګډون نه درلود، ایله پنځه شپږ زره حاضرېدل. یوازې د لسو جنرالانو او څو نورو مجلسو غړي انتخابي او غیر مستقیم او د نمایندګۍ د اساس له مخې وو.

۳. د انتخابي غړیو د خدمت موده به لږه وه او د بیا انتخابېدو په ضد یې قوانین اېستل شوي وو. ددې علت دا و چې یو خو ټولو مستعدو اتنیانو ته د خدمت وار ورسېږي او بله دا چې واکمن له خپل زور او قوت نه ناوړه استفاده ونه کړي او دکتاتوران نه شي، یوازې د لسو جنرالانو انتخاب کې څه استثنات وو.

٤. منظم ګوندونه او اتحادیې په کې نه وي، خو له بلې خوا کاري او فعالو اصلي غړیو کولای شوای چې هم په مقننه او هم په اجرائیه هیئتونو کې ګډون وکړي.

---

۱٦۹. امریکاتا دایرة المعارف ۲۴۰مخ د ۱۹٦۰کال.

۵. د اصـلي غړيـو علاقـه لـه ولـسي او دولتـي چـارو سره زياتـه وه. پـه سـياسي کارونـو کـې شرکـت کـول يـو لـوی فخـر و. د هـر اصـلي غـړي هڅـه پـه دې کـې وه چـې سـياس او نطـاق وي. سياسـت او سـياسي فعاليـت پـه دې توگـه يـو شريـف کسـب گڼـل شـوی و.
٦. ښـځو مطلقـاً سـياسي او مـدني حقـوق نـه لـرل. د اصـلي غړيـو لـه ښـځو نـه هـم ازادي سـلبه وه، دوی بـه زياتـره پـه کورونـو کـې وې. د لوبـو روزل او پالـل د دوی پـه غـاړه وو. د غلامانـو او مينځـو اداره بـه يـې هـم کولـه. کلـه کلـه بـه داسـې هـم وشـوه چـې کـه بېـرون ووځــي ســاتونکي ورسره وي.
مگر د هومر په وختو کې او د آيوني په ټاپوگانو کې د ښځو حال يو څه ښه وو.
۷. غلامان او د هغوی منسوبين له ټولو انساني او مدني حقوقو نه محروم وو.
دوی بـس لکـه مالونـه خرڅېـدل. پـه وروسـتيو وختـو کـې ارسـتو دوی تـه (د کار گرځنـدو او سـاه کښـو ماشـينو او پـرزو...[۱۷۰] لقـب ورکـړی وو). دوی پـه شـمېر کـې لـه اصـلي غړيـو او خارجيانـو نـه پـه کراتـو زيـات وو.
دغـو محکومانـو تـه اجـازه نـه وه چـې لـه عضـوي او جسـمي کارونـه بـه پرتـه بـل څـه وکـړي. عنعنـو او قوانينـو د دوی لاس او پښـې تړلـې وې، مگـر لـه بلـې خـوا د يونـان د ډيموکراسـۍ سـتنې د همدغـې ډلـې پـه زيـار او کـړاو اېښـود شـوې وې. پـه دې سـبب د دوی نارامیـو او جگـړو بـه کلـه کلـه هغـه درنـدې او سـنگينې سـتنې ولړزولـې او ورسره بـه يـې ټـول يونـان پـه خوځېـدو کـړ. همدغـه پرلـه پسـې جگـړې وې چـې دوی پـه اتـن کـې ښايسـته زيـات حقـوق تـر لاسـه کـړل. خـو وروسـتيو ارسـتوکراتو ليکوالـو او مخصوصـاً افلاتـون او ارسـتو د دوی دغـو حقوقـو تـه بـد وويـل او پـه دې عقيـده شـول چـې يونـاني جامعـه پـه اسـتثمار لتـاړه ده او دا اسـتثمار د ټيټـو طبقـو لـه خـوا دی.
۸. پـه يونـاني جامعـه او مخصوصـاً اتـن کـې هلتـه چـې سـوداگري او صنعـت پـه مـخ تلـلي و، يـوه بلـه ډلـه خلـک وو چـې هغـوی بـه د خارجيانـو يـا (ميټـک) پـه نامـه يادېـدل. دوی د سـوداگرۍ او صنعـت لـه کبلـه لـه نـورو ملکـو نـه هلتـه تلـلي او مېشـت شـوي وو. پـه اجتماعـي لحـاظ پـه دوی کـې تبعيـض نـه و. د غلامانـو پـه شـان بـه دوی اجبـاري کارونـو تـه نـه مجبورېـدل، يـو ځـای بـل ځـای يـې تـگ راتـگ کـولای شـوای؛ مگـر لـه هـر ډول سـياسي حقوقـو څخـه محـروم وو او د دولـت پـه هېـڅ غونـډه کـې يـې گډون نـه شـوای کولـی.
دا وه د يونـان او مخصوصـاً د اتـن ځلانـده ډيموکـراسي چـې ننـنـي يونـان پوهـان يـې پـه

۱۷۰. يوناني ژوند او فکر د ډاکټر هو تاليف د نيويارک چاپ (۱۹۴۸) ۱۰۴مخ.

ځغـرده ارسـتوکراسي او او لیـګارشي بـولي. یـا ډیموکـراسي پـه ډېـره اعلـی توګـه، مګـر یـوازې د یونـاني جامعــې د وړې برخــې یعنــې د اصـلي غړیـو نارینـه وو لپـاره.

کابل مجله، یودېرشم کال، ۱۳۴۰ ل، د وږي میاشت، شپږمه ګڼه، ۱ او ۵ مخونه.

# د پښتونستان لنډه پېژندنه او یو څو خبرې

## د پښتونستان د ورځې په افتخار

### لومړنۍ خبرې

هغه خاوره چې د پښتونستان په نامه یادېږي؛ له ډېره قدیمه ودانه ده، له دې امله یې اوسېدونکي هم د پېړیو-پېړیو تاریخ لري، د زمانې په اوښتو را اوښتو سره دغه ولس خپل هویت ښه مشخص کړی او بېل کرکټر او جلا شخصیت یې غوره کړی دی، د دغه شخصیت ټول مشخصات د پښتونستان په درنه کلمه کې نغښتي او چې کله دغه کلمه تر غوږه شي؛ ګواکې د یوه ولس ټول خویونه او صفات د سړي په زړه شي.

### موقعیت او خلک

پښتونستان د اسیا په زړه کې څه قدر لوېدیځ او سوېل ته متمایل او شمال نه جنوب ته اوږد غزېدلی دی، پلنوالی یې لږ دی او چې څومره له قطب نه سوېل ته کېږي؛ پلنوالی یې زیاتېږي؛ مګر لوړوالی یې کمېږي چې له بحیره عرب سره اړخ لګوي، که شمالي څنډې؛ یعنې د چترال غرونه مثلاً د (لاسپور) د غره څوکه یې نږدې صفر ته لوېږي، همدغه اختلاف دی چې په آب وهوا کې یې توپیر پیدا کوي او په نباتاتو کې یې تنوع راولي، لمرختو ته یې د پاکستان د کشمیر او پنجاب علاقې دي، شمالي څوکې ته یې د هندوکش د سلسلې د سر غرونه دي، په شمال غرب او غرب کې په زیاته برخه له افغانستان او یو څه هم له ایران سره لګېږي، جنوب ته یې د عرب بحیره ده، څنګه چې د برتانیې له استعماري دوران نه وروسته دغه هېواد په سیاسي لحاظ د خپل جوړښت په لومړنیو پړاوونو کې دی؛ له دې امله یې له ګاونډیو هېوادو سره سرحدي کرښې پوره ټاکل شوې نه دي؛ مګر د تجدید لپاره یې پښتونستان شپه او ورځ لګیا دی، مبارزې کوي، څنګه چې پښتونستان قدیمي ملک دی؛ سیمې یې هم ښې مشهورې دي؛ لکه چترال،

سوات، مرکزي پښتونستان (د هزاره، مردان، پېښور، ديره اسماعيل خان، کوهاټ او بنو په شمول) جنوبي پښتونستان (بلوچستان) تينول، اباسين، باجوړ، د مومندو علاقه، دير، تيرا، وزيرستان او کورمه، دغه يې ډېرې مشهورې سيمې دي چې هره يوه يې بيا ځانله وړې برخې لري، په دغو سيمو کې اپريدي، سالارزي، ماموند، غلځي، اوتمانخېل، دوړ، مسعود، وزير، مومند، خټک، يوسفزي (تر هر قومه زيات)، بټني، بلوڅ، بروهي، ترکاڼي، کاکړ، ترين، شينواري، ساپي، بنګښ، توري، اڅکزي، اورمړ او داسې نور مهم قامونه اباد دي، هر قوم ځانله پرګنې او خېلونه لري.[۱۷۱]

د پښتونستان خلک تر اوسه سرشماري شوي نه دي؛ مګر د اتو ميليونو په شاوخوا کې اټکلېږي، داسې چې دغه هېواد په لوړه او ژوره او آب وهوا کې سره توپير لري؛ د وګړو کثافت يې هم ډېر متفاوت دی؛ مثلاً د پېښور په ښار او د شاوخوا نږدې سيمو کې د نفوسو کثافت په هر مربع کيلومتر کې له (۷۰۰ نه تر ۲۰۰۰) پورې دی، په شب قدر (د پېښور شمال ته) له (۲۰۲ نه تر ۷۰۰) پورې او په دير او باجوړ او چمن کې له (۵۱ نه تر ۲۰۰) پورې او په بنو کې له (۱۱ نه تر ۵۰) پورې دي.[۱۷۲]

د دغه هېواد وګړي له نوي فيصده زيات په پښتو ګړېږي (له پښتو وروسته بلوڅي ژبه ډېره ويله کېږي) او په بلوچستان کې رواج لري، په ځينو لويو ښارو؛ لکه پېښور، مردان او همدا راز د هزارې په ضلع کې د اينکو ژبه هم شته، اورمړي په کاڼيګرام کې د اورمړ د طايفې ژبه ده، چترالي ژبه په چترال کې د هغې سيمې له نورو محلي لهجو (نرستي، کلاشي، ديلي، لټکوي، يرسکي؛ يا شګلي، ګجري) سره متداوله ده، داسې هم تينولي ژبه په تينول کې له پښتو سره خوا په خوا ژوند کوي.

د پښتونستان په هوارو او منځنيو برخو کې ټول وګړي مسلمانان او اهل سنت دي؛ يوائې په (کورمه) کې (توري) پراته دي، دوی په مذهب شيعه دي او پښتو ګړېږي. په چترال کې اهل سنت او جماعت شته، کلشي مذهبي خلک هم پکې ميندل کېږي چې د چترال زاړه خلک پرې عقيده لري، مولايي مذهب د اغاخان پيروان دي او اسماعيليه او باطنيه يې هم بولي، داسې هم يو بل مذهب د باشکلي په نامه شته چې د نورستان يو زوړ مذهب دی.[۱۷۳]

---

۱۷۱. د پښتونستان له کتاب نه، د ښاغلي بېنوا تأليف، ۱۳۳۰ ل، کال چاپ.

۱۷۲. د اتنوګرافۍ نقشه، تأليف: د اتحاد شوروي، د علومو د اکاډمۍ د اتنوګرافۍ انسټيټوټ، مسکو، ۱۹۵٦ م.

۱۷۳. د پورته مطالبو زياته برخه د ښاغلي بېنوا د پښتونستان نومي تأليف له بېلو-بېلو پاڼو نه ټول شوي دي.

په پښتونستان کې دین د عقیدې شکل لري او پښتانه د خپل ژوند ټولې چارې د پښتونولۍ په اساس فیصله کوي، پښتونولي د دوی هغه لرغونی رسم دی چې د دغه ساهو ولس د اخلاقو، حقوقو، ذهنیت او د قومونو او افرادو د ذات البیني مناسباتو منعکس کوونکې دي.
په قانوني او حقوقي لحاظ د پښتونولۍ مهم عناصر دا دي:
جرګه، مرکه، توره، ناموس، تیږه، ګوند، بدل، چیغه، برمته، بدرګه، یرغمل، پور، ننواتې، پلو، روغه، سور لاسي او داسې نور چې هر یو یې ځانله تشریحات غواړي او د دې ورې لیکنې کار نه دی.

## د ډیورنډ کرښه

انګلیسانو لومړی پښتونستان له خپل ابايي او اصلي هېواد (افغانستان) نه په زور بېل کړ او په یوه خارجي هېواد؛ یعنې هند پورې یې تړلی وښود، افغانستان له هغه ابتدا نه د خپل تمامیت لپاره کوښښونه وکړل او د دغه منظور لپاره یې د انګلیس له قهار دولت سره له جګړو او جنګو نه هم لاس وا نه خیست، د انګلیسانو دوه مسلح تجاوزونه په (۱۸۴۸م) او (۱۸۷۸ م) کې د دغه حقیقت شاهدي ورکوي، د انګلیسانو له دویم تجاوز نه ړومبی افغانستان خپل متصرفات بایلول او د وجود ډېرې برخې یې (پښتونستان په شمول) له لاسه ورکړې، انګرېزانو په دویم تجاوز سره یې خپله واکمني هم نیمګړې شوه، خارجي واکمني ترې انګلیسانو وشوکوله او یواځې داخلي اختیار ورته پاتې شو؛ مګر په (۱۸۹۳م) کې انګلیسانو د خپل مقصد لپاره له نیم مستقل افغانستان نه د مستقل افغانستان په حیث کار واخیست او د ډیورنډ کرښه یې د اوسني افغانستان په شرقي سرحداتو کې د پښتنو په قومو کې ایستلې وشمېرله؛ داسې چې مثلاً د یوه قام نیمايي برخه اوسني افغانستان ته پاتې شوه او بله برخه یې په برتانوي هند پورې تړلې وښودل شوه، تړون په کابل کې د ډیورنډ او امیر عبدالرحمن خان تر منځ وشو؛ مګر د هغو سیمو خلک له تړون نه بېخي خبر نه وو، تر اوسه هم ځایي خلک یې حتی نوم نه پېژني، هغه وخت چې په (۱۹۱۸ م) کې د امیر امان الله خان په وخت کې افغانستان بېخي ازاد شو؛ دغه تړون خپل حقوقي ماهیت (که یې لاره) بالکل بایلود او بیا څه وخت چې انګرېزان له هند نه په وتلو مجبور شول؛ د ډیورنډ معاهده هم قانوناً ورسره لاړه، څنګه چې دا معاهده لا اول د کاغذ پر مخ منحصره وه؛ اوس نو بېخي د ارشیف په دوسیو کې په خپله د تاریخ جز شوه. د افغانستان شورا وروسته بیا دغه کاغذي معاهده رسماً کلوله کړه او په کاغذداني کې یې واچوله.

## د پښتونستان د جوړېدو په هڅه

پښتونستان بېشکه چې يو ولس دی؛ په دغه ولس کې د مليت ټول عناصر غونډ دي، دغه حقيقت موافق او مخالف او دوست او دښمن او حتی پاکستان هم مني او منکر يې نشته؛ يواځې هغه څه چې له دغه ولس نه دولت ساز کړي؛ واکمني ساورنټي (Sovereignty) ده چې له بده مرغه د اتلسمې پېړۍ په ابتدا او د نولسمې پېړۍ په دوران کې انګليسانو له هغوی نه سلب کړي او دغه ولس يې ترې محروم کړی و؛ مګر پښتانه د خپلې دغې واکمنۍ د استرداد لپاره همېش له انګرېزانو سره په جګړه وو، له چترال نه واخله آن تر بلوچستان پورې په ټول ازاد سرحد کې شامدام د پښتنو او انګرېزانو جګړې او نښتې پېښې شوې دي.

د «چترال، جندول او باجوړ په علاقو کې انګرېزانو سره د غازي عمراخان جنګونه او د (لکنړو) لوی جنګ چې د هډې صاحب له خوا شوی و؛ د ډيورنډ د کرښې پر خلاف د پښتنو لومړنی اعلان جنګ و، دغه شان په (۱۸٦۸ م) کې د ډېرۍ شبقدر غزا چې په ټولو سرحدونو کې يې لمن اوږده شوې وه او په (۱۹۱۴ م) کې د اکرب ډاګ غزا په (۱۹۳۰م) د ګنداو او نهاکي غزاګانې دا ټولې د ډيورنډ د لين په خلاف د دغه فرضي لين نه هغه خوا شوي دي».[۱۷٤]

د پښتونستان هغه سيمې چې په انګرېزي هند کې محکومې وې؛ هم تل د ازادۍ له شور-زوږ نه ډکې وې، د خدايي خدمتګارو ډلې چې مشر يې خان عبدالغفارخان و؛ د کانګرس د ډلې او نورو جمعيتونو په ملګرتيا د انګرېزانو د وتلو لپاره په سختو مبارزو اخته وو، چې له دويم نړيوال جنګ نه وروسته يې انګرېزان له لوی هند نه وايستل او چې څه وخت د برتانوي هند د وېش وخت راغی؛ پښتانه په کلکه ودرېدل او د ازاد اوسېدلو اعلان يې وکړ؛ مګر د مسلم ليګ او د کانګرس حزبونو او د انګرېزانو فيصله دا وه چې پښتانه دې يا هند غوره کړي او يا دې نوی جوړېدونکی پاکستان ومني، خدايي خدمتګارو او په هغوی کې خان غفارخان دا فيصله نه منله، دوی د پښتنو لپاره د سلف ډيټرمنيشن په اساس خپل ملک غوښته او په دې ټينګ وو چې له پښتنو نه دې داسې پوښتنه وشي چې هغوی پاکستان غواړي؛ که هند او که ځانله جلا ملک او چې د دوی دغه مطالبه و نه منل شوه؛ پښتنو په ريفرنډم کې برخه وانه خيسته او په سلو کې له پنځوسو نه زياتو وګړو له ريفرنډم سره مقاطعه وکړه، د هند په مقابل کې نوی پاکستان

۱۷٤. نوی ژوند، د ښاغلي رښتين تأليف، ۷۳ مخ.

جوړ شو؛ مګر پښتانه او بلوڅ په خپل هوډ ولاړ وو او د ځانله پښتونستان په جوړولو کې سره په ټینګه ودرېدل، نوی پاکستان د دوی د حقه مطالبې په مقابل کې لا منطق و؛ ځکه یې ځواب په استدلال ور نه کړای شو، له زور او قوت نه یې کار واخیست او پښتانه او بلوڅ مبارزین یې په جېلونو کې وغورځول؛ آن تر دې چې د بندیانو شمېر یې دولس زرو تنو ته ورسوه، سره له دې هم پښتونستان په خپلې مطالبې ټینګ و، د هند د وېش په وخت کې افغانستان نوی تأسیس شوی پاکستان ته د پښتنو د سرنوشت په باره کې د دوی د حقوقو غوښتنه وکړه، نور څه و نه شول؛ خو دومره وعده ورکړی شوه، چې د ازاد سرحد د پښتنو ازادي به خوندي وي.

## تازه پېښې او نوې مرحله

د پښتونستان خلکو د (۱۹۴۷ م) نه تر دې دمه پورې د پښتونستان د تشکیل لپاره د پاکستان په مقابل کې منظمې او درنې مبارزې په مخ بیولې او هېڅ وخت هم کرار او غلي ناست نه دي، په دې لاره کې یې ډېر تاوانونه وګالل او ډېر شاه زلمیان او ازادیخواهان یې په قربانۍ ورکړل، د چارسدې قتل عام یې یو ښکاره مثال و؛ خو دومره و چې د خدایي خدمتګارو ډله په عدم تشدد ټینګه وه او په دې فکر وه چې ګواکې د پاکستان حکومت به له واقعبینۍ نه کار واخلي او یوه ورځ به د پښتنو او بلوڅو سلف ډیټرمنیشن ته غاړه کېږدي، د خدایي خدمتګارو د ډلې لویانو به خپل ولس ته همدا ویلي؛ خو ځوارلس کاله تېر شول او پاکستان لا هماغسې د زور سیاست په مخ بېوه، اخر ولس په تنګ شو او په خپلو مشرانو یې زور واچوه چې د یوه واضح حق د تحقق لپاره نورې لارې چارې هم شته، په دې ډول له یوې خوا په محکوم پښتونستان کې مبارزې شدت وموند او له بلې خوا په ازاد پښتونستان کې فعالیت زیات شو؛ مګر د پاکستان په محکوم پښتونستان کې په بند لاس پورې کړ او په ازاد پښتونستان کې یې په دیر او باجوړ ور ودانګل، توپونه او ماشینګڼ یې پرې وچلول او د امریکې د جټ په طیارو سره یې درانه بمونه پرې وغورځول، ډېر واړه، زاړه او ځوانان یې ووژل، په سوونه کورونه او زیات شمېر کلي یې ونړول، سره له دې هم مبارزه جاري ده، په ازاد پښتونستان کې د پاکستان د حکومت په مقابل یرغلونه او حملې دي او په محکوم پښتونستان کې د عدم اطاعت تحریک په شدت روان دی چې د پاچاخان له بند نه وروسته تر اوسه قریب شل زره عالم بندیان شول، مجلې او ورځپاڼې یې بندې شوې، جایدادونه او شته یې ضبط شول، دا ټول بس د دې لپاره چې د پاکستان حکومت د پښتونستان خلک وبېروي او د سلف ډیټرمنیشن له حق نه یې محروم کړي؛ مګر دا خام فکر دی، د پښتونستان ولس اوس له مبارزو سره اموخت نیولی، دوی په

مبارزو کې پاخه شوي او په مبارزو کې راهسک شوي دي؛ همدغه سبب دی چې تش لاسي؛ مګر په ازادۍ مېن پښتونستانیان جېلونه او زندانونه خوښوي، له مال او شتو نه تېرېږي، سرونه قربانوي؛ مګر له ازادۍ نه نه تېرېږي، دا مبارزې به تر هغو کوي چې د ازادۍ ناوې خپله کړي او تللې واکمنې بېرته د ځان کړي.

## افغانستان او پښتونستان

د افغانستان او پښتونستان خلک په خپلو کې سره نه شلېدونکي علایق لري، په قومیت کې، په ژبه کې، په دین او مذهب کې، په رسم او رواج کې، په کولتور او تاریخ کې، د ژوند چارچلند کې او په پای کې په هر څه کې سره یو عالم اشتراکات لري. دوی اوس سره ډېر نژدې دي، پخوا لا د دوی دغه نزدېکت په صفر کې و؛ یعنې دوی اصلاً یو وو او بېلتون یې سره نه درلود؛ خو یوائې انګلیسان وو چې په وروستیو دوو پېړیو کې یې په دوی کې دویي راوسته، جعلي او مصنوعي کرښه یې د دوی تر مینځ ایستلې وښوده او دوی یې سره جلا کړل؛ په دې ډول انګرېزانو یو غیرطبیعي کار ته ملا وتړله.
افغانستان له اول سر نه د امیر دوست محمدخان نه تر اوسه د افغانستان د سالمیت او د پښتونستانیو ورونو او د حقوقو د خوندي کولو لپاره چې څه کوښښونه و نه کړل او څومره تاوانونه او کړاوونه یې و نه ګالل؛ خصوصاً د هند له وېش نه وروسته په دې څو کلونو کې یې د هغوی کلک ملاتړ وکړ او لا لګیا دي کوي یې، د افغانستان اینده په پښتونستان تړلې او د پښتونستان تمامیت د افغانستان تمامیت دی، افغانستان به افغانستان نه شي، چې پښتونستان-پښتونستان شوی نه وي، له پښتونستانیو سره د افغانستان د خلکو مرسته یواځې اخلاقي مرسته او د زړه سوی له امله نه ده؛ بلکې دا یو ضرورت دی او دا داسې یو ضرورت دی چې زموږ ژوند او موجودیت یې وایي او پرې حکم کوي.
د افغانستان د خلکو له خوا د پښتونستان له خلکو سره مرسته نه کول او یا د پښتونستان له مسئلې نه ډډه کول؛ داسې وبوله چې ګواکې موږ اساساً له خپل سالمیت او موجودیت نه بې پروا یو او د ځان په فکر کې نه یو، دغه وجه ده چې زموږ حکومت د پښتونستان د خلکو په سلف ډېټرمنیشن په ټینګه ولاړ دی او په دې عقیده دی چې تر څو دغه کشاله په خپله د پښتونستان د خلکو په خوښه او رایه هواره نه شي؛ په بل راز کېدای نه شي.

## د پاکستان د حکومت خطرناک روش

څنګه چې د ډیورنډ کرښه مصنوعي ده؛ داسې هم پاکستان غیرطبیعي او د مصلحت او سیاست زور مخلوق دی. پاکستان تر اوسه سیاسي ثبات او استحکام نه لري او تل پکې نارامي او شخړې روانې وي، سیاسي ګډوډي او د یوې ډلې غورځېدل او د بلې هسکېدل پکې په کثرت وي.
څوارلس کاله یې د عمر وشول؛ خو تر اوسه لا د اساسي قانون څښتن شوی نه دی، دا ټول د هغو اضدادو منطقي نتیجه ده چې د دغه ملک بنیاد پرې ایښودل شوی دی او که داسې نه وای؛ باید پاکستان له هندوستان سره اوږه په اوږه روان وای؛ مګر موږ پوهېږو چې په دغو دوو غبرګونو هېوادو کې اجتماعي نظامونه او سیاسي استحکام سره توپیر لري، اوسنی عسکري حکومت د دغه کش وګیر په لړ کې اوچت شوی او لویه تکیه یې په زور او په وسله ده، که نن له هغه نه زور او قوت سلب شي؛ سبا ته به دغه اوسنی پاکستان نه وي؛ له دې امله ده چې له یوې خوا یې عسکري حکومت دایمي کړی او له بلې خوا یې ځان په دوو نظامي اتحادیو (سیاټو او سنټو) کې نښلولی دی او په محکوم پښتونستان کې یې هم نورو هېوادو ته د نظامي اډو اجازه ورکړې او په دې ډول یې پښتونستان او خپل هېواد د شرق او غرب په سره جګړه کې رسماً داخل کړی دی، د همدغو اتحادیو په ډاډ هم دننه په پاکستان او پښتونستان کې سیاسي ډلې ړنګوي او مخالفان بندیانوي او هم له افغانستان سره چې د پښتونستان د خلکو د سلف ډیټرمنیشن قوي حامي او د پاکستان د حکومت په اصطلاح د دوی همسایه دی؛ مناسبات قطع کوي، دا ټول د دې لپاره چې د ولس ذهنیت خارج ته متوجه کړي او په دې پلمه چې افغانستان په پښتونستان کې مداخله کوي؛ په باجوړ، دیر باندې لښکرې ورخېژوي او په محکوم پښتونستان کې په زوره ازادیخواهان بندیانوي او شته او مالونه یې ترې اخلي.
له بلې خوا څنګه چې د پاکستان د حکومت زیاتره اوسني واکمن یا د مارشل لا د حکومت طراحان اصلاً نظامي او عسکري کسان دي او د هېواد په چارو او اداره څنګه چې د عصر تقاضا ده؛ نه پوهېږي، زیار باسي چې نظامي صحنې جوړې کړي چې عسکري ماجراجویي پکې وکړي او خپل نظامي لیاقت پکې ښکاره کړي، دوی په همدې لړ کې له افغانستان سره داسې چلند رااخیستی چې که د افغانستان حکومت د هغه په مقابل کې لمسوونکي کارونه وکړي او دوی په دې ډول افغانستان د پاکستان ولس ته متجاوز معرفي کړي؛ په حقیقت کې د پاکستان د حکومت واکمن له مجاورو هېوادو او په تېره بیا افغانستان سره قصداً داسې وضع رااخیستې؛ دا د دې لپاره چې د هغوی فشار خپل

حکومت ته متوجه کړي او په دې ډول د خپل هېواد خلک ډېرو درنو کارو ته ورکش کړي او داسې حال جوړ کړي چې له ولس نه عسکري او نظامي زورروه قراني پرې وغواړي.
لنډه دا چې کش وګیر او ماجراجویي کول او ملي او بین المللي مسایلو کې د زور او قوت استعمالول او بالخاصه له افغانستان او پښتونستان سره دښمني چلول د پاکستان د موجوده نظامي حکومت د داخلي او خارجي سیاست غټ-غټ عنوانونه دي.
ډېره موده پکار ده چې د پاکستان د حکومت واکمن د هېواد چارې او اداره ځنګه چې ښایي؛ هغسې زده کړې او بین المللي او په هغو کې له افغانستان سره ذات البیني مسایل د حقوقي موازینو او د عصر د منطق په اساس حل کړي؛ خو تر هغو به د دوی د زور او ماجراجویي سیاست له ډېرو خطرو نه ډک وي چې هغه به په خپله د پاکستان ولس د پښتونستان خلکو او افغانستان ته زیانونه اړوي او په دې ډول به د دوی دغه روش په دغه سیمه کې د ناکرارۍ سبب کېږي او جهاني امن به په خطر کې اچوي.

کابل مجله، ۱۳۳۷ ل کال، وږی، ۱۲ګڼه، پرلپسې ګڼه ۴۶۳، ۱-۳ مخونه او وروستی مخ.

# زموږ ملي بنادي

په ولسونو او قومونو کې لوی لوی طاقتونه او قوتونه شته، طوفانونه له دوی څخه ولاړیږي، اوښتنې او تحولات دوی منځته راوړي او انقلابونه او شخصیتونه دوی زېږوي؛ خو دوغومره ده چې دا قوتونه تل نه وي ښکاره؛ بلکې زیاتره پټ غوندې وي. یوازې هغه وخت برسیره کیږي او ولسي مشران تبارز کوي چې د اوچتیدو عوامل او شرایط برابر شي. کله چې دا ټول عوامل سره ګډ او ملګري شي او دا یې نیت شي چې یو ولس وخوځوي او طوفانونه را ولاړ شي او انقلابونه ترې جوړ شي. په همدغسې انقلابونو او طوفانونو کې وي چې ملي قهرمانان او ولسي مشران را اوچت شي او تبارز وکړي او داسې لوی لوی کارونه وکړي چې د خپل ولس تاریخ یې په ډېر ویاړ ثبتوي.
خوځېدنې او اوښتنې چې ولسي رنګ ولري د ولس په ګټه تمامیږي، همدغه وجه ده چې تاریخ یې د یوه ولس لپاره زښت زیات ارزښت لري او د یوې ټولنې وګړي ورته په درانده نظر ګوري. د ملي مشرانو او ملي مبارزینو قدر او عزت چې په هره ټولنه کې له حده زیات وي له همدغه حقیقت څخه ولاړیږي. دا ځکه چې شخصیتونه او قهرمانان د ولس په ویښولو او اوچتولو کې زیات اثر لري.
دوی که تاریخ نه شي جوړولی خو د تاریخ په جوړولو کې خو زښت زیات کومک کوي. هغه جامعه چې د زرګونو کلونو تاریخ لري؛ نو به هرو مرو داسې اوښتنې او خوځېدنې په کې زیاتې وي او شخصیتونه او ملي قهرمانان به هم هرو مرو په کې ډېر ځله ولاړ شوي وي، همدغه دلیل دی چې په پښتني جامعه کې چې د بشریت له ډېرو قدیمي ټولنو څخه ده د انقلابونو او طوفانونو ورځې او شپې بې شماره دي. په هغو کې یوه هم په (۱۲۹۷ ل) کال کې د جوزا شپږمه (۲٦ د مې، ۱۹۱۹ م) ورځ ده. دا ورځ د ټولې پښتونخوا غیرت، میړانه، توره او قوت راښيي. په همدغه ورځ کې و چې پښتون ولس بایللی پت پر ځای کړ. خپله پښتونواله یې ترسره کړه او دا یې وښوده چې پښتون په ازادۍ مین دی او هیڅوک دا قدرت نه لري چې پښتون لاندې وساتي او قدرت پرې وکړي.
په همدغسې ورځ کې و چې پښتون ولس خپل طبیعي او ذاتي اختیار چې نورو ترې سلب کړی و، بیرته خپل کړ او د اینده ژوند لپاره یې لوی نظام او لوی سیستم برابر کړ

او په نوې لار روان شوو. دا نوی نظام او نوی ژوند یوازې د ده په مټ او زور حاصل شو. هو یوازې همدا ولسي زور او قوت و چې پښتنو په شلخیو توپکونو سره وکړای شو، د نړۍ له ډېر زورور طاقت سره پنجه ور کړي او پرنګیان چې لښکرې، توپونه او ماشینګنې او بمونه یې بې شماره لرل مات او په شا کړي او دې ته یې مجبور کړي چې د پښتون په حق اقرار وکړي او د یوه ازاد بشر په حیثیت ورته قایل شي.
اصله قصه دا ده چې پرنګیان د اتلسمې پېړۍ له صنعتي انقلاب څخه را په دې خوا مخ په قوت او زور شول، تر دې چې په نوولسمه پېړۍ کې د نړۍ اول نمبر قوت شول او پورته لر او بر وګرځېدل، مځکې او هېوادونه یې لاندې کړل. پر دې ډول یې د نړۍ تر لمړي جنګ (۱۹۱۴ - ۱۹۱۸ م) پورې د دونیا څلورمه برخه ونیوله او لوی جنګ یې هم وګاټه او فاتح شول.
د همدغه زور او قوت په ډاډ و چې، په نوولسمه پېړۍ کې د ټول هند له لاندې کولو ورسته، په دې فکر شول چې د هندوکش ناوو او مرچلونه خپل کړي، له ځوکو او هسکو څخه یې واوړي او منځنۍ اسیا ته ننوځي او هغه هم په خپلې امپراتورۍ کې ننباسي.
دوی د خپل ډېر زور او تخنیکي لوړوالي په اثر غره وو چې بې له کوم مانع به د هندوکش په درو وړاندې درومي او لکه نور ځایو کې چې بې له سختو مشکلاتو کامیاب شول، دلته به هم کامیاب وي او ځوک به ونشي کړای د دوی مخې ته ودرېږي. همدغه وجه وه چې فارورډ پالیسي یا د وړاندې تللو سیاست یې غوره کړ؛ خو د هندوکش په درو او سیمو کې هغه څه پرې وشول چې دوی یې ګمان نه کاوو. د پښتونخوا زلمیانو د دوی نقشې ورانې کړې، په درو او مرچلو کې یې په ځان راوستل او مجبور یې کړل چې د وړاندې تګ له سیاست څخه لاس واخلي او بل سیاست غوره کړي؛ نو یې په ټګي او چل ول لاس پورې کړ او دې سیاست ته یې په اساني سره رخنه پیدا کول وویل. که څه هم پرنګیان له نن څخه اتیا کاله د مخه په دې ظاهراً موفق شول چې د ګندمګ معاهده پر پښتنو وتپي او له هغوی څخه واکمني واخلي ... خو پنځه میاشتې ورسته پښتنو په ډېره مېړانې او همت د دې معاهدې پر ضد قیام وکړ، دې قیام مغرور انګلیس په ځان کړ او د سر نشه یې ور والوزوله او په دې فکر یې کړ چې هغه رویه چې له نورو مستعمرانو سره یې را اخیستې وه، ترک کړي، مجبور شول چې پرنګیان زموږ خاوره پرېږدي او د بیخي شر او د دوی د کاملې سلطې د لرې کولو له وېرې داخلي ازادي ومني او یوازې خارجي استقلال په خپل لاس کې غنمت وګڼي.
خو څلویښت کاله ورسته په (۱۹۱۹ م) کې پښتون ولس دا فیصله وکړه چې د نړۍ له ډېرې زوروري امپراتورۍ څخه د مټ په زور خپل استقلال خپل کړي. اول یې په ارامۍ سره مرکه او جرګه ور ولېږله او پرنګیان یې دېته وبلل چې د پښتون قوم فیصله ومني.

مګر مغرورو او د لوی جنګ فاتح انګریزانو چېرته دا منله چې انګریزانو چې غښتلی او پیاوړی جرمن ته ماتې ورکړې وه او بین المللي ستره جګړه یې ګټلې وه؛ نو څنګه به پښتانه له دوی سره د جګړې کولو خیال کوي او څنګه به دوی د نړۍ د ډېر زورور طاقت په حیث د پښتنو حق ته غاړه ږدي؛ مګر د پښتون قام او ولس فیصله بل څه وه.
چې په دې پوه شول پرنګیان د دوی حق ته غاړه نه ږدي؛ نو یې په زغرده د جنګ اعلان وکړ او په درې خواوو ــ خیبر، پیوار او سپین بولدک یې پرې را ودانګل. دا باید وویل شي چې انګریزانو (۳۴۰۰۰۰) عسکر د پښتنو په لور را وخوځول، همدارز عصري وسلې چې توپ، توپک، طیارې او بمونه په کې شامل وو، هم زیات لرل. د دوی په مقابل کې پښتنو (۵۰۰۰۰) منظم عسکر او یوازې څو سوه توپکونه لرل؛ مګر پښتانه دې خیر اوسي د جنګ په وخت کې یې ټول جنګیالي او عسکر، ښځې او پېغلې هم په کې برخه اخلي، سره له دې چې انګریزان ډېر وو او په بین المللي جنګ کې یې د جنګ ټول رازونه تازه زده کړي وو، خو بیا هم د پیوار په دره کې لاس او پښې شول.
د پښتنو عسکرو، د جنرال محمد نادرخان په مشرتابه داسې ګزارونه پرې وکړل چې دوی ته یوازې تېښته پاتې شوه، ټل او نور ځایونه یې ترې ونیول او د دوی په اصطلاح د هند په امپراتورۍ کې ور دننه شول. د جنرال محمد نادرخان فتحې دوی دېته په فکر کړل چې افغانستان بلکل پرېږدي او اوس د هند اباده امپراتورۍ له ټوټه کېدو څخه خلاصه کړي، همدغه وجه وه چې ډېر ژر یعنې د (۱۹۱۹ م) کال د مې په (۲٦مه) چې د (۱۲۹۷ ل) کال د جوزا له شپږمې سره سمون خوري، انګریزانو د پښتنو کامله خپلواکي ومنله او په دې ډول یې د خپلې امپراتورۍ د ټوټه کېدو خطر له ځانه لرې کړ. که انګریزي مورخان وایي چې د جنګ په منځ کې یعنې هغه وخت چې جندرال نادرخان د افغانستان له خاورې نه واوښت او د دوی په اصطلاح د هند خاورې ته ورننوت او له بلې خوا پرنګیانو په جلال کوټ او کابل ښارونو باندې بمونه وغورځول، نو افغاني حکومت له دوی څخه متار کې غوښتنه وکړه، مګر د عقل او فکر خاوندان په لږ سوچ سره دا پروپاګند بې اساسه او غلط ثابتوي، که انګریزان متار کې ته حاضرېدل؛ نو له جنګ نه ږومبی یې د پښتنو حق ته غاړه نه اېښووله او ولې یې د پښتنو ابدي دوښمنۍ د ځان کوله؟ خو اصله خبره دا ده چې کله دوی د پښتون ولس زور ولید او په دې فکر شول چې د هند اباده امپراتورۍ به ټوټه ټوټه شي، نو یې دوراندیشي وکړه او د افغانستان په استقلال یې له ناکامه اقرار وکړ. لنډه دا چې د جوزا شپږمه د پښتنو له پاره د میړانې، زور، تورې، عظمت او پښتونولي ورځ ده. پښتون نسل ته ښایي چې د دې ورځې درناوی وکړي او هغه شخصیتونه او قهرمانان چې د دوی د لاربښوونې په مرسته پښتون ولس وکړای شول د نړۍ اول نمبر قوت مات کړي او خپل بایللی استقلال بیرته ترې خپل کړي، وستایي او قدر یې وکړي.

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د کب نه ویشتمه، دولسمه ګڼه، ۳ او ۴ مخونه.

# د لرغوني یونان دولتي مؤسسې

لرغونی یونان له (۳۹) ښاري دولتونو څخه جوړ او هر ښاري دولت ځانله داخلي تشکیلات لرل، یعنې دوی ټول په داخلي چارو کې آزاد وو او اصلي اعضاو په لړ او ډېر اختلاف سره په دولتي کارونو کې ګډون کاوه، له دې کبله ده چې د یونان ډیموکراسی ته مستقیمه ویله کېږي؛ خو د ډیموکراسی او ډیموکراتو تشکیلاتو له کبله آتن ډېر شهرت لاره. آتن لومړی د یوه پاچا او یوې شورا لخوا چې هغه هم د نجباو او زمیندارنو له خوا جوړېده، اداره کېده؛ خو چې څه موده تېره شوه، پاچا له منځه لاړ او قدرت د نجباو شو، په دې موده کې د ارستو په وینا «حکومت یواځې د څو تنو په ګټه و؛ ولې غریبان او نادارہ خلک د خپلو کورنیو سره د شتمنو غلامان و». که بزګرو چې د نجباو ځمکې یې کرلې نه شوای، د اجارې قیمت خپلو بادارانو ته تادیه کړي، نو دوی او د دوی اولادونه به د غلامانو په څېر خرڅېدل، د غریبانو او شتمنو په منځ کې همدغه توپیر د ډېرو جنګو سبب شو، تر څو چې په (۵۹۴ ق م) کې یو نفر هوښیار اشرافي مقنن د سولون (Solon) په نوم را ولاړ شو او اصطلاحات یې وکړل، موجوده قرضونه یې لغوه کړل او ډېرو افرادو ته یې د ښاریتوب حقونه ورکړل، یو ملي مجلس یې جوړ کړ او هغه ته یې اکلیزیا (Ecclesia) وویلې، همداسې نورې محکمې او موسسې هم منځ ته راغلې. قاضیان به یې په پچه انتخابېدل او په دې ډول د نجباو قوت یو څه کم شو او په مقابل کې یې ناداره خلک یو څه قوي شول، خو د سولون په مړینې سره طبقاتي او حزبي شخړې بیا زیاتې شوې.

آتن په هغه وخت کې یو صنعتي او تجارتي لوی مرکز و؛ نو سربېره پر دې چې د مځمکې والاو او خالي لاسو په ځمکو ترمنځ یوه دایمي شخړه روانه وه، د کلیو د بزګرو او کسب ګرو او ښاري سوداګرو ترمنځ هم جګړه پیدا شوې وه، ترڅو چې ترانوس یو له اشرافو څخه را ولاړ شو، د خپلو لښکرو په مرسته یې په آتن کې اکرو پولیس ونیوه او ځان یې دکتاتور کړ، که څه هم ترانوس له ځمکه والاو او اشرافو څخه و؛ خو لویې ځمکې یې د خالي لاسو بې ځمکو په منځ کې وویشلې او د اسانو شرطونو سره یې هغوی ته پورونه هم ورکړل، د ښار بیکاران یې د ودانیو او معبدونو او همداسې نورو آبادیو په جوړولو کې

استخدام کړل، لـه هغـه وروسـته د (۵۱۰ قـ م) پـه شـاو خـوا کـې کلیـس تنـس د اتـن لیـډر شـو.
د سـولون اصلاحـات یـې تکمیـل کـړل، دې موضوعـه قانـون پـه اتـن کـې د ډیموکراسـۍ بیـخ ټینـګ کـړ چـې نېـژدې سـل کالـه یـې دوام وکـړ، دده ارزو دا وه چـې طبقـاتي او حـزبي شخـړې د تـل لـه پـاره ورکـې کـړي؛ نـو یـې ټـول ملـک پـه سـلو برخـو وویشـته او هـره برخـه یـې د ډیمـوس (Demos) یعنـې د خلکـو پـه معنـا، مقصـد د هغـو خلکـو و چـې سیاسـي او اجتماعـي حقـوق یـې لـري، پـه نامـه یـاده کـړه. ولـس یـې پـه لسـو خیلـو وویشـه. د ده د جـوړ شـوي قانـون نـه د اتـن ټولـو اتباعـو پـه لویـه غونـډه کـې هـر نارینـه آتنـي چـې لـه دوه ویشـتو اوښـتي وکـولای شـوای پـه کـې برخـه واخـلي.
دا غونـډه د کال لـس کرتـه کېـده، کلـه کلـه بـه د وخـت پـه تقاضـا فـوق العـاده هـم جوړېـده. همدغـې لویـې غونـډې بـه د ښـار لویـان، قاضیـان او نـور ښـاري او دولتـي مامـوران انتخابـول، د دولتـي لویـو مامورانـو د ماموریـت دوره بـه لنـډه وه او د بیـا انتخابېـدو پـر ضـد یـې قوانیـن ایسـتل شـوي و، دا د دې لـه پـاره چـې لـوی مامـوران ورو ورو دکتاتـوران او مسـتبدان نـشي او ټولـو مسـتعدو آتنیانـو تـه د ماموریـت وار ورشي.
د ښـار د اداري لپـاره بـه لـه هغـه لـس خېلـو څخـه لـس لویـان انتخابېـدل یعنـې د ښـار اداره بـه د لسـو انتخـابي لویانـو پـه لاس کـې وه، د آتـن حکومـت بـه دوه شـوراګانو اداره کاوه، یـوه پینځـه سـوه کسیزه شـورا او بلـه هـم د قاضیانـو محکمـې، پینځـه سـوه کسیزه شـورا بـه لـه لسـو خېلـو څخـه جـوړه وه، پـه دې ترتیـب چـې هـر خېـل بـه پنځـوس کسـه پـه پچـې سره ټـاکل او لـه مجمـوع نـه بـه یـې اجرائیـه کومېټـه جوړېـده، د حکمتـي لویانـو انتخـاب بـه پـه غیـر مسـتقیم ډول کېـده؛ ځکـه چـې هغـوی بـه د منتخبـو محـلي نماینـده ګانـو څخـه ټـاکل کېـدل، یواځـې د لسـو لښـکري جنرالانـو انتخـاب بـه مسـتقیم و او سربېـره پـر دې دوی حـق لاره بیـا لپـاره هـم انتخـاب شي لـه دې کبلـه دوی بـه زیاتـره نفـوذ او قـدرت تـه رسـېدل او ورسره بـه د دوی پوسـتو سیاسي اهمیـت هـم پیـدا کاوه، د یونـان پـه اشرافي ایالتـو، لکـه سپـارته کـې هلتـه چـې د ارسـتو کراتیـک یـا اشرافي رجیـم برقـرار و، د شـورا پـه ځـای د سـنا مجلـس موجـود و.
د دې مجلـس غـړي بـه سـپین ږیـري و؛ خـو د عمـر لـه پـاره بـه انتخابېـدل او عمومـي مجلـس یـا لویـې غونـډې تـه بـه یـې مسـؤلیت نـه لاره، د دې مجلـس اعضـا بایـد لـه حاکمـې او ممتـازې طبقـې څخـه وای او لـه دې کبلـه د آتـن لـه شـورا څخـه چـې هغـه بـه د خلکـو یعنـې، عمومـي مجلـس لـه خـوا ټـاکل کېـده ښـکاره فـرق لاره.
د آتـن پینځـه سـوه کسیره شـورا نظـر عمومـي مقننـه مجلـس تـه د اجرائیـه کمېټـې حکـم لاره، د حکومـت حقیقـي کار پـه همـدې کمېټـې کـې و او لـه دې کبلـه چـې پینځـه سـوه کسـه د کار

او مشورې له پاره زیات و؛ نو له هغو لسو خېلو څخه به پنځوس کسه انتخابېدل او په دې ډول به پینځه سوه کسیزه شورا په پنځوس کسیزه بدلېده، سربېره پر دې له لسو خېلو څخه به یو یو د مشاور په حیث هم ټاکل کېده. په دې ډول به شورا له شپیتو کسو څخه جوړه وه، د شورا رئیس به هم له هغو پنځوسو کسو څخه یوائې د یوې ورځې له پاره په پچه انتخابېده.

کابل مجله، ۱۳۳۹کال، تله، ۷گڼه، پرلپسې ۴۲۹ گڼه.

# د تاریخ په باره کې

د نوي چاپ شوي کتاب نوم دی. قطعه یې لویه ده. (۱۳۸) مخه لري. مولف یې ښاغلی محمد حسن ساپی، د ادب د پوهنځي لیسانسه او په پښتو ټولنه کې د ادبیاتو د څانگې مدیر دی. کتاب په دولتي مطبعه کې د ادبیاتو د پوهنځي له خوا چاپ شوی دی. دې تالیف په (۱۳۳۷ ل) کال کې د مطبوعاتو د ریاست د عبدالحی گردیزي علمي جایزه وړې ده.
لکه چې له نامه نه یې ښکاري، کتاب له تاریخ نه غږېږي؛ یعنې خپله تاریخ ښيي، حد او حدود یې ورمعلوموي، موضوعات یې ورټاکي، له فلسفې نه یې گړېږي او هغه اصول واضح کوي چې د تاریخ د لیکلو لپاره په کارېږي. لوی بحثونه یې دا دي:
د تاریخ لغوي خوا، د تاریخ د علم تعریف، تاریخ د پوهانو په نظر کې، د پوهانو خبرې، تاریخ کله او څنگه مینځ ته راغی، تاریخي دورې، د تاریخ اقسام، د تاریخ د تحول سیر، د تاریخ اصول یا د تاریخي وثایقو د تدقیق طرز، تاریخ څه شی دی؟، د تاریخ فلسفه او د تاریخ مناسبات له نورو علومو سره.
پوهان په دې پوهېږي چې ټول اجتماعي علوم د طبیعي علومو په څېر تر اوسه د قطعیت په بڼه ښایسته شوي نه دي، یعنې هغومره چې طبیعي علوم مثبت ښکاري؛ اجتماعي علوم لا هغومره مثبت نه ښکاري.
ددې مسئلې لوی علت دادی چې په اجتماعي علومو کې انساني شعور دخل لري او طبیعي علوم یوازې ساده بې شعوره طبیعي فنا مناتر مطالعې لاندې نیسي. دا چې اجتماعي علوم ډېر وروسته د فلسفې له پراخ ډگر نه راووتل او اوس په ځوانۍ او پخېدو کې دي، له همدې سببه دي. تاریخ هم چې د اجتماعي علومو یوه لویه څانگه ده، په دې وروستیو پېړیو یعنې د نولسمې پېړۍ په سر کې، په علومو کې په حساب راغی او له نورو علومو سره په میدان کې هسک شو. سره ددې هم، د تاریخ په علمي توب او مخصوصاً د تاریخ په فلسفه کې تاریخ پوهان یوه خوله نه دي او بېلې بېلې لارې لري.
اصله خبره داده چې څه وخت چې بشر میدان ته راوتی، تاریخ ورسره ملگری شوی دی

او تاریخي پېښې واقع شوې دي؛ خو دومره ده چې د علم او تخنیک حقایق یې وروسته وسپړل او د وقوع اصلي علت یې را معلوم کړ او پدې ډول یې تر یوه حده د اجتماعي پېښو څرنګوالی وښووده. دلته پدې کتاب کې د همدغو پېښو د سپړلو او له هغو نه د قوانینو د را اېستلو موضوعات شته چې مولف په ډېر زیار او زحمت سره راغونډې کړي او په یوه مجموعه کې یې ځای کړي دي. د تاریخ د بحث موضوع داسې ښیي (د تاریخ د بحث موضوع د هغو علتونو، شرایطو او عواملو تحقیقات او مطالعه ده چې دغه راز واقعات «تاریخي واقعات» ترې زېږي نه پخپله واقعات او هغه عوامل او شرایط چې واقعات، انقلابونه او لوی تحولات زېږوي؛ هغه د بشر تولید، د تولید طرز د تولید مناسبات کار او د کار وسایل دي.) د نورو له خولې وایي؛ کار، د کار وسایل، تولید د تولید طرز او د تولید مناسبات له مولده قواوو سره اړېکي لري. بشر کله چې د تولید طرز ته تغییر ورکوي، د هغه ټول اجتماعي روابط اوړي، لاسي ژرنده د غلامی رژیم، بادي ژرنده د ملوک الطوایفي رژیم، او بخاري ژرنده د سرمایه داری رژیم مینځ ته راولي.
شته داسې ډېر پوهان چې اوس هم د تاریخي پېښو زېږونکي عامل له بشر او اجتماعي حیات نه په بل ځای کې ګوري؛ ځکه نو د دوی تاریخ تر فارمول او قانون لاندې نشي راتلای او تاریخ علم نه کېږي. مګر کله چې وویل شي (تاریخ د بشري کړنو زېږنده او د متضادو اجتماعي طبقاتو د مبارزې محصول دی)، دلته تاریخ بشر ته راکوز شي او په انسان پورې تعلق پیدا کړي. څرنګه چې بشري فعالیتونه ځانله محرکات لري او محرکات د انسان له ذهن نه د باندې له اجتماعي شرایطو او محیطونو نه منبع اخلي؛ ځکه نو د پېښو اصلي علت باید د اجتماعي محیطونو په څرنګوالي کې وپلټل شي. له کوم وخت نه چې بشر په فعالیت لاس پورې کړی، تاریخي وقایع ورسره پیدا شوي. البته هغه وخت کار او د کار وسایل لږ او یوازې په ده پورې محدود وو. وروسته چې په کار، د کار په طرز او وسایلو کې توپیر راغی؛ ورسره تاریخي پېښې هم پېچلې شوې. دی یې په علت ندی پوهېدلی، داسې یې ګمان کړی چې محدثان یې دده له اجتماع نه د باندې او ورا دي؛ ځکه یې د باد او باران، فتح او شکست، لوږېده او ځوړېده او داسې نور زېږونکي او راوړنکي ارباب انواع ګڼلي دي او د هغو قهر او غضب او اراده او فعل یې د خپلو وقایعو مسبب بللي دي. مګر دا هم د بشر لپاره یوه مرحله وه او دی مجبور و چې طی یې کړي. دا یې هم وکړل، وویل؛ خو داسې هم پرې وشول، مګر اوس یې ذهن پدې نه قانع کېږي. ساینس او تخنیک ته لاس اچوي او د هغو په رڼا کې خپل اجتماعي حوادث سپړي. زېږوونکي علتونه یې معلوموي، ځکه نو اوس خپل فقر او مرض، بې کاري او ناداري او داسې نور اخلاقي او معنوي ضعفونه او اجتماعي حادثې له بل چانه نه بولي او اجتماع نه یې ګڼي

او د ژوند په سېستم کې یې لټوي. مګر له اجتماعي پېښو نه نتیجه اخېستل کوم اسان کار ندي او هرڅوک یې نه شي کولی تاریخي حادثات هغه وخت ښه تعریف کېږي او ښه پوهېدل او پېژندل کېدای شي چې د یوې حادثې ټول علتونه او عوامل او شرایط وپېژندل شي او د تاریخ علم هم هغه علم دی چې کار یې فقط د حادثاتو د علتونو او سببونو پلټل او میندل دي. له دې سره جوخت په نظر کې دا راځي چې یو مورخ باید د ډېرو صفتونو خاوند وي، تر څو چې تاریخ په علمي توګه ولیکلی شي. یوازې وقایع کښل او د جنرالانو او فاتحانو د اصل نسب افسانې لیکل تاریخ ندي. تاریخ کښل ځانته اصول او لارې لري او یو مورخ ته ښايي چې په ټولو یې پوه وي. یو مورخ باید هرومرو دا قدرت ولري چې تاریخي اسناد معنوي وي که مادي، لومړی په ښه توګه تحلیل کړي یعنې دومره یې چاڼ کړي چې واقعي یې له غیر واقعي او نامربوطو نه بېل کړي او بیایې دغسې ترکیب او یو له بله سره وتړي چې د علمي مېتود په مرسته، کلیات او نتایج ترې و ایستلی شي. سربېره پردې خپله مورخ باید د علمي ذهنیت خاوند وي او دا قدرت ورسره وي چې په تاریخي پېښو کې د علت ارتباط قایم کړای شي.

هر مورخ باید په نظر کې ولري چې:

۱. هره جامعه په تحول کې ده او افاقي قوانین یې اداره کوي او تنظیموي او دغه قوانین د ساینس له نظره د پوهېدلو وړ دي.

۲. د یوې جامعې د مادي او د ژوندانه د شرایطو په انکشاف سره د هغې جامعې موسسات او افکار سیاسي، ایدیالوجیکي او کلتوري ظهور او انکشاف کوي.

۳. موسسات او افکار چې په دې ډول راپیدا کېږي، په خپل نوبت کې د جامعې په حیاتي اوضاع فعال اثر اچوي. پدې اساس که وغواړو د یوې پېښې علت مېنده کړو، باید لاندې ټکو ته پوره پاملرنه ولرو:

- الف: اجتماعي حادثات هغه وخت راوځي چې د حدوث حالات او شرایط یې په اجتماع کې موجود شي، یعنې په خپله علت راووځي. مثلاً که وغواړو چې د فرانسې لوی انقلاب مطالعه کړو، باید لومړی د فرانسې په جامعه کې اوضاع او شرایط وګورو، کوم چې ددې پېښې د ظهور لپاره یې لار خلاصه کړه.
- ب: کله چې حادثات پېښ شول، نتایج او معلول یې وروسته پېښېږي او دغه نتیجه د بشر د آرزو او ارادې نه د باندې او مستقله وي.
- ج: که څه هم شرایط او حالات د همېش لپاره یو راز نه وي، یعنې تحول کوي او شرایط کټ مټ هغسې بیا نه تکرارېږي، مګر دا خبره سمه ده چې په ټولو وقایعو کې د علت ارتباط موجود او پرله پسې وي.

ددې ټولو خبرو سره مورخ کېدل اسان نه دي او ددې لپاره چې یو مورخ که چېرې دغه صفتونه ولري علمي او افاقي تاریخ ولیکي، مجبور دی چې ډېر مشکلات ومني. د تاریخ پاڼې راښیي چې رښتیاني مورخان په ځومره کړاوونو اخته شوي او څومره عذابونه یې لیدلي دي. دا مشکل خصوصاً په هغو جامعو کې زیات دي چې د ذهن له پلوه بېرته پاتې او نارسېدلي وي؛ ځکه چې په داسې ټولنو کې ملي، نژادي، مذهبي، سیاسي، لساني او طبقاتي بندیزونه ډېر او سخت وي او یو متفکر فرد او مورخ په خپل قوي چوکاټ زبېښل غواړي او دي ته یې نه پرېږدي چې افاقي او علمي تحقیق وکړي او حادثات لکه څنګه چې وي هغسې تشریح کړي او نتایج ترې وباسي. همدغه سبب دی چې بېچاره تاریخ تر اوسه د یوه او د بل د ګټې او مقام مفسر ګرځېدلی او نورو استخدام کړی دی. پدې ډول چې کله د ساعت تېرۍ او غم غلطۍ یوه وسیله وګڼل شو او کله د سیاسي او مذهبي قدرتونو د پروپاګنډ اله؛ کله د خپلو ولسونو د پیرو کولو او مدغم کولو لپاره، کله د انسانانو د بدیعي حس د خوځولو په منظور ولیکل شو او بیا کله د تخیل او حافظې د تقویې لپاره. بالاخره د تاریخي زمانې په ترڅ کې تاریخ کله د بشري سترو او وتلیو انسانانو د شخصي ارادې زېږنده وګڼل شو او کله د میتافزیکي قواوو د مطلقې ارادې مظهر.

زموږ په جامعه کې تاریخ کښل لا تر اوسه په ځوانۍ کې دی. درسته ده چې ښایسته زیات اثار به کښل شوي او ډېرې وقایع به یې ثبت شوي وي؛ مګر د تحقیق لارې او مېتودونه یې علمي نه دی او محرکات یې انفسي او عمدي رنګ لري. یو خو دا چې په استعماري دوران کې زیاتره خارجي مورخانو او مخصوصاً انګرېزانو لیکنې کړې. دوی که څه هم پوهان به وو، مګر یو خو د افغاني جامعې په تل کې نه شوای ننوتی او یوازې له بهرني سطح نه یې مواد غونډ کړي او بله دا چې د دوی لیکنې د تاریخ لپاره نه بلکې د نورو لپاره د افغانستان د معرفت په منظور وې. تر پرونه پورې یعنې تر هغه وخت پورې چې انګرېزان په هند کې وو، انګرېزي مورخان زیاتره د اېست انډیا کمپنۍ جنرالان او نوکران وو؛ مګر اوس دوی او داسې نور افغانستان ته زیاتره په دې نظر ګوري چې دا ملک د سوشلستي هېوادو همسایه دی.

ددې ځای په لیکنو کې تر اوسه داسې اثر نه دی وتلی چې ارزښت یې زیات وي او د هغه مېتود له مخې کښل شوي وي چې کاملاً افاقي وي او د تاریخ د علمي مېتود ټول اصول پرې تطبیق شوې وي. همدغه سبب دی چې دلته د اصلي مورخ او علمي تاریخ پېژندنه ګرانه ده. ددې خبرې ښکاره ثبوت دادی چې هغه چاته د مورخ لقب ورکړل شوی دی چې د کوه نور د الماس لرل یې بدشګوم ګڼلی دی؛ نو دا کتاب چې په خپل نوع کې

دلته نظیر نه لري، په ډېر ښه وخت کې له چاپ نه وتلی دی. که څوک په دې پسې وي چې د افغاني جامعې تاریخي حادثات ولیکي او علمي مېتود او اصول پرې تطبیق کړي، مجبور دی چې په پوره غور او دقت یې ولولي او له محتویاتو نه یې ځان خبر کړي؛ ځکه چې په دې کتاب کې ددې پوښتنې د ایضاح لپاره ( چا څه وکړل، چېرته، کله او ولې؟) پوره کوښښ شوی دی.
موږ باور لرو چې دا قوي اثر به په وروستیو تاریخي څېړنو کې ښکاره رول ولري او مخصوصاً د تاریخ شاګردانو ته به چې غواړي افغانستان علماً په تاریخ کې وګوري او له دې لارې تاریخي حادثات وسپړي او نتایج ترې وباسي، پوره لارښوونکی وي. ددې علمي اثر په تالیف او چاپ کې زموږ ځلمي مولف محمد حسن ساپي او د ادب پوهنځي ته مبارکي ورکوو او له ښاغلي مولف نه هیله لرو چې خپل علمي تحقیقات جاري وساتي او خپل ګټور اثار جامعې ته وړاندې کړي.

# څلورمه برخه

# ژبـــاړې

# د ژباړې په باره کې څو خبرې

په دې ټولګه کې هغه مقالې دي چې پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ د ځوارلسمې شمسي هجري پېړۍ په څلورمه لسيزه کې ژباړلې او د کابل مجلې په مختلفو ګڼو کې خپرې شوې وې.
ژباړه هغه پول دی چې د مختلفو ملتونو او فرهنګونو د تفکر او تخيل جزيرې سره نښلوي. پر دې پله د راکړې ورکړې اندازه برابره نه وي. د افغانستان په شان وروسته پاتې هېوادونه څنګه چې په تجارت کې منفي بېلانس لري يعنې صادرات يې تر وارداتو خورا ډېر کم دي، د فکري توليداتو په برخه کې هم خوار دي. دا هېوادونه مجبور دي چې ډېر څه وارد کړي او دا کار په ژباړه کېږي. ژباړونکي هغه ګاډي دي چې له بډايو ټاپوګانو څخه فکري محصولات خپل هېواد ته چلوي. خوار هېوادونه د ژباړونکو په شمېر کې هم خوار وي او خورا لږ کسان په کې پيدا کېږي چې د ښې ژباړې مهارت ولري نو دا چې دوی خپله انرژي د څه شي په ژباړلو لګوي، ډېره مهمه خبره ده.
کله چې د چا ترجمې تلو، د «څه» او «څنګه» په کاڼو به يې تلو. «څه» چې ژباړن د ژباړلو لپاره غوره کړي دي، زموږ کوم درد دوا کوي؟ او دغه «څه» يې څنګه ژباړلي دي؟ ژباړه يې سمه، روانه، واضحه، ښکلې او د مقصد ژبې په ګرامري قواعدو برابره ده؟ دا هغه پوښتنې دي چې د هرې ژباړې د ارزولو پر مهال يې بايد ځوابونه ولټوو.
دغه مقالې چې کاکړ صاحب ژباړلې دي، له شعر او داستان څخه رانيولې، تر تاريخي، سياسي، اقتصادي او ټولنيزو مسايلو پورې مختلف موضوعات رانغاړي. د ژباړلو لپاره دغه غوره شوې موضوع‌ګانې زموږ د ټولنې لپاره څومره مناسبې وې؟ د دې پوښتنې ځواب سخت دی ځکه چې له هاغه زمانې شپېته اويا کلونه تېر دي او موږ پوره نه پوهېږو چې د هاغه زمانې افغانانو څه شي ته ډېره اړتيا درلوده.
نو د «څنګه» کاڼی به را واخلو او وبه ګورو چې پوهاند کاکړ دغه مقالې څنګه ژباړلې دي. ځينې مقالې دومره خوږې او روانې ترجمه شوې دي چې ته وا ژباړې نه دي، بلکې په پښتو کې توليد شوې دي. دلته به يې څو بېلګې وګورو:
«کله چې موږ د تاريخ پاڼې اړوو را اړوو او يا جاري پېښې تر نظره تېروو؛ ماته کله کله داسې معلومه شي چې هغه ولسونه چې زيات سره پېژني؛ زيات جنګ کوي. هغه هېوادونه چې په اروپا او اسيا کې يو د بل په څنګ او يو د بل ګاونډي دي؛ يو په بل [پورې] زيات

نښلي او په داسې حال کې چې دوی یو بل پوره پېژني، د دوی دغه پېژندګلوي د زیاتې همکارۍ سبب کېږي نه.» (کابل مجله، یودېرشم کال، ۱۳۴۰ل، څلورمه ګڼه، ۴٦ او ۵۲ مخونه).

«معارف د فرد او جامعې، د شخص او خدای په منځ کې د اتصال کړۍ ده. معارف د روح ګاڼه او د عقل غذا ده. معارف هغه صنعت دی چې د شخص د لوړوالي سبب ګرځي او ټول هغه شیان در ښيي چې د خلقت اصلي هدف او مرام ګڼل کېږي.» (کابل مجله، ۱۳۳۳ل کال، اتمه ګڼه، ۱٦ او ۱۷ مخونه)

«په طبیعي او تاریخي عملیاتو کې تل نویتوب او انکشاف شته. همېش نوي څه زېږي او انکشاف کوي. داسې هم ځینې څېزونه خواره واره شي او پسې مړه شي.» (کابل مجله ۱۰مه ګڼه/ پرلپسې ۴۹۵مه ګڼه/ ۱۳۳۹ل مرغومی)

په دې ژباړو کې ځینې جملې ولسي ژبې ته ډېرې نږدې دي یانې تکلف او تصنع په کې نشته او سړي ته داسې خوند ورکوي لکه پیتاوي ته چې ناست وي او د یوه کلیوال سپین‌ږیري خبرو ته غوږ وي. څو مثالونه یې دا دي:

«نتیجه دا شوه چې د هند زیاتې پیسې د دوی په لاس شي او په فابریکو، بانکونو او شرکتونو کې یې بندې کړي» (کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري لومړۍ، دویمه ګڼه، ۴۵ او ۵۱ مخونه).

د ولس په ژبه کې «د پیسو بندول» عامه محاوره ده. که څوک اوس دا جمله له بلې ژبې را وژباړي، کېدای شي ولیکي چې «پر فابریکو، بانکونو، او شرکتونو یې پانګونه وکړه» یا «پیسې یې په فابریکو ... ولګولې» چې تر دې دواړو هماغه پورتنۍ جمله ښه لګېږي.

«د بېرته ودانولو مسایل یې لا پسې انجړ او مشکل کړل.» «... او هلته د هغوی ټول انجړ بنجړ حال او دارایي ورښيي.» (کابل مجله، لسمه ګڼه، ۱۳۳۸ل کال، د مرغومي نهه ویشتمه، ۲۹ او ۳۳ مخونه)

«انجر بنجړ» د ګډوډ ښه معادل دی چې د خلکو په ژبه کې شته خو لیکوال یې چندانې نه لیکي. که د ولسي ژبې داسې کلمې او عبارتونه په لیکلو کې عام شي، لیکنۍ ژبه به مو لا ښکلې او د تکرار بې خوندي به کمه شي.

«دا به د دایمي سولې لپاره یو ټینګ بېخ کېږدي.» (کابل مجله، لسمه ګڼه، ۱۳۳۸ل کال، د مرغومي نهه ویشتمه، ۲۹ او ۳۳ مخونه)

په دې جمله کې «بېخ» د «بنسټ/ بنیاد/ اساس» په مانا خو تر هغوی لا خوندوره کلمه ده. د انتون چیخوف د کیسې په ژباړه کې داسې جملې هم کمې نه دي: «وروسته چې ګاډۍ وان کنځلو ته پیل وکه او اس یې بیا یوه شالخه کش که» دلته د «وکړ» او «کړ» پر

ځـای «وکـه/ کـه» راغلـې دي. کـه دا کار د مکالمـو پـه ژبـاړو کـې وکـړو، مناسـب بـه وي خـو د روایـت پـه برخـه کـې نـه.
د دې ژبـاړو بـل کـمال دا دی چـې کاکـړ صاحـب ځینـې داسـې کلمـې هـم کارولـې دي چـې د ده پـه خپلـه لهجـه کـې نشـته خـو پـه نـورو لهجـو کـې عامـې دي، لکـه پـه دې جملـه کـې د «وبرېښـېده» کلمـه چـې د خوسـت او پکتیـا د ولسـونو پـه لهجـو کـې د «ښـکاره شـوه/ معلومـه شـوه/ څرگنـده شـوه» پـه مانـا کارول کېـږي: «د هغـه سـتوري لکـۍ دوی تـه د جـزا د ډانـگ پـه څېـر وبرېښـېده.» البتـه داسـې جملـې ډېـرې کمـې دي چـې کاکـړ صاحـب دې معیـار تـر خپلـې لهجـې ځـار کـړی وي، لکـه «هـر راز مخالفـت بـه لـه ډېـرې بېرحمـۍ سره مخامـخ کېـدو.» چـې د «کېـده» پـر ځـای «کېـدو» لیـکل شـوې ده.
«پایېـدل» گلالـی فعـل دی خـو پـه لیکنـو کـې چندانـې نـه تـر سـترگو کېـږي. د کاکـړ صاحـب پـه دې جملـه کـې یـې خونـد وڅکـئ: «د تفکـر دغـه ابتدایـي طـرز پـه حقیقـت کـې زمـوږ تـر مهالـه پـورې پایېدلـی دی.» د اوسـنیو لیکوالـو پـه جملـو کـې د دې فعـل پـر ځـای معمـولاً «دوام کـړی دی/ دوام موندلـی دی» وینـو، خـو «پیېدلـی دی» تـر هغـوی لنـډ او ښایسـته دی.
د ځینـو مشـتقو او مرکبـو کلمـو اوسـنۍ بڼـې نـورې دي خـو د کاکـړ صاحـب پـه لیکنـو کـې پـه بلـه بڼـه راغلـې دي، لکـه «ماشـومتیا»، «پانگـه‌ور»، او «تلنـلار» چـې زمـوږ سـترگې او غـوږونـه یـې لـه دغـو بڼـو سره ډېـر آشـنا دي: «ماشـومتوب»، «پانگـه‌وال»، او «تـگلاره».
همدارنگـه پوهانـد کاکـړ «منـل» د «زغمـل» پـه معنـا کارولـی دی چـې فکـر کـوم د تنـوع لپـاره ښـه ده چـې مـوږ یـې هـم کلـه کلـه وکاروو. پـه دې جملـه کـې «منـل» ښـه لگېدلـی دی: «رسـۍ د معیـن وزن طاقـت لـري او پـه هېـڅ وجـه تـر نامعیـن حـده پـورې وزن نـشي منـلای، ځکـه چـې پـه یـوه خـاص حـد کـې شـلېږي.» (کابـل مجلـه ۱۰مـه گڼـه/ پرلپسـې ۴۹۵مـه گڼـه/ ۱۳۳۹ل مرغومـی)
خـو تـر دې کمالونـو ورهاخـوا، د کاکـړ صاحـب پـه ژبـاړو کـې یـوه نیمـه سـتونزه هـم شـته چـې ځـو مهمـې بـه یـې یـادې کـړو.
سره لـه دې چـې د کاکـړ صاحـب پـه ډېـرو جملـو کـې یـې د ولسـي ژبـې خـوږلـت شـته، خـو پـه ځینـو ځایونـو کـې یـې د ولس ژبـه هېـره کـړې ده. ده «فابریکـه داران» لیـکلي دي، حـال دا چـې عـام پښـتانه یـې «فابریکـوالا» بـولي. د «وال» او «والا» روسـتاړي پـه پښـتو کـې عـام دي خـو اوس یـې پـر ځـای پـه اکـثرو لیکنـو کـې «لرونکـی/ لرونکـې» کارول کېـږي چـې د فـارسي «دار» تحت اللفظـي ترجمـه برېښـي.
په ځینو نورو جملو کې هم د فارسي ژبې اغېز جوت دی، لکه:
«د شـولو زوښـولو د لومړي ځـل لپـاره پـه هنـد کـې رواج موندلـی و.» ـ «دا عملیـه د وریجـو ځینـو

انواعـو تـه اختصـاص لـري.» ـ «د سرو شگو د اسـتعمال تخنيـک پـه هندوسـتان کـې زيات رواج لـري.» ـ «پـه قفقـاز کـې يـې د جيورجياگوريـن قبيلـه اوس هـم پـه کار وړي.» ـ «پـه ټولـو سـيمو کـې يـې د آبي پايکوگامـو متحـد شـکل د هغـو لـه تاريخـي ارتباطاتـو نـه حکايـت کـوي.» ـ «مـوږ د يـوه سـين پـه غـاړه ناسـت يـو، ځانـو تـه لمـر ورکـوو.» «تـورې تـورې غونـډۍ بـه پـه نظـر راتلـې» ـ «سمدلاسـه بـې ځانـه شـو او سـاه يـې وختـه» (کابـل مجلـه ۲مـه گڼـه/ پرلپسـې ۴۸۷مـه گڼـه/ ۱۳۳۹ل غويـى).

«زوښـول = جـوش دادن» تـه پـه پښـتو کـې «اېشـول» لـرو. «رواج مونـدلـې و» د فـارسـي «رواج يافتـه بـود»؛ «... تـه اختصـاص لـري» د فـارسـي «بـه ... اختصـاص دارد.»؛ «پـه کار وړي» د فـارسـي «بـه کار ميـبرد»؛ «... نـه حکايـت کـوي» د فـارسـي «از ... حکايـت ميکنـد»؛ «لمـر ورکـوو» د فارسـي «آفتـاب ميدهيـم»؛ «پـه نظـر راتلـې» د فـارسـي «بـه نظـر ميامدنـد»؛ «بـې ځانـه شـو» د فـارسـي «بـی جـان شـد» ټکـی پـه ټکـي ترجمـې دي چـې پـه پښـتو کـې ښـه نـه لگېـږي. سره لـه دې چـې دغـه مقالـې لـه انگليـسي ژبـې ترجمـه شـوې دي، نـه لـه فـارسي، خـو بيـا هـم د فـارسي ژبـې لـه منفـي اغېـزو پاکـې نـه دي.

همدارنگـه پـه ځينـو جملـو کـې د انگليـسي جملـو اغېـز وينـو، لکـه دا: «دلتـه بـه احتمالاً هغـه ځـای تـه گوتـه نيولـه کېـږي کـوم چـې ...» ـ «د عسـاکرو لـه هغـو لـوړو صاحـب منصبانـو سره پـه گرېدلـو پيـل کـوي، لـه کومـو سره چـې ده پـه مسـکو کـې پېژندنـه لرلـې وه.» دلتـه «کـوم چـې» د انگليـسي (which) او «لـه کومـو سره» د (with whom) ناسـمه ترجمـه ده.

پـه ځينـو جملـو کـې مفهـوم واضـح نـه دی او سړی پـوره مطلـب نـه شي اخيسـتلی. زه مطميـن نـه يـم چـې دا بـه د ژبـاړې نيمگړتيـا وي، کـه د هغـه چـا چـې دا مقالـې يـې پخـوا يـا اوس لـه سره ټايـپ کـړې دي. پوهانـد کاکـړ دقيـق ليکـوال و او د ده پـه آثـارو کـې لـه داسـې سـتونزې سره نـه مـخ کېـږو، همدارنگـه د همـدې ټولگـې گڼـې مقالـې د وضاحـت پـه لحاظ هېـڅ عيـب نـه لـري، نـو دويـم گومـان بـه سـم وي. پـه هـر حـال، دلتـه بـه څـو داسـې جملـې راوړم چـې رسـا نـه دي: «پـه هـره هغـه لاره چـې بـه ژرنـده لـه غـرب نـه شرق تـه تللـې وي، د پايکـو لار پـه مرکـزي آسـيا وه، بـې لـه دې چـې د پايکـو د اخـتراع لومړنـی او اصلـي ځـای معلـوم شـوی وي.» ـ «د دوی ټولـو تبـصرې د هغـه لارښـوونکي رول پېژندنـه ده، کـوم چـې روسـي ادب د نولسـمې پېـړۍ پـه دوهمـې نيمايـي کـې د اروپـا پـه کولتـور کـې لوبولـی دی او هغـه وخـت چـې روسـيه د انقـلابي نهضـت پـه مرکـز بدلـه شـوې وه.» ـ «تولسـتوی د احسـاس جزئيـات د انځـور موضـوع وگرځولـه، د شـخصيت روحـي موجوديـت يـې پـه ميـدان کـې لـوخ کـړ.» ـ «دا احصائيـه د هغـو تاوانونـو يـو تقريبـي تخميـن دی، کـوم چـې پـه دې جنـگ کـې انسـانانو گاللـی دي.» (کابـل مجلـه، لسـمه گڼـه، ۱۳۳۸ل کال، د مرغومـي نهـه ويشـتمه، ۲۹ او ۳۳ مخونـه).

په دا بله جمله کې د (First World War) عبارت «د نړۍ لومړۍ جګړه» ترجمه شوی دی، حال دا چې مانا یې ده «لومړۍ نړیواله جګړه» ده: «(۱۹۱۴م) کال به خپل خاص اهمیت تر ډېرو مهالونو وساتي؛ ځکه چې په دې کال کې د نړۍ لومړۍ جګړې سوځونکې سرې لمبې جګې شوې او په زرګونو انسانان او ځوانان یې له ژوندانه څخه محروم او نیست کړل.»
ژباړه ډېرې باریکۍ لري، ډېر دقت او زیات ظرافت غواړي. د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ پر ګور دې نور وي چې داسې حساس او مهم کار ته یې اوږه ورکړې وه او تر خپلې وسې پورې یې وطن ته خدمت کړی و.

محب الله زغم
۶ فبروري ۲۰۲۱ م

کابل مجله، ۱۳۳۹ل، وری، ۱ گڼه / پرلپسې ۴۸۶ گڼه.

# شولې، بتې او پایکو

لیکوال: کلوس فردیناند



*ځینو وطنوالو ته به یاد وي چې په کال (۱۹۵۵م) کې زموږ ملک ته له ډنمارک نه یو علمي هیئت راغلی و چې ددې هېواد او خلکو د خصوصیت په باب عملي څېړنې وکړي. هیئت د افغانستان زیاترو سیمو کې وگرځېد. د نورستان په شاوخوا کې یې مخصوصاً ژورې مطالعې وکړې. له څېړنو نه به یې البته په یقیني ډول کوم جلا کتاب جوړ شوی او په ډنمارکي ژبه خپور شوی وي؛ خو د هیئت یوه غړي، ښاغلي کلوس فردیناند د خپلو څېړنو یوه برخه د مونوگراف په شکل لیکلې او د جوت لینډ لرغون پېژندنې ټولنې په میاشتنۍ مجله، کومل* (KUML) *کې یې په انگرېزي او ډنمارکي ژبو خپره کړې ده. دا مقاله په ختیځ افغانستان کې د شولو او وریجو په ټولو اړخونو پوره رڼا اچوي او ورسره د لغمان اجتماعي اوضاع هم په ضمني ډول بیانوي. د مقالې په کښلو کې شپېته ماخذونه په کار شوي او ترې استفادې شوې چې ځای په ځای ښوول شوي هم دي. د یوه ډنمارکي مستشرق دا زحمت موږ ته هرومرو قدر لري، په دې وجه ما د هغې مختصره برخه له انگرېزي نه پښتو کړه چې په لاندې ډول به یې ولولئ. واړه عنوانونه دلته ورټاکل شوي دي.*

مترجم

د افغانانو لوی خوراک وریجې دي د چاچې د وسه کېږي، د ورځې يې يو يا دوه ځلې خوري. په هېواد کې د احتياج په اندازه وريجې استحصاليږي. نسبتاً هغه لوړه درجه حرارت چې د شولو په څلورو - شپږو مياشتو وده کې ضروري وي د هېواد په زياترو برخو کې وي؛ خو هغه اندازه اوبه چې هغه هم په مسلسل ډول ورته ضروري او اساسي دي په زياترو برخو کې نشته؛ نو شولې په هغو سيمو کې کرلی کېږي چې سيندونه او لويې ويالې لري. همدغه سبب دی چې د لويو غرو منځنی برخې پرې شنې دي. د کندهار او د هرات د ښار د نږدې سيمې چې يې لوړوالی د سيند له سطح نه تر زرو مترو پورې رسېږي او همدا راز د کابل په ولايت کې ځينې برخې که څه هم لوړوالی يې تر دوه زرو مترو رسېږي، د شولو د کر لپاره نسبتاً ښې دي، خو د شولو اصلي منطقې د هندوکش شمال ته خان اباد او قندوز او لمر خاته کې لغمان دی. له همدغو سيمو نه په خروارو صفتي وريجې د بازارنو په لور رواني وي.
افغانان د وريجو د کيفيت او ډولونو په پېژندلو کې خاص مهارت لري. عموماً يې په دوه ډولو وېشي. غټې او ميينې (نری) چې ښاغلي واويلوف دا اختلاف له نباتي تنوع نه راپيدا بولي. ميينې يې خوړې، نری، رنې، اوږدې او تسمه دي. اوږدوالی يې نږدې اووه ملي مترو ته رسېږي. د طول او عرض نسبت يې (۳،۱- ۳،۵) دی. غټې يې له مئينو نه ډېرې پنډې او لنډې دي، خلک يې چندان نه خوښوي. ايله که يې اوږدوالی هغه هم کله کله (۵،۵) ملي مترو ته ورسېږي. د اوږدوالي او پهنوالي نسبت يې (۱،۲- ۱،۸) دی. دا هم زياته نشايسته او مغز لري. واويلوف عقيده لري چې غټې وريجې د هېواد په ټولو شوله‌ييزو سيمو کې کرلی کېږي او د ترکستان له وريجو سره ورته دي، مګر د نريو اصل له هندوستان څخه دی او يوازې په لغمان او شاوخوا سيمو او شمال کې په قطغن او خصوصاً د خان آباد د اخوا ديخوا منطقو کې کرلی کېږي.

## د لغمان شوله‌ييزه سيمه

د (۱۹۵۵م) کال په فبروري کې ما له خپلې ښځې سره د افغانستان ختيځ ولايت مشرقي چې اوس ورته ننګرهار وايي[۱۷۵] او مرکز يې جلال اباد دی، وکوت. دا ټيټې سيمې چې د بحر له سطح څخه يې لوړوالی (۶۰۰- ۹۰۰) مترو ته رسېږي، د ختيځ افغانستان تودې برخې دي.

۱۷۵. افغانستان ختيځې سيمې اوس اوس د ننګرهار په نامه يادېږي، ننګرهار يې يو تاريخي نوم دی چې پوره تفصيل به يې د همدې ګڼې په (۵) مخ کې ولولئ، هو؛ دومره ده چې دا کلمه ډېر کلونه له خولو لوېدلې چې اوس بېرته جاري شوې ده. مترجم

د اقلیم له پلوه سب تراپیکي ورته وایه شي چې لږ اورښت یې کری (تول) کال په نصیب دی. طبیعي بوټي او شینلي په کې پیدا کېږي، نو کرهڼه یې په زیاته اندازه د سطح په اوبو ده. د جلال آباد سهیل ختیځ ته کاریز شته، خو د شولو زیاته کرهڼه یې د سیند په اوبو کېږي.

د شولو د زراعت ډېر ښه شرایط د لغمان د درې په ښکته برخو او خصوصاً هغو سیمو کې چې د الیشنګ او الینګار سیندونه پکې بهیږي، شته. دا سیندونه د لغمان په دوه درو د الیشنګ او الینګار، کې بېل بېل روان دي چې تر څو د لغمان په اخري ښکته برخه کې سره یو شي او په دې وسیله له تکلیف نه ډېرې ځمکې پرې اوبه شي.

## د لغمان اجتماعي حال

لغمان ګڼ نفوس لري. خلک یې په مزرعي سیمو کې ودان دي. څه یې د سیند په غاړو کې هم پراته دي. د خلکو څه برخه یې په ځانله بېلو پخو کلاوو کې اوسي دا برخه لوی لوی خانان او زمینداران دي، بله زیاتره برخه یې د همداسې پخو کلاوو په شاوخوا خټینو کورونو کې اباد وي، وروستي عموماً بې زمینه کلیوال دي. ګڼ ګڼ کلي هم شته چې هغه د وړو ښارونو په څیر یې له وړو کلاګانو دي.

نن ورځ د لغمان عالم سره یو په بل کې ډېر خلط او ګډ دي. په پخوا زمانو کې هندي ویونکي پشه‌یان، ساپیان او غالباً تاجیکان په کې تر نورو زیات وو. دا سیمه تر اوسه هم ژبه‌ییزه پاتې ده او پشه‌یي وار په وار هغو دوه نورو ژبو ته ځای پرېږدي.

سردرې تر زیاتې اندازې په خپل حال پاتې دي او بدلون په کې راغلي مګر د درې ښکته هوارې برخې د یوه سریع تحول په حال کې دي او داسې قام به نه وي چې هلته ودان نه وي. ددې اختلاط نتیجه دا شوې چې قامونه ځانله سیمې نه لري او زما په فکر قامي تشکیل له منځه تللی او کلیوالي واحدونو یې ځای نیولی دی. ددې واحدونو مشرتابه فردي کورنیو ته اړه لري چې زیاتره یې له کابل سره نږدې ارتباط لري. په دې ډول موږ په ځینو کلیو کې وینو چې خانان یې پښتانه دي او لاس لاندې بزګران یې د افغانانو له مختلفو قبیلو او خصوصاً تاجیکان دي چې په هغو کې پشه‌یان هرومرو راځي. سربېره پردې په ګڼو کلیو کې یو شمېر کسبګر، ترکاڼان، هنګران، جوالایان، ډمان، کلالان، موچیان، مسلیان او داسې نور هم شته. دوی د پښتنو او تاجیکانو له عادي ډول بندیو نه باندې دي او بېل قومونه ګڼل کېږي. قوم البته د قوم په معنی دی خو دلته ترې مراد کسبي صنف (Craft Caste) دی.

د کسب په اساس ددغو ارثي طبقاتو مروجي وېش چې ځینو ته په ټیټ نظر کتل

کېږي، مخصوصاً په ختیځ افغانستان کې زیات رواج لري او یقیناً چې دا به د غربي هندوستان یوه انتقالي مرحله وي. په دې حرفوي اصنافو کې د یوه کسب یوازې وریجې کول دي[۱۷٦] دا قام حسن خېل دی چې په کلیو کې د همسایه و په څېر لاس لاندې ژوند لري.[۱۷۷]
د دوی اصل پوره معلوم نه دی. دوی په خپله ځانونه په مومندو ګڼوي، خو نور کلیوال ورسره دا نه مني او زه داسې خیال لرم چې د دوی اصل به له هند څخه وي.[۱۷۸]

## د شولو غوبل

د حسن خېلو کار په ژمي کې وي او دا له هغه وخت نه شروع کېږي چې شولې تیارې شي، وریجې کول درې مرحلې لري:
اېشول په مټو کې، وچول په بامو کې او ټکول په پایکو کې. شولې مېده کول یعنې شولې له وړو او وښو نه بېلول په غوبله کېږي.څلور، پنځه، شپږ یا اووه غوایي، خره او کله کله اسونه سره په یوه وندر کې قطار وتړي، د شولو په هوارو کړو ستریو یې ګرزوي. په کونړ او لغمان کې د هوارو کړو ستریو په منځ کې یوه لویه کنده دروي چې د هغه چارپېر پې غوبل کوي. په لوګر کې دغه لرګی نه وي جاګه یې غویه د انعکاس مشروط له لارې د ستریو لپاره دایروي حرکت کوي، تر هغو یې ګرځوي چې شولې له وړو نه بېلې شي چې ټول درمن په دې ډول مېده شي، مسلیان ورته راشي درمن باد کړي یعنې شولې له پروړو او نورو شیانو نه جلا کړي، بیا یې پایکوټ ته د وریجې کولو لپاره وسپاري.

## بټۍ

پایکوټ شولې په خرو بار کړي، کور ته یې یوسي. لومړی یې په بامو یا په بل کوم هوار ځای کې لمر ته واچوي چې ښې وچې شي. هر پایکوټ ځانله مټونه لري.
مټونه له خټو نه جوړ هغه کلک لوښي دي چې نږدې درې منه شولې او نور په کې

---

۱۷٦. له شولو نه د وریجو کولو کار اوس یوازې صنف یعنې د حسین خېلو کام ته اړه لري د نورو قامونو وګړي هم پرې اوښتي دي. (مترجم)
۱۷۷. د وریجو د تجارت او بې وزلو پور وړو دهقانانو ته په ارزانه بیه د ناتیارو وریجو اخستلو له کبله اوس په دې قام کې سوداګر پیدا شوي چې مسلماً په وړیو ارزقامونو کې حسابېږي. ډېر یې اوس ځانله کلاوې لري او په همسایه خانې یې پرې اېښې دي. (مترجم)
۱۷۸. د ښاغلي لیکوال دا خیال په دې ښادي چې سین خېل یا حسین خېل یو ځانله بېل حرفوي صنف دی او څرنګه چې طبقاتي یا صنفي وېشل اصلاً د هند محصول دی. (مترجم)

اوبه ځایېدای شي. وچې شوې شولې اوس په مټونو کې اچوي، اوبه ورسره ګډوي، سرونه یې په وښو تړي، دېرش څلوېښت مټونه سره ګڼ کېږدي، د وښو اور ورته اچوي چې ښه جوش وخوري او وخوټېږي بیا، نو اور بس کړي او د یوې شپې یا دوه شپو لپاره یې همداسې پرېږدي او بیایې نسکور کړي او په دې ډول اوبه ترې بېلې کړي. اوس نو شولې د بټۍ کولو لپاره تیارې شوې وي، بټۍ کول یعنې شولې ننې کول، له سرو شګو سره بټۍ یا کوره لکه مدور هرم داسې دی چې په مینځ کې دوه بېلې برخې لري، یوې کې یې شګې وي او په بلې کې د بوسو اور کوي چې بټۍ سره شي یعنې دننۍ شګې یې ښې سرې شي، نو د بټۍ په یوه خوله کې یې ننې والا او چغل والا کښېني او په بل سر کې یې اور والا ناست وي. ننې والا هغه خوړینې خوټېدلې شولې په کودي یعنې د خټو په یوه لوی لوښي کې اچوي. له بټۍ نه سرې شګې ورسره ګډې کړي او دومره یې ولړي چې شولې کلکې او ننې شي. بټۍ والا بیا کودی په چغل کې چپه کړي، د څنګ چغل له وړو سوریو نه کښته لوېږي او پخې په چغل کې پاتې شي، وروسته یې بیا لمر ته واچوي او ښې یې وچې کړي، دا کار چې خلاص شو، نو د پایکو کولو لپاره جوړې وي.

## پایکو

لغمان د پرېمانه اوبو لرلو په وجه ډېرې پایکوګانې لري؛ نو پایکوګانې یې په اوبو ګرزي او دوه پښې لري، دواړه پښې یې په متناوب ډول لاندې باندې کېږي.

په کوم ځای کې د پایکه سره لګېږي، هغه ته بغرۍ وایي. بغرۍ د یوې پراخې کاسې په څېر ده چې د ونې له ډډ نه جوړه وي، خوله یې ښه ارته وي، خو د بېخ په لورې ورو ورو تنګېږي. شولې په همدغو بغریو کې واچولی شي چې ښې وټکول شي تر څو چې پوست یې مغز نه بېل شي. دا عمل درې ځلې تکرارېږي، د اول او دویم عمل په منځ کې وریجې څپ ووهل شي او په درېیم ځل مېده بېز شي. دلته د پایکوټ خاص مهارت و لیاقت په کار دی چې وریجې زیاتې ماتې نه شي. له میده بېز نه وروسته وریجې تیارې او د مارکیټ او پخولو لپاره اماده وي.

حسین خېل یا په جامع عبارت پایکوټ خپل کار خلاص کړی دی او تیارې وریجې په خاوند سپاري. له خاوند سره یې حساب خروار (۸۰) په پنځه څلوېښت منو دي. پاتې یې ده ته پاته کېږي چې تقریباً د اوه منو په شاوخوا ورته ورځي. که شولې په درمن کې وچې وي، یعنې ده ته وچې ورکړی شي، ممکن دا مقدار لس دولس منو ته لوړ شي.

## تاریخي نظر

پورته عملیه چې یې تذکر وشو، خصوصاً د میینو وریجو لپاره ده. د شولو خوټول او جوشول داسې یوه عملیه ده چې نه یوازې په لغمان، بلکې همدا اوس په هندوستان کې هم مروجه ده. اسقف کرستنسن د پېښور له مردان نه لیکي: له هغه ځایه چې ما ته معلومه شوې، دوه ملاحظې شته چې باید په نظر کې ونیول شي:

۱. د شولو اقسام مختلف او عملیات یې مختلف دي.

۲. عملیات یې په زاړه او نوي فېشن سره هم مختلف دي.

په سوات کې اوس زیاته برخه وګړي یو ماشین لري او له زاړه مېتود نه په زیاته اندازه خلاص شوي دي. په ځینو ځایو کې دوی د اوسپنې یو لوی لوښی کاروي چې ددې په ځای چې شولې د پخواني رسم په قرار په شګو کې سرې او ننې کړي، د همدغه لوښي په ذریعه یې سرې کوي. د شولو خوټول ددې لپاره دي چې وریجې ښې او زر پخې شي؛ ځکه چې له هغه نه غیر د وریجو پخولو په وخت کې اشپز مجبور دی چې وریجې ښې وخوټوي. د نویو طریقو د عملي کولو په وجه په هندوستان کې اوس پایکوګانې کمې شوي او مخ په ورکېدو دي.

که څوک دا په نظر کې ولري چې د لغمان او سوات په منځ کې د نژاد، کولتور او طبیعي ساختمان له پلوه زیات ورته والی شته؛ نو دا معقوله برېښي چې د لغمان د میینو وریجو عملیه یوه پخوانۍ، مګر متکامله عملیه ده چې تر اوسه پاتې شوې او عصري طریقه لا پکې رواج شوې نه ده.[۱۷۹] په هندوستان کې د شولو خوټول او جوشول په زیاته اندازه میخانیکي شوي چې دا عمل په مختلفو طریقو کېږي. اصل پرنسیپ دا دی چې شولې د متغییر وخت لپاره سرو اوبو سره ګډېږي او د کم وخت لپاره سرو اوبو سره یو ځای کېږي او یا خو بخار ورکول کېږي او پخوا له دې چې د شولو میخانیکي پایکو ته یووړلی شي، په لمر کې او یا په مصنوعي طریقه وچېږي.

د یوې نورمالې طریقې په اساس باید شولې په مټو او یا همدغسې مشابو ختینو لوښو کې له اوبو سره ګډې شي، له یوې نه تر درو ورځو پورې په (٦٠- ۷۲) سانتي ګرید حرارت

۱۷۹. ویل شوي چې اوس اوس لغمان ته هم د وریجو کولو یو ماشین وړل شوی او په کار شوی دی، څرنګه چې لغمان د شولو له پلوه یوه غني منطقه ده او همدغه منطقه په زیاته اندازه د ټول ملک د پاره ښې صنعتي وترې برابروي، ښایي د کرهڼې بانک یا د کرهڼې وزارت او د لغمان ځینې پانګه وال د داسې ماشینونو واردولو ته اقدام وکړي ځکه چې په اوسني زړه طریقه یو مقدار وریجې ماتېږي او د وکټېر ترې جوړېږي او له بلې خوا ښې جوش نه خوري یعنې په فني ډول نه بتېږي. کېږي او له دې کبله یې کیفیت لکه څنګه باید وي نه وي.

کې پرېښوولی شي او پخوا له دې چې لمر ته واچولی شي او يا فشار او بخار ورته ورکړی شي د (۱۰- ۲۰) دقيقو لپاره دې بخار ورکړل شي.
خو په هندوستان کې سره د ميخانيکي طريقې بيا هم په کليو کې همغه زړه طريقه جاري ده. اخري نتيجه دا ده چې زوښ شوې شولې چې يې په عين حال کې يو رقم رنګ هم اخيستی وي، له سپينو نه ښې مزه‌داره او قيمتي دي؛ سربېره پر دې د غذاييت او ويټامينو له اړخه هم په سپينو نه زوښ شوو باندې دي.
د نړۍ د وريجو په سيمو کې د شولو زوښول خاص د هندوستان محصول دی. کوم بل ملک ته چې دا عمل تللی په دې منظور دی چې وريجې هندوستان يا هندوستانيانو او يا د هند تر نفوذ لاندې خلکو ته صادرې کړي. په دې برخه کې د سرې بحيرې ساحلي او بندري ښارونه يادولای شو. د زوښولو عمليه په برما کې شته، خو د برما خلک يې هېڅ نه خوري، په داسې حال کې چې په برېتانوي ګينې کې تقريباً ټول خلک زوښ کړې وريجې خوري.
نو ويلای شو چې د شولو زوښولو د لومړي ځل لپاره په هند کې رواج موندلی و. دا عمليه ډېره زړه او تاريخي ده. ددې عمليې د انکشاف علت يقيني نه دی، مګر دا معلومه ده چې دا عمليه د وريجو ځينو انواعو ته اختصاص لري او ختيځ افغانستان ته به سره د وريجو له انواعو رسېدلې وي او ګمان کېږي چې بيا دا عمليه افغاني ترکستان ته نسبتاً په دې تازه کلونو يعنې (۵۰- ۷۰) کاله د مخه رسېدلې وي.
تر هغه ځايه چې ماته معلومات دي، پخوا له بتۍ نه د شولو خېشتول او زوښول د هندي شولو ځينو انواعو ته خاص دي او د شولو په ټولو اقسامو شامل نه دي.
د شولو د ننې کولو او وچولو لپاره د سرو شګو د استعمال تخنيک په هندوستان کې زيات رواج لري. دا عمليه په افغانستان کې هم ډېره مروجه ده. د کابل په ځينو بازارونو کې هم نخود او نورې دانې تقريباً په همدې ډول ننې کوي او پخوي. ختيځنې کاسې او بتۍ يې له لغمان سره ډېر شباهت لري او په اساساتو کې يې دومره فرق نشته. يقيناً چې د سرو شګو استعمال په هند او افغانستان کې ډېر قديمي دی او شايد د وسپنو له کاسو نه هم قدامت ولري.

## د پايکو تاريخ

د پايکوګانو په باب کې بايد وويل شي چې هغه په ډېر لږ اختلاف سره د افغانستان په ټولو شولو ييزو سيمو کې شته او رواج لري. په سوات کې هم ميندلی کېږي؛ خو د هند د نيمې قارې په نورو برخو کې نشته. په آسيا کې له مديترانې نه ان تر چين

پورې پایکوګانې رواج لري. د مرکزي اناتولیي په ټوسیا کې هم په منکشف شکل ترې کار اخیستل کېږي، خو هلته د پایکو څرخ دولس پره یي دی او درې پښې لري. په دوه پښو یې وریجې ټکولی کېږي او پوټکی یې ترې بېلېږي په داسې حال کې چې په درېیمه یې وریجې پاکېږي او صفا کېږي.
په قفقاز کې یې د جیورجیاګورین قبیله اوس هم په کار دي او په ایران کې یوازې په مزنداران کې لا شته، مګر په دې دواړو سیمو کې یو پښه یي پایکو رواج لري. په لویدیځ ترکستان کې هم عمومیت لري او دلته په هغه شکل شته چې د کاغذ د تولید لپاره وي. ښاغلی هیدبن وایي چې د ترکستان په ختیځ او د چین په جنوب کې هم دپایکو استعمال رواج لري. یو روایت یې لا په جاپان کې هم ښیي. د جنوبي چین د پایکو څرخ زیاتې پرې او څلور پښې لري چې د اناتولیي پایکو سره یي ته یادوي.
له یادو شوو سیمو نه بهر په شمالي هند چین او سماټرا کې هم پایکوګانې مروجې دي؛ خو دا ځانله بېلې حادثې ښکاري او داسې معلومېږي چې دا تر دې چې د غربي هند نفوذ وي، د جنوبي چین یا هند چین د تاثر له وجه نه وي.
دا یادې شوې پایکوګانې په جوړښت کې سره نږدې او تقریباً یو رنګه او د یوه مقصد لپاره دي. مګر د یورپ پایکوګانې مختلف ساختمانونه لري او د بېلو مقاصدو لپاره دي. سره ددې هم ټولې په یوه پرنسیپ بناء دي او مشابه څرخونه یې خوځوي. د اروپایي پایکوګانو تاریخ یوولس پېړۍ پورې ثبت شوی او په منځینو پېړیو کې یې د استعمال پراخه سیمه لرله تر څو چې په نولسمې پېړۍ کې د بخار د قوت د استعمال په سبب ورکې شوې.
اروپایي پایکوګانې په خپل خاص انکشاف سره شاید ځانله مستقلې اختراع ګانې وې؛ خو د آبي قوت د استعمال پرنسیپ ان تر لرغونو مهالو پورې د مدیترانې سیمې ته رسېږي. په دې ډول ویلای شو چې د اسیایي او اروپایي پایکوګانو ترمینځ ارتباط شته.
د پایکوګانو د لومړني ځای میندلو په باب دوه عوامله باید په نظر کې ونیول شي:

١. هغه حقیقي او ابتدایي شکل چې وروسته یې انکشاف کړی.
٢. له اوبو څخه د قوت استحصال.

داسې مقنع احتمال شته چې د هغه له مخې به د وریجو آبي پایکو له لاسي یو پښه یې چومبې نه چې سړی یې په پښه ټکوي، انکشاف کړی وي. دا ابتدایي آله په لرغونو مهالو کې له اروپا نه تر لرې ختیځ پورې مروجه وه او د شکل په کم او زیات فرق له پولینډ، بوهیمیا، هنګري، استریا، یوګوسلاویا، ایټالیا او همدا راز له ترانس قفقاز او له ایران نه پېژندلی شوې ده. د لرې ختیځ له پیکو څرخونه په جاپان، لویدیځ نانکن، کمبودیا، سیام او په پای کې د اندونیزیا په لویدیځ او ختیځ ماټرا کې پیدا کېږي.

په داسې حال کې چې د چومبې نه جوړه پایکو له هند نه احتمالاً له خاص چین نه تللې وي، په سوماترا کې یې ظهور د هند د تاثیر په وجه دی؛ ځکه چې هلته اوس هم په هندي نامه یادېږي. ددې آلې استعمال په شمالي هند کې مخصوصاً زیات دی. په جنوبي هند او برما کې هم ښه رواج لري. د افغانستان په ډېرو علاقو کې هم په کارېږي. دلته ترې دوه کاره اخلي، هم پرې شولې ټکوي، یعنې پوکې یې ترې بېلوي او هم پرې د کلالۍ ختې ټکوي او پخوي.
معلومه شوه چې له آبي پایکو نه یې د استعمال سیمه ډېره پراخه ده او دا ددې نظریې موئیده ده چې له آبي پایکو نه به راوتې او منکشف شوي وي. له چومبې نه جوړه د لاسي پایکو تاریخ نه دی ښکاره، خو موږ دومره خبر یو چې په چین کې د هان د کورنۍ په وخت له (۲۲۱ ق م نه تر ۲۲۰م) کې موجوده وه. د وېش په ټولو سیمو کې یې د آبي پایکوګانو متحد شکل د هغو له تاریخي ارتباطاتو نه حکایت کوي؛ مګر دلته هم کرونولوجي (د نېټې ټاکلو دسپلین) موږ له ناکامۍ سره مخامخوي. په چین کې د ابي پایکوګانو تصویرونه د (۱۷۰۰م) کلونو په شاوخوا کې پیدا شوي. همدارنګه د منګ له عصر نه پخوا او احتمالاً د (۱۲۰۰م) په شاوخوا کې ځینې تصویرونه لاس ته راغلي دي. له اروپا نه غیر د نورو سیمو احوال نشته. په اروپا کې یې تاریخ ان تر یولسمې عیسوي پېړۍ پورې رسېږي. له دې څخه ښکاري چې آبي پایکو به لومړی په غرب کې پیدا شوې وي. په آبي پایکوګانو کې د اوبو د قوت استعمال په چین کې په روایتي ډول تر درېیمې عیسوي پېړۍ پورې رسېږي او ویل کېږي چې آبي پایکو په همدې عصر کې د (توپو) له خوا اختراع شوې وي، خو سره ددې روایته داسې ښکاري چې د چین پایکو به د غرب د نفوذ په اثر جوړه شوې وي.

## ژرنده

هغومره چې په ټولو یادو شوو سیمو کې پایکوګانې سره ورته دي، ژرندې هم سره مشابه دي. ژرندې له شمال غربي اروپا نه علاوه تقریباً یوه موزاي سیمه اشغالوي چې د مدیترانې له دواړو خواوو نه اوږدېږي او نژدې ختیځ فارس، قفقاز، افغانستان، ترکستان شرق او غرب نه، تر شمالي چین پورې وسعت مومي. له افغانستان څخه بیا د شرق په لور ځي او په همالیه کې د شمالي هند له لارې تر جنوبي تبت او غربي چین پورې رسېږي. زه ګومان کوم چې د ژرندې او پایکو ترمنځ پوره ارتباط شته، دواړه قسمونه باید سره بېل نه شي، که نور څه نه وي، دواړه د اوبو په قوت ګرزي او په دواړو کې د اوبو د قوت د استعمال فکر مشترک دی. هغه خلا چې د پایکوګانو په توزیعي نقشې کې د

ختیځ ترکستان او جنوبي چین ترمنځ شته، ددې ملاحظې په لړلو سره به ډکه او رفع شي چې ژرنده د غنمو، جوارو او داسې نورو دانو او پایکو د شولو منطقو ته اختصاص او تعلق لري. په هره هغه لاره چې به ژرنده له غرب نه شرق ته تللې وي، د پایکو لار په مرکزي آسیا وه، بې له دې چې د پایکو د اختراع لومړنی او اصلي ځای معلوم شوی وي. زه دا خیال لرم چې اوس وویل شي چې پایکو په هغه ځای کې پیدا شوې چې هلته د شولو کرلو دستي پایکو له ژرندې سره مخامخ شوې وي.
شاید دا د لوی سکندر مبارزو نه وروسته هغه وخت پیدا شوې وي چې شولو له شرق نه غرب ته لار کړې ده او یا دا چې هم به یې په چین کې ظهور کړی وي. که یوه خاصه سیمه ورته وټاکم؛ نو زه به یې مرکزي یا جنوبي آسیا ونومم چې دلته به احتمالاً هغه ځای ته گوته نیوله کېږي، کوم چې په لومړي عیسوي زرو کلونو کې اسیایي کاروانونه پرې بهیر وو.
په پای کې ښاغلو عبدالعزیز سلطاني، محمد حسن کاکړ او ډاکټر عبدالغیاث ساپي ته د دوی د هغو مرستو په سبب چې له ما سره یې په خپلو سیمو کې د علمي تحقیقاتو او مشاهداتو په وخت کې کړې دي، د زړه له کومي تشکرات وړاندې کوم او هم هیله لرم چې د افغانستان شاهي حکومت او مربوط ماموران به یې د دوی د هغو اسانتیاوو په سبب چې ماته یې برابرې کړې وې، زما تاوده احترامات ومنې.

کابل مجله، ۱۳۳۹ ل، غويی، ۲ مه ګڼه / پرلپسې ۴۸۷ مه ګڼه.

# ویره

لیکوال: انتونیو چخوف
ترجمه: د شوروي له انګرېزي منابعو نه

مساح سمیرنوف د (ګیلوشکي) سټیشن ته ورسېد. هغې مځکې ته چې دی يې د مساحت لپاره بللی و، دېرش څلوېښت کیلومتره لار لا پاتې وه. مساح په سټیشن کې د ژاندارم له مامور نه پوښتنه وکړه:

وروره! کرایي ګاډي چېرې دی؟

ګاډی؟ له دې ځای نه تر سل کیلومترو پورې چېرې په لار کې سپی نشته، ګاډی خو لا پرېږده. چېرته ځې؟

د خان خرخوتوف (د فکینو) کلي ته.

ژاندارم کهالي وایسته او ویې ویل:

ښه نو څه به کوئ؟ لاړ شه د سټیشن شاته هلته کله له ابادی نه ګاډی راځي او مساپران وړي.

مساح له خولې آه واېست او د سټیشن تر شا لاړ. اخوا دیخوا ډېر وګرځېد او وروسته له ډېرو خبرو او پوښتنو نه يې یوه زړه ګاډی پیدا کړه. ګاډیوان يې یو ناشولته او کرغېړن انسان و. سوری څپلی يې په پښو او پیوندي خیرن کالي يې په تن وو.

مساح چې ګاډی ته خاته، وچلی يې تریو کړ او وغورېد:

سیاره دلته خو شیطان هم نه راځي چې ووینې، دا څنګه ګاډی ده! مخ او شا يې هېڅ فرق نه لري. شیطان د څه لپاره راشي؟ هلته چې د اس لکی ده، د ګاډی مخ دی او هغلته چې جناب عالی ناست دی، د ګاډی شا ده.

د ګاډی اس ځوان او ډنګر و. ارت ارت ګامونه به يې اخیستل. په غوږونو کې يې د زخم آثار وو. داسې معلومېده چې ایرې يې پرې ایښې وي. څه وخت چې ګاډی وان ګاډی ته خېز کړ او قمچینه يې وار کړه، اس خپل سر وښوراوه. وروسته چې ګاډی وان کنځلو ته

پیل وکړ او اس یې بیا یوه شلاخه کش کړ، ارابې جړق کړ او لکه څوک چې سړه لرې نیولې وي، ولړزېده. په دریمې قمچینې سره ټکان زور شو اول وار ګاډی روانه شوه.
مساح د ګاډي شدید ټکانونه احساس کړه او د روسي ګاډي وانو له استعداد نه یې تعجب وکړ چې د دغسې زړو ګاډیو ورو ورو حرکتونه په داسې شدیدو ټکانونو بدل کړي چې د سړي زړه او کولمې بوټ له خولې نه وباسي. طاقت یې ونه شو، اخر یې پوښتنه وکړه:
ټوله لار به همدغسې ځو؟
ګاډي وان رغ کړه چې:
رسېږو. ځوان اس دی. تند ځي. پرېږده چې تود شي او په لاره شي، بیا به یې نیولی هم ونه شو.
ښه، ښه، لع - نتي! (ورو).
هوا لږ څه سړه وه چې له سټیشن نه ووتل، ښی خواته ارتې او هوارې مځکې ښکارېدې، یخ نیولې وې. سر و بر یې نه و معلوم. که سړی هغه لور تللی وای، په رښتیا چې د شیطان په وره به یې سرلګېدلی وای. د اسمان په غاړو کې چې له مځکې سره نښتې وې، د آخر منې سړې وړانګې په ارامی غلې کېدې. د لارې کیڼ طرف ته چې تیاره ورو ورو خپرېده، تورې تورې غونډۍ به په نظر راتلې. معلومه نه وه چې هغه د پرو سړنو وښو غونډۍ دي یا دا چې کور و کلی.
مساح خپل مخامخ لېدای نه شو، نه پوهېده چې هلته به څه وي؛ ځکه چې د ګاډي وان پلنې او ناشولتې شا یې مخ نیولی و. هوا ارامه او سړه وه. هرې خوا ګګرې وې. ده زیار ایست چې له غوږونو د غاړې دستمال تاو کړي. په همدې وخت کې یې له ځان سره داسې سوچ واهه:
څنګه بې اوبو او بې ودانی ځای دی، کراره کراري او چوپه چوپتیا ده. نه کور شته او نه خزنده. اعتبار هم نشته. که غله ولوېږي او سړی وشکوي، څوک به خبر هم نه شي. ګاډي وان هم د اطمینان وړ نه دی. وګوره څه پلنې اوږې لري. که یوازې په سړي ګوتې ووهي، روح به له بدن نه والوزي. وربوز یې هم د ځناورو په څېر دی او دغه ټولې د بدګمانی نښې دي.
مساح پوښتنه وکړه:
ګرانه، نوم دې څه دی؟
ماته وایې؟ کلیم.
ښه کلیمه! دا څنګه ځای دی؟ خطرناک نه وي؟ فضولي خو به نه کوي؟
هېڅ عیب نه لري. خدای فضل کړی... څوک به فضولي وکړي؟

ډېره ښه ده چې فضولي نه کوي... خو په هر حال، ما له احتياط درې توپانچې له ځان سره اخيستې دي.
مساح دا خبره له دروغو وکړه او داسې يې خبرې اوږدې کړې.
پوهېږم چې له توپانچې سره شوخي کول ناوړه عاقبت لري... د څو غلو ځواب ويلی شم... ترورمی خپره شوه، ارابې ناڅاپه ترق ترق کړه اواز يې واېست، کړه وړه شوه، داسې ولړزېده لکه چې اوس کينې خوا ته بېلېږي. مساح فکر وکړ (کوم لور ته مې بيايي؟ اول سم سېده راغی اوس ناڅاپه چپ زرف ته وګرځېد. اعتبار نشته، لکه چې دا بد ذات مې کوم غلي ځای ته بيايي... داسې پېښې ډېرې شوې دي.
وروسته يې په ګاډی وان نارې کړې او ويې ويل:
ښه غوږ ونيسه! افسوس چې تا وويل دلته خطر نشته، ډېر مې ښه اېسي چې له غلو سره چنګاو شم. زه همداسې ناتوان او ډنګر ښکارم، خو زور مې د قولبې غوايي قدر ته دی... يو ځل درې غله رابانډې ولېده، پوهېږې چې څه مې پرې وکړه؛ د هغه يوه سره مې دغسې وټوکه چې سمدلاسه بې ځانه شو او ساه يې وخته، هغه نور وتښتېدل، خو وروسته سايبريا ته تبعيد شول، په خپله هم نه پوهېږم چې دومره زور مې له کومه کړی. داسې هم پېښ شوي چې د يوه جسيم سړي غاړه مې په ګوتو نيولې او سخت ټکان مې ورکړی دی.
کليم مخ واړوه او مساح ته يې وکتل، باڼوګان يې زر زر رپول او ټول ځان يې په لړزان شو، وروسته يې يوه کلکه قمچينه په اس حواله کړه.
مساح خپلې خبرې داسې پسې اوږدې کړې:
هو انديواله! خدای دې نه کړي چې څوک ما سره لاس واچوي. سربېره پردې چې بې لاس او پښو به شي، وروسته به محکمې ته ځوابونه هم ورکړي؛ ځکه چې سخت بازخواست ترې کېږي. زه د پوليسو له ټولو رئيسانو او قاضيانو سره اشنا يم. زه په خپله د دولت مامور يم، وجود ته مې ضرورت دی. دغه اوس چې هم روان يم، رئيسان خبر دي. تل په دې مامور دي چې څوک راسره بدي ونه کړي. د لارې په سر مې هر چېرته د ونو او بوټو ترڅنګه ده باشيان او حوالداران شنه شوي دي.
مساح ناڅاپه چيغه کړه:
صب – صب – صبر وکړه چېرې ځې؟ کوم ځای ته مې بيايې؟
مساح فکر وکړ، په رښتيا چې ځنګل دی. سخت ووېرېدم خو بايد چې خپل داخلي انقلاب پټ وساتم او ظاهر يې نه کړم. نور نو دی دېته ځير دی چې زه ډارېږم ولې، اوس بلې خوا نه ګوري او ماته ګوري؟ په يقين چې ماته کوم خيال لري اول ورو، ورو روان و؛

اس یې هم په زحمت ته، خو اوس ګوره ځنګه ځغلي.
کلیمه واوره اس ولې دومره ځغلوې؟
زه یې نه ځغلوم، اس اوس تود شوی په خپله ځغلي. لږ څه چې نور هم تود شي بیا یې په هېڅ ډول جلو نه ټینګېږي. خپله هم له لاس او پښو نه په عذاب دی.
دروغ وایې، زه پوهېږم چې ته دروغ وایې؛ خو باید زه درته ووایم چې دومره تند ځغاستل زما مصلحت نه دی. یو څه یې جلو ونیسه، تاته وایم اورې که نه؟ ولې؟ د څه لپاره؟
ددې لپاره... ددې لپاره چې ماته مې ځلورو یارانو ویلي وو چې موږ به له ستیشن نه درپسې روانېږو، باید هغوی تر موږ پورې ورسېږي. ما سره یې لوظ کړی و چې ځنګله کې به مې نیسي. که هغوی سره یو ځای لاړ شو، وخت به مو ښه تېر شي، پیاوړي او تکړه سړي دي، هر یو توپانچه هم لري. ولې داسې نږدې کېږې، راته ګورې او بیا ټکان خورې؛ فقط لکه چې په ستنې ناست یې؟ ها؟ تاته هېڅ نه ښایي ماته وګورې، زه د کتو نه یم، لیدل نه غواړې؛ مګر توپانچې مې وینې. مهرباني وکړه، که زړه دې غواړي دغه ده زه یې راباسم او درښیم یې.
مساح داسې ښوده چې جیب ته یې لاس تېر کړی او کوم شی لټوي. په دې وخت کې یوه داسې پېښه وشوه چې دده په خیال او خاطر کې هم نه وه تېره. کلیم ناڅاپه له ګاډۍ نه ولوېد په ځلورو لاسو او پښو یې د ګڼ ځنګله په لور منډه کړه او چیغې یې تر اسمانه وختې. د خدای لپاره راورسېږئ، کومک ته مې راشئ، بې انصافه اس او ګاډۍ مې دواړه ستا؛ خو دومره چې مې مړ نه کړې. هلئ راورسېږئ.
د فرارۍ د تندو ګامونو او د وچو ښاخونو د ماتېدلو آواز پورته شو او وروسته چوپه چوپتیا راغله... مساح چې داسې پېښه یې په تصور کې هم نه راتله، لومړی یې د اس قیضه ونیوه، بیا ارام کښېناست او په فکر کې ډوب لاړ (وتښتېد... وډار شو، احمق... ښه اوس باید څه وشي؟ زه په خپله تللی نه شم، ځکه لار راته نه ده معلومه. له دې نه غیر ممکن داسې خیال وکړي چې ما د ده اس پټ کړی... نو باید څه وشي؟) کلیمه! او کلیمه! د آواز انعکاس ورته ځواب ورکړ.
کلیمه! له دې ویرې چې دی به مجبوره شي په سړو او تیاره ځنګل کې پاته شي او په پړانګانو او لېوانو به واوړي، سره لرې پرې راغله، نو یې په زوره چیغې کړې.
کلیم جانه! ګرانه کلیم جانه! چېرې یې کلیم جانه؟ مساح خوارکي نږدې دوه ساعته چیغې ووهلې او وروسته له هغې چې یې اواز بالکل غلی شو او په دې فکر شو چې ځنګه باید شپه په ځنګله کې سبا کړي، یو ضعیف زګیروی یې باد غوږو ته ورسوه.
کلیمه! دا ته یې، ګرانه کلیم جانه؟ څه چې ځو.

ما ـ و ـ ژ ـ نې.
اوه، ګرانه کلیم جانه! ما مسخرې کولې، خدای مې دې مړ کړي که به له ټوکو بل څه و.
زه چېرې او توپانچه چېرې، له ډاره مې دروغ ویلي، رحم وکړه، څه چې څو سړو مړ کړم.
کلیم فکر وکړ چې که مساح په رښتیا غل وای، دلته به پاتې نه وای، په همغه اول دړې دنګ کې به له اس او ګاډي سره ورک وای؛ نو له ځنګله ووت او زړه نازړه مساپر ته نږدې شو.
ښه څه خبره ده احمقه! وډار شوې؟ ما... ما مسخرې کولې، ته خو هېڅ په ټوکو نه پوهېږې، سپور شه چې ځو. کلیم ګاډي ته وخوت او وغورېد.
خدای دې انصاف درکړي، خانه! که پوه وای سل روبله دې هم راکولای، نه مې راوستلې، نږدې وه چې له ډاره مې ساه وخېژي.
کلیم اس ته قمچینه ورکړه، ګاډی ولړزېده. بله کلکه قمچینه یې حواله کړه، دا ځلې وخوځېده. په څلورمې قمچینې ګاډی روانه شوه. مساح تر غوږو پورې شړۍ کې تاو شو او په فکر کې ډوب لاړ. نور نو ورته نه لاره خطرناکه وه او نه کلیم.

کابل مجله، ۱۳۳۹ ل، چنګاښ، ۴ ګڼه / پرلپسې ۴۸۹ ګڼه.

# د اډوارډ بېلامي اوټوپیا

د امریکایي پوه واسرمین لیکنه
مأخذ: اوسنۍ سیاسي فلسفې

د نولسمې پېړۍ ډېره ښکلې او بېجوړې اوټوبیا د اډوارډ بېلامي تالیف دی چې د (بېرته نظر) په نامه کښل شوی دی.
په دې کتاب کې د بوستون ښار ته په (۲۰۰۰ م) کال کې یو خیالي سفر ترسیم شوی دی. د کتاب موضوع ګردسره عصري او نوې برېښي. دلته صنعتي تمدن اصلاح شو، ښکاري دا تمدن د عقل تر ادارې لاندې راوستل شوی. په دې ډول چې د ټول ولس د ژوندانه معیار بېخي هسک دی، ټول ولس د صنعتي پلټن په څېر متشکل دی. هر وګړی د خپل استعداد په مطابق وظیفه ترسره کوي، ولې تولیدي ماشینونه یې له ځمکې سره یوځای ټول مالوم دي، رقابتي شخړې له خپلو ضایعاتو سره ځای نلري، اقتصاد یې په ملي پلان د تقاضا په اندازه اموال تولیدوي او خلکو ته یې وېشي، د وګړو عایدات سره برابره دي، هېڅ یو له بل څخه څه امتیاز نه لري، پیسې او بانکداري هم نشته. په ځای یې د لیکنې د کریدت نظام چلند لري چې خرڅ شوي شیان پرې لیکل کېږي. له یووېشت کلنۍ څخه تر پنځه څلوېښت کلنۍ پورې کار کول اجباري دي، تر هغه وروسته تقاعد شروع کېږي.
په تقاعدي دوره کې هم اجوره پوره وي. متقاعد اختیار لري چې په هر ځای کې وغواړي خپل باقي عمر تېر کړي او په هر راز کولتوري فعالیتونو کې بس په خپله خوښه ګډون وکړي او خپل عیش و نوش جاري وساتي. په دې ډول د سبا ورځې وېره نه شته او د ژوندانه ناوړې خواوې هم اصلاح دي. ددې کار نتیجه نه یوازې داده چې صنعتي شخړې پای ته رسېږي؛ بلکې جرم و جزا هم تر اخري حده کمېږي او اجتماعي انډیوالي واقعیت پیدا کوي. د ملي اقتصاد اداره د کارګرو په صنفي اتحادیو ولاړه ده. هره ډله کارګر خپل مربوطه صنعت ته منسوب وي چې هغه د (څانګې) په نامه ځانله تشکیلات لري. په

دې ډول تجارتي څانگې د سیاسي موسساتو ځایونه نیسي او وروسته د ابدي سفر لپاره روانېږي. صنعتي او یا د کارخانو مشران او ماموران د انتخاب په اساس میدان ته راوځي او دوی یو راز هیرارکي حکومت غونډې خدمت کوي چې رئیس به یې یوازې د یو مشر په څېر حیثیت لري.
دا لوی عقلي او موثر نظام نه یوازې د امریکې په متحدو هېوادو کې لاره مومي؛ بلکې په نورو مترقي اروپایي ملکونو کې هم تعقیبېږي. د دوی ترمنځ د متقابلې گټې په منظور یوه (فدرالي اتحادیه) جوړېږي چې د هغې له مخې به هر هېواد داخلي ازادي لري. سوداگري به پوره ازاده وي هغه یوازې د تجارتي توزان (بېلانس) برابرولو په منظور مصنوعات وړي او راوړي؛ او یوه بین المللي شورا به یې اداره او څار کوي.
بېلامي هم د زیاترو ړومبنیو او ټوپیایي لیکوالو په څېر د ټولو وگړو لپاره د عمومي روزنې او ښوونې طرفدار و، پدې ټینگ و چې پوهنه باید په ډېر هسک معیار بې له کوم امتیاز نه د ټول ولس لپاره وي. ښځې باید د ژوندانه په ټولو خواوو کې له نارینه‌وو سره مطلقه برابري ولري. سربېره پردې دوی باید دا توان ولري چې ځانله یوه نړۍ جوړه کړي چې هلته وکولی شي یو تر بله سیالي وکړي، احساسات او جذبات ښکاره کړي او مسلکونه تعقیب کړي. اوتوپیایي لیکنې ډېرې دي او قوت او اثر یې هم ښکاره دی. نن ورځ هم داسې اثار ډېر لیده شي چې د هر نسل ناوړې او ښې خواوې په خوږو او خیالي الفاظو کې څرگندوي. د دوی څه نظریات د گریز له قسم څخه دي؛ خو ټول یې دا راز نه دي. په عمومي ډول دوی ټول د باشعور او رښتیني کوشش په لوري ټینگار لري او لکه څرنگه چې پورته ښکاره شوه، دوی ټول هڅه کوي چې اوسنۍ ټولنې له سره واړوي او د عقل په اساس یې بېرته جوړې کړي.

کابل مجله، ۱۳۳۹ل، وږی، ٦گڼه/ پرلپسې ۴۹۱گڼه.

# د نولسمې پېړۍ اوټوپيايي ليکنې

ليکوال: امريکايي پوهاند لويي واسرمين

د صنعتي انقلاب په راتلو سره د اوټوپيايي ليکوالو افکار لا هم پسې اجتماعي شول. د ليسه رژيم په داسې حال کې چې د پانگه ورو بانکونه ډک کړل، د مزدورانو ډله يې له نيستۍ نه پمنه کړه. د خوارۍ په لور يې سر کړه، په اقتصادي ډگر کې د فدريک نظريې له هر ډول دخالت او تشبث نه کرکه کوله او نه يې پرېښووده چې (اقتصادي طبيعي قوانينو) کې لاس ووهل شي. حتی ډېر کوچني عمل ته به هم اجازه نه وه چې له فردي فعاليت سره سيالي وکړي. لوی پرتستانتي اخلاق هم په اصل کې د فرديت په خوا روان و. د کليسا اجتماعي وجدان هم له خپلې رټل شوې واکمنۍ سره مردود و او داسې نور اخلاقيات نه و راپيدا شوي چې اقتصادي آزادۍ ځپلې وساتي. شخصي ملکيت رواج و او هغه د حکومت او ولس له اختيار نه لوړ گڼل کېده.

اوټوپيايي افکار ديته ځير شول چې لومړی د صنعتي ټولنې ځرنگوالی وپېژني او بيا ددې ټولنې هغه شخړې چې د شتمنو او بېوزلو ترمنځ يې پيدا کړې دي، درک کړي.

نژدې ټولو نويو مصلحينو بې له کوم استثنا ځخه د ټولنې په اساساتو حملې وکړې. دوی د خوارانو او بېوزلو په منځ کې د عمومي خوارۍ، ناروغۍ، جرم او نادانۍ له امله د طبيعي اقتصادي قوانينو له قابليت ځخه گرد سره منکر شول او ښکاره يې کړه چې دا قوانين نه شي کولی ولس هوسا کړي؛ بلکې ددې قوانينو له کبله ده چې اجتماعي فسادونه وار په وار زياتېږي او نژدې ده چې ټولنه د پناه په خوا روانه کړي. دوی شخصي ملکيت د اجتماعي بې عدالتۍ سرچينه بلله او ويل يې چې د اجتماعي بې عدالتۍ يوازينی علاج دا دی چې ملکيت اجتماعي شي. د دولتي کنټرول په متعلق په دوی کې اختلاف و؛ خو په دې ټول موافق وو چې شخصي پانگه دې گرد سره نه وي. دوی د نوي صنعتي کېدو حقايق ټول ومنل او ځرگنده يې کړه چې نوی ماشيني تخنيک دې د ټولو د بهبودۍ په لار کې په کار شي. رقابتي او استثماري منافع يې رد کړل او د هغه پر ځای

يې تشويقي لار وښودله. په دې ډول دوی مروجه قاعده چې اجتماعي جوړښت د فردي آزادۍ له لارې امکان لري؛ شاته وغورځوله. اقتصادي نظام د دوی په کامنولتو کې داسې درک شو چې بايد مطالبو مقاصدو لپاره وسايل وګرځي، د ټولو لپاره مادي ارامي او برابري د ښه ژوند اساسات وګڼل شول. اقتصادي اصلاحات د ټولو د هوساينې او بهبود لپاره او نه د ګټې کولو لپاره پېشنهاد شول.

## سان سيمون

په اتلسمو او نولسمو پېړيو کې د اوټوپيايي ليکوالو کړنلار ښه ارته نيول شوې وه. سان سيمون په خپل کتاب (نوی عيسويت) کې د بشري ورورګلوۍ پېغام خپور کړ او څرګنده يې کړه چې ټولنه دې د همدې مقصد لپاره موظفه وي. دی وايي چې د ټولنې مشران او لويان دې پوهان وي او دوی دې د روحاني مقاصدو په واسطه تحريک شي، توليدي ملکيت دې اجتماعي وي او د ټولو د هوساينې او خير لپاره دې استخدام شي. هر وګړی دې د خپل استعداد په قرار توليد وکړي او د انفرادي لياقت له لارې دې تشويق شي. ميراث دې نه وي، ځکه چې ميراث تشويقي پرنسيپ تر پښو لاندې کوي.
سان سيمون د نوي صنعت توليدي قواوو تر تاثير لاندې تللی و. د ده پروګرام دا ويل چې تر ټولو دې زيات اقتصادي اعمالو ته توجه وشي او له هغه څخه دې د بشريت د ښه والي په لار کې کار واخيستل شي. دده هيله نه يوازې د محرومو ډلو په خوا وه؛ بلکې د ټولو طبقاتو فکر او وجدان ته وه.

## فورير

چارلس فورير ويل چې بشر په خټه کې نيک دی، په دې شرط چې له قيد او بست نه خلاص وي او پرېښودل شي چې خپلې طبيعي هيلې ترسره کړي او خوک يې په لاره کې خنډ نه شي. خو له بده مرغه ليدل کېږي چې له هرې خوا چارپېره شوي او موسساتو يې لاس او پښې ورتړلي دي. خپله دی يو پوخ او باتجربه سوداګر و؛ نو ځکه يې رقابتي اقتصاد باندې د انتقاد څټکونه وار کړل او هغه يې ګرد سره ضايع کوونکي وښودل.
په عرض کې يې خپل پيشنهادونه وړاندې کړل او د فيلانکس سيستم يې د مخه کړ. فيلانکس يا تعاوني ټولنې چې د بېلو ډلو له فني کسانو څخه به جوړې وې او هر فرد به يې برابره برخه لري. هره تعاوني ټولنه به کرهڼه کوي او صنعت به په دقيق حساب روان وي. په داسې ډول چې کار به هر يوه ته په زړه پورې او ابتکاري وي، نه دا چې د زړه وهوونکې پېټې په څېر وي.

کښت او کرهڼه باید په علمي اساس وشي او طبیعي منابع په ښه وجه په کار واچول شي. د تولید کوونکو اموالو زیاتره برخه دې د شخصي ملکیت په لاس وي، خو په هره تعاوني ټولنه کې دې ملکیت د اسهامو د خرڅولو له لارې د غړو ترمینځ وویشل شي. پرازیتي او طفیلي یا هغه کسبونه چې تولیدي خاصیت نه لري، باید ګرد سره ورک شي. د فیلسوفانو، پلټونکو، اقتصاد پوهانو او نورو زیاتره منځنیو ډلو کسبونه ټول په طفیلي کسبونو کې راځي. د وړو پالنه او روزنه باید عمومي وي او په داسې ډول دې عملي شي چې د دوی طبیعي استعداد منکشف کړي. دا پالنه روزنه باید په مترقي اساس بنا وي. د فوریر سیستم ډېر طرفداران پیدا کړل، نه یوازې په اروپا، بلکې په امریکې کې هم دده پیروان ډېر شول، حتی په وروستي هېواد کې د فوریرزم په اساس یوه ټولنه هم راووته چې په تجربوي ډول یې یو فارم د (بروک فارم) په نامه ودان کړ. بروک فارم اته کاله دوام وکړ؛ خو وروسته په (۱۸۴۹م) کې یې اور واخیست او ټوله شتمني یې وسوځېده.

## رابرټ اوون

رابرټ اوون د انګلستان و او په نولسمه پېړۍ کې یې د بشري اصلاحاتو اوټوپیایي لیکنو له امله ښه نوم وګاټه. اوون د اوبدلو د صنایعو یو کامیاب څښتن و په نیولانارک کې یې یوه وړه صنعتي ټولنه جوړه کړه. خلک یې ځانته متوجه کړل. په ټول هېواد کې یې د ښې نوم خپور شو. یو امریکایي کتونکی دده ټولنه داسې ستایي «دا صنعتي ټولنه په ټوله نړۍ کې بې جوړې ده. دلته کراري، ښه حکومت، برابري او روحي خوښي غلبه لري».
ده په دې لومړنۍ تجربې سره خپله نظریه عملي کړه او دا یې څرګنده کړه چې اجتماعي محیط د انسانانو د ژوندانه څرنګوالی ټاکي. اوون وروسته دېته ځیر شو چې قوانین راوباسي او په دې ډول د صنعتي ټولنې څه ناوړه اړخونه علاج کړي. د اصلاحاتو شمېر یې زیات و، له هغې جملې څخه د ورځې دولس ساعتونه د کار کمول، له لس کلنۍ نه لاندې هلکانو باندې کار نه کول او ابتدایي ښوونه روزنه عمومي  کول او داسې نور. په راتلونکو کلو کې د اوون د بریالیتوب ډنګ هره خوا ګډ شو. لا پسې بریالی شو، کوپراتیفي ټولنې یې جوړې کړې، د سوداګرۍ اتحادیې یې تشکیل کړې، بانکونه یې مینځ ته راوستل، د بې وزلو د تعلیم لپاره یې پروګرامونه وایستل؛ انګلو - امریک فدریشن یې جوړ کړ او اجتماعي تجربې یې عملي کړې. څه اصلاحي پروګرامونه یې په ژوندانه کې تطبیق شول؛ خو د انسان دوستۍ او همنوع ګاللو په متعلق د ده نه سترې کېدونکي کوښښونو په عصري صنعتي  ژوندانه باندې زیات تاثیر وکړ.

کابل مجله، ۱۳۳۹ ل، لیندی، ۹ مه ګڼه / پرلپسې ۴۹۴ مه ګڼه.

# د تولستوی برخه په ادب کې

لیکوال: سرکي بوخاروف
انګرېزي مترجم: ستیفن اندریور

میلیکور دې ووګ د روسي ناول په شاوخوا کې یو اثر لري. دا تالیف یې د تېرې پېړۍ په پای کې په پاریس کې راوتی دی. د تولستوی (جنګ او سولې) په باب داسې نظر لري: یوازینی مثال چې د حماسې ټول عظمت او د تحلیل ګرد جزئیات په کې غونډ شوی دي. داسې استعداد چې درسته ټولنه وکاږي، د یوه ولس عمومي او کلي تصویر خلق کړي او ورسره د سجیو روحیاتي کره وره تر ډېر دقیق ادبي مایکروسکوپ لاندې وګوري. ان تر دې چې د هغوی واړه واړه څیزونه او ټول څیزونه او ټول جزئیات هم پرې نه ږدي. رښتیا چې نه یوازې روسي ادب سره ستره مرسته وه، بلکې جهاني ادب ته لوی خدمت او پوره کومک و.

دا رښتیا وه چې تولستوی نه د مخه وتلي کسان وو او هغوی هم په حماسیاتو او د روحیاتي تحلیل په فن کې لیکنې لري؛ خو لرغوني قوي حماسیات لکه څومره چې د نولسمې پېړۍ روسي ادب او تر ټولو زیات د تولستوی او داستایوسکي آثار د هغوی د سیکالوجۍ تل ته ننوتل، د نورو لیکنې دومره ژورې نه لاړې. که څه هم چې هغوی به خپل اتلان په عمل کې ښوول. له بلې خوا هغسې لیکوالان لکه سټرن او روسو چې تولستوی ښخي زیاته علاقه ورسره لرله، د روحیاتي حالاتو په ترسیم کې زښت زیات ځیر شول؛ مګر دا یې ونه شوای کړای چې د افاقي او بهرني جهان پوره ښه او کامل تصویر وکاږي. د تولستوی یو یادداشت به دلته راوړل شي، کوم چې ده په خپله په کال (۱۸۵۳م) د نوامبر په لومړۍ کښلی و.

د ادب په نوي میلان کې د جذباتو له تفصیل سره علاقه د هغې علاقې ځای نیسي، کومه چې په خپله له وقایعو سره ښووله کېږي. تولستوی له هر بل پخواني روسي لیکوال نه زیات د فرد په روح کې دننه شو، انساني سجیه یې وکارله او ان په تل کې یې ورننوت. د

انسان روحیاتي جهان د لومړي ځل لپاره په شرح و بسط سره وسپړل شو او لیکوال ورسره مستقله علاقه پیدا کړه، داسې چې تر ده د مخه دومره او دغسې نه وه.
ورسره ورسره تولستوی حماسي تصویرونه په داسې بر او سور کاري چې تر اوسه یې ساری نه لاره. د انساني طبیعت په ساحه کې کشفیات له هغو کشفیاتو سره لاس په لاس روان دي، کوم چې د ولس په ژوندانه او په ټولنه کې پېښېږي. اناتول فرانس لیکي: تولستوی د حماسي زغرو سازوونکی، زموږ ټولو ښوونکی دی. نورو غربي لیکوالو هم تولستوی دغسې یاد کړی. د دوی ټولو تبصرې د هغه لارښوونکي رول پېژندنه ده، کوم چې روسي ادب د نولسمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې د اروپا په کولتور کې لوبولی دی او هغه وخت چې روسیه د انقلابي نهضت په مرکز بدله شوې وه. د لینن نظریه دا ده چې د لیکوال په حیث د تولستوی اهمیت په دې کې دی چې دی د روسي انقلاب جهان شمول اهمیت منعکس کوي. تولستوی د ګڼو بزګرو احساسات او افکار افاده کوي، کوم چې دوی په روسیه کې د بزګرو د انقلاب په سبا یې لرل. لینن وویل چې د تولستوی لیکنې د هغه پراخ بشري سمندر انعکاس دی چې ان تل یې لا په لړزه کې دی.
دا و هغه تاریخي حال په کوم چې د (جنګ او سولې) عالي حماسیات وزېږېدل. دې ناول دا ضروري کړه چې د قهرماني حماسیاتو څخه وغږېدل شي او هغه بېرته را ژوندي کړل شي. تولستوی چې به په خپله له دې ناول څخه ګړېده، هغه به یې د (هومر حماسه باله، ویل به یې، بې له بې ځایه شکسته نفسۍ دا د ایلیاد په شان دی). د ناول حماسي خوا د تولستوی مانع نه شوه چې د روحیاتو او ژوندانه جزئیاتو ته زیاته توجه ونه کړي.
څوان لیکوال د خپل تالیف په لومړنیو کلونو کې دا فکر وکړ چې د لوی او واړه مسئله او د عام او خاص مسئله یو له بل سره ور ځای کړي، (جنګ او سولې) په دې باب کې یې د حل یوه لاره پرانېستله. داسې مختلف موضوعات لکه جنګ او سوله، د اجتماعي انکشاف د قوانینو، د لښکرو او ولسونو د قهرمانانه سرنوشت په نظر کې نیول او له بلې خوا فامیلي حیات چې ټول جزئیات یې په کې بیان شوي، نه یوازې په دې ناول کې یو تر بله سره په ګډه ژوند کوي، بلکې یو له بل سره په یوه ادبي تام واحد کې اوبدل شوي دي. د (نتاشه روستووا) سجیه به را په زړه کړو چې د ناول د لوستونکو لپاره یو واقعي کشف و. په هغه وخت کې څه وخت چې نتاشه د خپل تره د لیدو لپاره ځي، روسي نڅا کوي. ددې دا نڅا په خپل نوعیت او کرکټر کې پوره هره ورځینۍ او محلي ده، مګر یو نه لیدونکي تار دا منظره د ناول له سترې موضوع سره تړي چې هغه د وطن خواهۍ یوه ملي مبارزه ده. تولستوي ددې قهرمانې په باب چې د نڅا په حال کې وه، لیکي:
«دا نرۍ ښکلې پري چې په بخملي او ورېښمینو جامو کې درېده، په ټولو هغو شیانو

پوهېده چې په (انيسيا) د انيسيا په مور و پلار او په هر روسي او روسۍ کې موجود وو. په هر روسي او روسۍ کې دا هغه تله ده، کوم ته چې په طبيعي او آزاد ډول رسېدل وشو، د (نتاشې) د سجيې په لارې؛ ځکه چې ددغې تلې په وسيله د پدري هېواد لپاره د جنګ په دوران کې بشري ارزښت وتلل شو او اندازه کړای شو».

بول کونيسکي د بورودينيو د جنګ له شروع نه د مخه له هغو احساساتو نه غړېږي، کوم چې هر عسکر لرل او دا دده او دده د لوړې جامعې د ملګرو ترمنځ يو لوی فاصل خط کاږي، کوم چې د هغوی طبقاتي انانيت او شخصي ګټه د وطن په امتحاني کلونو کې په خاصه توګه ښکاره وه.

له نورو عسکرو سره د بول کونسکي يو شان احساس لرل او هغه وطني نڅا چې د نتاشې په کرکټر کې راښکاره شوه، دواړه د طبقاتي مناسباتو د تنګ نظرۍ مخالف او د هغوی د ښکلاوو منکر وو.

دغه حماسي روحيه چې په ورځنيو وقفو کې ننوځي او په کې لار او ځای پيدا کوي، د روحي کړو وړو په تحليل کې ښکاره وي. د ادبي ودانۍ په هرې وړې ذرې کې انعکاس کوي او په کې ځان ښيي.

تولستوی د احساس جزئيات د انځور موضوع وګرځوله. د شخصيت روحي موجوديت يې په ميدان کې لوڅ کړ. د احساساتو، هيلو، اسرو او افکارو ټول جهان يې کشف کړ او دا يې وښوده چې ددې جهان محتويات او اهميت په هيڅ ډول د محرکاتو په هغه تعبير تړلي نه دي چې د کړو د سرعت باعث کېږي. د عمل او د هغه روحي محرک ترمنځ کړۍ هېڅکله د تولستوی په ليکنو کې شلېدلې نه ده او که دغه کړۍ ماته وای، تولستوي به ستر ريليست نه وای. خو ده دا وښوده چې عمل تل د بشري سجيې دارايي او محتويات نه خالي کوي او انسان زياتره له خپل عمل سره تقابل نه کوي. د شعور او د روحياتي عمليې د قوانينو او اشکالو پټ او ظاهري نه محسوب کېدونکی عمل او فعاليت د يوه ليکوال په حيث دده د مطالعې خاصه موضوع شوه.

د تولستوی د استعداد دغه خاص خصوصيت ته د چرني شفکي پام شو چې دده د لومړنيو اثارو په باب کې يې يوه زبده تحليلي مقاله وکښله. چرني شفکي وايي چې روحياتي تحليل بېلې بېلې لارې غوره کولای شي. روحياتي تحليل ترسيمي او تشريحي کېدای شي. دلته يو ليکوال زياتره دېته راګرځي چې د جذباتو جنګ رسم کړي او په دراماټيکي ډول يو احساس په بل احساس سره واړوي. په دې حالت کې معمولاً لوستونکي ته يوازې دوه انتهاګانې وړاندې کېږي چې هغه د روحياتي عمليې ابتدا او انتها ده؛ مګر تولستوی تر ټولو زيات د دوو شيانو له خوا ګردې د احساساتو او افکارو يوه ډله يا يو قطار ځنګه

له بل ځخه راوځي او تړې انکشاف کوي. بل دا چې د روح د ډیالیکتیک له خوا، د روح د ډیالیکتیک دغه تعریف چې د چرني شفکي له خوا مصطلح او ثبت شو، د تولستوی د هنر ممتاز صفت په پوره وضاحت رابسیي. چرني شفسکي لیکي:

«د کونت تولستوی د استعداد خاص خصوصیت په دې کې پروت دی چې د روحي عملیې د نتایجو ترسیم ته ځان نه مقیده کوي. دی خو د عملیې سره دلچسپي ښیي. دی دغه داخل وجود لوڅ لغړ بهر ته وباسي، په استادانه ډول یې کشفوي او تر سویې یې ددغه داخلي وجود د تغییر و تبدیل فوق العاده سرعت او ناتمامه شوې تنوع هم ورسره رابرسېره کوي.»

تولستوی خپل لوستونکی د خپلو کرکټرونو په ارواحو کې دننه کوي او هلته د هغوی ټول انجړ بنجړ حال او دارایي ورښیي. تولستوی د یو ډیالوګ ور پرانېزي. ګڼون کوونکي نه یوازې د ډیالوک موضوع تعقیبوي، بلکې د خپلو افکارو سلسله هم پسې وړاندې بیایي؛ داسې چې هر یوه ته خاصه ده او په خبرو کې په غیرمستقیم او نامکمل ډول انعکاس کوي؛ خو دلته پوښتنه راځي چې ایا دغه طرز به بشري سجیه له خارجي جهان نه ګوښه نه کړي؟ د تولستوی په مناسبت به دغسې پوښتنه ډېره عجبه وي. د تولستوی د هغې مفکورې په باب چې ده د انسان په باب قایمه کړې، تر دې بل پردی او مخالف سوال نه شته.

د هغه روحي تحلیل په تخنیکونو کې چې تولستوی ته منسوب دي، د عندیت او انفسیت هېڅ نښه نښانه هم نه لیده کېږي. برخلاف، په هغو کې د حماسي افکارو میلان شته چې د تولستوی په ټولو لیکنو کې واضح دی. تولستوی د انسان او جهان ترمنځ د وصل کړۍ دومره پراخه او رنګ په رنګویني چې انساني کردار په هره ټاکلې شېبه کې ددې کړیو تنوع هېڅ نه شي جذبولای؛ مګر په هغه طریقه کې چې روحیاتي شېبه‌ییز حالت ښوول کېږي. موږ د تولستوی د حماسي خصوصیت ریلیزم ګورو. حماسي لیکوال ځخه غیر، تولستوی نه هېڅ روحیات پوه تولستوی مینډل کېدای نه شي. روحیاتي کوچنیتوب ممکن کېدای شي او د انسان داخلي جهان د یوه مستقل جز او خاص جهان په حیث پېژندل کېدای شي، ځکه چې دغه داخلي جهان په ځان کې داسې شیان جذب کړي چې له ده نه پیل دي او افاقي وجود لري.

په جنګ او سوله کې د بورو دینو د جنګ په بیان کې د مشاهد پایرۍ بیزو کوف افکار د پراخې طبیعي منظرې مقابل طرف ته په ځیر ځیر مخ په جریان دي. موزیسک د غونډۍ لپاره بوروډینو ته د رسېدو په لار کې بیزوکوف لښکري ځوانان ویني چې د جنګ میدان ته په خوځېدو دي. د دغو ځوانانو خنداني او زړه خوځوونکې څېرې چې

غالباً د مرگ په لور روانې وې، دی سخت تر تاثیر لاندې راوست. دې حال دده په فکر کې یوه پوښتنه پیدا کړه چې ځواب یې غوښت. څومره چې دی ورنږدې کېږي، هغومره زیات او ګڼ خلک ویني او دی د خیال د کومې مخفي سلسلې په اثر په دوامدار او نه تغییرېدونکي ډول سره د موزیسک غونډۍ په زړه کوي او دده دغه په زړه کېدل دی د نوي څېز ستایلو ته بولي، په داسې حال کې چې جنګ ته د بزګرو نېولو کاروبار ویني (پایري یو ځل بیا په موزیسک کې د زخمیانو په فکر کې ډوب شو او په دې پوه شو چې څه وخت چې ده وویل چې دوی غواړي چې ټول ملت پرې د پاسه ولوېږي، عساکرو څه معنا ترې کړې وه).

پایري د عساکرو له هغو لوړو صاحب منصبانو سره په ګرېدلو پیل کوي، له کومو سره چې ده په مسکو کې پېژندنه لرلې وه. خو سره له دې هم دده ذهن مختلفو افادو ځان ته کش کړی وو، کوم چې ده د نورو په څېرو کې لیدلې وې، یعنې هغه افادې چې ده شخصي مسئلو ته نه دي کړي، بلکې د ژوند او مرگ له عالمي مسئلو سره د منبهاتو، تخطراتو او ادراکاتو د عکس العمل یوه مکمله سلسله او د ذهني عملیاتو یو مستقل قطار جوړېږي چې هره شېبه یې نه یوازې له هغه حال سره ربط لري، کوم چې پایري په کې ګیر دی؛ بلکې له هغه حال سره هم تړلی دی چې له دې حال نه بېل او مستقل دی. دغه روحیاتي لړ په هر ټکي کې نه یوازې له بهرنۍ مشابهې شېبې سره بلکې د فکر له مخینۍ سلسلې سره هم یو مناسبت لري. هر نوی اثر د داسې عملیې یوه برخه ګرځي چې له پخوا په جریان کې وه، داسې هم د یوه سربخوده متحرک جریان یو جز کېږي او له پخوانیو تشکیل شویو ادراکاتو سره په تماس راځي او د تماس دغه شېبه د بل انکشاف د شروع ټکی کېږي.

هغه روحیاتي عملیه چې د پایري په ذهن کې تشکل مومي، په هېڅ وجه مطلقه یا انفسي نه ده، بلکې په واقعیت کې هغه مشتمله ده چې د انسان د جذباتو او افکارو په ضروري معرفت د هغو مسئلو په حل سره چې له دوی سره تړلي دي او په دې ډول د افکارو حرکت ته سرعت وربښي او د روح په ډیالیکتیک سره افاقي منبهات د شخصیت د داخلي انکشاف فعال متحرک قوت دی. دا داسې یو عامل دی چې یو مخ په وړاندې حرکت سریع کوي. پایري یوازې منبهات نه راټولوي، بلکې په فعال ډول د هغو اکتساب کوي. د اکتساب دا عملیه د هغې شېبې لپاره لار خلاصوي او هغه شېبه ممکنه کوي چې په ټولو هغو منبهاتو سمدستي نوې رڼا اچوي، کوم چې لا پخوا جذب کړل شوي وو. داسې هم په یوې نوې طریقې سره د هغو شېبه‌ییز را په زړه کول او ژوندي کول رابولي او له هغو څخه یو تام واحد جوړوي او مخفي معنی یې میدان ته راوباسي.

دا ټول هغه وخت واقع کېږي، څه وخت چې پايري له شاهزاده اندري سره خبرې کوي او هغه وخت چې وروسته په ډېرې بې صبرۍ او ناطاقتۍ سره دا اعلاموي چې د جنګ نتيجه اړه لري «په هغه احساس سره چې په ما او تا کې او هر عسکر کې دی». ټول هغه څه چې ده هغه د ورځې ليدلي و او ټول هغه اهميت او تندي تروې افادې چې ده په روانو مخونو کې ليدلې وې، ده ته نوی چراغ روښانه کړي. دی د وطن خواهۍ په هغه پټه تودخې (لکه څنګه چې يې په فزيک کې نومي) پوه شو چې په هغو ټولنکو مخونو کې ده حس کړې وه. دې حال ده ته ددې علت وښود چې ولې دوی په کراره کرارۍ، مګر په خوښ زړه د مرګ په لور روان وو او تياری يې ورته نيوه.
تولستوی د خلکو مخ په وېښېدو عامه ژوند کاږي چې دلته اشراف قهرمانان لکه پايري او اندري بولکونسکي يې هم اجزا ګرځي.
په سپينه خولۍ او شنه زنانه‌يي کرتۍ کې د سپاره هغه ګوښه خوښوونکی (د مسخرو نه ډکه چاقه قواره چې د عساکرو په سمندر کې لا هم پسې ډوب ځي) دا دی هغه تصوير چې مونږ يې د بوروډېنو په لاره د پايري په سفر کې لولو.
د اشرافي له رسامي کوټې نه د تود جنګ ميدان پورې يوځای له عامه عسکرو سره د پايري لپاره يو خارجي بدلون نه دی، بلکې يو حالت دی چې دده اطوار او د هغه داخلي تغييرات ور ټاکي. په ژوندانه کې د ګډون کولو حس چې په کې شخصي نه بلکې عالمي مسايل حل کېږي او د پايري له مطلوب جهان سره د هغه د تماس بر او سور، هغه شيان دي چې دده د داخلي وجود ټينګ محرکات ټاکي.
د پايري سجيه بيروني منبهات اخلي، په ځان کې يې جذبوي او په دې ډول دا په ده کې د داخلي بدلون باعث کېږي. تولستوی روحاً د قوي سجيو شعور په ثابت ډول په کار لګيا دي لکه پايري بييزکوف، اندري يولکونسکي او په اناکارينينا کې لميوين.
شاهزده اندري وايي: «زه د شپې په دوو بجو بسترې ته ځم. په مغز کې مې چرتونه ګرځي راګرځي، خوب ته مې نه پرېږي؛ مګر تر سبا پورې په ځای کې اوړم را اوړم، ځکه چې چورتونه راباندې يرغل کوي او زه ترې ځان نه شم خلاصولی».
د روحي ژوند لپاره دغه نه وېښېدونکې تقاضا نه يوازې يو انفسي ضرورت دی چې د يوه معين فرد لپاره خاص دی، بلکې يو افاقي ضرورت او د حيات تقاضا ده.
کونسټاټين بله چاره نه لري مګر دا چې په هغو مسايلو فکر وکړي چې د روسي ژوندانه اضدادو راپورته کړي، هغه چې په (۱۸۶۱ م) کې د نيمه غلامۍ (Serfdom) په لغوه کولو سره پوره بدل شوي دي. خارجي منبهات په شعور کې ننوځي او د تامل تقاضا لري. دغه شی دی چې دی يوې سجيې روحياتي انکشاف تعيينوي. تولستوی په خپل (نو مونږ

څه باید وکړو؟) نومي اثر کې لیکي:
«دا هغه څوک دی (هغه په دې خوښ نه دی چې څه یې چې په زړه کې دي په هغو فکر وکړي، یا یې آواز پورته کړي؛ بلکې دی هغه څوک دی چې دوه نه بېلېدونکي قوتونه یې کړو ته مجبوروي او بې له هغو نه نور څه نه شي کولی. داخلي ضرورت او د شاوخوا تقاضاګانې) چې دی به فکر او دی به هنرمند شي. دا شان د تولستوی قهرمانان چې د هغوی داخلي ژوند د یوې اختیاري عملي کرکټر اختیار وي».
د وده کوونکو او منکشف کېدونکو کرکټرونو په کاږلو کې تولستوی لومړنی نه دی؛ خو ده لوستونکو ته وښوده چې سجیې د انکشاف په عملیه کې په داسې ډول تشکل کوي چې هم د لیدو او هم د درک کېدو دي.
رومن رولان لیکي:
«تولستوی په دې بریالی شو چې ان د ژوند سایق په ګوته کړي. په لوستلو کې تاته ښکاري چې کرکټرونه د ژوند له یوه خط نه بل خط ته څنګه تغییر کوي.» په اناکارینینا کې لیوین د پسرلي له ونې سره ورته ښوول شوی دی، داسې ونه چې په دې نه پوهېږي چې واړه ښاخونه به یې چې لا تر اوسه په خپلو پړېدلو پنډوکونو کې تاو دي، څه بڼه اختیار کړي. د لیوین ژوند او کرکټر له یوه خط نه بل خط ته تغییر کوي او دا پیش ګویي نه شي کېدای چې انکشاف به کومه لار په مخ ونیسي، ځکه چې هغه په خپله واقعي انکشاف دی، یعنې د کوم نوي شي زېږېدنه په خپله په کرکټر کې پرته ده او دا یوازې د هغو څېزونو په بېرته خلاصولو سره نه کېږي، کوم چې لا پخوا موجود دي.
دا هغه انکشاف دی چې په اینده کې راپاڅېږي او ظهور کوي. تولستوی د افکارو او احساساتو د زېږېدنې روحیاتي عملیه رابرسېره کوي او دې ته لومړی د چرني شفسکي پام شو.
له حماسي پرنسیپ سره د روحیاتي تحلیل اتحاد تولستوی په دې قادر کړ چې د انساني کرکټر د ترسیم مسئله په نوې لار حل کړي. د «احساس د قوت» مکتب دا ادعا نه شي کولی چې د تولستوی د کارنامو وارثان دي. د اضدادو د کرکټرونو تخلیق هغه کشف دی چې ددې مکتب له حوصلې نه پورته دی، که څه هم د پراوسټ د ناول د چای څښلو او کولچو خوړلو د روحیاتي عملي تحلیل ډېر تامل غواړي. په دې چې هېرو په ذهن کې د وړوکتوب تداعي ګانې رابولي؛ خو دا یوازې یو مجرد فردي احساس او په واقع کې نامشخص دی او معین فاعل نه لري. د داسې احساساتو جمع کېدل د کرکټر یو تام واحد شخصیت نه تشکیلوي. داسې هم د هغه د فردیت څه رڼایي نه غورځوي. هغه «لایتناهي کوچنیتوب» چې پراوسټ یې په ځیر ځیر په زړه کوي، په هېڅ وجه هغه نه

دی کوم چې تولستوی یې د «احساس جزئیات» نومي. له دې امله چې د پراوسټ اثار له حماسي صفت نه خالي دي، دده د مجردو منبهاتو غونډېدل تام واحد نه کېږي. پراوسټ په خپله د کرکټر د تعریف رد اعلانوي، لکه چې وايي (زموږ اجتماعي فردیت د نورو په تفکر تړاکل کېږي.)

د انسان د ترسیم پرنسیپ چې د تولستوی په لیکنو کې پیدا کېږي، اساساً د روحیاتي نیچرلیزم (Naturalism) له پرنسیپ سره مخالف دی. د تولستوی په نظر انساني کرکټر د فردي خواصو یو پېچلی واحد دی چې دی ډېر زور د روحیاتي عملیې په تفصیلاتو کوي؛ خو دده تحلیل له ترکیب څخه نه بېلېدونکی دی. داسې هم روحیاتي تفصیل له اجتماعي پروسو نه؛ نو کله چې د تولستوی د خپل د یوه کرکټر روحي حالت طرح کوي، هغه هېڅکله مجرد نه وي، بلکې هغه د روحیاتي عملیې د لاینقطع زنځیر یوه کړۍ وي. د «احساس جزئیات» تحلیل د سکون حال ته نه رسوي، ځکه چې دا یو نامریي او قدم په قدم انکشاف تشکیلوي او لکه څنگه چې موږ یې وینو، دا انکشاف د کرکټرونو ژوند ته تغییر ورکوي. د کرکټر انکشاف موږ یوازې د هغه په لویو عملیو کې نه وینو چې د حالتو په تغییر او پېچېده گیو کې ځان ښیي؛ بلکې په پټو او لاندې روانو جریانو کې یې هم ملاحظه کوو. داسې هم د کار په حالت کې؛ خو په داسې طریقه چې ږومبی هېڅکله هغسې نه وي اجرا شوی. تولستوی دا حالت د کرکټرونوجریان نومولی دی. بشري کرکټر داسې شی نه دی چې تل به په موازنه کې وي، هر وخت جریان قبلوي. دا جریان یې د ژوندانه د منبهاتو په اثر وي او فکر او تال غواړي. لیکوال کورولینکو په (۱۹۱۰ م) کې تولستوی ته وویل چې «ته دا قدرت لرې چې په بشري طبیعت کې هغه متحرک عنصر درک کړې او واقعه ترې جوړه کړې او دا کار تر ټولو سخت دی». هغه قدرت چې انساني متحرک عنصر پرې ابلاغ کړل شي، د کرکټرونو په پراخ قابلیت اړه لري او تولستوی دا کار کړی دی.

تر ده د مخه هېڅ یو لیکوال په دې نه دی قادر شوی چې په پوره قوت او فهم یې وښیي چې «انسان څنگه زیاتره د خپل ځان غیر مشابه کېږي، په داسې حال کې چې دا همغه انسان پاتې وي». دا هغه الفاظ دي چې تولستوی په خپله په محشر نومې کتاب کې راوړي. دی لیکي: «خلک د سیندونو په څېر دي».

په هغه (اناکارنینا) کې چې موږ یې د ناول په اخره کې وینو او سخته خپه، بدگمانه، بې موزانې او حساسه ده او په خواشینۍ او ناامیدۍ کې یې حال بایللی، ډېره مشکله ده چې هغه (انا) په کې ومومو کومه چې ښکلې، خندانه او ټوکماره وه او (کیټي) د کتاب په لومړي سر کې په لوبو کې هغومره زیاته ستایلې وه. ښایي یو څوک دې داسې فکر

وکړي چې دا دواړه ښځې ګرد سره بېلې وي؛ خو دومره حیرانوونکی تغییر د هغې د نه اوړېدونکي طبیعت د کرکټر انکشاف ښيي چې ځان جذباتو ته سپاري. داسې چې يې په پنجو کې ګیرېږي او ټولې تراژیکي پېښې پرې راولي. (انا) او (ورونسکي) دواړه د خپل اجتماعي اشنا محیط غندنه کوي او جامعې ته چیلنج وړاندې کوي؛ خو دومره ده چې د (ورونسکي) د ژوندانه د خارجي حالت له دغه بدلون سره ذهني ژور تغییر ملګری نه دی؛ بلکې هغسې چې له (انا) سره دی، د تناقضاتو اصلي منبع همدغلته ده چې د دواړو د ژوند په وروستي دور کې راځي. (ورونسکي) چې ژور بدلون ته مستعد نه دی، په دې نه شي پوهېدای چې د (انا) په زړه کې څه پېښېږي. د هغې په وجود کې هغه (انا) نه شي مېندلای چې یو وخت يې پېژندله. د ده زړه طلاق ته کېږي او غواړي چې د دواړو حال معلوم او فیصله شي، مګر دا هغه شی دی چې هغې ته له ډېرې مودې راهیسې غیرلازمي و. ټولې هغه «معقولې» لارې چارې چې هغې ته وړاندې کېږي، هغې ته د نه منلو دي. له منل شوي نظر څخه او د موضوعي منطق له مخې (انا) منحرفه او بې اساسه او نا موافقه ده؛ خو خبره دلته ده چې یو بل منطق دا په مخ بیايي او ورته قوت ورکوي او خپل تراژیکي انجام ته يې رسوي او ددې علت هم د هغې سره داخلي نبات او قوام دی. حماسي معیار او روحیاتي دیالیکتیکي اعلی طریقه د تولستوی د اثارو دوه اړخه نه دي چې یو تر بله سره نښتي او یو له بل نه غیر امکان نه لري. هغسې هڅه چې د هغې په وجه له داخل څخه بشري کرکټر شرح او تفسیر شي؛ تولستوی ته چې د ذهني عملیاتو د تحلیل دان استاد باله شي بېګانه دي.

تولستوی حتی د کرکټر د شعور په داخل او تل کې داسې دارايي او افاقي پېچلي واقعیت پیدا کوي چې هغه ډکوي او محتویات يې ور جوړوي. تولستوی په داسې حال کې چې د هر فرد په مقابل کې استثنايي علاقه ښيي، ددې قدرت لري چې له هغه نه یو عضوي جز جوړ کړي او له ده سره یو ځای د هغه د کرکټر له تفصیلاتو او سرنوشت نه او داسې هم د سترو پېښو او عملیاتو نه چې د جوامعو په مختلفو طبقاتو کې له میلیونو انسانانو سره تعلق نیسي، یو عضوي جز ساز کړي.

د فرد او اجتماع په اتحاد (Unity) کې او د دقیق روحیاتي تحلیل او حماسي پراختیا په یو ځای کولو کې د تولستوی میراث او مرسته په ادب کې پرته ده.

کابل مجله، ۳ مه ګڼه، ۱۳۴۰ ل، ۴۶ او ۴۷ مخونه.

# د شعر په باب تفکرات

لیکوال: ګربیاچوف (شاعر)

(۱)

زه د رومانیې د (کونسټانزا) په لمر سوزولي ښار کې له یوې ډلې ملګرو سره ناست وم.
یوه ملګري بل ته وویل:
«د شعر لیکلو لپاره کوم حال ډېر مناسب ګڼې؟»
هغه کړه چې:
«څه وخت چې وږی یم.»
«او سربېره په هغه؟»
«کله کله چې شاوخوا مې زیات غالمغال وي، مثلاً: د اخبار په دفتر کې چې زړه دې ناخي او ته د خوښۍ احساس کوې؟»
«اوه! هغه وخت له خپلو ملګرو سره کښېنم.»

(۲)

موږ د یوه سین په غاړه ناست یو، ځانو ته لمر ورکوو، واښه او بوټي تک شنه دي او د شګو د غونډۍ له پاسه څو تنکۍ ونې د مرغیو په اوازو ژوندۍ دي. د اوړي په وروستیو شپو ورځو کې تاسې له داسې اواز سره اشنا معلومېږئ؛ خو اوس د چونچونو چونهار د نړۍ ډېره خوندوره موسیقي ده، که څه هم د هغوی ډېر خواږه او لوړ اوازونه لا تر اوسه چوپ دي.
موږ ناست یو، سګرېټونه څکوو او د خپلو هغو وړو کښتیو ننداره کوو چې د ژوند وړه نښه لري او همدا راز د دنیايي مسئلو په شاوخوا کې سره په بحث لګیا یو. له موږ څلورو نه یو محلي شاعر جګېږي، د سین غاړې ته ځي او واړه شنه بوټي له پښو لاندې کوي، چنګک یې کړېږي او وار پار یې خطا شي، ټول غلي کېږي، شاعر موږ ته مخ اړوي او ډېر خواشیني ګوري.

موږ یې پوښتو:
«دا څه وو؟»
«ماهی؟»[۱۸۰]
«ولې دې پرېښود؟»
دی اوړې ښوروي او وايي:
«ښوی شیطان او ښوینده؛ لکه د شعر قافیه.»

(۳)

د دوبي يو خوندناک مازيګر ځلېږي او وزروالې ورېځې په سره اور ږدي. د سيند اوبو عجيب رنګ نيولی او د باغ منې لکه زېړ نارنج داسې برېښي. د باغ د وره څنګ ته چې مخ په سيند دی؛ په سپينو نازکو جامو کې يوه چټه پېغله ولاړه ده.
زما ملګرې چې په يوه يا بل دليل يې په ټولو شاعرانو رخه کړې؛ آه کاږي او وايي:
«ستا لپاره ډېره ښه ده.»
«ولې؟»
«ښه! ته ټولو ته ښه وګوره! دا څه شی دي؟»
«يو جوړ کړی شعر!»
«يوازې هغه څه چې بايد وکړې؛ دا دي چې يو څو قافيې ور واچوې؛ بيا نو چاپ ته تيار دی».
هو! «يوازې» په هنر کې دغه د «يوازې» او د هغه غبرګونی ورور «تقريباً» د هر شي لپاره يوه کيلي ده.

(۴)

د دوو شاعرانو مناظره
يو وايي:
«د شعر روح د عصر موضوع ده.»
بل موافقت ښکاره کوي:
«درسته ده.»
«اوس تراکټور در واخله! هغه څه شی دی؟»

---

۱۸۰. هغسې ماهي چې ډېر ښويه وي او په لاس کې نشي نيول کېدای.

«دا ښه خبره ده، څه شی دی؟»

«یو ماشین، د عصر نښه.»

«درسته ده.»

«یا راکټونه دروا خله، څه په زړه پورې دي؟»

«البته، څه لړزونکي دي؟ بېشکه! سره له دې هم روح د ځمکې ارزو کوي.»

«سره د دې هم راکټ د فلزاتو یوه برخه ده، یو ماشین دی، د شعر پوره مواد نه دي.»

«نه! پوره نه!»

او دوی په همدې ډول په سړه سینه او په ډېر دقت مباحثه کوي؛ خو که یو څوک روح ته چې هغه د شعر مغز دی، دغسې کتلی شي؛ نو دا درسته ده چې یو څوک به د ګلانو او راکټونو شاته ورڅېرمه د تل پایدونکو ستورو او سپوږمۍ شاته ورڅېرمه خندان ګلان، ځلېدونکي سیندونه او د براقو سترګو پېغلې هم ولیدای شي او که ته په دې کوښښ پسې شې چې کوم یو یې ترې ایسته کړې؛ نړۍ او بشري روح به په غربت لتاړ کړې، داسې به هم خپله ژبه او خپل تفکر.

کابل مجله، یودېرشم کال، ۱۳۴۰ ل، څلورمه ګڼه، ۴۶ او ۵۲ مخونه.

# د کولتور کړۍ

مأخذ: د هند په ثقافتي ټولنه کې د جواهر لال نهرو د یوې وینا متن

زه دلته په ډېره خوښۍ راغلی یم؛ خو سره له دې هم، دماغ کې مې ډېرې ګډوډۍ شته. خوښي مې دا ده چې تل مې زیار ایستلی چې نه یوازې شرق او غرب کې له ګاونډیو ملکو سره د هند کولتوري علایق زیات کړم؛ بلکې له بهرنۍ نړۍ سره یې هم ټینګ کړم. داسې کولتوري علایق یوازې د هیلې او ارزو له امله نه دي، داسې هم نه ده چې موږ وروایو دا علایق مفید وي؛ بلکې دا د مجبوریت او ضرورت تقاضا ده چې سړی مجبوروي او که نه، انجام به یې پرله پسې بدتري وي. کلکه هیله لرم چې د هند د کولتوري اړیکو ټولنه به زموږ او د نورو ولسونو ترمنځ ښه نظریات زیات کړي.
دا چې له دې وروسته خپلې فکري ګډوډۍ هم په ډاګه induced وایم؛ د شاوخوا نړۍ په باب کې زموږ په ذهن کې راز- راز اساسي پوښتنې پیدا کېږي. موږ هر وخت د یوه او بل د ملتونو افرادو او ډلو ترمنځ له تفاهم نه غږېږو او دا یوه ډېره جوته او ښکاره خبره ده چې ولسونه باید یو بل سره ښه وپېژني او له یوه بل نه زده‌کړه وکړي.
سره له دې هم، کله چې موږ د تاریخ پاڼې اړوو را اړوو او یا جاري پېښې تر نظره تېروو؛ ماته کله کله داسې معلومه شي چې هغه ولسونه چې زیات سره پېژني؛ زیات جنګ کوي. هغه هېوادونه چې په اروپا او اسیا کې یو د بل په څنګ او یو د بل ګاونډي دي؛ یو په بل زیات نښلي او په داسې حال کې چې دوی یو بل پوره پېژني، د دوی دغه پېژندګلوي د زیاتې همکارۍ سبب نه کېږي. په دې حال کې غلطي چېرته ده؟ په طریقه او یا په تلنلار کې؟
دا څه نوی شی نه دی. د تاریخ په زیاتو پاڼو کې دغه حقیقت ښکاره دی. ایا د فردي ملتونو او یا د دغې مسئلې په طرز کې څه غلطي ده او یا کوم بل څه سم نه دي چې حال څنګه باید وای؛ هغسې نه دي؟
دلته بیا موږ په کولتوري اړیکو ګړېږو. هغه چې دلته تر هر څه دمخه زما ذهن ته

رادمخه کېږي؛ خپله د کولتور کلمه ده چې خلک پرې ډېر بحث کوي. ما ته ښه یاد دي چې څه وخت زه ځوان وم او د جرمن په کولتور او د هغه وخت په جرمنیانو مې ځان پوهوه چې دوی غوښتل خپل کولتور په زور او یا په کومه بله لاره خپور کړي، د دغه کولتور خپرول او د هغه په ضد مقاومت د جنګ سبب شو. داسې ښکاري چې هر ځانګړی فرد او ملت د کولتور د مفهوم په باب عجب نظریات لري او په دې ډول کله چې د نظریاتو په ډګر کې د کولتوري اړیکو په باب خبرې اترې وي، دا ډېره ښه خبره ده؛ خو کوم څه چې په واقع کې پېښېږي، دا دي چې کله دغه عجیب نظریات یو له بل سره نښلي، د دې په ځای چې دوستي او ښه نظر ترې وزېږي، زیاتره په دښمنۍ اوړي. دا یوه اساسي پوښتنه ده.
کولتور څه شی دی؟ زه په خپله ځان کې دا صلاحیت نه وینم چې یې تعریف وکړم او یو ټاکلی حد و حدود ورته وټاکم؛ دا ځکه چې دغسې تعریف مې ورته میندلی نه دی.
کېدای شي چې هر ملت او هر بېل مدنیت به له خپل ځانګړي کولتور نه انکشاف کړی وي او مدنیت به یې له پخوانیو نسلونو نه زېږېدلی وي او هغه سلګونو او زرګونو کلونو ته رسېږي او دا به له هغې لومړنۍ مفکورې سره چې اساس او تاداو یې باله شي؛ ښه سریښ شوی وي او دغسې به خپل مزل وهي او په خپله لاره به وړاندې درومي. په دې حال کې به دا واضحه وي چې د یوه فکر اثر به په بل فکر پرېوتی وي، فعل او انفعال به روان وي او افکار به لږ څه بدلون او تحول مني. ګومان نه کوم چې داسې کولتور به په نړۍ کې موجود وي چې دې سوچه لرغونی وي او د نورو اثر پرې نه وي پرېوتی. داسې شی هېڅ نه پېښېږي او نه باید څوک داسې هیله ولري. یو سړی نه شي ویلی چې په سلو کې سل په یوه ټاکلي نژاد پورې اړه لري؛ ځکه چې د سلګونو او زرګونو کلونو په یون کې لږ و ډېر یو بل کې ننوتي او ګډون راغلی. د کولتور حال همدغسې دی.
نو کولتور به یو څه ګډوډ وي؛ خو داسې چې د یوه ملي کولتور اساسي عنصر به پیاوړی پاتې وي، سره له دې به هم د نورو کولتورونو اغېزه پرې پرته وي. که دغسې څه په روغه جوړه کېږي، زیان به نه لري؛ خو زیاتره یې د جنګ جګړو لمبو ته پکی وهي. کله کله دا وېره پکې وي چې یوه ډله فکر کوي نور یې کولتور لاندې کوي؛ نو دوی په دې پسې شي چې ځان ګوښه کړي. طبیعي ده چې دا کار د دوی نظریات او افکار ایساروي او د خپرېدو مخه یې نیسي.
دا یو ناوړه حال دی؛ ځکه په هر څه او په تېره بیا په هغه څه کې چې موږ یې کولتور بولو، رکود تر هر څه بد دی. که کولتور ارزښت ولري، ښایي یو څه ژور وي. سربېره پر دې به ډینامېزم هم ولري. له دې نه چې تېر شو، کولتور په یو لړ نورو عواملو پورې اړه

لري. که یې موږ اوس په نومولو پسې نه شو، شاید یو ملت د خپل تشکل په سر کې له جغرافیوي، اقلیمي او ټولو هغو پېښو نه چې په هغه ملک کې پېښېږي او پېښ شوې وي؛ متاثره کېږي.
د عربستان کولتور د هغه ملک له جغرافیوي حال او دښتو نه متاثر دی او په همدغو حالاتو کې راهسک شوی دی. جوته ده چې په لرغونو مهالو کې د هند کولتور په زیاته اندازه لکه څنګه چې یې موږ په خپل ادب کې مومو، د همالیې له لوړو غرو، له ځنګلو، له لویو سیندونو او له نورو هندي څیزونو نه متاثر دی.
زموږ د خپل ملک له خاورې نه دا یو طبیعي وده وه. دواړه به یو تر بله سره ګډ شي او یو خوښ ترکیب به جوړ کړي؛ لکه څنګه چې یې زیاتره د کولتور په بېلو بېلو څانګو لکه معماری، ساز، ادب او داسې نورو کې کړی دی؛ خو څه وخت چې دغسې زیار ته ملا وتړل شي چې یو څه په نورو وتپل شي، بې له دې چې هغه یې منلو ته تیار وي؛ په دې حال کې نښته حتمي شي. په دغسې حال کې داسې بدمرغه یو څه را ولاړ شي چې زما په فکر آن د کولتور له هغه اساسي عنصر سره مخالفت لري او دا د نورو د تاثیراتو په مقابل کې د ذهن قصدي ګوښه کول او تړل دي.
د هند د تاریخ په باب زما خپله نظریه دا ده چې موږ د هند وده او رکود له دې اړخه وګورو چې هند څه وخت د نورو تاثیراتو ته خپل ذهن خلاص پرې ایښی او کله یې تړلی دی؟ څومره چې یې تړلی؛ هغومره ساکن او په خپل ځای متوقف دی. ژوند په خپله که د یوه فرد دی، یا د یوې ډلې، یا د یوه ملت او یا د یوې جامعې؛ په اصل کې یو ډینامیک، متحول او وده کوونکی څیز دی. کوم هغه څه چې دغه ډینامیک فکر له حرکت نه غورځوي، په حقیقت کې زیان ور رسوي او خرابوي یې.
که زه بې له دې چې چاته مې زیان رسولی وي، داسې ویلی وشم؛ نو به ووایم چې هند ستر دینونه لرلي. دغو دینو په بشریت ډېر تاثیرونه کړي دي؛ خو بیا هم زما په فکر دغو دینو په دې چې د انسان دماغ یې متوقف کړی (Static) او منحط کړي یې دي (Dogmatic)؛ بد تاثیر یې لرلی دی. د دغو دینو وینا وې شاید ښې وي؛ خو د دوی د دغو ویناوو له تاثیر نه چې تاسې باید دغلته ودرېږئ او ټولې اخرنۍ ویناوې شوې دي، یوه جامعه په ځای دروي او دا د یوې جامعې د کولتوري ودې مخه نیسي او پرمختګ ته یې نه پرېږدي. د دغو دوو اساسي عناصرو د توازن کولو په باب ستاسې نظریه څه ده؟
یوه خو دا چې بشر د فرد په بڼه وي؟ که د یوه نژاد او که د ملت په بڼه؟ باید حتماً یو عمق ولري او په کوم ځای کې یوه ټاکلې ریښه ولري او که دا وي چې دې سطحي وي؟ په ظاهره کې به موثق برېښي؛ خو دا څه اهمیت نه لري. یو نژاد او یا یوه ډله که په

ماضي کې ریښه و نه لري، د هغه ارزښت به زیات نه وي؛ ځکه چې ماضي د نسلونو د تجاربو یو تکاثف دی چې یو راز عقل ترې انعکاس کوي. د دې لرل حتمي دي او که دا نه وي، ته به یو پردی زېړ تقلید یې. داسې چې رښتینې معنا به د فرد او یا ډلې په څېړنه کې رول لري.

له بلې خوا یوازې د ریښو لرل هم کفایت نه کوي او ژوند پرې نه شي کېدای؛ حتی لا هغه ریښې چې لمر و نه ویني او هوا وا نه خلي، وچېږي او له کاره وځي. دغلته ده چې ریښې ثمر ورکوي، لکه څنګه چې لمر او ازاده هوا د ګل او حاصل سبب کېږي. له دې وروسته به وایه شي چې توازن دې لرلی دی. توازن هم اسانه نه دی. ځینې خلک په ښاخونو کې ګلانو او پاڼو پسې دي او تر هر څه نه یې ډېر خوښوي. دوی په دې پسې نه وي چې ښاخونه او پاڼې هغه وخت ښه وده کوي او غوړېږي چې لاندې ژورې ریښې او ولي ولري.

ځینې نور بیا دومره د ولیو او ریښو په فکر کې وي چې ښاخونه او پاڼې ګرد سره له یاده باسي او بس د ډډ فکر وړی وي؛ نو یو سړی به تعادل څنګه برابروي؟

په دې حال کې به کوم څه ریښتونی کولتور وي او کوم څه به نه وي؟

ایا کولتور په انسان کې د کومې دننۍ ودې نوم دی؟

البته! دا رښتیا ده.

ایا کولتور له نورو سره د سلوک کومه طریقه ده؟

هو! همداسې.

ایا دا هغه استعداد ته وایه شي چې یو څوک ځان په نورو او نور په ځان پوهوي؟

هو! دا خبره درسته ده.

د کولتور په معنا کې دغه ټول راځي.

هغه څوک چې د نورو په نظر ځان نه شي پوهولی، په همغه اندازه په فکر او کولتور کې تنګ نظري کېږي. دی که هر څومره کوم خارق العاده انسان وي؛ خو چې کله ځان مقید او محدودوي، د پوره عقل او بصیرت ادعا نه شي کولی. هغه بله ډله او هغه بله خوا به هم د پوهې، یا بصیرت او یا حقیقت نه یو څه لري. که موږ په هغو سترګې پټې کړو، نه یوازې دا چې یوازې خپل ځان به ترې محروم کړو؛ بلکې د یوه غیر موثق سړي فکري سلوک به مو غوره کړی وي؛ ځکه چې یو موثق ذهن له دې امله چې ریښې یې ټینګې او ژورې وي؛ ښایي د نورو پر مخ یې خپل ور پرانېستلی وي او په دې توګه ځان کې نور څه جذب کړي. موثق ذهن باید د نورو په خبره او نظر ځان پوره پوه کړي، که څه هم دی به له هغو سره تل روغ نه وي او نه به یې خوښوي. ښایي کله یې ښه وایسېږي او کله

نه؛ خو د موافقت او مخالفت سوال هغه وخت منځ ته راځي چې یو څوک په یو څه پوه شي. د هر شي سر د واره او بې سوچه نفې، موثق لار نه ده.
اوس به زه بله کلمه مثلاً ساینس راواخلم:
د ژوندانه د مسایلو د حل ساینسي لاره کومه یوه ده؟ دا هغه لاره ده، په کومه چې یو څوک هر شی ګوري او په تجربې او ازموینې یې حقیقت لټوي، غلطی کوي؛ خو هېڅکله نه وایي چې دا دې داسې شي. بلکې زیار باسي چې پوه شي دا څنګه داسې دی. که پرې قانع شي، مني یې او په هغه دقیقه کې چې نور اثباتونه پیدا شول، له دې امله چې دی د خلاص او نامقیده ذهن څښتن وي، خپله نظریه اړوي. البته داسې ذهن نه چې بس لکه پاڼه به په سست باد هم ښوري او اخوا دېخوا به کېږي. سره له دې هم نامقیده ذهن به زیار باسي چې حقایق له هر ځایه چې وي، واخلي او جذب یې کړي.
ښه! که کولتور دا وي، لکه څنګه چې وویل شول؛ اوس نو دا سوال راځي چې دا په اوسنی نړۍ او ننني ملتونو کې تر کومه حده تطبیق شوی؟ جوته ده چې که دا تر دې چې دې زیات تطبیق شوی وای؛ زموږ د عصر ډېر مسایل ملي او بین المللي به تر دې هم لا ښه حل شوي وای.
په نړۍ کې هر ملک لږ و ډېر داسې فکر کوي چې ګواکې لوی څښتن په ده خاص نظر لري او ولس او نژاد یې په نورو کې وتلی او تر نورو غوره دی. داسې چې نور ولسونه به هم ښه یا خراب، یا یو څنګه وي؛ خو هغه ټول له ده ښکته او دی ترې پورته دی. دا یوه غیر عادي خبره ده چې دا احساس څنګه په ټولو ولسونو د ختیځ او لوېدیځ کې، بې له کوم استثنا نه په ډېر قوت موجود دی.
د شرق ملتونه د ژوندانه د ځینو مسئلو په باب په خپلو افکارو، معتقداتو او د خپل علویت په احساس ډېر ټینګ ولاړ دي؛ خو سره له دې هم دوی د دوه درې تېرو پېړیو په دوران کې ښه دردونکي سوکان په سر وخوړل. دوی وغورځول شول. په دې ډول دوی که څه هم د ځینو وختو په فکر په ډېرو اړخونو کې یو څه لوړ وو، مجبور شول چې دا ومني چې په نورو اړخونو کې په سوکانو وهل کېدای او استثمار کېدای شي.
د سوکانو دغسې پرله پسې عملیې په دوی کې تر څه حده د ریلېزم (واقع بیني) احساس پیدا کړ. پخوا له ریلېزم نه د تېښتې یوه سپکه هڅه وه. کېدای شي چې موږ دې په مادي شیانو کې او په سطحي شیانو کې دومره پرمخ تللي نه اوسو؛ خو سره له دې هم موږ په اساسي شیانو کې په معنوي شیانو کې او په اخلاقي ارزښتونو کې دمخه یو.
زه په دې کې څه شک نه لرم چې معنوي شیان او اخلاقي ارزښتونه په نهایت کې له

نـورو څېزونـو نـه مهـم دي؛ خـو هغـه طریقـه چـې یـو څـوک پـه فکـر کـې تېښـته غـواړي، پـه دې چـې دی روحـاً لـوړ دی او هغـه بـل د مـادي او فزیکـي حـس لـه املـه ضعیـف دی، ډېـره اریانوونکـې ده او څـوک یـې نـه منـي. دا یـوازې د یـوه چـا د انحطـاط د علتونـو د واقعـي میندلـو نـه یـوه تېښـته ده.

نشـنلېزم (د ملیـت حـس) یـوه عجیبـه حادثـه ده. پـه دې چـې د یـوه ملـک پـه تاریخـي مرحلـې کـې د ژونـد د نمـو، قـوت او اتحـاد سـبب ګرځـي او پـه همهغـه وخـت کـې پـه هغـې کـې یـوه هڅـه شـته چـې سـړی محـدودوي؛ ځکـه چـې دی د خپـل ملـک تناسـب پـه نـورې نـړۍ زیـات ګڼـي. داسـې یـې د نظـر نیلـی تغیـیر کـوي او یـو څـوک پرلـه پسـې پـه خپلـو مبـارزو او ښـو خـواوو کـې غـرق وي؛ د نـورو فکـر هغـه وده او قـوت چـې د نشـنلېزم پـه سـبب پیـدا شـوی وي، پـه ځـای ودرېـږي او نـور نـو وړانـدې نـه ځـي. نشـنلېزم د پرمختـګ د سـمبول پـه ځـای د انحطـاط سـمبول ګرځـي او چـې نشـنلېزم کامیاب وي، کلـه کلـه بیـا هـره خـوا ریښـې وځغلـوي، پـه تجـاوز پسـې شي او پـه بـین المللـي لحـاظ خطرنـاک شي.

د دې لپـاره چـې پـه دغـو څېزونـو کـې موازنـه وسـاتل شي، بایـد یـو څـوک د فکـر پـه کومـه لاره بانـدې یـون وکـړي او کـه داسـې و نـه شي؛ هغـه څـه چـې ښـه وي، پـه بـده اوړي.

کـه پـه غلطـه سـترګه ورتـه وکتـل شي، کولتـور بـه چـې اساسـاً ښـه وي؛ نـه یـوازې دا چـې ټـپ بـه پـه ځـای توقـف وکـړي، بلکـې تجـاوز بـه اختیـار کـړي او د کرکـې او جنـګ تخمونـه بـه وکـري.

دا چـې د دې لپـاره څنګـه موازنـه پیـدا شي، زه نـه پوهېـږم او دا زمـوږ د دوران پـه سـیاسي او اقتصـادي مسـئلو سربېـره د ورځـې مسـئله ده، ځکـه چـې شـاته یـې نـن د انسـان پـه روح کـې یـوه زوروره شـخړه ښـکاري؛ یعنـې د داسـې شي لټـون روان دی چـې اصـلاً میـندل کېـدای نـه شي.

د دوی اصـل پـه اقتصـادي نظریاتـو کـې ورګډېـږي او دغـه نظریـات یـې لـه شـک او شـبهې زښـت زیـات اهمیـت لـري. دا بـه لـوی حماقـت وي چـې څـه وخـت انسـان لـه ولـږې سـاه ورکـوي، پـه دغـه وخـت کـې د کولتـور او دیـن و مذهـب پـه بـاب تقریرونـه او وعظونـه وشي. د لومړیـو لومړی شـی دا دی چـې د انسـان د ژونـد لومړني اسـاسي ضرورتونـه رفـع شي او دا بایـد لـه هـر بـل شي نـه د مخـه وي. دلتـه اقتصادیـات تـر هـر څـه ړومبـی دمخـه کېـږي. نـن د انسـان لـه وس نـه وتـې ده چـې دا مسـایل ایسـته وغورځـوي او ولـږې او مـرګ او زغـم او افـراط و تفریـط تـه پـام و نـه کـړي او دا هـم پـه هغـه وخـت کـې چـې د ژونـد پېټـی د ټولـو پـه اوږو برابـر نـه وي. پېټـی یـو څـوک وړي، مګـر فایـده یـې بـل څـوک خـوري؛ نـو مـوږ بلـه چـاره نـه لـرو، غـیر لـه دې چـې دغـو مسـئلو تـه پـه اقتصـادي لحـاظ او پـه نـورو لارو وګـورو. خـو زمـا پـه فکـر د دغـو ټولـو شـاته د خلکـو پـه ذهنونـو کـې روحـي مسـایل شـته.

دا بـه رښـتیا وي چـې ځینــي خلـک بـه دغـو مسـئلو تـه پـه شـعوري او ارادي نظـر ګـوري او ځینــې نــورو تــه بــه دومــره روښــانه نــه وي او دوی بــه پــه غــیر شــعوري ډول ورتــه پــام لــري؛ خــو دغـه شـخړه د انسـان پـه روح کـې شـته. دغـه غوټـه بـه څنګـه خلاصـه شي؟ زه یـې پـه رقـم نـه پوهېـږم.

یـوه خـبره مـې تـل ځـوروي او هغـه دا چـې هغـه خلـک چـې زیـات سره پېـژني، پـه خپلـو کـې زیـات اخ وډب لـري. سره لـه دې هـم لـه دې نـه بایـد دا نتیجـه وا نـه خیسـتل شي چـې مـوږ بایـد د یـو بـل پـه معرفـت پسـې نـه شـو. کـه داسـې کېـږي، شـخص بـه ځانتـه محـدود او پـه ځـان محصـور شي او دا هغـه شـی دی چـې پـه نننــۍ تېـرې بېـرې نـړۍ کـې نـه کېدونکـی دی. اساسـي خـبره دا ده چـې مـوږ بایـد یـو بـل سـم وپېژنـو. سـمه پېژندنـه مهمـه ده، سـم او دوسـتانه طـرز اهمیـت لـري؛ ځکـه چـې دوسـتانه طـرز د دوسـتانه طـرز سـبب کېـږي.

پـه دې کـې زه یـوه ذره هـم ټکنــی نـه یـم چـې ښـه طـرز د ښـه طـرز سـبب کېـږي او دا د ژوندانـه اساسـي اصـل دی. کـه روش بـد وي، اروګـرو بـد روش تـرې زېـږي؛ نـو کـه مـوږ لـه خپلـو همنوعانـو او یـا نـورو هېـوادو سره سـمه رویـه ولـرو او دا پـه دې حـس بنـا نـه وي چـې ګواکـې مـوږ حقیقـت او یـا خپـل نبـوغ تـه پـه لـوړ ارزښـت قایـل یـو او نـور هـر څـه دې د دغـه حـس مطیـع وي؛ مګـر دا چـې هغـو تـه پـه سـمه او دوسـتانه نظـر ګـورو، داسـې چـې زمـوږ ذهنونـه او زړونـه د حقایقـو د منلـو لپـاره تیـار دي، د هغـو حقایقـو لپـاره چـې لـه هـره ځایـه وي. دا بـه نـو نـه یـوازې د تفاهـم سـبب وي، بلکـې د تفاهـم سـمه لاره بـه وي؛ نـو زه دا ښـه بـولم چـې تاسـې خپـل کار و زیـار تـه پرېـږدم، د عقـل او کولتـور حدوحـدود وټاکـئ. مـوږ پـه زده‌کـړه کـې، پـه پوهـې کـې او پـه تجربـې کـې وده کـوو او پخېـږو. تـر هغـو چـې مـوږ لـه دغـو نـه سـمه او پـوره برخـه و نـه لـرو؛ فهـم بـه مـو رښـتیانی او حقیقـي نـه وي چـې مـوږ یـې د پوهېـدو دعـوه کـوو. زه داسـې یـو احسـاس لـرم چـې کېـدای شي ټـول هغـه کسـان چـې د عـصري ژوندانـه او اوسـني سـاینس لـه مزایـاوو نـه بـې بهـرې وو؛ پـه اساسـي ځېزونـو کـې لـه مـوږ ډېـرو نـه عاقـل وو.

دا چـې مـوږ بـه پـه وروسـتیو مهالونـو کـې پـه دې موفـق یـا نـاکام شـو چـې د بنـي نـوع علـم او سـاینسي وده او بهـتري بـه لـه رښـتیاني عقـل سره ټـول ګـډ کـړو؛ زه پـه دې نـه پوهېـږم. دا د مختلفـو قوتونـو ترمنـځ یـوه شـخړه او مسـابقه ده.

د یوه نامتو یوناني شاعر ډېره عاقله وینا مې په زړه کېږي. دی وایي:

«عقـل لـه دې نـه غـیر بـل څـه شـی دی؟ د انسـان کـوم زیـار او د خـدای کـوم شـفقت دومـره ښـه ایسـېدونکی او دومـره سـتر؟ چـې لـه وېـرې نـه پـر څنـګ شي، سـاه وبـاسي او انتظـار وکاږي. چـې پـه کرکـې بـر شي؛ نـو مینـه بـه د تـل لپـاره و نـه نمانځـل شي؟»

کابل مجله، ۱۳۳۳ ل کال، اتمه گڼه، ۱٦ او ۱۷ مخونه.

# په اسلامي مملکتو کې معارف

لیکوال: پروفیسر محمدنظام الدین، د حیدراباد د صنایعو د فاکولتې رئیس
مأخذ: له ثقافت الاسلامي رسالې څخه

معارف د فرد او جامعې، د شخص او خدای په منځ کې د اتصال کړۍ ده. معارف د روح گاڼه او د عقل غذا ده. معارف هغه صنعت دی چې د شخص د لوړوالي سبب گرځي او ټول هغه شیان در ښیي چې د خلقت اصلي هدف او مرام گڼل کېږي. هغه څوک چې په دغه شریف مسلک پسې گرځي، حتماً به په ټولنه کې د ډېر لوړ او عالي مقام خاوند کېږي؛ ځکه معارف د بشریت د سعې سرچینه ده چې فقط له هغه ځینې ټول صنعتونه، علمونه، فلسفې او اکتشافات هم په معنوي او هم په مادي ډگر کې پیدا کېږي. لنډه دا چې معارف د ځان له مطالعې نه شروع کېږي او بیا د شخص لپاره داسې لارښودنې کوي چې د بیعت د قواو د کنټرول سبب گرځي او په اخر کې د روح په صفایی او تنویر باندې تمامېږي چې سعادت ورته وایه شي.
د معارف ښېگڼې به دلته فقط په دغه لنډه مقوله کې وښیو چې وایي:
«من عرف نفسه فقد عرف ربه».
یعنې چا چې ځان وپېژاند؛ په تحقیق سره یې خدای وپېژاند.
اسلامي نړۍ نن ورځ له ډېرو مسئلو سره مخامخ ده. یو له هغو څخه د معارف مسئله ده چې د ټولو ملتونو د سعادت او فلاح لپاره یو ډېر مهم او ضروري شی دی. اوس به د اسلامي تعلیماتو په رڼا کې دا له نظره تېره کړو چې د دین اساسات او مبادي څه ده؟ او څنگه اسلامي ټولنې هغه عملي کوي او یا ترې مخ را اړوي او بیا یې د اصلاح لارې چارې کومې دي؟
اسلام په اولو وختو کې یوه ټولنه وه، مگر نن ورځ داسې نه ده. اسلام نن ډېر لوی او ارت شوی دی او پیروان یې د نړۍ په هر گوټ کې خواره واره دي. مسلمانان نن ورځ له اوقیانوس نه تر بحرالکاهل او له منځنۍ افریقې نه تر منځنۍ اسیا پورې په افریقا،

اسیا او اروپا کې تیت دي. د دوی شمېر له (۳۵۰) ملیونو څخه اوښتی دی چې د ټولې دنیا اوومه برخه نفوس کېږي. په نړۍ کې لس مملکتونه دي چې رسمي دین یې اسلام دی؛ لکه مراکش، لیبیا، مصر، عربستان، بحرین، اردنیه هاشمیه، یمن، عراق،[۱۸۱] ایران، افغانستان او پاکستان، نور دولتونه هم شته چې رسمي دین یې اسلام نه دی؛ خو ډېر مسلمانان پکې شته؛ لکه هسپانوي مراکش، الجیریا، تونس، غربي فرانسوي افریقا، مرکزي فرانسوي افریقا، البانیه، ترکیه، یوگوسلاویا، سوډان، شرقي برتانوي افریقا، ارتیریا، حبشستان، روسیه (۲۴) ملیونه، چین، هند (۴۰) ملیونه، ملایا، اندونیزیا او فلپاین.
خبره دا ده چې هغه لویه قوه به کومه وي چې دغه خواره واره مسلمانان سره متحد کړي او بیا به هغه لارښوونکي اساسات او علمي او اخلاقي فریضې څه وي چې د ټولو مسلمانو مملکتو لپاره د پوهنې اساس وگڼل شي؟
عقیدې ته حاکمیت ورکړل شي؛ یا استدلال ته؟ علم به بشر مسعود کړي؛ یا فلسفه؟ او سره له دغسې حالتونو بیا یو شخص کومه لار ځان ته غوره کړي؟
اسلام څه رنگه چې قرآن تفسیر کړی دی؛ له هر مسلمان ځینې دا توقع لري چې د کار او فعالیت په واسطه طبیعت رام کړي او په عین حال کې له سمې لارې ځینې هم و نه گرځي، دا دی د قرآن مقصد، د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ارشادات او د عقیدې معنا، د هغو تعلیماتو په منځ کې چې د نبوي او دیني ورته وایي؛ هېڅ توپیر نه شي کولای. مقصد دا دی چې د علم د پراختیا لپاره هر څه کوښښ چې کېږي، باید د دې عالي مرام یعنې د ځان د ادراک، د نفس د معرفت او د روح د تنویر لپاره وي؛ خو له زرو کلو راهیسې دا د مسلمانانو د بدبختۍ علامه ده چې دین د سیاست اله گرځول شوې ده. له همدې کبله ده چې په اسلامي ټولنو کې د ژوندانه قافله ډېره سسته روانه ده. د غرب د تاثیر لاندې هر چېرې عصري معارف جوړ شوی دی، خو که رښتیا وویل شي، دې عصري معارف د جامعو له اساسي مسایلو څخه ډډه کړې ده او په ښاخونو، څانگو او فرعي مسایلو کې بوخت شوي دي.
که چېرې اسلامي ټولنې د دې ادعا لري چې د داسې کرکټر نمایندگي وکړي چې یو واحد دین یعنې اسلام ته معتقد اوسي، نو باید خپل اختلافات او فرقوي تمایلات پرېږدي او هغه حقیقي اساسونه غوره کړي چې اسلام پرې خوښ وي. یعنې اسلامي اخوت مساوات او شریکه وروروولي او د یو بل د حقوقو احترام. د دې مقصد لپاره باید د اسلام پوهان راټول شي او داسې پلان جوړ کړي چې د هغه په واسطه عصري معارف له اسلامي روح سره اوږه په اوږه په اسلامي دنیا کې د اخوت او ورورگلوۍ اساسات ټینگ

---

۱۸۱. له دې ښاغلي څخه لکه چې سوریه، لبنان او اندونیزیا هېر شوي وو (ر).

کړي او بیا ټولې قواوې په داسې لار پکار واچوي چې د بشریت د حقیقي ورورګلوۍ او اخوت سبب وګرځي.
له ټولو دینونو څخه د اسلام دین معقول او علمي دین دی. که چېرې اسلامي نړۍ د معارف یو مشترک سیستم غوره کړي، نو دا به یو دماغ داسې تخلیه کړي چې د حقیقي ډیموکراسۍ او د نړۍ د سولې لپاره به یو ښه قوت وګڼل شي.
معارف په ډېر پراخ مفهوم سره باید په دې مقصد بنا وي چې شخصیت ته کامل انکشاف ورکړي او د جامعې د افرادو لپاره عالي او لوړ ژوندون برابر کړي.
که له معارف ځینې د نسل روحي مالکیت سره د فرد تدریجي مطابقت مراد وي؛ نو دلته دا مسئلې په خاطر کې راځي چې زموږ اسلامي موسسې په منځنې شرق، نژدې شرق، لرې شرق، جنوب شرقي اسیا او نورو باندنیو مملکتو کې څنګه له دې مفکورې ځینې لرې لوېدلي دي.
که چېرې پخواني ملتونه خپل پخواني معنوي او ثقافتي میراث ته نظر واچوي او نننې علمي پرمختګونه له یاده وباسي؛ نو زه وېرېږم چې دوی به د معارف له عالي مقصد څخه چې د عصري جامعې تقاضا او د بشریت عقلاني انکشاف دی؛ ځانونه ډډې ته کړي وي. بالعکس، که چېرې دوی د مادیت په ګرداو کې غوټې وخوري، نو به د هغه ملتونو روح ووژل شي او دوی به د بشریت د عالي ښېګڼو یعنې استدلال او اخلاقیاتو څواب و نه شي ویلای؛ نو له دې کبله باید داسې یوه موازنه او تعادل برابر کړی شي چې د روح او جسم د سالم او متناسب نمو سبب وګرځي او د معنوي فلسفې او د ژوندانه د علمي احتیاجاتو په منځ کې موافقت پیدا کړي. باید همدا وي د اسلام د معارف مقصد.

ورمه مجله، دیارلسم کال، ۱۳۴۸ ل، څلورمه او پینځمه ګڼه، ۵۶ او ۶۳ مخونه.

# علتونه په تاریخ کې

لیکوال: هالوډان کوهت - ناروېژي
مأخذ: د تاریخ خوځونکي قوتونه - کمبریج ۱۹۶۴

انسان د هغه څه په باب چې په ده یا د ده په شاوخوا کې پېښېږي، تل پلټنې کړې دي، خو ده وروسته له اوږدې مودې نه په دې شروع وکړه چې د همدغو ټولو پېښو ترمنځ ارتباط تأسیس کړي. لومړنی نظر یې شاید دا و چې له ده نه د باندې داسې قوتونه موجود دي چې هر څه په خپل میل او ارادې سره ټاکي. ده دغه قوتونه ونومول، په دې ډول یې وکړای شول چې په ژوندانه کې یو قسم پرله پسې توب ته قایل شي. د دې ملاحظه یې وکړه چې ماورای الطبیعي قوتونه یا لږ تر لږه هغه چې طبیعت اداره کوي په ځینو اړخونو کې لکه د لمر او میاشتې د تغییر د منلو په قضیې کې د ځینو قوانینو مراعات کوي، په نورو برخو کې بیا شیان لږ و ډېر مطلق ګڼل کېدل. شاید باد او اقلیم په ډېرو مختلفو طریقو سره تغییر وکړي او د انسان په ژوندانه کې داسې ډېر شیان وو چې نه شوای کولی حاکمیت پرې وکړي. ده د معجزو او عجایبو په نړۍ کې ژوندون کاوه. یوازې ده به هغو ته د عجایبو نوم نه ورکاوه، ځکه هر هغه څه چې د ده له معمول عادت څخه توپیر کاوه، ده ته لا هم طبیعي ښکاره کېدل. ماورای طبیعي په رښتیاني صورت طبیعي ګڼل کېده.

موږ باید دا ومنو چې حتی نن ورځ هم انساني ژوند تر زیاته حده هغو طبیعي قوتونو ته تابع دی. ستر سیانسپوه ویلهلم اوستوالد (Wellhem Ostwald) په دې عقیده و چې د ثقافتي مخ کې تګ رښتني محتوی د انسان هغه قابلیت دی چې په طبیعت غالب شي او ځمکه او د هغه ټول قوتونه د خپلې ارادې تابع وګرځوي، خو موږ تر اوسه هم نه شو کولی په باد او اقلیم حاکمیت وکړو. دا زموږ له اختیاره وتلې ده چې اقلیم تغییر وکړي. یو کال پرېماني راولي او بل کال وچکالي. موږ مجبور یو چې د دغو او داسې نورو فیصله طبیعت ته پرېږدو.

د ډېرو قدیمي مهالونو انسانان شاید له موږ نه ډېر لږ دېته حاضر او تیار وو چې طبیعت د یوه خپلواک قوت په حیث چې له انسان او جامعې سره یې ارتباط نه لاره، په ځای پرېږدي. دوی دا عقیده مرجح وګڼله چې د طبیعت هر څه د انسان په ضد برابر شوي دي. څه وخت چې یې لکۍ لرونکی ستوری ولید، له هغه معجزه شي نه ووېرېدل او د هغه ستوري لکۍ دوی ته د جزا د ډانګ په څېر وبرېښېده او هغه یې داسې یوه نښه نښانه وبلله چې ګواکې خدای یا خدایان د هغې ګناه په وجه په قار دي چې انسانانو کړې ده. داسې هم د ناروغیو ټول قسمونه په تېره بیا سترې وباګانې، د طبیعت اخوا قوتونو له خوا مجازات بلل کېدل، نو دوی په دې ډول په ژوندانه کې په پرله پسې توب باندې قایل شول او هرې پېښې ته یې د علتي ارتباط نسبت ورکړ.
د تفکر دغه ابتدایي طرز په حقیقت کې زموږ تر مهاله پورې پایېدلی دی. دغه طرز د هغې عقدې شکل نیولی دی چې د هغه په قرار خدای هر څیز لوی، وي که ووړ، اداره کوي. په ماشومتیا کې مې د یوه عیسوي ملا د (عیسوي کیسو) په نامه د یوه سړي یوه کیسه لوستله چې ده د کفر خبرې کولې او برالا یې وویل چې: «خدای وجود نه لري». بیا دی بهر ځمکو ته ووت او له شنه اسمان څخه تندر پرې ولګېد او مړ شو، دا د خدای له لوري جزا وګڼل شوه.
دغه راز تفکر په تاریخ لیکنې کې ځای نه لري، خو که څه هم موږ نه غواړو له انساني ژوند سره طبیعي پېښو ته په دغه ترتیب سره ارتباط ورکړو، سره له دې هم په دې عقیده نه یوو چې طبیعت د تاریخي پېښو تعین بالکل په غیر مفید ډول سره کوي، موږ به تل وپوښتو چې دغه راز وقایع په انساني جامعه کې له څه راز حالاتو سره مخامخ کېږي؟ د جامعې شرایط د طبیعي پېښو تاثیرات ټاکي، په هرې پېښې کې به سوال دا وي چې انسان د طبیعي پېښو له تاثیراتو سره څنګه معامله کولی شي. له بدې پېښې سره څنګه مقابله کولی شي او څنګه یې له فوایدو نه ګټه اخیستلی شي. ارنولډ ټاین‌بي (Arnold Toynbee) دا د تاریخ په سترې مسئلې واړوله، یعنې هغه یې د انسان په مخ کې تګ یا بېرته تګ سره خلاصه کړله او هغه یې له یوې خوا (چلینج) او له بلې خوا د انساني مقابل حرکت (Vesponse) تر منځ ډرامه ونوموله.
زه په دې ډېر شک او تردید لرم چې یو څوک به وکولی شي تاریخ د انسان او طبیعت تر منځ په جګړه تبدیل کاندي. سره له دې هم دا د انساني ژوند یو مهم اړخ دی. دا جوته ده چې انسانانو ورو ورو زده کړل چې انسانان به ژوندي پاتې شي او په خپل ملک کې به په هوسایي سره ژوند وکولی شي، یا دا چې بل ځای ته به په لېږدېدلو مجبور شي. زموږ په وخت کې پخوا له دې چې داسې یو څه وشي، باید یو فوق العاده لوی مصیبت واقع شوی وای.

ډېر نور عوامل هم شته دي چې په اجتماعي ژوند باندې تاثير کولی شي او ممکن بې زموږ له مرستې نه د تاريخ سير واړوي.
فرانسوی فيلسوف پاسکال يو ځل داسې نظر ښکاره کړ چې که د کليوپاتراپزه وړه وای د ځمکې ټول مخ به تغيير کړی وای. ممکن يو څوک په ډېرې اسانۍ سره داسې فرض کړي چې د ده مطلب دا و چې دا محض يو تصادف و چې هغې يو ميين وموند او دغه ميين د هغې په خاطر اگوستاس پرېښود چې د رومې امپراتور واکمن شي. خو دا هغه څه نه و چې پاسکال په نظر کې لرل. ده محض غوښتل ښکاره کړي چې هر کوچنی حالت د علتونو په کړی چې تاريخ جوړوي، يو مقام لري. سره له دې هم دا محض يو تصادف معلومېږي چې د کليوپاتراپزې څنگه شکل لاره.
په بل عبارت: دا چې هغه يوه ښکلې او جذبونکې ښځه وه، که نه وه، تر دې نورې غټې مسئلې هم شته دي چې موږ په دې فکر کولی شو چې تصادف په تاريخ کې ښه قاطع نفوذ او اثر لري.
اوس به د ناروې له تاريخ نه په يو مثال باندې غور وکړو. د منځنيو پېړيو په وروستيو کلونو کې داسې پېښه شوله چې د اشرافو کهولونه يو په بل پسې مړه شي. د کهول وروستی نارينه يا بې اولاده مړ شو يا يې لوڼې د وارثانو په حيث ترېنه پاتې شولې. بيا د ډنمارک يا سويډن اشراف ناروې ته راغلل او د هغوی ميراث خواره وگرځېدل. محلي اشراف نه وو پاتې چې د ناروې له ازادۍ نه دفاع وکړي. موږ له هغو بيالوجيکي قوانينو نه خبر نه يوو چې په فاميلونو کې د دغه غټ تغير باعث وگرځېدل. دا موږ ته د خالص تصادف په څېر ښکاره کېږي، سره له دې هم موږ ويلی شو چې حتی پخوا تر هغه د ناروې اشراف د نورو علتونو په وجه غير ملي شوي وو. دوی د گډو طبقاتي مفادو په خاطر د ډنمارک او سويډن له اشرافو سره په متمادي ډول اتحادې جوړولې. که يې اتحادې جوړې کړې نه وای ميراث به يې د ناروې خلکو ته پاتې وای. شته به يې هغو لاسونو ته نقل شوي وای چې د جامعې له نورو صفونو څخه به د اشرافيت درجې ته لوړ تللي وای. موږ دې نتيجې ته رسېدلی شو چې دا خالصه يوه فرضي وينا ده او ثبوت يې کېدلی نه شي. د اشرافو په کهولونو کې د مړينو اوږد لړ تر لره د تاريخي نتيجې په ټاکلو کې يوه جزئي وسيله وه.
په تاريخ کې اوس دا بالکل ممکنه ده چې مختلف علتي زنځيرونه شايد چېرته په يوه ټکي کې سره تماس وکړي. په داسې حال کې موږ له خالص چانس نه زيات په تصادف غږېدلی شو. له يوه نظر نه شايد دا خالص تصادف ښکاره شي، مگر له بلې خوا ممکن د پوره معلومو پېښو طبيعي نتيجه وبرېښي. هغه مهال چې هسپانويانو مکسيکو وموندله

او هغه ملک یې لاندې او تابع کړ او اوسېدونکي یې غلامان وګرځول، د اروپایي اکتشاف له عمومي نهضت یوه برخه ده او له هغه سره د هغه ارتباط موږ ته پوره واضح دی. خو مکسیکویانو ته دا پېښه د دوی د تاریخ د یوې ناڅاپي انقطاع په څېر ښکاري، داسې چې دوی هېڅ علت ورته نه مومي که عصري تخنیک پوهان په دې بریالي شول چې د سپوږمۍ په مخ ښکته شي، دا قضیه به هم همدغسې وي. دا به موږ ته د تجربو او علمي کوښښونو مداومت او پرله پسې توب وښیي، مګر که په سپوږمۍ کې مو انسانان ومومو او دوی لاندې او تابع کړو، دوی به دا کار له شین اسمان څخه په ځان د تندر ښکته کېدل وګڼي.

په تاریخ کې هغه څه چې زه یې تصادف (Coincidence) نوموم، ډېر ځله پېښېږي او مؤرخانو تل په نظر کې نیولی دی. د لرغوني مهال یوه ډېر وتلي مفکر پولي بیوس څه وخت چې د ناڅاپي پېښو شرح کوله، زیاتره د قسمت (Luck) د کلمې ذکر کاوه. په اوسنیو مهالونو کې یوه وتلي مؤرخ هنري پیریني (Henri Pirenne) په تاریخ کې د تصادم (Accident) په رول ډېر ټینګار کړی دی.

زیاتره داسې پېښه شي چې د یوه مهم جنګ نتیجه په چانس سره وټاکله شي. یو ناڅاپي مرګ شاید د یوه شخص ډېر قوي دښمن له پښو وغورځوي. د دولت د واکمن یا د یوه نظامي مشر مهارت یا عدم مهارت چې په یوه خاص وخت کې به نظامي یا سیاسي مسؤلیت په غاړه لري، ممکن دا وټاکي چې فتح د دغه یا هغه طرف نصیب شي. کېدای شي چې ناسم رپوټونه هم د غلطو اقداماتو سبب شي، په دغسې ټولو قضیو کې خبره د هغو نتایجو په حد او اندازه کې ده چې دغه تصادف به یې لرلی وي. یو څوک کولی شي وپوښتي چې تصادف هغه نتیجه ټال کړې ده یا چټکه کړې ده چې په هر حال کې به پېښه شوې وای یا دا چې هغه خالص چانس معلومېده؛ ژور ارتباط یې لاره.

ما په خپله دغسې څو قضیې شخصاً مطالعه کړې دي. ما ښوولې ده چې د هغې سستې پالیسۍ ریښې او علتونه چې انګلستان د امریکایي یاغي مستعمرو په مقابل کې د جنګ په وخت کې غوره کړې وه، د انګلیسي ټولنې او سیاستونو په خاصو شرایطو کې دي. نورو عالمانو د فرانسې د انقلابي جنګونو په وخت کې هم د انګلیسانو سیاست همدغسې ښوولی دی.

هره ځانګړې قضیه ځانله دغسې قسم با احتیاطه مطالعه غواړي، خو دا ټوله مسئله د عصري تاریخي تحقیق له اساسي روش سره هم تړلې ده.

د توسیډایډز (Thucydides) له عصر نه په دې خوا اروپایي مؤرخانو داسې ګڼلې ده چې تاریخي وقایع علتونه لري. حتی هغه کسان چې په دې معتقد دي چې هر څه خدای

ټاکلي دي، داسې یې ګڼلې ده چې هغه معقول او د یوه پلان په مطابق حاکمیت چلولی دی او په دې ډول د پېښو ترمنځ په ارتباط باندې قایل شوي دي، خو عالمانو ورو ورو د دې درک وکړ چې شاید دوه ډوله واضح علتونه موجود وي. لومړنیو مؤرخانو چې څه وخت وکولی شول د وقایعو فوري علتونه او د خلکو هغه محرکات لوڅ کړي چې د هغو له مخې یې کړنې کولې، دوی په دې قانع کېدل. دا تر اوسه هم د تاریخي تحقیق یو ضروري او واجبي شرط او برخه ده، مګر پولي بیوس (Poly Bius) دوه زره کاله د مخه ښکاره کړه چې په فتح یا شکست کې د جامعې او دولت تنظیم او تشکیل د یوه ملت په فتح یا شکست کې یو مهم عامل ګڼل کېږي.
د اتلسمې پېړۍ سترو تاریخي مفکرینو یعنې منتسکیو او د هغه اخلافو دا بالکل واضحه کړله چې د هغو علتونو لوځول چې لرې پراته دي هم اساسي اهمیت لري. د لرې علتونو ریښې به د اجتماعي شرایطو په مختلفو اقسامو، ثقافتي ژوند، سیاسي تشکیلاتو، اقتصادي سیستمونو او داسې نورو څېزونو کې وي. تاریخ لیکل په دې ډول داسې یو کوښښ وګرځېد چې په خپله د ژوند په پرله پسې توب رڼا واچوي او د هغو قوتونو په باب چې بشري ژوند اداره کوي، زموږ فهم ژور او عمیق کړي.
د تفکر دغه طرز د تاریخي تحقیق په سیر خپل تاثیر ارومرو اچولی دی. لومړی دا چې د تصادف مسئله یوې خوا ته وغورځول شوله یا لږ تر لږه د عمومي بحث تابع وګرځول شوه. هغه وخت چې د ټولې جامعې عمومي حالات تر بحث لاندې نیول کېدل، چانس ډېر غټ رول لوبولی نه شو. کوېتېلټ (Kuetelet) د بلجیم یوه عالم دا په (۱۹۳۵ م) کې د اجتماعي شرایطو په تحلیل کې د احصایو په استفادې سره وښودله؛ سربېره پر دې د تاریخي منابعو په باب د کتنې یوه نوي نظر هم انکشاف وکړ.
لیوپولډ رانګ‌کي (Leopold Rangki) یو له هغو ړومبنیو پوهانو څخه و چې ویې ښودله، د پخوانیو مهالونو تاریخي لیکنې او نور رپوټونه زیاتره د مصنفانو پر شخصي غرض رنګ شوي دي او دا غرض د دوی د عصر له اجتماعي او سیاسي مبارزو څخه متأثر دی او په دې ډول هغه څوک چې غواړي، دا لیکنې وګوري باید د هغو په اعتبار او صحت هم قضاوت وکړي. د مثال په ډول:
د سکندنویانو په تاریخ لیکنې کې دا نظریه په هغه انتقاد کې ښکاره شوې ده چې کرټ ویبل (Kart Weibull) په (۱۹۱۰ م) کې د ډنمارک د منځنیو پېړیو د یوه مؤرخ ساکسه ګراماټیکوس (Saxa Gramaticus) باندې کړی دی خو یو بل نظر هم شته دی چې په دغې مسئلې کې یې ښه نفوذ کړی دی، څکه چې دغه نظر خپله توجه د پخوانیو مؤرخانو او د دوی د معاصرو ترمنځ عقلاني ارتباط ته اړولې ده، موږ ته په خپل عصر کې د

فکر طرزونو او د ژوندانه هغه منافع ورپورې تړلي دي چې د دوی شاوخوا کې وي؛ نو ايا دا به د رومبنيو مؤرخانو په باب هم پوره سمه نه وي؟ په حقيقت کې دا بالکل عامه ده چې د زاړه يونان او روم مؤرخانو ته په همدغه ډول وکتل شي.
دا هغه څه وو چې دوی يې زموږ د عصر په عقلاني ژوند کې په قوي او حياتي قوتو واړول، سره له دې هم ما په (۱۹۱۳ م) کې هغه وخت چې د دغه نظر تطبيق د ايسلينډ د عالمانو په باب کاوه چې دوی د ناروې په تاريخ بحث کاوه؟ قوي مخالفت وليد، له هغه وروسته راهيسې اوس نو دا د تاريخي تفکر يو عام څيز دی چې مؤرخان له خپلو معاصرو نه هغه رڼا اخلي چې په هغې سره ماضي ګوري.
ګومان کوم چې د جرمن نامتو منقد ليسنګ (Lessing) د لومړي ځل لپاره دېته اشاره وکړله چې په تاريخ کې به نهايي حقيقتونه تاسيس نه شي؛ په دې چې هر نسل مجبور دی چې ماضي ته په نويو سترګو وګوري، نوې پوښتنې وکړي او نوي ځوابونه ومومي او دا کار په دغسې يقين سره وکړي لکه چې يو نوی نسل مجبور دی خپله مذهبي عقيده په داسې حال کې چې لا الفاظ ناتبديل شوي پاتې دي؛ له سره نوي کړي. ښه مې ياد دي چې د بلجيم نوميالي مؤرخ هنري پيريني (Henri Pirinni) خپله نوې نظريه په منځنيو پېړيو کې د سرمايه دارۍ د منبع په متعلق په (۱۹۱۳ م) په لندن کې د مؤرخانو په کانګرس کې ښکاره کړله. په اخر کې يې وويل:
«ټول نظريات سقوط کوي، زما به هم سقوط وکړي. خو زه عقيده لرم چې د حقيقت په لور مې لږ تر لږه يو ګام د وړاندې اخيستی دی».
دا هغه څه دي چې هر نوی عالم بايد د هغه په لور زيار وباسي يعنې څومره چې هغه ته ممکنه ده، تاريخ د حقيقت په څېر وګوري.
دا حکم د منابعو د انتقاد او د ترکيب کولو او جوړولو په باب د ځانګړو حقايقو او د هغوی ترمنځ د ارتباط په باب فرد او د جامعې د روحياتو په باب هم تطبيق مومي. د دغه تحقيق مېتودونه او روشونه وار په وار چاڼ شوي دي. موږ به د علتونو او سوابقو په باب پوښتنو ته لا هم دوام ورکوو او څنګه چې ژوند تل تحول کوي، موږ بايد د هغه اساسي قوتونو ته ځار واوسو.
تاريخ له طبيعي ساينس څخه دا زده کړې ده چې د خپلو مسايلو په باب دا کافي نه ده چې په مجرد ډول سوچ وکړو. موږ بايد په استقرايي ډول کار وکړو او په هغې تجربې سره چې په شواهدو او حقايقو بنا وي، جوړول وکړو.

کابل مجله، ۱۳۳۹ ل، مرغومی، ۱۰مه گڼه / پرلپسې ۴۹۵ مه گڼه.

# د انکشاف قوانین

لیکوال: ماریس کارنفورت، برېټانوي فیلسوف

په طبیعي او تاریخي عملیاتو کې تل نویتوب او انکشاف شته. همېش نوي څه زېږي او انکشاف کوي. داسې هم ځینې څېزونه خواره واره شي او پسې مړه شي. کله چې یو څه په راوتو کې وي او د انکشاف لوړ پوړ ته اوچتېږي او هغه وخت چې یو څه په خورېدو او مړه کېدو کې وي او په پای کې ورک شي؛ په دې حال کې یو نوی څه ځان ښیي او راوځي. عملیات همېش د تغییراتو په همغې یوې دایرې (Circle) کې نه تکرارېږي؛ بلکې له یوه پوړ نه بل پوړ ته په مخ ځي. داسې چې تل یو نوی څه ترې راوځي.

د انکشاف رښتینې معنی همدغه ده. له دې کلمې نه زموږ مراد دا دی چې په هر پوړ کې یو نوي څه په راوتو کې وي. په دې ډول د محض تغییر او انکشاف ترمنځ ډېر توپیر شته. انکشاف هغه تغییر دی چې د خپلو داخلي قوانینو په اساس له یوه پوړ نه بل پوړ ته مخ په پورته روان وي.

داسې هم د انکشاف او ودې ترمنځ فرق شته. بیالوجي پوهانو ته دا توپیر بېخي ښکاره دی. وده یوازې هغه تغییر دی چې لویېدل، غټېدل او په حجم کې زیاتوالی ترې مراد دی؛ مگر د انکشاف په معنی کې کافي تغییر پروت دی چې د غټېدل مفهوم په کې نه شته، بلکې د کیفیت له نظره یوه نوي پوړ ته ختل دي.

د مثال په توگه لړمی په نظر کې ولرئ. دا موجود په حجم زیاتوالی مني او غټېږي. وروسته له ځان نه یو څه مواد وباسي او استحاله وکړي تر څو چې د پتنگ به بڼه وگرځي. د استحالې دغه عمل ته انکشاف وایي.

په طبیعي او تاریخي عملیاتو کې یوازې تغییر او وده نشته، بلکې انکشاف هم په کې دی. ایا دلته موږ د انکشاف کوم عمومي قانون ته رسېدلای او یا د انکشاف عمومي قاعده ایستلای شو؟

## کمیت او کیفیت: له کمي نه کیفي تغییراتو ته د انتقال قانون

له کمي نه کیفي تغییر ته انتقال یعنې څه؟ ټول تغییرات کمي یا مقداري اړخ لري، یعنې زیاتوالی او کموالی د هغه څیز په ماهیت کې چې تغییر کوي، څه فرق نه پېښوي. خو دغه کمي تغییر یعنې کمېدل او زیاتېدل تر نامعین حده دوام نه کوي، بلکې په یوه خاص حد کې په کیفي تغییر اوړي او په دغه خاص حد کې په کیفي تغییر نسبتاً ناڅاپه او له فوري خیز سره ملګري وي. دا کلیه به په یو څو مثالونو کې وښیو. اوبه په جوشولو سره تر اخره پورې تودېدل نه مني. د تودوخې په یوه خاص بحراني حد کې بخار ګرځي او له مایع څخه و بخار ته یو کیفي تغییر پېښېږي. داسې هم رسۍ د معین وزن طاقت لري او په هېڅ وجه تر نامعین حده پورې وزن نشي منلای، ځکه چې په یوه خاص حد کې شلېږي. د جوش لوښی هم د بخار فشار مني، مګر تر هغو چې یې طاقت وي؛ زیات له هغه څخه چوي. د بوټي یوه نوع به په ساړه اقلیم کې د خپلې ودې په شرایطو کې تر څو نسله پورې تغییرات قبول کړي؛ مګر په یوه خاص حد کې به کیفي تغییر په کې راشي او اصل به یې بدل شي، په دې ډول به د کمي تغییراتو د زیاتوالي په نتیجه کې د پسرلي غنم د ژمي د غنمو په رقم واوړي او آن اصل او ډول به یې فرق وکړي.

له کمي نه د کیفي تغییر د انتقال قانون په جامعه کې هم تطبیق مومي. ړومبی تر دې چې د صنعتي پانګه‌ورۍ سیستم راووځي، د شتو د غونډېدو عملیه جاري کېږي. شته څو شخصي لاسونو ته ځي له بلې خوا یې شته مزدوران زیادت کوي.

ددې عملیې په یوه خاص حد کې څه وخت چې د صنعتي چارو لپاره کافي پانګه غونډه شي او له بلې خوا د لازمي کار لپاره کافي بې شته مزدوران زیادت وکړي، په دې حال کې د صناعتي پانګه ورۍ د انکشاف لپاره شرایط برابر شي او دلته د کمي تغییراتو زیاتوالی د ټولنې په انکشاف کې یوه نوې کیفي مرحله راباسي. کیفي تغییرات عموماً په نسبي فوریت یعنې ناڅاپه وي او یو نوی څېز راوځي. که څه هم د کمي تغییر په تکاملي مداومې عملیې کې د هغه قوت مضمر و، په دې ډول راښکاره شي چې یو مداوم تدریجي تغییر په یوه خاص حد کې په منظم فوري کیفي تغییر اوړي. ځینو خلکو انکشاف یوازې په مداوم ډول درک کړی، یعنې دوی انکشاف ته یوازې د ودې د عملیې او د کمي تغییر په سترګه کتلي او د تغییر کیفي اړخ یې له نظره غورځولی او دا یې پرېښي چې د ودې په مداومي عملیې کې یو نوی خاصیت ناڅاپه راوځي او انتقال پېښېږي؛ مګر دا یو ډېر څرګند حقیقت دی او تل واقع کېږي. که تاسې په چای جوش کې اوبه وجوشوئ، اوبه د غلیان په حد کې اوبه والی له لاسه ورکوي او بخار ګرځي. که له بلې خوا کیفیت په نظر کې ونیسو، ښکاره به شي چې کیفي تغییر تل د ګڼو کمي تغییراتو په وجه پیدا

کېږي او اختلاف په کیفیت کې د کمي اختلافاتو په بنا وي؛ داسې چې کمي تغییرات په یوه خاص بحراني حد کې کیفي تغییر ته ځای پرېږدي. داسې هم که وغواړو کیفي تغییر پېښ کړو، باید هغه کمي تغییرات په غور سره وګورو او ځان پرې پوه کړو چې د تغییر د پېښولو لپاره څه شیان کم او کوم څه ډېر کړو.
طبیعي ساینس راښیي چې په طبیعت کې څنګه کمي اختلاف یعنې ډېرول یا کمول کیفي فرق پېښوي. مثلاً د اټوم په یوه هسته کې د یوه پروتون (Proton) اضافه کول یو عنصر په بل عنصر بدلوي، د ټولو اټومونو عنصرونه د یو راز پروتونو او الکترونو (Electrons) له ترکیب نه جوړ دي، مګر کمي اختلاف د هغو اعدادو ترمنځ چې په یوه اټوم کې راټول دي، بل راز اټومونه ورکوي. داسې مختلف اټومونه چې ځانله عناصر او بېل بېل کیمیاوي خواص لري. یو اټوم چې یو پروتون او یو الکټرون ولري، د هایدروجن اټوم دی، خو که یو بل پروټون او یو بل الکترون پرې اضافه شي، د هیلیوم (Helium) اټوم ترې جوړېږي. داسې هم کیمیاوي ترکیبات راواخلئ. که په کوم کیمیاوي ترکیب مثلاً یوه مالیکول (Molecule) کې یو اټوم ورزیات کړو، د اشیاوو په منځ او همدا راز د هغو په کیمیاوي خواصو کې اختلاف راځي. په عمومي ډول مختلف کیفیتونه د کمي اختلافونو په بناء وي. په طبیعت کې چې د هر واحد حال لپاره یوه بېله طریقه معینه ده، کیفي تغییرات یوازې هغه وخت پېښېږي چې د یوې مادي حرکت (Motion) نه څه کم او یا زیات کړو. په طبیعت کې ټول کیفي تغییرات د کیمیاوي مرکباتو په اختلاف او یا د حرکت د اشکالو د مقدار په اختلاف بنا دي.
نو ددې امکان نه شته چې د یوه څیز په کیفیت کې تغییر پېښ کړو، بې له دې چې د مادې یا حرکت زیاتوالی یا کموالی په کې راوړو، یعنې د مقدار او شمېر په لحاظ په کې فرق پېښ کړو.
هغه څوک چې د اټومي بمونو لیکنې لولي، هرومرو د کمیت او کیفیت له دې تغییراتو سره اشنا دی. د یورانیم د جوړولو لپاره ایزوتوپ، یورانیم (۲۳۵-) ضروري دی. زیات ایزو توپ یوارنیم (۲۳۸) دا کار نه شي کولی. په دې دواړو کې اختلاف مقداري او یوازې د اټوم په اندازه کې دی چې هغه د نیوټرون (Neutron) په شمېر پورې اړه لري، مګر د اټومي وزن دغه مقداري فرق (۲۳۵) او (۲۳۸) کیفي اختلاف پیدا کوي. له هغه څېز سره چې د اټوم خواص لري او له هغه څیز سره چې دا خواص نه لري. سربېره پردې که یورانیم (۲۳۵) هم ولري بیا هم له انفلاق نه یې د مخه یو خاص بحراني حجم ورته په کار دی.
په دې ډول وینو چې کمي تغییرات په یوه خاص حد کې په کیفي تغییراتو اوړي او کیفي تغییرات په کمي تغییراتو ولاړ وي. دا د انکشاف یوه عمومي خاصه ده. ددې انکشاف علت څه دی؟ او کوم شیان دا انکشاف میدان ته راباسي؟

## د اضدادو یووالي او جګړه

په عمومي ډول ددې علت چې په یوه خاص حال کې کمي تغییر په کیفي تغیر اوړي، د هغې خاصې عملیې په ماهیت او متن کې مضمر دی. نو په دې ډول که موږ کافي معلومات ولرو، ددې شرح کولای شو چې د پلاني کیفي تغییر پېښدل ولې حتمي دی او پلانی عمل ولې د حدوث په حد کې پېښېږي.
ددې پېښې د څرنګوالي لپاره موږ د اصلي حالت حقایق ګورو. موږ یوازې د کوم مېتود په مرسته د تشریح اختراع نه شو کولی. میتود دا موږ ته راښیي چې له کوم ځایه او څنګه چېرته وګورو. شاید موږ په دې پوه نه شو چې په یوه خاص حال کې تغییر ولې او څنګه پېښېږي. په دې خاص حال کې موږ مجبور یو چې د پلټنې او څېړنې له لارې حقایق مینده کړو.
ځکه چې داسې څېز نشته چې پوهېدل پرې ناممکن وي.
راځئ چې د مثال په ډول هغه کیفي تغییر وګورو، کوم چې د اوبو له جوشولو وروسته پېښېږي.
څه وخت چې د اوبو حجم ته چې چای جوش کې وي، جوش ورکړو؛ ددې تأثیر به دا شي چې د اوبو د مالیکولو په حرکت کې زیادت راشي. تر هغو چې اوبه په خپل مایع حال پاتې وي، د مالیکولو ترمنځ د انجذاب قواوې ټول حجم د چای جوش دننه یو تر بله سره نښلوي. په دې حال کې البته د اوبو د سطحې مالیکولونه ورو ورو فرار کوي، مګر د غلیان په نقطه کې د مالیکولونو حرکت د زیاتو مالیکولونو لپاره په کافي اندازه د شدت درجې ته رسېږي چې د حجم له سطحې نه فرار وکړي.
په دې ډول کیفي تغییر مینځ ته راځي او د اوبو د سطحې په سر پوقانۍ جوړېږي او ټول حجم له مایع نه د بخار حالت ته انتقال کوي. دا تغییر واضحاً د هغو اضدادو نتیجه ده چې د اوبو د حجم دننه عمل کوي، یعنې د مالیکولونو غلیان چې بېل شي او والوزي او د انجذاب قواوې چې جذب یې کړي. لومړنی میل یعنې د فرار میل د اور په واسطه یو داسې حد ته قوت مومي چې وروستنی میل غالب شي. بل مثال د طناب و. دلته هم کیفي تغییر د ضدینو له امله منځ ته راځي چې د طناب د انباس قوت او د وزن د کشش ترمنځ وي. کله چې د پسرلي غنم د اوړي په غنمو اوړي، دا حقیقت هم د نبات د محافظه ګرای او د نبات د ودې د متحول حالت له انکشاف نه راوځي. په یوه خاص حد کې د وروستي تاثیر په ړومبني غلبه کوي او په نتیجه کې د کیفیت د تغییر سبب کېږي.
دا مثالونه موږ دېته رسوي چې د انکشاف د عملیې داخلي محتویات او د کیفي تغییراتو د کمي تغییر انتقال د هغوی د داخلي محتویاتو د اضدادو په جګړه کې دي. په دې ډول

دا قانون چې کمي تغییر، کیفي تغییر ته انتقال کوي او کیفي اختلاف په کمي اختلاف بنا دی، د طبیعت په ټولو فنا منا او اشیاوو کې داخلي اضداد سره نښتي او سریښ دي. څکه چې ټول ځانله بېل دا خواص لري. مثبت او منفي اړخ، ماضي او اینده، هغه چې مري او هغه چې انکشاف کوي او د اضدادو ترمنځ جګړه، د نوي او زاړه ترمنځ جګړه؛ د هغه شیز ترمینځ جګړه چې مخ په مرګ دی، له هغه شېز سره چې زېږول کېږي؛ یا د هغه شېز ترمنځ جګړه چې انکشاف کوي، له هغه شیز سره چې ورکېږي د انکشاف د عملیې داخلي محتویات او کیفي تغییر ته د کمي تغییر انتقال تشکیلوي.
د ښکته نه د پورته په لور د انکشاف عملیه د فنا منا وو په جوړه روغه او همکارۍ نه وي، بلکې د هغو اضدادو په ښوونې سره وي چې په ټولو شېزونو او طبیعت کې مرکوز وي او عملیې د همدغو ضدینو د جګړو په اساس وي. ددې لپاره چې په انکشاف پوه شو او په دې ورسېږو چې ولې او څنګه کمي تغییرات په کیفي تغییراتو اوړي یا دا چې ولې او څنګه له کمي زاړه حال نه نوي کیفي حال ته انتقال پېښېږي. موږ باید په هر عمل او هر څه کې هغو داخلي اضدادو ته متوجه شو چې په کې پراته دي. داسې هم باید د هغو مخالفو میلانو جګړې ته وګورو، کوم چې د هغو اضدادو په بنا راولاړېږي.

## اجتماعي انکشاف

اجتماعي انکشاف هم د اضدادو د یووالي او مبارزې د قانون په اساس وي. په اجتماعي انکشاف کې چې کوم پرنسیپ تطبیق مومي، عیناً هغه دی چې په طبیعي پېښو کې وي، خو دومره ده چې په هر خاص حال کې یې د څرګندېدو بڼه بېله وي. ددغه اصل تطبیق به د غرب په ځینو دولتونو کې وګورو. په دې ټولنو کې دوه ډلې یوه د بل په مقابل کې دي. دوی په خپلو منځو کې اساسي تضاد لري چې لکه دوه خارجي قواوې یوه له بلې سره په جګړه وي؛ مګر د دوی تضاد د اجتماعي نظام له منځ نه راوځي چې د هغو په اساس متضادې ډلې راولاړېږي او یو د بل په مقابل کې عملیات کوي. ددې ټولنو اقتصادي نظام دا شیان منځ ته راوړل.
په زیاتو کارخانو او فابریکو کې د تولید د وسایلو تمرکز او د تولید د وسایلو په حیث د هغوی انتقال چې په حقیقت کې اجتماعي و، خو د تولید له اجتماعي وسایلو او ورسره له اجتماعي محصولاتو سره داسې وضع وشوه چې هغه لکه د پخوا په څېر اوس هم د افرادو محصولات او د تولید وسایل وي. تر اوسه پورې د کار د آلاتو څښتن ټول محصولات ځانته تخصیص کړي چې لکه خپل یې، یعنې فردي او دده وي. اوس د تولیداتو څښتن دیته دوام ورکوي چې تولیدات یې هم د ځان کړي، که څه هم نور نو د هغه تولیدات نه

دي او هغه د نورو د مزودرۍ محصول دي. په دې ډول محصولات چې په اجتماعي اساس تولیدېږي، د هغو کسانو په برخه نه کېږي چې واقعاً یې د تولید آلات په حرکت اچولي او تولیدات یې کړي دي؛ مګر برعکس د هغو په برخه کېږي چې د تولید د آلاتو مصنوعي خاوندان بلل کېږي. د داسې جامعو اصلي تناقض دلته دی چې اجتماعي تولیدات د انفرادي کسانو په برخه کېږي.

د همدغو اضدادو په اساس ده چې د بېلو بېلو ډلو ترمنځ تضاد او جګړه طبیعي او حتمي کېږي. په همدې تناقض کې د سبا ورځې ټوله جګړه لا دمخه په نطفه کې ده. ددې تناقض چاره یوازې هغه وخت کېدای شي چې اوسنی ترتیب واوړي او لکه څنګه چې تولیدات ذاتاً اجتماعي دي، مناسبات یې هم اجتماعي شي.

د همدغو متضادو میلانونو او متضادو قواوو د جګړې له امله چې په اجتماعي نظام کې د اخښلو شویو اضدادو په اساس ده، اجتماعي انتقال او یوې نوې کیفي مرحلې ته خیز واقع کېږي. دا عملیه ځانله کمي اړخ لري. مزدوره ډله په شمېر او تشکیل کې زیادت کوي، پانګه غونډېږي او مرکزیت پیدا کوي. د پانګه ورو له ورو ورو کموالي سره د خوارۍ حجم، فشار، استثمار او اخلاقي فساد زیاتېږي. له دوی سره اوږه په اوږه د خوارانو شعور قوي کېږي، د انضباط لاندې راځي، یو کېږي او د ټولنې د تولید د میخانیکیت په وجه په دوی کې تشکل راځي.

د کمي عملیې له دغه زیاتوالي سره د اجتماعي کار او فردي انحصار په منځ کې ضدیت شدت پیدا کوي، ځکه چې د کار اجتماعي خصوصیت قوي کېږي. داسې حال کې چې پانګه تمرکز کوي او د کمېدونکو غټو پانګه ورو په لاس کې غونډېږي، ورسره د متضادو قواوو ترمنځ هم شدت زیاتېږي چې په پای کې کمي تغییر کیفي تغییر ته ځای پرېږدي. د تولید د آلاتو تمرکز او سوشلایزي په پای کې یو داسې اړیکې ته رسېږي چې له فردي انحصار سره هلته هېڅ نه جوړېږي او هرومرو ټکر خوري. زوړ ترتیب له منځ نه ځي او د بېخ اېستونکو بېخ اېستل کېږي. په دې ډول په اجتماع کې د انکشاف پورتني قوانین کار کوي او اجتماعي انکشاف باید یوازې د همدغو قوانینو په عملیاتو کې وپلټل شي.

کابل مجله، ۱۳۳۷ ل کال، چنګاښ، ۸ مه ګڼه، ۴۵۹ پرلپسې ګڼه، ۱ – ۳ مخونه.

# زور د نوي په مقابل کې

لیکوال: ډاکتر لوئي وا سرمین
مأخذ: له انګریزي منابعو څخه

*تاریخي دورې یوه له بلې نه ښکاره توپیر لري، دا اختلاف په تېره بیا په کلتوري او فکري خواوو کې شدت پیدا کوي. خو دا چې د نوې دورې په شروع سره نوي فکرونه څنګه پیدا کیږي او زاړه فکرونه څنګه ورسره مقابله کوي او د ځان د پاینښت لپاره څه بې ځایه ټینګار لري، ډېر خوندور مالومیږي. دا مضمون همدغسې مفهوم لري او راښیي چې د منځنیو پېړیو په وروستیو کلونو کې، یعنې هغه وخت چې د قرون وسطی کمپله ټولېده او نوې دوره (قرون جدیده) شروع کېده، نوي فکرونه څنګه پیدا شول او له زړو فکرونو سره یې څه وکړل او په پای کې قطعي کامیابي د چا شوه؟*
*مترجم*

کوم وخت چې فیوډالي ټولنه د ټوټه کېدو او زوال په حال کې وه دا مشخصات یې لرل: مطلقیت، امتیازات، او طبقاتي او صنفي سخت قیدونه. د منځنیو پېړیو په ټولو کلونو کې زور او قوت یوازې د کلیساوو واکمنۍ او قدرت یې دنیایي او اخروي رنګ لاره. د ژوندانه په ټولو خواوو کې یې د خپل قوت او زور ریښې غځولې وې او داسې برېښېده چې د ژوندانه ټولې خواوې یې لکه اقتصادي، مذهبي، سیاسي، کلتوري ... لاندې کړې وې. حکمداران او لویان یې خپلې ستاینې او یو راز عبادت کولو ته مجبوره کړي وو. که څه هم کلیسا د نظر له مخې بشري مساوات ته قایله وه او فردیت یې د یوه ډېر لوړ ارزښت په څېر پېژندو، خو په عمل کې حال بل و. یعنې د کلیسا ټولې هغه موسسې چې د هغو له لیارې یې زور او قدرت چلاو او ریاست یې پرې کاو، مطلقه وې. روحاني او مذهبي مقرراتو فرد چارپېر کړی و او لاس او پښې یې ور تړلي وو.

مذهب د فرد د ژوندانه څرنګوالي د ده وظایف او د ده د اطاعت حد او حدود ورټاکلو. د شخصي وجدان ارادې ته زړه او نا زړه و. د کلیسا له دغو وچو (ډاګمه) نظریاتو سره مخالفت کفر و. ټولنه د سکون او نه پرمختګ په حال فرض شوې وه، تغییر او تحول نه منل کېدو او د وړاندې تګ او ترقي فکر له ماغزو څخه ایستل شوی و.
له تاسیس شوي رژیم او نظام سره هر راز مخالفت به له ډېرې بېرحمۍ سره مخامخ کېدو. حتی علمي اکتشاف او یا ازاد وجدان چې له تاسیس شوی نظام سره یې جوړښت نه لاره د سختۍ سره مخامخ کېدلو. همدا وجه وه چې ډېر پوهان توبه‌ګار شول او بېشماره مبتکرین د کلیسا د ظلم په اور کې وسوځېدل. په اقتصادي ډګر کې هم د فیوډالي ټولنې حال بل و. کښت او کر یې ښکاره نښې وې او ګرځنده پانګه لا نه وه پیدا شوې. دلته هم واکمني د کلیسا او اشرافو په لاس کې وه او نور ترې محروم وو او تولیدات صنفي او لاسي صنعتګرانو ته محدود و. په سود سره پور او قرض ورکول ټول حرام او ناجایز و. ګواکې سوداګري او تجارت تر مذهبي او سیاسي مقرراتو لاندې لږ ډېر فعالیت کاوو.
په اروپا کې د عصري ملي دولتونو تر پیدا کېدو پورې چې په پنځلسمې پېړۍ کې یې تومنه نیولې وه، واکمني او قدرت د کلیسا د مشرانو، امراوو او فیوډالي ملاکینو ترمنځ وېشل شوی وو. د ولس زیاترو وګړو نه سیاسي واکمني لرله او نه د هغو وسیلو خاوندان وو کوم چې اقتدار پرې ګټل کېده. دا و د هغې ټولنې حال چې د ازادۍ غوښتلو (لیبرالزم) نهضت پرې بیره وکړه. یو لړ اکتشافات وشول چې په هغو کې تر ټولو نه مهم د بورژوازي یا د تجارو، سوداګرو او صرافانو سر هسکول و. دې نوې یا منځنۍ طبقې هڅه لرله چې باندني ملکونه استثمار کړي او په خپل تجارت سره د هغوی شتمني د ځان کړي. اقتصادي قید او بست په دې طبقې زیات ایښودل شوی و او د همدغې طبقې په واکمنیدو سره و چې لیبرالي یا د ازادۍ غوښتلو نهضت هم زور وموند. د تجارت له پراختیا سره لوی لوی ښارونه هم ودان شول او د اروپا ستراتیژیکي یا سوق الجیشي او یا نظامي ځایونه یې ونیول.
لویو ښارونو د شتمنۍ په زیاتیدو کې زیات اثر واچاوه او په حقیقت کې یو لوی عامل شو چې د کلیسا او اشرافي کنټرول هسکه غاړه ور ماته کړي، جغرافیوي کشفیاتو لار وموندده او ورو ورو زیات شول.
دې اکتشافاتو، نه یوازې د تجارت لپاره میدان پراخ کړ بلکې بشري تجارب یې هم زیات کړل. د چاپ اختراع د افکارو د خپریدو په باب کې د قدر وړ خدمتونه وکړل. په دې برخه کې دا داسې یو خدمت و چې په تاریخ کې یې ساری نه لاره. ځکه چې پخوا لیک د ډېرې یا پوټکي د پاسه کېدلو او پوټکی له یوې خوا لږ او له بلې خوا ډېر ګران و. د

دې مادي اختراعاتو او کشفیاتو په اثر د انسانانو په عقل او شعور او انسان بینې کې هم زیات فرق راغی. نوې جهان بینې را پیدا شوه او نوی فکري حرکت روان شو. په دې جنبش کې یو راز ډینامیزم (محرکه قوت) و چې غوښتل یې په زور او قوت سره په بشري ټولو ساحو کې د نښتر غوندې خپل تېره سرونه را هسک کړي او په دې ډول مدني نړۍ کې نفوذ وکړي او پخوانیو زړو افکارو ته وداع ووایي او د نوې نړۍ لپاره بشري شعور راویښ کړي، فرد پخپل سرنوشت کړي، زوړ نظام رنګ کړي او نوې نړۍ پرې جوړه کړي. د ازادۍ غوښتلو یا لیبرالي اواز لمړی د اراس موس په هیومنیزم کې واوریدل شو. خلک ورو ورو له کلیسا څخه بیزاریدل او نور دې ته نه وو ولاړ چې مذهبي وچ جزمي عقاید د خپلو اخلاقیاتو د پاره یوازې اساس ومني. په شپاړسمه پېړۍ کې د فرانسس بیکن افکار تیت شول چې ویل یې، باید طبیعي علوم د وګړو د هوساینې او نیکمرغۍ او د بشري ژوندانه د معیار د هسکولو لپاره په کار واچول شي. له هغه ورسته دکارت او نیوټن د علم په میدان کې ودرېدل. دوی په تېره بیا په فزیک او ریاضیاتو کې لوی تحول راووست. د فردي جګړې په اساس د تکامل نظریه را پیدا شوه او خپله انقلابي څېره یې د داروین او د ده د ملګرو په بیالوژیکي کشفیاتو کې ښکاره کړه. په هر علمي او تخنیکي پرمختګ سره عقل په جزم غلبه کوله او کلیسا له قوت او اعتبار نه ولویده.

د شپاړسمې پېړۍ په نیمایي کې اوتر هم سر راهسک کړ. د پروټسټاني اصلاحاتو لیډر شو او په دې ډول یې د کلیسا د واکمنۍ ورمېږ ور مات کړ. لیبرالي نظریاتو د فرد په ازاد وجدان اعتراف وکړ. د پاپ د قدرت ځنځیر یې د حق په قوي متهو ور وشلاو او په دې ډول یې د فکري او عقلاني نهضت له پاره لار صافه کړه. له بلې خوا یې ملي دولتونه قوي کړل او د هغوی د دنیوي قدرتو او پروژو ملاتړ یې وکړ. د دوی په ملاتړ سره ملي دولتونو زړه ونیو، د کلیسا د بین المللی قدرت په مقابل کې ودریدل او خپل مناسبات یې ورسره وشلول، شته یې ور ضبط کړل او د تجارت او صنعت له پاسه یې ټول مذهبي مقررات او محدودیتونه لغوه کړل.

د ملي دولتونو په تشکیل سره، سیاسي واک له کلیسا نه کوچ وکړ؛ خو دلته باید وویل شي چې مطلقیت ورک نشو، بلکې خپل ځای یې بدل کړ او له کلیسا څخه مطلقه دولتونه لاړ، ځکه له هغه ورسته دولتونه مطلقه شول. اومراوو اسماني حقوق د ځان وګڼل خو د غیر روحاني او دنیوي افکارو له پاره یې د اجتماعي کنټرول په باب کې لار صافه کړه. په منځنیو پېړیو کې د بشري ذهنیت او تولیداتو کنټرول په هکله د کلیسا او ملي واکمنیو ترمنځ پرله پسې جګړه، په پای کې د دولت په ګټه تمامه شوه. ملي دولتونه واکمن شول، کلیسا خپل شان او شوکت بایلود او دې ملي زور ته تسلیم شوه. په بین

الملـلي او مـلي سـاحو کـې د نـوو قوانینـو لپـاره لار صافـه شـوه؛ نـو دې قوانینـو د وګـړو او دولتونـو ترمنځ نـوي پیـدا شـوي مناسـبات پـه راڼـه ډول وټـاکل. د دې فکـر او عقـلاني نهضـت اخیرنـی ډېـر لـوی محـرک صنعتـي انقـلاب و. تخنیکـي پرمختـګ د فیـوډالي ټولنـې اخـرني موانـع لـرې کـړل. پـه کرهڼـه او صنعـت کـې نـوی تخنیـک پـه کار ولوېـد او لـه دې کبلـه زراعتـي او صنعتـي تولیـدات زیـات شـول. ماشـین پـه کار ولوېـد او د بخـار قـوه هـم پـه صنعـت کـې اسـتعمال شـوله، تجـارتي مالونـه ډېـرۍ ډېـرۍ جـوړ شـو.

د تولیداتـو خـرې دومـره زیاتـې شـوې چـې ړومبـی یـې هیـڅ ګـمان نـه کېـده. لیـبرالي افـکارو ریښـې وغځـولې او اقتصـادي انفرادیـت تـر ټولـو ړومبـی فـرد دمخـه کـړ او د هغـه لـه پـاره یـې د لا محـدودې ازادۍ غوښـتنه وکـړه او پـه دې ټینـګ ودرېـد چـې نـه ښـایي دولـت او کلیسـا دې پـه اقتصـادي چـارو کـې دخالـت وکـړي. بایـد فـرد ازاد پرېښـودل شي چـې د شـتمنۍ د ګټلـو لپـاره فعالیـت وکـړي او پـه دې بـاب کـې یـوازې خپلـه قوانیـن وبـاسي او د هغـو مطابـق اقتصـادي فعالیـت وکـړي.

پـه څـو ورسـتیو کلونـو کـې نـوي فکـر میـدان وګاټـه، لیـبرالي اوازونـه پـه دې ډول خپـل انتهایـي منطقـي حـد تـه ورسـېدل. لیبرالیـزم (د ازادۍ غوښـتلو نهضـت) پـه نـوې جامعـه کـې د خوشـبینۍ مفکـوره را دمخـه کـړه او پـه دې ټینـګ ودریـد چـې جامعـه یـوازې هغـه وخـت هوسـا کېـدای شي چـې افـراد پـه خپلـو کړنـو کـې ازاد پرېښـوول شي او هیـڅ راز قیـد او بسـت ونـه لـري.

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري ۲۹ مه، لومړۍ ګڼه، ۲۷ او ۲۹ مخونه.

# د ډيموکراسۍ عناصر

ليکوال: لوی واسرمين
مأخذ: له امريکايي منابعو څخه

## د شخصي ارزښت احترام

د ډموکراسۍ دا وړ بيان د کوم (ډيموکرات) هېواد د ترسيم نه دی. دا بيان زياتره د اجتماعي فلسفې په حيث د پرنسيپونو، فرضيو او نظرياتو څرګندول دي چې د ډيموکراسۍ اساسات ګڼل کېږي.
تر هغه حده پوري چې د يو دولت اجتماعي مناسبات او موسسات په دې فلسفې بنا وي، ويل کېږي چې هغه دولت تر هغې اندازې ډيموکرات دی.
د ډيموکراسۍ د پېژندنې کيلي د بشري شخصيت لپاره عميق احترام دی. دا احترام د جامعې هر وګړي ته بې له کوم امتياز څخه ورکړل شوی دی. د دې احترام ښه تعريف شايد د ازادۍ په اعلاميه کې وي چې وايي:
«ټول وګړي برابر پيدا شوي دي. د خالق له خوا ټولو ته نه انکار کېدونکي حقوق ورکړل شوي دي چې له هغې جملې څخه د ژوندانه، ازادۍ او د نېکمرغۍ د تعقيب حقوق دي».
ډيموکراسي د هر وګړي د استعدادونو د انکشاف ضمانت کوي، فرق نه کوي چې دا استعداد هر څومره وي؛ لږ وي او که ډېر.

## د حال برابري

له دې کبله چې د تاريخي حالاتو د طبقاتي امتياز له کبله د ولس زياته برخه وګړي، له دې اساسي حق څخه محروم کړل شوی وو. ډيموکراسي ټينګار کوي چې په ټولنه کې دې د وګړو حال برابر وي. له دې کبله امتياز نه مني او په هر شکل چې وي مخالفت ورسره کوي او هر هغه اصل چې په امتياز بنا وي او يو په بل قوي ګرځوي له خپلې

روحیې څخه یې غیر ګڼي. په ډیموکراسي کې هر وګړی غایه ګڼل کېږي او برعکس هېڅوک نه شي کولی چې نور استعمار کړي او پاتې د خوښې د اظهار مانع شي. سره له دې هم د برابري پرنسیپ دا معنی نه لري چې د ټولو انکشاف دې هم په برابر مقیاس وي؛ ځکه چې هغه په فردي استعداد اړه لري. خو دلته همدا ډیموکراسي بې جوړې پرنسیپ لیدل کېږي. هغه دا دی چې د ډیموکراسی لومړی پلار د ټولو د پاره د ځان د ادراک په غرض برابر حق ورکړي او دا یې نه ده منلې چې هغه یوازې د هغو په برخه کړي کوم چې په ارادي او کتل شوي قدرت سره کولی شي، نور لاندې کړي. ددې اصل تطبیق دی چې د یوې ټولنې دولت، اقتصادي سیستم او اجتماعي موسساتو ته ډموکراتیکي رنګ او کرکټر ور ښیي.

نو په ډیموکراسي کې د اجتماعي موسساتو څخه مراد دا دی چې هر فرد له مجموعي مناسباتو څخه برخوردار شي. د اقتصادي، سیاسي او کلتوري موسساتو ارزښت د ډیموکراتیکي مقصد تر اجرا پورې تړلی دی چې هغه د ښه ژوند د ګټلو لپاره ټولو ته مساوي موقع برابرول دي.

## شخصي ازادي

تر ټولو ړومبی که څه هم ښایي منفي خوا وګڼل شي، ډموکراتیکي ټولنه ددې ضمانت کوي چې فردي ازادۍ وساتي. یعنې دا چې هر وخت د فرد انتخاب او عمل د ازادۍ محافظت وکړي، د دې مقصد لپاره هر یو د قانون په نزد مساوي اعلام شوی او هر یوه ته د ولس د سیاست په ټاکلو کې برابر آواز ورکړل شوی دی او د مدني حقوقو په تطبیق سره هر یوه ته د عقیدې د بیان آزادۍ هم برخه شوې ده. خو سربېره پردې ټوله مثبته وظیفه هم په غاړه لري او هغه داده چې د ټولو د ګټې لپاره ملي منابع په کار واچوي او ټولو له پاره تعلیمي ښودنه وکړي، علمي څېړنې په مخ بوځي او د هر یوه د استعداد د انکشاف لپاره نوې لارې برابرې کړي.

## سیاسي ډیموکراسي

په عین حال کې د ډیموکراسي حکومت د ولس خدمتګار، د وګړو د ازادۍ ضامن او د عمومو د مقصد د پرمختګ لپاره یوه موسسه ده. او څرنګه چې په یوه کس او یا په یوې طبقې دا اعتماد نه شي کېدای چې د ټولو د بهبود ذمه په غاړه واخلي، نو ډیموکراسي ټول ولس ته واکمني یا سیاسي اقتدار ورکوي. ولسي سیاست د ټولو د ارادي ټینګار څخه څرګندیږي.

د ټولو اراده یعنې دا چې هر یو د سیاست په ټاکلو کې برابر غږ ولري او د اکثریت پرېکړه د قانون په څېر د پېژندل شوي ډموکراتیکي کنټرول د عمومي رای اخېستلو او د ولس د فعال ګډون له لیارې عملي کېږي.
یو مرکب او انجړ اجتماعي نظام دا غواړي چې ټول ولس دې په غیر مستقیم ډول د انتخابي نماینده‌ګانو له لارې حکومت وکړي. نماینده‌ګان په داسې ټولنه کې مجبور دي چې فقط عمومي ذهنیت او عامه شعور او یا د ټولو پروګرام ته د قانون رنګ ورکړي.
ښائي چې حکومت هر وخت د ولس متحولو غوښتنو او احتیاج نه متوجه کړل شي. یوازې په همدغسې حال کې کېدای شي چې مطلوب اصلاحات په نظم او کراری سره وشي. که کوم غلط کار غلبه ومومي په داسې حال کې احتمال دا دی چې هغه به وپېژندل شي او بېرته به صحیح کړل شي.
په حکومتي چارو کې د ډیموکراسي عملي کېدل د دې سبب شو چې سیاسي تخنیک په زیاته اندازه ترتیب او تصنیف شي دا وضعیت په څو هېوادونو کې چې اجتماعي مناسبات یې په ډموکراتکي فلسفې اېښودل شوي دي، فرق کوي. خو ټول هڅه لري چې حکومت دې په هر وخت کې ولسي کنټرول ته مسؤل او جواب‌ده وي. ولسي کنټرول په مختلفو لارو عملي کېږي چې څو مهم او ښکاره یې دا دي: «اساسي قانون چې اساسي حقوق په کې معلوم شوي وي د قضایي او مقننې او اجرایې ترمنځ د قواو بېلوالی، د مراقبت او موازنې سیستم، منظم او په وخت انتخابات، پټه رای ګیري، تناسبي نماینده‌ګي، مخالف سیاسي احزاب، د انتخاب شوو مامورانو د بېرته غوښتلو حق او ریفرنډم».
ډیموکراسي په شکل او نامه پسې دومره نه ګرزي. د مثال په توګه د سویډن شاهي سلطنت په سیاسي ډموکراسي کې د ترکیې له جمهوریت څخه ډېر زیات د مخه دی. څه شی چې په دې برخه کې زیات اهمیت لري، هغه ډموکراتیکي اعمال او موسسات دي، نه تش په نامه نظامونه او شکلونه.

## مدني حقوق

د فردي انکشاف او د ولسي کنټرول قایمولو لپاره آزادانه اظهارات دي چې باید وګړي یې په ټولو هغو موضوعاتو کې وکړي کوم چې د دوی بهبود ور پورې تړلی وي.
له دې کبله ده چې مدني حقوق باید ټولو ته ور کړل شي او هر ځوان ته که نر وي که ښځه موقع ورکړل شي چې په ولسي چارو کې فعاله برخه واخلي او دا کار کوم امتیاز نه اوسي بلکې د یو وجیبې او وظیفې په څېر احساس شي. له مدني حقوقو څخه مطلب د مطبوعاتو مرکې کولو، مذهبي عبادت، آزادۍ او د عرض کولو حقوق دي. پوه او باخبر

موکل باید په اجتماعي مسئلو کې د آزادانه مناشقه کولو او د مخالف پیشنهاد وړاندې کولو له لارې تشویق او ترغیب شي. په داسې حال کې به د نظریاتو د اختلاف تاثیر مثبت وي او د مخالفو عقایدو د پرله پسې شخړې پای به یوه درسته نتیجه وي. په هغه ځای کې چې د عقل قانون غلبه لري. ښائي د اکثریت فیصله د مطلوب عمل انعکاس وګڼل شي. د زور له لارې د اقلیت ډلې مجبورول او هغوی د بیان له آزادۍ څخه محرومول د ډیموکراسۍ له روحیې نه غیر دی. د ډیموکراسۍ لار زیاتره دا ده چې د یوه او باخبره رعیت په قضاوت اعتماد وشي.
اقلیت آزاد وي او وکولی شي چې طرفداران زیات کړي او نور په خپل فکر واړوي او په دې ډول له ځان نه اکثریت جوړ کړي.

## په پوهنه اعتقاد

د ډیموکراسي مقصد چې د ټولو لپاره د پوره ځان پېژندلو اسباب غونډول دي، تخنیکي او کولتوري پرمختګ ته تل هڅه کوي. معارف باید ارومرو عمومي آزاد او افاقي وي. د علم د هرې څانګې او آواز باید واورېدل شي. پر جنجالي مسئلو دې آزادانه مناقشې وشي او پر ښوونکو دې له باندې خوا زور زیاتی ونه شي. د علمي څېړنو نتیجه دې پوره ښکاره او دېته دې ونه کتل شي چې هغه په حاکمه عقایدو څه اثر لري.

## ډیموکراسي او کاپیټالیزم

ډیموکراسي ځانته کوم جلا او خاص اقتصادي نظام نه لري، خو دې ته زیات ځیر دی چې اعمال دې په خپل ذات کې مقصد نه اوسي بلکې هغه دې د فردي او مجموعي هوساینې او نیکمرغۍ لپاره وسیله وي.
هر نظام چې دې غایې ته هڅه کوي په هره بڼه او رنګ چې وي د ډیموکراسي له مقصد سره په زیاته اندازه توافق لري او ورسره سر خوري. دلته ښایي وویل شي چې عصري کاپیټالیزم د ډیموکراسۍ له سیاسي نهضت سره اوږه په اوږه ځان را ښکاره کړی. دواړه د منځنیو پېړیو یوه فیوډالي مطالقیت په مقابل کې عکس العمل شول او په دواړو کې عکس العمل د عمل د ازادۍ سیاست ځانته غوره کړ او کوښښ یې وکړ چې د فردي آزادۍ په باب کې د مطلقه حکومتونو دخالت کم کړي. ددې ګډ کوښښ نتیجه دا شوه چې کاپیټالیزم او سیاسي ډیموکراسي چې دواړه فردی آزادۍ د اساس په حیث منلې وه، د یوه وخت لپاره سره یو وپېژندل شو؛ خو په نولسمه پېړۍ کې د صنعت په زیاتېدو سره اقتصادي فردیت د اجتماعي او سیاسي مساواتو له پرنسیپونو سره په جګړه شو. په عین

حال کې د رايې حق د ولس زياتره برخو ته ورکړل شو او په دې ډول په اقتصادي ميدان کې د ډموکراتيکي مقصد د بيا شکل ورکولو په منظور لار لا هم پاکه شوه.
د پرله پسې جګړو پايله دا شوه چې د قانون او عمومي مالکيت له لارې د سياسي دولت مداخله زياته شي او شخصي پانګه دې د ټولو د بهبود تابع وګرځي. ښائي ذکر شي چې د پرمختګ په دې لومړۍ مرحله کې ځان له مطلقه دولت څخه آزاد کړي او بيا وروسته له دې چې عمومي کنټرول تر لاسه کړي په دې وخت کې ډموکراتيکي دولت په خپله خوښه او اراده له سره بنا کړی. هيڅ موسسه په هره بڼه او رنګ چې وي اخرنۍ نه ده منل شوې، خو هر بدلون او تغيير چې د هغې په ځرنګوالي کې پېښېږي بايد د اکثريت له خوا تصديق شي.
کاپيټاليستي اقتصاد به تر هغو له ډيموکراسي سره جوړ او موافق وي چې د ولس زياتره وګړي مادتاً ارام او هوسا کړي او د شخصي او اجتماعي پرمختګ غوښتنې مانع ونه ګرځي او که نه د ډيموکراسي منظم رقابت به دا لازمه کړي چې کاپيټاليزم هغې درجې ته محدود شي چې يوازې پورته شرايط پوره کړي.

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري لومړی، دویمه ګڼه، ۴۵ او ۵۱ مخونه.

# د هند اجتماعي حال

مأخذ: له انګرېزي منابعو څخه ژباړه

*هغه څوک چې غواړي د هند اوسني اجتماعي حال باندې پوه شي؛ باید دا مقاله ولولي.*
*مترجم*

د هندوستان په یوه متعبر اخبار کې مې یو ځل لاندې دوه اعلانونه په سترګو شول:
«د یوې سوداګرې کورنۍ یو سوداګر ځوان چې ښه هستي» دوه موټرونه او د میاشتې دوه زره کلدارې عایدات لري غواړي چې د یوې ښکلې ځوانې نجلۍ له مور او پلار سره مکاتبه ولري، مقصد واده دی چې نجلۍ دې یوازې د ډګروال له کورنۍ څخه وي؟
بل اعلان بیا دا ویل: «یو ښکلی تعلیمیافته ځوان له هرې طبقې څخه چې وي ازدواج له پاره».
ممکن یوازې یو څو خلکو نه غیر چې د ځوانو لوڼو خاوندان وي، دا اعلانونه نورو نه دي لوستلي. دا څرګندونې لومړی سطحې غوندې برېښي؛ خو که فکر ورته وشي د نننۍ هندي جامعې عمق سړي ته را برسیره کوي.

## طبقه یعنې څه؟

د هند د طبقاتي سیستم عمر څلور زرو کلونو ته رسیږي. په هندي زړه جامعه کې څلور قسم یا څلور ډلې خلک وو: برهمنیان، شتریاس، وشیاس او سود راس. دا ویش د هند په زړو قوانینو کې چې ډېر مهم یې د مانو قوانین دي، هم شته او تر اوسه شهرت لري. د مانو قوانینو د مختلفو طبقاتو له پاره داسې وظایف ټاکلي وو. برهمنیان روحانیون او فاضلان وو. د دوی وظیفه په درمسالونو او کورونو کې د دیني مراسمو انجامول وو. د شتریاسانو وظیفه دا وه چې له خپل ملک نه دفاع وکړي. وشیاسان لوی تاجران وو. سود

راسيانو يوازې جسمي او عضوي کارونه کول او د طبقاتو په سلسله کې تر ټولو ښکته وو. د هندوانو په عقيده ځينې کسبونه لکه چرم ګري ناپاک و، نو ځکه پورته څلورو طبقو نه اجرا کول. داسې دا ناپاک کارونه به نورو کول. د داسې ناپاکو کارونو کوونکي د دوی په اصطلاح اګران، چوړيان، ناپاکان، ناملموسان[۱۸۲] وبلل شول.
حتی د مانو په وخت کې هم هندي جامعه دومره انجړه وه چې له پورته څلورو طبقاتو سره يې سر نه خوړ. عسکر او رسمي ماموران که څه هم په دويمې طبقې کې وو خو په اجتماعي لحاظ برابر نه وو. په سوداګرو کې هم داسې فرق واضح و. د ملوک الطوايفي (فيو ډالزم) په هسکېدو سره صنفي اتحاديې راوړلې. سودرا او د بېلو کسبونو چوړيان پکښې يوځای ونيول. سربېره پر دې د هند د منځنيو پېړيو د حاکمانو سياست او د هندويزم عقيده په امتيازاتو او اختلافاتو بنا وه.
ورناس په دې ډول په وړو مګر ښکاره او مشخصو ډلو ووېشل شول چې د طبقاتو په نامه ياد شول. دې کار په چوړيانو هم اغېزه وکړه او هلته هم طبقات جوړ شول.
د طبقې مفکوره چې د هند حاکمانو له خوا ووته، پسې بيخي وړه شوه. په کوم ځای کې چې کوم ډله خلک له مروجو عنعنو او دودونو څخه ايستل کېدل او يا محروم کېدل، نتيجه به يې د نوې طبقې منځ ته راتلل و. د مثال په ډول په (۱۸٦٦ م) کال کې د اوړيسي په ختيځه غاړه کې سخته قحطي راغله. د قحطي له کبله دا لازمه شوه چې څو (چترونه) پرانيستلی شي او قحط وهلي خلک پکې تغذيه شي. له يوه ګډ لوښي څخه خلکو ته کتغ ووېشل شو، خو ددې کار له امله د اوړيسي ډېر خلک هغه ولايت څخه په دې ګناه فرار شول چې دوی د نورو طبقاتو له اعضاو سره ګډ خوراک کړی وو. فرار شويو کسانو ځان له بېله طبقه جوړه کړه چې هغه د (چترخي) په نامه ياده شوه. معنې يې هغه کسان شول چې هغوی له (چتر) څخه خوراک قبول کړی وو. دا ډول خلک تر اوسه هم په هغه ولايت کې شته. ددې ډلې غړي يوازې په يو تار سره تړل شوي دي او هغه دا دي چې د دوی نيکونو فقط يو ځل له يوه ازاد او ګډ پخلنځي څخه ډوډۍ خوړلې وه.
لنډه دا چې ورناس په اصل کې اجتماعي ډلې وې، خو وروسته په طبقاتو وويشلی شوې او د کار تقسيم ورته دوام ورکړ. طبقاتي مفکورې چې په جامعې کې ټينګ بيخ ونيو، د يوې ډلې خلکو بېل خواص به ددې سبب شول چې هغه ډله ځانله بېله طبقه جوړه کړي.
په موجوده حال کې نږدې (٤۰۰۰) اساسي طبقې په هند کې شته چې هره يوه يې په

---
۱۸۲. Untouchable

اجتماع کې ځانله ځای لري.
له چوریانو سره اوس هم د پورته ځلورو وړ ناسو د غړو لپاره امتزاج کسر شان دی. همدا راز پورتني چوړیان دا د ځان سپکاوی بولي چې د ښکته طبقاتو له چوړیانو سره د خپل لوړوالي لپاره تل مبارزې کوي. د دې طبقاتي سیستم لوی پرنسیپ دا دی چې د پورته طبقې نارینه دې باید له خپلې طبقې څخه ښځه وکړي. بل مهم پرنسیپ بیا دادی چې د یوې طبقې غړي ته نه ښایي د ښکته طبقې له لاسه خواړه وخوري. د عمل په ساحه کې د دې پرنسیپونو معنی دا ده چې د بېلو بېلو طبقاتو غړي سره ودونه نه شي کولی او په یوه میز باندې ډوډۍ خوړلو لپاره نه شي غونډېدای.
سربېره پر دې هره طبقه ځانله خاص دودونه او تصمیمونه لري او که کوم غړی یې پروا ونه کړي او نقض یې کړي هغه ته سزا ورکولی کېږي. سزا معمولاً له طبقې څخه اخراج او یا له متخالف سره طبقاتي مقاطعه ده. هغه مفکوروي کارونه چې د طبقاتي سیستم په شاو او خوا تاو شوی دی، ټول د هندویزم مذهبي شکونه لري، سره له دې هم ډېر هندي مسلمانان او عیسویان ددې سیستم تر اثر لاندې راغلي، که څه هم اسلام او عیسیویت خپلو مریدانو ته د مساوات نارې وهي.

## طبقات او اجتماعي غیر مساوات

د طبقاتو د منځ ته راتلو او په هغو کې عضویت په اجتماع کې په صحیح او دقیق ډول د هر غړي مقام ټاکي. برهمن به دعاوې کوي او دوبي به کالي وینځي خو دا د دې معنی نه لري چې برهمن به یوازې په درمسال او دوبي په د سیند په غاړه لیدل کېږي.
احصایې ښیي چې د اوتر پردېش په ولایت کې په سلو کې (۵۵) کسان کسبگر دوبیان او له چمریانو څخه په سلو کې (۵۱) کسان چرمگران دي. سره له دې هم دا به غلطه وي، که داسې فکر وشي چې د یوه کس د طبقاتي عضویت او د هغه د اجتماعي موقف ترمنځ به کومه رابطه نه وي.
د (۱۹۵۱ م) کال احصایې را ښکاره کړه چې د لویدیځ بنګال په کلیو کې چې کوم چوړیان هستوګنه لري په سلو کې (۹۹) کسان بیوزلي او زبېښلي اطرافي کارګران او نیمه کارګران دي. په عین حال کې په سلو کې له شپېته څخه تر نوي پورې د لوړو طبقو اعضا زمینداران او یا شتمن مستاجر بزګران دي. په نورو هندي ولایتو کې هم تقریباً همدغه حال دی. نو باید وویل شي چې د هند په اقتصادي چوکاټ کې دننه چې تر اوسه هم فیوډالي مناسبات موجود دي، طبقاتي سیستم په طبیعت او ماهیت کې ګرد سره اجتماعي دی.

د هغې نری طبقې په باب کې چې عمیقاً به کاپیټالیستي انکشاف پورې اړه لري پورته حال لر څه توپیر لري. په اطراف کې طبقاتي سیستم زیات تاثیر لري. کسبګران، کلالان، دوبیان، چرمګران، ډمان او داسې نور طبعاً په چوړیانو کې راځي. کومې چارې چې دوی یې کوي، ډېره کمه اجوره لري او د دوی نور ژوند له دې امله خراب او ابتر دی چې دوی ښکته زیږنل شوو طبقو ته منسوب دي. په دا بله ښاري خوا کې بیا لوی فابریکه داران او سرمایه داران دي چې په دوی کې د راجستان د سود خورو طبقاتو، د ګجرات د تجارو طبقاتو او د زردشتي ټولنې نماینده‌ګان شامل دي.
په فیوډالي هند کې دې ډلې خلکو به دربار ته شیان ور تهیه کول او اشرافو ته یې پیسې په پور ورکولې او په دې ډول یې د ځان لپاره اقتصادي امتیازات ترلاسه کول. ورسته بیا دوی له انګریزي سوداګرو سره اتحاد وکړ. د دې ټولو نتیجه دا شوه چې د هند زیاتې پیسې د دوی په لاس شي او په فابریکو، بانکونو او شرکتونو کې یې بندې کړي. برلا، دال میا، بانګرو، سکتوري او د راجستان نورې کورنۍ چې جمعاً د مرواري په نامه یادیږي د چونو، سیمنټو، بورې او نورو کارخانو څښتنې دي. دا بیا ځانله د سرمایه دارانو طبقه جوړوي او یو تر بله په راجستاني خاصه لهجې ګړیږي؛ خو دا لکه چې ددې سبب نه ده شوې چې طبقاتي بندیزونو ته یې جوړ کړي او د مرواري طبقه یې د جامعې له نورو طبقو نه بېله کړې ده، مانع او ممیز یواځې پیسې دي او بس.
په لویدیځ هند کې پارسي سرمایه داران چې بمبیي یې مرکز دی، هم مرواري کورنۍ ته ورته حال لري. دوی په دین کې زردشتیان او آتش پرستان دي. د دوی د معبدونو په ورو باندې معمولاً داسې علامه وي چې یوازې د پارسیانو له پاره. پارسي کېدل په خپل ځان کې یو امتیاز دی. د نادارانو کورنیو پارسي ځوانان د نورو شتمنو کورنیو په لګښت ښوونځیو ته استول کېږي او چې کامیاب شول او مدرسونو نه ووتل بیا په هغو کارخانو او فابریکو کې کاتبان کېږي چې پارسي انحصارچي – ټاټا پورې اړه لري.
که څه هم د هند په اوسنۍ جامعه کې طبقاتي او اجتماعي بندیزونه سره ټکر نه خوري؛ خو طبقاتي سیستم شتمنو کورنیو ته ددې موقع ورکوي چې خپل اقتصادي موقف نور هم پسې ټینګ کړي او ناداره نور هم پسې ناداره کړي.

## طبقات او سیاسیات

زړې کیسې وایي چې لومړنی برهمن د رب النوع له سر، شتر یا د هغه له لاسو وشیایي، له نسه او سود رایي له لینګیو څخه راوتی دی او تر هغو چې د ځمکې په سر بنیادمان دي، نو د غیر مساوات مقدس سیستم به هم رواج لري. ددې راز تلقي یوه طبیعي نتیجه

دا ده چې ارتجاعيونو له هغې څخه د ځان لپاره استفاده کړې، ځکه چې هغه د اجتماعي اصلاحاتو په مقابل کې خنډونه پيداکوي. د استعماري رجيم په دوران کې يوه برېتانوي زده کوونکي په پوره ډاډ سره وويل: «زمينداران په ټينګه د طبقاتي سيستم په خوا دي، ځکه چې دا سيستم د انقلابي عمل په لار کې پوره خنډ کېدای شي. د استعمارچيانو چې څه د لاسه کېدل طبقاتي احساسات يې قوي او زيات کړل. دا طرز د دوی په ګته هم و، ځکه چې د دوی د (تجزيه کړه او حکومت وکړه) له سياست سره يې پوره سر خوړ».
د (۱۹۵۷ م) کال له پارلماني انتخاباتو څخه دا ښه څرګنديدای شي چې ارتجاعي سياسي ډلې له دې سيستم ځينې پوره ګټه اخلي او خپل مقاصد پرې په مخ بيايي. د جان سنګ شوونشتي او ښي لاس سوشلستي ګوندونو هم داسې کانديدان د ځان له پاره انتخاب کړل چې هغوی د طبقاتي سيستم له مخې په معينو انتخابي حوضو کې زيات نفوذ لاره. د ځينو احزابو لپاره دا سيستم خنډ وي، ځکه چې د خلکو سياسي شعور نه راويښوي او هندي ولس په تعصباتو کې دننه ساتي او دا بې ځايه خبره نه ده چې ځينو هندي مطبوعاتو په زغرده سره ويلي چې طبقاتي سيستم په هند کې هغه نهنګ دی چې هر وخت کولای شي چې د ډيموکراسي کښتۍ ډوبه کړي.
اوسنۍ هند اقتصادي پراخ پلانونه عملي کوي او د ولسي ذهنيت د روزنې لپاره زيار باسي. هغه درز چې مترقي قواوې او ارتجاعي عنعنه سره بېلوي، د ژوندانه په هر اړخ کې وار په وار ښکاره کېږي او لوييږي. طبقاتي سيستم ارتجاع ته ګټه رسوي، ولسي ابتکار وژني، جامعه په زرګونو بېلو بېلو ډلو ويشي، ايالتي تعصب زياتوي او خلک له دې څخه منع کوي چې په اجتماع کې خپل رول ولوبوي. لنډه دا چې دا سيستم هند ته د يوه درانده بار په څېر دی چې په اوږو يې بار دی.
سره له خپله ټينګاره طبقاتي سيستم بيا هم نه شي کولی دا لوی تخنيک، نوی کلچر او د نورو اجتماعي مناسباتو مخه ونيسي. يو وار د جرمني يو مشهور ژورناليست شميت هند ته لاړ او په جنوب غربي سيمو وګرزيد، په لوبې يې پيل وکړ. دا پېښه د تيرې پيړۍ په وروستيو کلو کې وه. ده وليکل چې دده ګاډۍ وان يوه ورځ وغوښتل چې له يوې ښځې څخه چې چوړيانو په ډله کې وه څه واښه په بيه واخلي. ښځې واښه په ځمکه واچول او خپله دولس، ديارلس ګامه وروسته شوه. په بيې سره موافقه راغله، ګاډۍ وان پيسو شمېرلو ته شروع وکړه، دواړه يو څه نارامه غونډې شول، خو په سترګو کې يو بل سره پوه کړل چې ګاډۍ وان به پيسې په ځمکه غورځوي او ښځه به يې پورته کوي. شمت وايي چې دواړه له دې بېربدل چې ګاډۍ وان به کومې لوړې طبقې ته منسوب وي او نه چې د ښځې تماس دواړو ته زيان ورسوي. قسمت داسې پيښه کړه چې شپيته

کاله وروسته زه پخپله د کرالا ولایت ته لاړم، زما موټروان د نایار طبقې ته منسوب و. نایار هغه طبقه وه چې د دوی په اصطلاح ورته پاک او درانه ویل کېده. موټروان زما د مخې له یوه داسې سړي نه کوکونټ (کوپره) واخیسته چې هغه په چوړیانو کې حسابېده. همدا راز یوه بل ته یې سګرېټ ورکړ او په شا یې هم وډباوه ما ورته د شمت د قیصې یادونه وکړه، هغه سر وخوځاوه او ویې ویل چې رښتیا ده او دا یې پسې زیاته کړه چې یو څوکاله ړومبی څه وخت چې د (تراوان کور) مها راجه له خپل قصر نه بیرون ووت، چوړیان به دده له مخې شړل کېده او د ددې لپاره چې د هغوی سترګې پرې ونه لګیږي. خو اوس په ټولو کې برهمن ددې عادت ټینګ طرفداران دي، خو دا هم درسته ده چې یوازې یو څو خلک به وي چې له بلې طبقې سره واده کول روا ګڼي.
سره لدې هم دا به درسته نه وي چې وویل شي، طبقاتي سیستم ټینګ په پښو ولاړ دی. نه، پښې یې په رپږدېدو دي او مخ په چپه کېدو ښکاري. له څه وخت نه چې هند آزاد شوی دی داسې قوانین یې منځ ته را ایستلي دي چې ددې سیستم ناوړې خواوې یې ګرد سره منسوخې کړې دي. اساسي قانون د طبقاتو ترمنځ تعیضات لغوه کړي دي.
د دې سیستم په مقابل کې په (۱۹۵۰ م) کې یوه رسمي مبارزه شروع شوه او لا پسې روانه ده. په اوله مرحله کې د روزنې په باب کې یو څه محدودیتونه وضع شول، خو یو کال ورسته عمومي شوه او ان کانګرس داسې قانون وایست چې که یې چا مخالفت وکړ او نور یې له عمومي ځایونو لکه هوټلونو، شفاخانو او داسې نورو ځایو څخه منع کړل، هغوی ته به سخته سزا ورکول کېږي.
که څه هم داسې سخت قوانین راوتلي دي، خو په وروسته پاتې اطرافي سیمو کې تر اوسه هم په عمل کې فرق نه دی راغلی. زمینداران تر اوسه هم له خپلو هغو دهقانانو څخه خواره او اوبه نه منې، کوم چې چوړیان وي او ښکته طبقاتو پورې اړه ولري. وروستي هم دې کار ته زړه نه کوي او ډارېږي چې که داسې کار ترې وشو نو بادار به ترې د خپل پور د پیسو غوښتنه وکړي یا به یې جریمه کړي او یا به یې له دهقانی نه وباسي او عمومي حمایه او قانوني لار به ده ته څه فایده ونه رسوي.
د هندي ولس څخه په سلو کې نژدې (۸۵) تنه اطرافي بزګر دي. مترقي کسان عقیده لري چې تر هغو فیوډالیزم (ملوک الطوایفي) له هند نه کډه نه وي کړې، دا سیستم به وي او په هندي ولسونو د دوی کلچر او د دوی پر اقتصادي پرمختګ به زیات اثر لري.

کابل مجله، ۱۳۳۹ ل، سلواغه، ۱۱مه ګڼه/ پرلپسې ۴۹٦ مه ګڼه.

# ګرانه ملګریه

## رومن رولان ته د ماکسیم ګورکي لیک

د (سرګې یه سینین) په ډارمه کې کرکټر په ډېره ښه توګه شوی دی. دا د یو کلیوال زلمي ډرامه ده. ډېره رومانتیکه او غنایي ده. هلکی په خپل کښت او ځنګله کې د خپل ملک په اسمان او په ګلانو او څارویو میین دی. دی ښار ته ځي چې خلک په خپلې هغه لېونۍ مینې خبر کړي چې دی یې له خپل ساده ژوند او د هغه له طبیعي ښکلا سره لري. ما دی له ښار سره د اشنایۍ په لومړنیو شېبو کې ولیده. دنګه ونه، ښکلې څېره، او تاو تاو وېښتان یې وو. کالي یې هغسې و لکه (وین یا) په تزارد (لپاره ژوند) کې. سترګې یې خړې او تنده یې خوږه او خندانه وه لکه (لوهن ګرین). ښار داسې تود هرکلی ورته ووایه. لکه یو حریص چې په جنوري کې وحشي شاه توت ته ګوري. نغمو یې د خوښۍ او سرور نارې جلب کړې؛ خو زښته ډېرې او بې اخلاصه، ځکه چې هغه له حسودانو او تېګانو نه پورته شوی. دا نو بس هغه مهال دی چې د عمر اتلس پسرلي پرې تېر شوي دي.

په شل کلنۍ کې یې د ډنډو کجاوه خولۍ د ګارګوتو وېښتانو د پاسه اېښې او د یوه شېرینې یزد مرستیال په څېره ګرځېدلی دی. انډیوالانو یې په شرابو واړوه او ښځو یې شیره ترې وزبېښله. دی ډېر ژر په دې پوه شو چې ښار د ده محکومیت او زبونۍ ته پښې لوڅې کړې دي، نو د زړه وینې یې د شعر په جامه کې ونغښتلې او دا خبره یې په کې یاده کړه. که څه هم دی همغسې غنایي او عشقي شاعر پاتې شو، خو یو اوازه او سریله انسان ترې جوړ شوی و. ګومان کوم چې دا حال ده ته له خواشینۍ او محکومیت نه پیدا شوی و.

بله دا چې ده غوښتل له ښار څخه خپل انتقام واخلي. زما په فکر چې له هغې په عمر زیاتې ښځې (ایساډورډنکن) سره دده د بخت او خوښۍ ځاله ګډه وډه او په بل مخ شوه. په یوه تاثر نه ډک شعر کې د هغې یادونه داسې کوي: په دې ښځې کې مې د سعادت

لټون وکړ، خو یوازې خپل محکومیت مې په کې بیامونډ. زه هېڅ نه پوهېدم چې مینه زهر دی، زه هېڅ نه پوهېدم چې مینه وبا ده. هغې په تنګو سترګو وتللم او سرېله او لېونی یې وګرځولم.

د هغه اشعار د سستې ارادې نتیجه نه وه، بلکې د هغه د ټینګ او ښکاره عزم ننښه وه چې غوښتل یې ښار پرېږدي او ترې ووځي. هغه ځان غرغره نه کړ، بلکې ځان یې په رسۍ کلک وتاړه چې د پیپ له سرو اوبو نه یې تېره کړې وه. په داسې حال کې چې په غولي ولاړ و، غاړې ته یې زندۍ واچوله او دومره یې راکښوده چې اخر یې کار ورته وکړ. پخوا له دې چې دې کار ته اقدام وکړي د یوه لاس بند یې پرې کړ او په خپلو سرو وینو یې اته شعرونه ولیکل چې یو بند یې دادي:

مګر زموږ په ژوند کې څه نوی شی نه دی؛ خو ژوند هم بل څه نوی توب نه لري.

هغه څه چې په لنډه توګه مې د (یه سنین) په باب درته ولیکل، د روسي لیکوالو ژوند د ډرامې له حیثه ډېر غني دی او د (یه سنین) ډرامه تر ټولو په غم لړلې او خپه کوونکې ده. نن سهار د (ډنکن) په باب د هغه ټول شعرونه را ورسېدل، اریان دریان یې کړم.

ګرانه وروره! ددغه ترخه لیک په استولو کې له تانه بښنه غواړم او په ټول زړه درته سلام کوم.

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري (حمل) نه ویشتمه، نهمه ګڼه، ۴ او ۵ مخونه.

# د فلسفې د تاریخ په شاوخوا کې یو څو خبرې

لیکوال: لوکاس

افراد دي چې اختراعات او اکتشافات کوي. دا اکتشافات په یو ځای نه پاتې کېږي او هرې خوا ته یون کوي او د نړۍ په سر تیتېږي. دې عمل ته د خپرېدو نظریه وایي. د دې نظریې په اساس څو اختراعات او اکتشافات په دوو یا ډېرو ځایو کې په مستقل ډول منځته راځي.

د انتشار عملیه پکې ډېر تغیرات راولي. علت یې دا دی چې انسانان تل کوښښ کوي چې هغه په خپلو خاصو اړتیاوو تطبیق کړي، افکار او نظریات هم همداسې دي؛ یعنې هغه هم د انتشار د تیورۍ په قرار خپرېږي او هر چېرته لار پیدا کوي او یون کوي. هر عصر ځانله ثقافت جوړوي، خو دومره ده چې د هر عصر زیاتره کړه، افکار، اختراعات او اکتشافات له تېرو دورونو څخه راوځي او همداسې هم راتلونکو نسلونو ته انتقال کوي؛ نو د مدنیت په باره کې ډېر ښه ویل شوي چې هغه د ژوندیو او نه تولید شوو سترو کړو ترمنځ یو قرارداد دی.

د تاریخ کلمه له یوناني څخه راوتې. دا کلمه د لومړي ځل لپاره د هیرودوت له خوا اختراع شوې. همدغه سبب دی چې هغه ته د تاریخ پلار ویل کېږي. تاریخ هغه ته د تېرو مهالونو کتنه او پلټنه ده. دا مفهوم تر اوسه هم په تاریخ کې ژوندی دی. د تېرو ټولو مهالونو د ثقافت او مدنیت کتنه او څېړنه پکې راځي. د تاریخ زده کوونکي تر هر څه د مخه د حقایقو پلټونکي دي چې له مأخذونو یا منابعو څخه یې راباسي.

د منابعو شمېر البته زیات دی، لکه ادبیات، عامه وثایق، مدون قوانین، لرغوني آثار، دولتي موسسې، ژبه، عادات، هنري محصولات او مذهبي عقاید؛ سربېره پر دې د تاریخ زده کوونکي له نېږدې او مربوطو علمونو لکه اقتصاد، سوسیولوجي (علم الاجتماع) او انترو پولوجي (انسان پېژندنه) څخه هم داسې افکار راباسي چې ورسره مرسته وکړای

شي. زده کونکې پوښتنې چې موږ يې مدنيت بولو څه شی دی؟ د دې پوښتنې ځواب ګران دی، ځکه چې له فلسفي مسئلو سره اړيکې پيدا کوي.
د همدغې کلمې يعنې د مدنيت د ماهيت او مقصد له څېړلو څخه په پای کې داسې ليکنې راځي چې د فلسفې د تاريخ په نامه پېژندل شوي دي. د مدنيت تاريخ د فلسفې له تاريخ سره بيا هم ښکاره توپير لري.
مورخ د ثقافت په باب کې حقايق لټوي. دا حقايق په تېره زمانه کې دي او که په اوسني مهال کې، مورخ هڅه لري چې سره رابطه ورکړي، ترڅو چې د يوه ثقافتي ترکيب روښانه څېره ترې راوباسي. د مدنيت په باب کې افکار بايد هغو حقايقو سره په پوره معرفت بنا وي، کوم چې د ډېرو کلتورونو (ثقافتونو) څخه ايستل شوی وي. که داسې پوهه نه وي افکار به په رښتيا چې په تشو قياسونو ولاړ وي؛ نو ځکه به غير حقيقي او غلط وي. نو ښايي موږ د حقايقو له پلټلو نه پرې پېل وکړو او په دې قناعت ونه کړو چې د حقايقو د تش معرفت نه وروسته سمدستي په فلسفي اخيستنو لاس پورې کړو.

کابل مجله، ۱۳۳۸ ل کال، د مرغومي نهه ویشتمه، ۱۰مه ګڼه، ۲۹ او ۳۳ مخونه.

# د نړۍ لومړۍ جنګ

لیکوال: لوکاس
مأخذ: د تاریخ مدنیت نه

(۱۹۱۴ م) کال به خپل خاص اهمیت تر ډېرو مهالونو وساتي، ځکه چې په دې کال کې د نړۍ د لومړۍ جګړې سوځونکې سرې لمبې جګې شوې او په زرګونو انسانان او ځوانان یې له ژوندانه څخه محروم او نېست کړل.

د نړۍ لومړۍ جګړې غونډې پراخ او لوی جنګ چې مالي، صنعتي، تجارتي او داسې نورې منابع د عصري او قوي دولتونو په اختیار کې وې، مخصوصاً د ملي قوت، ژوندانه او شتمنۍ ورانونکی و. د لس ګونو کلونو د کار او صنعت د ذخیرې او د پورونو د نه ورکولو او نقض کولو په وجه ولسونه د عصري جنګ تباه کوونکو سرولمبو ته په ورګډېدو مجبورېږي.

فاتحان د مغلوبانو په څېر له شمېره زیات زیانونه او تاوانونه ګالي؛ نو ځکه د جنګ نه را پیدا عمومي ورانۍ، ویر او درد و سوز د بېرته ودانولو ویرجنه دوره په کار لري.

د داسې سرې او غم نه ډکې پېښې علتونه څېړل او په یوې لیکنې کې یې ځایول ګران څه چې نه کېدونکې ښکاري؛ خو په لنډ ډول باید وویل شي چې دا ستره شخړه له بین المللي سیالیو څخه وزېږېده. بین المللي سیالۍ د ډېرې مودې له ملي کرکو، اقتصادي دښمنیو، نظامي او بحریه سیالیو او نظامي اتحادیو او د ورځ په ورځ زیاتېدونکې ویرې له کبله چې پروپاګندونو به لا هم قوت ورکاوه، پیدا شوې وې. دا علتونه هر یو څېړل او لوبول غواړي؛ خو دا د دې وړې لیکنې کار نه دی.

د سمدستي او نږدې علت تاکل چې د جنګ لومړۍ سرې لمبې پرې جګې شوې، هم اسان نه بلکې ګران دی. دلته د عدالت یو آسماني او بې طرفه احساس ته ضرورت دی چې مسئول ځای او څوک پرې صحیحاً وښوول شي. ښه به دا وي چې وویل شي چې د (۱۹۱۴ م) کال د اګست په میاشت کې جرمني، آستریا، هنګري، بلغاریه او ترکیه له فرانسې، انګلستان، روسیې، بلجیم او جاپان سره مخامخ شول.

يو کال وروسته په (۱۹۱۵ م) کال کې ايټاليې له جرمني او آستريا – هنګري سره ملګرتوب پرېښود او د هغوی له دښمنانو سره يې جوړه وکړه. په کال (۱۹۱۷ م) کې د امريکې متحد هېوادونه د لويديځې نړۍ له نورو قوتونو سره په متحدينو کې ور ګډ شو. په دې ډول د نړۍ ستر هېوادونو په خونړۍ جګړې کې داخل او ګير شول.
دا جګړه د (۱۹۱۸ م) کال د نومبر په مياشت کې پای ته ورسېد. جرمني، آستريا، هنګري، بلغاريې، ترکيې ټولو انساني قوت، مالي منابع، صنعتي موسسې او ساينسي پوهه مجهزه کړې وه، خو دوی ټول په پای کې پاتې شول.
د بايللو يو علت يې دا و چې دوی ټولو د دوه سوه کلونو له پاره د اروپا په لويو جګړو کې فعال رول لاره. دا يو پرنسيپ دی چې په جنګونو کې هغه کامياب وي، کوم چې د بحريه قوت له لارې د لويو سيندونو او تجارت لارې په کنټرول کې لري او په دې وسيله کولای شي چې بې له شرط او قيد نه اومه مواد، خواړه او صنعتي محصولات وارد کړي.
د برېتانيې او فرانسې بحريه قواوو د سيندونو کنټرول په لاس لاره او په دې ډول يې په ډېر ښه شان کولای شواى چې هغه خوراکه باب او اومه مواد چې د شمالي او جنوبي امريکې او همدا راز د افريقې او استراليا په هېوادونو کې پيدا کېدل، په زيات مقدار وارد کړي.
په سمندرونو باندې د دوی باداري د دې سبب شوه چې جرمني او د هغه ملګري هېوادونه له پورتنيو موادو نه محروم او په بلوکاد کې يې ګير کړي او په دې ډول د لښکرو معنويات ور خراب کړي.
په کال (۱۹۱۷ م) کې د امريکې د متحده هېوادونو په شمول زياتې لښکرې، جنګي سامانونه او ډېرې پيسې ور چالانې شوې. په دې اقدام سره د متحدينو پله پسې لا ښه درنده شوه. د ترکيې، بلغاريې، استريا او جرمني مدافعه خلاصه شوه او د (نومبر په ۱۱مه ۱۹۱۸ م) کې متارکه اعلان شوه.
په جنګ کې د ژوند د صنايعو ارزښت دنيا ولړزوله. متحدينو د امريکې له متحده هېوادونو سره څلوېښت ميليونه او جرمني له خپلو ملګرو سره شل ميليونه جنګي ميړونه د جنګ ډګر ته ايستلي وو.
له جنګ يا له زخم يا له پېښو څخه د مړو شمېر نږدې لسو ميليونو او د زخميانو، شلو ميليونه ته اټکل شوی دی. پردې سربېره په ملکي وګړو کې د وږو (ماشومانو) مړينه، د عمر خوړولو (سپين ږيرو) د مرګ اندازه، عصبي ناروغۍ او د صحت عمومي ورانۍ هيڅ په حساب کې نه شي راتلای.
د جنګ مادي تاوان هم حيرانوونکی دی. ټول مستقيم زيان د (۱۸) ميلياردو ډالرو په حدودو کې حساب شو دی. سره له دې هم دا احصائيه د هغو تاوانونو يو تقريبي تخمين

دی، کوم چې په دې جنګ کې انسانانو ګاللي دي.
هغه تاوتریخوالی او بدبختي چې د کورنیو له میراتېدو، د منځنیو طبقو د حیثیت له تباه کېدو او د ټول نسل له نا امیدۍ نه راولاړ شول، هېڅ په حساب کې نه راځي. ددې تجربو په مقابل کې رد عمل او بې عدالتي چې له جنګ نه وروسته د معاهدو له لارې په لاندې شوو هېوادونو ومنلې شولې، د بېرته ودانولو مسایل یې لا پسې انجړ او مشکل کړل.
دغه مصیبتونه، د هغو بېوزلو او بېچاره‌ګیو مستقیم یا غیر مستقیم علتونه دي، کوم چې په اوس وخت کې یې بشر تر فشار لاندې نیولی دی.
د (۱۹۱۷ م) په اپریل کې د فرانسې او انګلستان په پلو د امریکې درېدل او په جنګ کې ننوتل د جنګ څېره واړوله. د امریکې د جنګ اعلان لکه برېښنا داسې اغېز ناکه وه. امریکې په پیسو، موادو او انساني قوت کې تقریباً نامحدودې منابع او ذخایر لرل او هغه یې د متحدینو په اختیار کې کېښوول، خو په دې وخت کې د امریکې حیثیت د یوه بل دلیل له برکته بیخي لوړ و. پریزیدنټ وډرو ولسن – د ټولنې او حکومت د ډیموکراتیکي ایډیالونو قوي مومن د جنګ د عادل پای په باره کې خپل افکار ښکاره کړل.
د (۱۹۱۸ م) کال د جنوري په اتمه یې خپل څوارلس ټکي اعلان کړل او په دې یې یقین ښکاره کړ چې دا به د دایمي سولې لپاره یو ټېنګ بېخ کېږدي. د دې تاریخي سند څوارلس ټکي په لاندې ډول وو:

۱. باید ډیپلوماسي د وګړو په مخ کې ښکاره او برالا پر مخ ولاړه شي؛
۲. سمندرونه دې په جنګ او سوله کې خلاص او آزاد وي؛
۳. اقتصادي بندیزونه دې تر ممکن حده پورې ایسته شي؛
٤. ملي وسلې دې تر اخره حده کمې شي؛
۵. مستعمراتي دعوې دې د اروپایي دولتونو د نفوسو له تناسب سره متعادلې شي؛
٦. روسي سیمې باید خوشې شي؛
۷. باید بلجیم خوشي شي او پوره آزادي یې ومنل شي؛
۸. د فرانسې سیمې باید خوشې شي او الزاس لورین بېرته فرانسې ته پرېښودل شي؛
۹. د ایټالیې سرحدونه باید سم شي، ترڅو چې هغه ایټالویان چې له وطن نه د باندې اوسېږي وکولای شي له مورنۍ خاورې سره وتړل شي؛
۱۰. هغه ولسونه چې د استریا امپراطورۍ ترې جوړه وه، باید آزاد دولتونه جوړ کړي؛
۱۱. رومانیه، سربیه او مانتینګرو باید خوشې او باید سربیه د ایدرهاټیک سیند ته لاره ولري؛

۱۲. هغه مليتونه چې د ترکيې تابع دي، بايد په آزاد ډول خپل د انکشاف لار وټاکي او بايد د رود نيل د ټولو ملتونو د بحريې په مخ خلاص وي؛
۱۳. بايد د پولينډ ولس يو آزاد دولت جوړ کړي او د بالټيک سيند ته لار ولري؛
۱٤. د ملتونو په منځ کې دې د دغو مسئلو د حل کولو له پاره د ملتونو ټولنه جوړه شي.

د پاريس د سولې جرگه په دې ناکامه شوه چې ويې نه شواى کولاى ټولې مسئلې او دعوې په عدالت سره حل کړي. کارونه يې د کمېټو له لارې وړاندې بوتلل شول او د ملي دعوو د ارضا له پاره يې ډېر امتيازونه ورکړل چې ځينې يې نامعقول هم وو.
د ورساى د معاهدې (۱۹۱۹ م) په وجه د اروپا نقشه وگرځېده او له سره جوړه شوه. د جرمنې مستعمرې بيا ووېشل شوې او نورې مسئلې د المان د پور له مسئلې سره په لنډ ډول حل شوې. له المان نه وغوښتل شول چې د فرانسې او بلجيم د هغو اموالو تاوان ورکړي، کوم چې يې ور برباد کړي وو.
په پاى کې هغه بل چې بايد المان په طلايي مارکو سره تاديه کړاى واى، (۳۲) مليار‌دو امريکايي ډالرو ته ورسېد. د المان د پور ورکولو اندازه ټوله (۷۲) مليارده ډالره وټاکل شوه.
پردې سربېره د جرمنې سرحدي کرښې بايد له سره نښې شي. ازاس او لورين بېرته فرانسې ته ورکړل شي؛ مالميډي، بلجيم او د شازوبگ يوه برخه بايد وروسته له عامه راى گيرى نه ډنمارک ته خوشې شي.
پولينډي سيمې له جرمنې لگېدو سره بايد د پولينډ نوي جوړ شوي جمهوريت ته ورکړل شي. ډالزيگ له شاوخوا سيمو سره يو آزاد ښار وگڼل شو. همدا راز د (نيمين) د سيند په غاړه (مامل) هم يو بېل سياسي واحد وگڼل شو.
د المان ملگري دولتونه هم زيات متاثره شول. استريا - هنگري له مينځه لاړ، په ځاى يې د استريا نوى دولت منځ ته راغى. د (تېرول) سهيلي برخه ايټاليې ته خوشې شوه او د سلاوې جنوبي ملکونه په يوسلاوي پورې وتړل شول. هنگري هم د يوه بېل دولت په حيث راښکاره شوه، خو ټران سلورينه رومانيې ته ورکړى شوه.
چکان او اسلانويان له يو ځه روتي نينانو سره يو شول او د چکوسلواکې په نامه يې يو بېل دولت جوړ کړ. بلغاريه او ترکيه بايد په سرحدي کرښو کې زيات تعديلونه ومنې.
دا هاغه يوازني تغيرونه وو کوم چې د سولې د جرگو له خوا په نورو ومنل شول. پردې سربېره نور شرطونه هم وو، کوم چې د جنگ د تاوان او اقتصادي مسئلو په باب وضع شول.

صنعتي انقلاب کوم چې له اولو سرو څخه یې معلومېده چې د اقتصادي مسئلو له پاره به د حل یوه خالي لاره پیدا کړي، داسې مسئلې منځ ته کړي چې د هغو حل تر اوسه هم آسان نه دی.
هغو قواوو چې د تجارت او صنعت کنټرول یې په لاس لاره حکومتونه دې ته مجبور کړل چې استعماري سیاستونه اختیار کړي او په مخ یې بوځي، ځکه چې د اومو موادو لپاره یې د منابعو او د مصنوعاتو له پاره یې د مارکېټ په پیدا کولو د دوی اړتیاوې پوره کولای شوای، خو د ملیت پرستۍ (نیشنلزم) روحیه د دې مانع کېده چې استعماري سیاستونه کرار او ارام ترقي وکړي او په مخ ولاړ شي.
نو استعماري سیاستونه د دې سبب شول چې سیاسي زړې شخړې او جګړې تازه او جګې کړي او په نتیجه کې ترخه او شدید جنګونه ترې جوړ کړي. لومړی ستر جهاني جنګ د داسې سیاستونو یو ښکاره مثال دی.
کوم شی چې دا جنګونه یې دومره ورانوونکي او مخرب کړل، هغه د میلیټریزم خصویت و. حکومتونو له ټولو ورانوونکو او نابودونکو آلاتو څخه چې د صنعتي انقلاب میدان ته یې ایستلي وو، استفاده وکړه او په جنګ کې یې په کار کړل.

# د زړه مدار

ليکوال: اورزيروف (منتقد)

زموږ اوسنی عصر تر هر پخواني عصر نه په نويو ځيزونو کې زيات غني دی – د دغه عصر تقاضا ده چې هنرمن دې په پخواني کولتور پوه وي او دا قدرت دې ولري چې د زړه مدار ته توغندي وتوغوي.

دا موږ ته لکه لمر هومره لرې نه دی؛ خو رسېدلو ته يې د عزم، خيال، استعداد، پوهې او اهميت زيات کوښښ په کار دی.

شاعري ځانله يوه دنيا ده. دا زما په وس کې نه ده چې ټولې جوړوونکې برخې يې وشمېرلی شم. دومره بس ده چې ووايم د شاعر علاقه هر څه ځانته جلبوي او هيڅ ځيز يې له سترګو نه، نه تښتي. د شعر حرص حد نه لري – او ډګر يې په رښتيا بې پايان دی. د شاعر حرفه ځانله رموز لري چې ورو ورو عمومي پوهه ګرځي. سره ددې هم په دغې پوهه کې داسې معماګانې شته چې له بده مرغه موږ هر يوه ته نه ښکاري. زما په دې وينا کې دا مطلب نه دی نغښتی چې زه دې شعر ته ګوندې په فوق طبيعي قايل يم، خو دا له دې امله چې زه د هنر په سپېڅلتوب او د هغه په پاک الهام او مأموريت کلک ايمان لرم. زه له (ليونيدليونوف) سره موافق يم چې وايي:

«هيڅ څوک نه شي کولی له هنر نه سپېڅلتوب واخلي، بې له دې چې خپله جزا ووينې يا دا چې: هيڅ څوک ددې ادعا نه شي کولی چې هر څوک پرې قادر دی خو چې پوره زيار او هاند وباسي» بله دا چې: «سربېره په هغه چې زيات زيار يې بولي يو بل نسبتاً مهم ځيز هم ضروري دی – استعداد».

د (ميخائيل سوت لوف) نظمونه ددې ښکاره مثالونه دي چې د شاعر حرفه څومره فردي ده، هر شاعر ځانله اواز اوروي او ځانله د نه تېروتنې وړ صفاتو خاوندوي.

همدغه دليل دی چې شاګردان تر هغه چې په شاعرۍ کې شخصيت شوي نه وي، زياتره د خپل قوي استاد تر تأثير لاندې ځي. هغه ته چې په شعر کې برابر استعداد

لري، د بل چا د مهارت سحر قاطع کېدای شي. هغه ته چې رښتینی استعداد لري سره د ټولو خبرو دا یو تلوونکی (محرک) وي، ځکه چې هغه په پای کې ځانله خپله لار پیدا کوي.
همدا اوس مې د (سوت لوف) نظمونه بیا بیا سل کرته ولوستل، دا د هغه جهان بیني، د هغه لاس لیک، د هغه د زړه ټکهار او د هغه جهان دی، ده بل راز نه شوای لیکلی. ځان ته صادق کېدل او د ځان رښتیني افاده کول - د رښتیاني استاد نښه وي. که په ځانګړي ډول وکتل شي د هغه ځینې قافیې ساده او بیخونده بریښي؛ مګر یو د بل په قرینه کې هغوی ټولې تازه کوونکې، نوې او ښوونکې دي. شاعر لوستونکی دېته مجبوري وي چې غور وباسي او یقین وکړي. کله چې له حرفه ګرۍ (Craftsmanship) نه بحث کېږي، سړی په دې مجبور شي چې تل دا ووایي چې یوازې د سلیقې یا استعداد لرل کافي نه وي.
دا رښتیا ده چې مونږ مخصوصاً په ځوانانو کې زیات شمېر مستعد او حتی ماهر نثر لیکونکي لرو؛ مګر سره ددې هم مونږ د یوه پاخه او رښتیاني استاد له لرلو څخه ډېر لرې یو هغه استادي چې که بیا ویل یې له استعداد نه په پرته خطر هم ولري - د جهان بصیرت او پوهه په کې وي، د جهان حقایق، نه تخمینات په غېږ کې ولري او دا هڅه په کې قوي وي چې تخلیق وکړي نه تقلید.
ازاد او دقیق قضاوت هم د ښې لیکوالۍ لوی جز دی.
«زه پوهېږم چې زیاته موده د ژوند نه شم کولی او زه په دې پوهېږم چې څنګه مې باید لیکلي وای هغسې مې لیکلی نه دي، زه هر څه وینم په هره کرښه کې نیمګړتیاوې ګورم، کله کله یوازې شپې یې یو څه جوړېدای شي».
دا د (ولادیمیرلوګوفسکي) په یاداشتو کې دی. د نه افاده کېدونکو او نه افاده شویو په باب پرله پسې او نه شلېدونکې اندېښنه. همدا راز د خیال او اجرا تر مینځ نارامه او بې رحمانه مقایسه او مخصوصاً د وروستۍ (اجرا) په باب دردوونکی نارضایت د هنرمن لوی لوی مشغولیتونه جوړوي.

# مفاهیم او توري

لبنان
اردون
کوريا
اندونزيا
سوډان
کمبوديا
فلپاين
منوګوليا
هند
چين
تايلند
د عرب متحده جمهوريت
جاپان
ويتنام
قبرس
اردن
نائيجريا
قزاقستان
نيپال
پاکستان
يوګندا
سومالي
رقاصان
هنرمندان
رسامان
نقاشان

معلمان
ژونالیستان
قاهره
کولونيلزم
پښتونستان
نيټو، سيټو او سنټو
اسلامي اقتصاد
سنبلې نهمه
پښتونخوا
ګل پاچا الفت
پښتو ټولنه
سليمان ماکو
امير کروړ
تذکرة الاولياء
مدنيت
بحرکاهل
جاپان
ازبکستان
جمهوريت
ایران
ترکيې
استعمار
علي شيرنوايي
هنر
امريکې
اروپا

شرف رشيدوف
اسامبلۍ
سوشلستي
ريلستي ادب
استثمار
امپرياليزم
نژادي تبعيض
مفاهیم او توري
دو وريانکوف
مستشرقين
اخرا مووېچ
کوختينا
شوروي
انترنيشنلزم
بين المللي
جرګې
مرکې
سياستمداران
ښوونکي
ژبپوهان
جهان بيني
رسم او رواج
اسيا
ډيلي
تاشکند
افريقې

بشریت
قاضي عبدالقادر یوسفزی
شمس النهار
روسي ژبه
امیر شیر علي خان
امیر عبدالرحمن خان
تیمور شاه
خان عبدالغفار خان
غني خان
هندوکش
برېتانیا
خیبر لاره
روه
الفنسټن
سر اولاف کیرو
جامعه
نیندرتل
گرومیگنن
بین النهرین
فارس
هوتکي امپراتوري
لاریمر (انگلیسي مستشرق)
کایگر (جرمني مستشرق)
ترومپ (جرمني مستشرق)
مارگن سټرن
اسلانوف
هربرټ پنزل
مشگین پوهنتون
ویانا پوهنتون
عبدالستار شالیزي

ارسکارشاوریا گلیر
فقیر نبي الفي
واشنگټن
افضل خان خټک
احمد شاه بابا
حافظ نورمحمد کهگدای
نورمحمد فوشنجي
حبیب الله وردگ
عصمت الله جبارخېل
ارسلا خان جبارخېل
ملا شاه محمد کتبخېل
پټه خزانه
محمد هوتک
خوشحال خان خټک
رحمان بابا
حمید بابا / حمید مومند
منشي احمد جان
حمزه شینواري
عبدالخالق خلیق
صاحبزاده محمد ادریس
سید راحت زاخیلي
پښتو ژبه
شوروي
جرمني
انگلستان
ناروې
سویس
برتلز (روسي مستشرق)
ډارمسټېر (فرانسوي پښتو
پوه)

راورټي (انگلیسي مستشرق)
محمود هوتک
میرویس خان هوتک
لیبرالیزم
کاپیټالیزم
لېنن
ستالین
ډیموکراسي
کانگرس
یونان
تولستوی
امان الله خان
محمد یعقوب خان
کیوناري/ کیونگاري
ارنولډ ټاین‌بي
هیومنیزم
کلیسا
فرانسس بیکن
دکارت
داروین
رومن رولان
ماکسیم گورکي

# د مقالو مأخذونه

| شمېره | د مقالې نوم | موضوع | مأخذ |
|---|---|---|---|
| ۱ | د ښوونکي ورځ | سرمقالې | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د لړم لومړۍ، اتمه ګڼه، ۵۵ او ۵٦ مخونه. |
| ۲ | زموږ لوستونکي له موږ څه غواړي؟ | سرمقالې | کابل مجله،۱۳۳۷ ل کال، زمری، ۱۱مه ګڼه، پرلپسې ګڼه ۴٦۲، ۱-۳مخونه. |
| ۳ | یونو د جهاني تشکیل په لور | سرمقالې | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د لړم (عقرب) لومړۍ، اتمه ګڼه، ۱ او ۳ مخونه. |
| ۴ | زموږ ذهنیتونه | سرمقالې | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري(حمل) لومړۍ، درېیمه ګڼه، ۱ او ۲ مخونه. |
| ۵ | پخه دوستي | سرمقالې | کابل مجله،۱۳۳۷ ل کال، زمری، ۱۰مه ګڼه، پرلپسې ګڼه ۴٦۱، زمری، ۱-۳ مخونه. |
| ٦ | د تاشکند جرګه | سرمقالې | کابل مجله،۱۳۳۷ ل کال، لیندۍ، ۱۷-۱۸ او ۱۹نمبر ګڼې،۳٦-۴۵ مخونه |
| ۷ | د ژوند راز | سرمقالې | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري (حمل) نه ویشتمه، نهمه ګڼه، ۱ او ۳ مخونه. |
| ۸ | د پیټسبرګ سیمینار | سرمقالې | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وږي (سنبلې) لومړۍ، شپږمه ګڼه، ۱ او ٦ مخونه. |
| ۹ | اقتصادي نظریات | سرمقالې | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري(حمل) نه ویشتمه، نهمه ګڼه. |
| ۱۰ | د پښتونستان ورځ | سرمقالې | کابل مجله، ۱۳۳۹ ل کال، د وږي میاشت، ٦مه ګڼه/ پرلپسې ۴۹۱مه ګڼه/. |
| ۱۱ | د مجلې یودیرشم کال | سرمقالې | کابل مجله، یودېرشم کال، ۱۳۴۰ ل، لومړۍ ګڼه، ۱، ۲، ۳ او۴ مخونه. |
| ۱۲ | املاء او انشاء | پښتو ادبیات | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د مرغومي(جدي) ۲۹مه، لسمه ګڼه، ۵۴ او۵۸ مخونه. |
| ۱۳ | په امریکې کې د پښتو نوی مرکز | پښتو ادبیات | کابل مجله، ۱۳۳۹ ل، تله، ۷ګڼه/ پرلپسې ۴۹۲ګڼه/ . |
| ۱۴ | پښتو لپاره یو بل اساسي خدمت | پښتو ادبیات | کابل مجله، ۱۳۳۷ ل کال، تله، ۱۳ګڼه، پرلپسې ګڼه ۴٦۵، ۱-۳مخونه. |
| ۱۵ | پښتو او دفتر په دوو وروستیو پېړیو کې | پښتو ادبیات | وږمه مجله، یوویشتم کال، ۱۳۵٦ هـ . ش، درېیمه ګڼه، ۱۹ او ۳۳ مخونه. |
| ۱٦ | پښتو په شوروي کې | پښتو ادبیات | کابل مجله، ۱۳۳۷ ل کال، لیندۍ، ۱٦-۱۷ او ۱۸مې ګڼې، پرلپسې ګڼې ۴٦۸ - ۴٦۹ او ۴۷۰مې، ۱-۴مخونه. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۷ | پښتو د عمومي کېدو په لاره کې | پښتو ادبيات | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د زمري لومړی، ۵مه گڼه، ۵۵ مخ. |
| ۱۸ | د پښتو ټولنې د ۱۳۳۷ نشراتي کال چارې | پښتو ادبيات | کابل مجله، ۱۳۳۷ل کال، تله، ۱۴مه گڼه، پرلپسې گڼه ۴٦٦، ۱-۲مخونه. |
| ۱۹ | د غني پلوشې | پښتو ادبيات | کابل مجله، ۱۳۳۹ل، مرغومی، ۱۰مه گڼه/ پرلپسې ۴۹۵گڼه/ . |
| ۲۰ | افغانستان او استقلال | تاريخ او اجتماعيات | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل کال، د لړم (عقرب) لومړی، ۵مه گڼه، الف او ح مخونه. |
| ۲۱ | د استعمار حقيقت | تاريخ او اجتماعيات | کابل مجله، يودېرشم کال، ۱۳۴۰ ل، پينځمه گڼه، ۱ او ۱۱ مخونه. |
| ۲۲ | افغان، افغانستان | تاريخ او اجتماعيات | وږمه مجله، يوويشتم کال، ۱۳۵٦ ل، څلورمه گڼه، ۳۱ او ۴۳ مخونه. |
| ۲۳ | نگاهی به حکومت و جامعه افغانستان در دوره امارت امير عبدالرحمن خان | تاريخ او اجتماعيات | آريانا مجله، ۱۳۵۹ ل کال، ۲مه گڼه، پرلپسې گڼه ۳۳۲، ۷۳-۸۰ مخونه |
| ۲۴ | د احمدشاهي دولت ځينې خصوصيتونه | تاريخ او اجتماعيات | کابل مجله، ۱۳۵۷ ل، د چنگاښ نه ويشتمه، څلورمه گڼه، ۲۹ او ۳٦ مخونه. |
| ۲۵ | لومړني انسانان | تاريخ او اجتماعيات | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د کب نه ويشتمه، دولسمه گڼه، ۳۲ او ۳٦ مخونه. |
| ۲٦ | د اتلسمې پېړۍ په درېيمې لسيزې کې په فارس د پښتنو غلبه | تاريخ او اجتماعيات | وږمه مجله، ۲۲ کال، لومړی گڼه، ۱۳۵۷ ل. |
| ۲۷ | زموږ معارف | تاريخ او اجتماعيات | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د سلواغې نه ويشتمه، يوولسمه گڼه، ۱ او ۹ مخونه. |
| ۲۸ | قيام صدو دو سال پيش کابل عليه تسلط انگليس های مهاجم | تاريخ او اجتماعيات | آريانا مجله، ۱۳٦۰ ل، کال دوبی، ۲مه گڼه،پرلپسې گڼه ۳۳۷، ۱۵۰-۱٦۵ مخونه. |
| ۲۹ | د شوروي ننني جامعه | تاريخ او اجتماعيات | کابل مجله، ۱۳۳۷ ل کال، سلواغه، ۱۹-۲۰ نمبر گڼې، ۱۷-۳۳ مخونه. |
| ۳۰ | د يونان د ډيموکراسۍ څنگه والي | تاريخ او اجتماعيات | کابل مجله، ۱۳۳۹ل، لړم، ۸مه گڼه، پرلپسې ۴۹۳مه گڼه. |
| ۳۱ | د پښتونستان لنډه پېژندنه او يو څو خبرې | تاريخ او اجتماعيات | کابل مجله، يودېرشم کال، ۱۳۴۰ ل، د وږي مياشت، شپږمه گڼه، ۱ او ۵ مخونه. |
| ۳۲ | زموږ ملي ښادي | تاريخ او اجتماعيات | کابل مجله، ۱۳۳۷ ل کال، وږی، ۱۲گڼه، پرلپسې گڼه ۴٦۳، ۱-۳مخونه او وروستی مخ. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۳ | د لرغوني یونان دولتي مؤسسې | تاریخ او اجتماعیات | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د کب نه ویشتمه، دولسمه گڼه، ۳ او ۴ مخونه. |
| ۳۴ | د تاریخ په باره کې | تاریخ او اجتماعیات | کابل مجله، ۱۳۳۹کال، تله، ۷گڼه، پرلپسې ۴۲۹ گڼه. |
| ۳۵ | شولې، بتۍ او پایکو | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۹ل، وری، ۱گڼه/ پرلپسې ۴۸۶گڼه. |
| ۳۶ | وېره | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۹ ل، غویی، ۲مه گڼه/ پرلپسې ۴۸۷مه گڼه. |
| ۳۷ | د اډوارډ بېلامې اوټوبیا | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۹ ل، چنگاښ، ۴گڼه/ پرلپسې ۴۸۹گڼه. |
| ۳۸ | د نولسمې پېړۍ اوټوپیایي لیکنې | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۹ل، وږی، ٦گڼه/ پرلپسې ۴۹۱گڼه. |
| ۳۹ | د تولستوی برخه په ادب کې | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۹ ل، لیندۍ، ۹مه گڼه/ پرلپسې ۴۹۴مه گڼه. |
| ۴۰ | د شعر په باب تفکرات | ژباړې | کابل مجله، ۳مه گڼه، ۱۳۴۰ ل، ۴٦ او ۴۷ مخونه. |
| ۴۱ | د کولتور کړۍ | ژباړې | کابل مجله، یودېرشم کال، ۱۳۴۰ل، څلورمه گڼه، ۴٦ او ۵۲ مخونه. |
| ۴۲ | په اسلامي مملکتو کې معارف | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۳ ل کال، اتمه گڼه، ۱٦ او ۱۷ مخونه. |
| ۴۳ | علتونه په تاریخ کې | ژباړې | وږمه مجله، دیارلسم کال، ۱۳۴۸ ل، څلورمه او پینځمه گڼه، ۵٦ او ٦۳ مخونه. |
| ۴۴ | د انکشاف قوانین | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۹ل، مرغومی، ۱۰مه گڼه/ پرلپسې ۴۹۵مه گڼه. |
| ۴۵ | زوړ د نوي په مقابل کې | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۷ ل کال، چنگاښ، ۸مه گڼه، ۴۵۹ پرلپسې گڼه، ۱ – ۳ مخونه. |
| ۴٦ | د ډیموکراسۍ عناصر | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري ۲۹ مه، لومړۍ گڼه، ۲۷ او ۲۹ مخونه. |
| ۴۷ | د هند اجتماعي حال | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري لومړۍ، دویمه گڼه، ۴۵ او ۵۱ مخونه. |
| ۴۸ | گرانه ملگریه | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۹ل، سلواغه، ۱۱مه گڼه/ پرلپسې ۴۹٦مه گڼه. |
| ۴۹ | د فلسفې د تاریخ په شاوخوا کې یو څو خبرې | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۸ ل، د وري(حمل) نه ویشتمه، نهمه گڼه، ۴ او ۵ مخونه. |
| ۵۰ | د نړۍ لومړی جنگ | ژباړې | کابل مجله، ۱۳۳۸ل کال، د مرغومي نهه ویشتمه، ۱۰مه گڼه، ۲۹ او ۳۳ مخونه. |

# د پوهاند کاکړ نور خپاره شوي آثار

په پښتو کې:

- د ثور کودتا او د هغې ژورې پایلې (۲۰۱۰)
- زما غوره لیکنې (۲۰۱۰)
- د سرطان کودتا (۲۰۰۹)
- افغانـان د شپږشـپېتم کال پـه پـسرلي کـې لـه روسـانو سره د جنـګ پـه حـال کـې (پښـتو)
- د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه (۲۰۰۴)
- وطن ته یو سفر، طالبان او اسلامي بنسټ پالنه (۲۰۰۴)
- رڼا او دفاع (لیکونکی، د مقالو تنظیم کوونکی) (۱۹۹۹)
- افغانـان د شپږشـپیتم کال په پـسرلي کـې لـه شـورویانو سره د جنـګ پـه حـال کـې (۱۹۹۰)
- د افغانستان په اړه د ژنیو جوړه (۱۹۸۸)

په فارسي کې:

- افغـان، افغانسـتان و مختـصری از کوشـش هـای افغـان بـرای تشـکیل دولـت در هندوسـتان، فـارس و افغانسـتان (۱۹۷۸)
- جنګ دوم افغان – انګلیس (۱۹۸۹)
- مسئله افغان (۱۹۹۰)

ژباړې:

- د سـقراط، افلاتـون، ارسـطو، اپیکـور او زینـو پـه نظر ښـه انسـان، د بالابانـس لیکنـه (۲۰۱۰)
- خاطرې، د یوې دورې لنډ تاریخ، د محمود طرزي لیکنه (۲۰۰۷)
- د پوهنې فلسفې بنسټونه، د جارج نیلر لیکنه (۲۰۰۲)
- د کابـل سـلطنت بیـان، لومړی او دویـم ټـوک، د الفنسـټن لیکنـه، نصراللـه سـوبمن د مقدمـې ژباړونکـی، (۱۹۸۲)

- دموکراسي در جهان امروز، د میکفیرسن لیکنه (۱۹۷۱)
- تاریخ څه ته وایي؟ د اي. اچ. کار لیکنه (۱۹٦۸)
- ماکسم ګورکي د ادبیاتو په اړه (۱۹٦۱)
- جان سټوارټ مل په ۹۰ دقیقو کې

په انګرېزي کې:

- د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ (۲۰۰٦)
- افغانستان، د شوروي یرغل او د افغانانو ځواب (۱۹۹۵)
- د افغانستان حکومت او ټولنه، د امیر عبدالرحمن خان په واکمنۍ کې (۱۹۷۹)
- افغانستان، د داخلي سیاسي انکشافاتو مطالعه (۱۹۷۱)

# د کاکړ تاريخ بنسټ په اړه

کاکړ تاريخ بنسټ چې يو علمي، څېړنيز او خپرنيز بنسټ دی په ۱۳۹۳هـ.ش کال ايجاد او د اطلاعاتو او کلتور وزارت په چوکاټ کې ثبت شو.
دا بنسټ د هغې اړتيا له وجې چې په لرغونپوهنې، ټولنپوهنې، فرهنګپوهنې او سياست کې موجوده وه، رامنځه شو؛ ترڅو يادو ساحو کې دقيقې علمي څېړنې وشي او د دقيقو علمي معيارونو له مخې پخواني آثار بيا چاپ کړي.
زموږ فعاليتونه:

- د تاريخي آثارو ليکل، ژباړل او خپرول
- د پوهاند کاکړ د ټولو آثارو بيا ځلي چاپ او تر خلکو رسول
- د پخوانيو آثارو تدقيق او بيا خپرول
- تاريخي او علمي څېړنو ته لار هوارول
- د تاريخي سيمينارونو، ورکشاپونو، کنفرانسونو او سمپوزيمونو جوړول (انلاين/حضوري)
- د علمي شخصيتونو، مناسباتو او تاريخي ورځو لمانځل
- د تاريخي اسنادو را ټولول، ارشيف او بيا چاپول
- د ملي ارزښتونو او ميراثونو خوندي کول
- د پوهاند کاکړ او نورو تاريخ ليکوالو کاتوبونه په غړيزه بڼه جوړل
- د تاريخي عکسونو راټولول
- په آنلاين بڼه د پوهاند کاکړ او نورو ليکوالو مقالې او کتابونه خپرول

موږ هڅه کوو چې د نامتو افغان څېړونکو خورې ورې ليکنې راټولې او له علمي بنسټونو سره د مسلکي او تخصصي مرستې ترڅنګ د دوی ملاتړ هم وکړو. زموږ موخه د افغانستان د تاريخ په لا شتمنولو کې برخه لرل دي.

د لا زياتو معلوماتو لپاره، کولی شی په لاندې ادرس زموږ ويبسايټ ته مراجعه وکړی.
http://www.kakarfoundation.com

"د پوهاند محمدحسن کاکړ د کار لوی خصوصیت دا دی چې د تاریخ په لیکلو کې یې مخکې له مخکې قضاوت نه کاوه؛ بلکې په خپلو څېړنو کې به یې د کره اسنادو په رڼا کې نتیجه را اېستله او د هېواد د ملي تاریخ هنداره به یې د هېوادوالو مخې ته اېښودله. د ده آثار د استناد او دقت په نتیجه کې لیکل شوي او د یوه مسلکي مورخ په توګه یې له تاریخ لیکلو سره برخورد کړی او موږ ته یې خپل درانه آثار را پرې ایښي دي."

څېړنوال حبیب الله رفیع

"پوهاند کاکړ د مسلکي مورخ په توګه تاریخ ولوسته، ویې لیکه او خپلو شاګردانو ته یې ورزده کړ."

پوهاند رسول باوري

"له ځوانانو نه مو هیله دا ده چې د حسن کاکړ له آثارو او لیکنو استفاده وکړي. دوی کولی شي د کاکړ په آثارو تحقیق او نور لیکل هم وکړي. نړۍ ته اوس هم زموږ منفي تصویر وړاندې کېږي؛ نو پکار ده چې زموږ د تاریخ، د نن او راتلونکو ارزوګانو ترمنځ باید معقول ربط رامنځته شي چې دا کار د ځوانانو دی."

افراسیاب خټک

د کاکړ تاریخ بنسټ مطبوعات | انتشرات بنیـــاد تاریخ کاکـړ
Kakar History Foundation Press